دافغانستان دعلومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبواو ادبیاتو علمي مرکز

# په پښتوادب کې دسولې انعکاس

څېړنوال محمد عارف غروال

کابل افغانستان

۱۳۸۸ کال

د افغانستان د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو علمي مرکز

# په پښتو ادب کې د سولې انعکاس

لارښود استاد: څېړنپوه عبدالرحیم ځدراڼ

څېړنوال محمد عارف غروال

کابل افغانستان

۱۳۸۸ کال

Download from; aghalibrary.com

الی ...

جدیر محترم او درانه ورور رفیع الله صاحب

ته د مینې په ډالۍ

عزوزل

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from; aghalibrary.com

# مننه او کور وداني

په داسې حال کې چې دافغانستان مسلمانان په ځانګړې توګه او دنړۍ انسانان په عامه توګه سولې او ارام ژوند ته ضرورت لري او هرانسان غواړي چې په ډاډمن او سوله ییزچاپیریال کې ژوند وکړي ځکه خونو ددغه انساني ضرورت له مخې دافغانستان دعلومو اکاډمۍ په سپارښتنه دغه علمي پروژه ولیکل شوه. خو داچې دچاپ په اړه یې دافغانستان دعلومواکاډمي ځانګړې مقررات لري او هره علمي پروژه دمالي امکاناتوله په پام کې نیولوسره دنوبت له مخې چاپیږي. له همدې امله دامریکا په متحده ایالاتو کې زما دوست فرید احمد منان وردګ له علم ، فرهنګ او ادب سره دځانګړې مینې اوپه ګران افغانستان کې د همیشنۍ سولې په ارمان دخپلو ماشومانو دخولې ډوډۍ نیمه او یوموټی پیسې یې زما په واک کې راکړې زه یې ددې جوګه کړم چې خپله دغه علمي پروژه د چاپ ډګر ته را وباسم او دسولې، ثبات او امن د مینانو په مخکې یې کیږدم

له همدې امله د خپل دغه افغان وروړ فرید احمد منان وردګ له دغې فرهنګي مرستې څخه د زړه له کومې مننه کوم . کور وداني ورته وایم او ددغه شان علمي چارو په ترسره کولوکې دنورو زیاتو بریاو هیله ورته کوم. خدای دې یې مل او مددګار اوسي

په مینه

څېړنوال محمد عارف غروال

Download from; aghalibrary.com

# اهداء

دخپل خدای بخښلي پلارپاك روح ته چې په
ګران وطن کې يې دسولې، امن او ثبات
سپيڅلی او ستر ارمان تورو خاوروته له ځانه
سره يووړ اهدا کوم لوی او مهربان خدای دې يې
دده د روح د ارامۍ سبب وګرځوي.

آمين

غروال

Download from; aghalibrary.com

# یوه لنډه یادونه

دا څو ښکاره خبره ده، چې انسانان په ټولنه کې اوسېږي او ډله ییز ژوند کوي، ټولنیز ژوند کول یو لړ ځانګړي اصول او قوانین لري، چې پرته له هغو به د نوموړې ټولنې، اجتماعي، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي بنسټونه نیمګړي او کمزوري وي. یو له همدغو اصولو څخه، چې ټولنې ته د ژوند او پاېښت ساه وربخښي سوله او سوله ییز ګډ ژوند دی. هغه ټولنې نېکمرغه دي، چې څښتن تعالیٰ پرې دا پېرزوینه کړې او د سولې نعمت یې پرې لورولی دی.

څرنګه، چې افغان ملت د څو کلونو راهیسې پرله پسې خپل منځي شخړو له وجې ډېر زوربدلی، شهیدان یې ورکړي، معیوبین او معلولین یې ورکړي او د مهاجرت ترخې شپې او ورځې یې زغملي؛ ځکه خو تر هر چا زیات "سولې" ته شدیده اړتیا لري او تر بل هر چا یې پر ارزښت ښه پوهېږي.

دوی تر هر چا دا خبره ښه درک کړې، چې سوکالي په سوله کې ده، اجتماعي، سیاسي، اقتصادي او کولتوري وده او



Download from; aghalibrary.com

پر مختیا په سوله کې ده او بلاخره ژوند په سوله کې دی او که سوله نه وي؛ نو په حقیقت کې ژوند هم نشته.
د همدې ارتیا په احساسولو سره ښاغلي غروال صاحب همت کړی او خپله علمي څېړنیزه پروژه یې "په پښتو ادب کې د سولې انعکاس" تر سرلیك لاندې موضوع باندې بشپړه کړې ده او په دې کار سره یې د پښتو ژبې د دغې لنډۍ په مصداق، چې:

ملنګه دوه ګټې دې وکړې
یو دې خیر ټول کړ بل دې وکړل دیدنونه

ده هم دوه ګټې وکړې، له یوې خوا یې خپل سرکاري مکلفیت سر ته ورساوه او د دې اثر په لیکلو سره یې یوې لوړې علمي رتبې ته ترفیع وکړه، چې مبارکي ورته وایم؛ خو له بلې خوا یې ډېر، ستر او عظیم کار سرته ورساوه او هغه دا چې د سولې ښېګڼې، مزایاوې او ارتیاوې یې خلکو ته جوتې کړې او هم یې د اسلام د سپېڅلي دین د زرینو ارشاداتو له مخې خلك د سولې پر لور وهڅول او عظیم ثواب یې وګاټه.
زه ویاړم، چې د دغه ګټور اثر په چاپېدلو سره د پښتو ژبې د ادب او فرهنګ په خزانه کې یوه نوې؛ خو ډېره غني او د قدر وړ پانګه ورزیاتېږي، چې د سولې له لارې د لارویانو تنده به پرې ماته شي او لیکوال ته به یې ضرور د عمر د اوږدوالي او په دې لاره کې د قلم د تېزوالي دعا وکړي او زه هم ورته په

خپل وار د دغه ستر او ګټور کار له امله مبارکي وایم او هېوادوالو ته يې د لوستلو سپارښتنه کوم.

په درناوي
څېړنپوه سید امین مجاهد
د افغانستان د علومو اکاډمۍ د څېړونو رئیس او
د علمي منشي د مقام سرپرست
کابل/ درهیم مکروریان
۱۳۸۸/ د غويي څوارلسمه

Download from; aghalibrary.com

# فهرست


| گڼه موضوع | مخ |
| --- | --- |
| ۱-دلاربښود استاد څېړنپوه عبدالرحیم ځدراڼ نظر | الف |
| ۲ - د څېړنوال مسافرخان ریس خیل نظر | د |
| ۳ - د څېړنوال نورالله ولسپال نظر | و |
| ۴ _ دڅېړنپوه نصرالله سوبمن منګل نظر | ط |
| ۵_ دڅېړنپوه علي محمد منګل نظر | ك |
| ۶- سریزه | ق |
| **لومړی څپرکی** | |
| ۵ - د څېړنې شالید (پس منظر) | ۱ |
| **دویم څپرکی** | |
| ۶ - الف - سوله د انساني ټولنې د پرمختګ | ۸ |
| ۷ - ب - سوله د یوې ټولنې د ورځنې | ۱۰ |
| ۸ - ج - سوله د وګړو تر منځ د ورورۍ | ۲۶ |
| **دریم څپرکی** | |
| ۹ - سوله د پښتو په شفاهي ادب کې | ۳۴ |
| **څلورم څپرکی** | |
| ۱۰ - سوله د پښتو په لیکنې (تحریري) ادب کې | ۱۰۴ |
| ۱۱ - نتیجه | ۲۰۵ |
| ۱۲ - پیشنهاد | ۲۰۸ |
| ۱۳ - د مآخذونو لړ لیک | ۲۱۰ |

دلاربښود استاد نظر

# سوله او پښتو ادب

# یا

# په پښتو ادب کې د سولې انعکاس

پورتني عنوان ته په ژورې کتنې سره یوداسې انساني پیغام موندل کیږي چې انسان اوانساني ټولنه تر بل هرڅه ورته زیات ضرورت لري دا ضرورت سوله ده په سوله کې بیا بیا د من ژوند دی

داخوجوته خبره ده چې له سولې پرته ټولنیز ژوند له خنډ ونو اوځنډ ونو سره مخامخ کیږي په تاوجنو اوکړکیچنو حالاتوکې انساني ټولنه نه شي کولای مثبت اوګټور پلانونه عملي کړي خوکه چیرې په کومه ټولنه کې سوله واکمنه وي.نوپه یقین سره ویلای شو چې هغه یوه هوسا ټولنه ده اوکولای شي دترقۍ اوپرمختګ لوړو مدارجو ته ورسیږي په سوله کې قانون تطبیق کیدای شي. عدالت وده کوي اوعملي کیږي

دهمدې انساني ضرورت له په پام کې نیولو سره دپښتو ژبې اوادبیاتو انستیوت په ټاکنه اودلوړومقاماتو په منه دغه حیاتي موضوع

( په پښتو ادب کې د سولې انعکاس ) محترم محمدعارف غروال ته وسپارل شوه چې دڅېړنوال علمي رتبې ته دترفیع له پاره غوره اثرولیکي

د کار په جریان کې چې کله محترم غروال له کومو تخنیکي ستونزو سره مخامخ شوی هغه یې زما مخې ته ایښې اوما هم دخپل توان په اندازه لازمه مشوره ورکړې ده که څه هم دپروژې لمن ډېره پراخه ده.اوډېرو هلوځلو ته ضرورت لیدل کیده ،خو محترم غروال په خپل کلک هوډ سره په دې وتوانیده چې خپله پروژه په ټاکلي وخت سره بشپړه کړي

محترم لیکوال دپروژې دبشپړتابه له پاره که له یوې خوانه په هیواد کې دننه په معتبرو کتابتونونو اوهمدارنګه دځینو خپلو شخصي دوستانود کتابتونونوله آثارو څخه استفاده کړې ده . خوپه کوزه پښتونخواکې یې هم کتابتونونه پلټلي اوپه موضوع پورې اړوند مواد یې ترې اخیستي دي

باید ووایوچې هره علمي موضوع دخپلې ځانګړتیا له مخې اهمیت لري خوحقیقت دادی چې (په پښتو ادب کې د سولې انعکاس) موضوع به هم نن هم سبا اوهم به په راتلونکې کې دموضوعاتو په سرکې وي

دامیرکروړد زمانې نه رانیولې بیا تر موږ پورې پښتو ادب له ډیرولوړو ژورو سره مخامخ شوی. کله داسې هم پیښ شوي چې یو شمیر دکار وړ مواد یا د هوا باد له ځانه سره وړي اویا هم تر خاورو لاندې شوي دي. نوکه چیرې یولیکوال اوڅېړونکی دا ډول یوه موضوع دپښتو ادب په بیلوبیلو دوروکې ولټوي نومجبوردی دپښتوادب دهرې دورې لیکلي آثارمطالعه کړي اوهغه څه ترې راوباسي چې دی ورته ضرورت لري. په دې برسیره لیکوال باید دپښتو په شفاهي ادب کې هم ژوره مطالعه اوڅېړنه وکړي. اوپرمخ ولاړشي زما په نظرښاغلي غروال دغه کار په ښه توګه سرته رسولی دی

ددې اثرپه مطالعه کولو سره دځینوهغو کسانودانظر په غلطه ثابتیږي چې وایي،پښتانه بې له جنګه په نورڅه نه پوهیږي. دا ځکه څه چې موږ په

دې اثرکې ګورو د پښتو ادب په هره دوره پورې مربوط پښتون لیکوال او شاعرد نورو تولنیزو.عشقي. بزمي او رزمي موضوعاتو ترځنګ سوله ثبات خواخوږي. وروروليء اوانساندوستۍ ته هم پوره پاملرنه کړې ده اوپه خپلو لیکنوکې يې د لیکنو زيا ته برخه دغې مهمې حياتي موضوع ته ځانګړې کړې ده زموږ ددې خبرې کره ثبوت پخپله همدغه اثردی چې غروال صاحب په خپل کلک عزم .پرلپسې زيار اوپلټنو سره زموږ مخې ته ايښی اوليکلی دی

زه ددې اثردلاربنود استادپه توګه نورې خبرې نه اوږدوم يوازې دومره څه ويل غواړم چې دمحترم غروال صاحب دغه اثر چې پخپله نوعه کې نوی اوتراوسه پورې داډول غنيمت اثر چې د وخت ضرورت هم دی زما تر نظرنه دی تيرشوی ده ته د دې اثرد ليکلومبا رکي وايم او د څیړنوال علمي رتبې ته يې د ترفيع وړبولم. دوخت داهميت په نظرکی نيولو سره دعلومواکاډمۍ څخه يې دچاپ کولو هيله من يم

ومن الله ا لتوفيق

څیړنپوه عبدالرحیم (ځدران)

# تقریظ :

**دافغانستان دعلوماکاډمۍ محترم ریاست ته ،**

ماستاسي د ۱۸۴-۱۴ ۶ ۸۶ ګڼه لیک له مخې چې مودنباغلي څیړنمل محمدعارف غروال صاحب پراثر ، په پښتو ادب کي دسولي انعکاس، دنظرغوښتنه کړې وه. دادی په لاندې ډول پردې اثرخپل نظرڅرګندوم

لکه چي داثرله نامه څخه ښکاري ،سوله، پښتانه یوسوله دوسته اوبشردوسته قام دی.میلمه پالنه ددوی دسوله دوستی اوبشردوستۍ ښه ثبوت دی، دوی دجنګ جګړې اوتاوتریخوالي پرځای امن ، سوله اوبشردوستي خوښوي عام پښتانه دامن سره مینه لري.خوچي یوځل چا ددوی امن دخطرسره مخامخ کړی نوبیا دهغه پرضد دریږي اودسولي راوستو په خاطرورسره جنګیږي ترڅوخپل هیواد کي امن برقرارکړي.ځکه چي سوله اوامن دبشري ټولنې یو مهم اصل دی

غروال صاحب خوپخپله شاعردی نودقامونواوقبیلودخپل منځي جنګونو بیان یې په شعرونو کې کړی دی اوحالات یې په شعري ښه ترسیم کړي دي غروال صاحب ددغي موضوع داثبات دپاره دسیمې دیو شمیر سیاستوالو نظریې هم رااخیستې دي.په ځانګړي ډول دباچاخان عدم تشدد سیاست ستایي اوهغه تائید وي.غروال صاحب په یوځای کي لیکی چي زموږټولنه ،پښتنی ټولنه ، یوه عنعنوي ټولنه ده یعني موږکولای شو چي ددغوتعاملاتو په وسیله جنګ جګړي ته خا تمه ورکړو اوتا وتریخوالی له

مینځه یوسو. دا بیخي پرځای خبره ده .موږ ډیرې لانجې دپښتني دود اودستورله مخې حل کوو

غروال صاحب په لنډیو.په لنډکیو.په کلاسیکو ادبیاتو.په متلونو په لیکلو ادبیاتو. په کیسیو اوروایاتو.په کلاسیکو اولرغونو داستانونو. د اولسي شاعرانوپه شعرونو. په ښځینه سندرو. دماشومانوپه سندروپه سروکواوداتن په نارو. په کاکړي غاړو. دپښتوپه معاصر شعر. دپښتوپه کلاسیک نثراو دپښتوپه معاصرنثرکې دسولې اوپخلاینې ډیرې ښې بیلګې اومثالونه په تفصیل سره راوړي دي چې داکار په خپل ځای کې داثرپه غناکې ګټورکاردی غروال صاحب هغه شاعراو لیکوال دی چې دهجرت ددوران سړې او تودې پرې تیرې شوې دي اودجنګ جګړې پرځای سوله خوښوي اوهغه ستایي

دده دغه کار دستاینې وړدی چې دهجرت ددوران دلیکوالواوشاعرانو دلیکنواوشعرونو بیلګې اونمونې یې را اخیستي او په خپل ا ثرکې یې راوړي د ي ځکه چې که ده دا کارنه وای کړی نو ددغو اشعارو دورکیدو اوله مینځه تلو ډیر امکانات موجود وو

دده یوبل کارهم دستاینې وړدی اوهغه داچې دکوزې پښتونخوا دپښتنو وروڼو دشاعرانو اولیکوالو دشعرونو اولیکنو څخه یې د سولې په اړه ډیرې ښې بیلګې اونمونې راوړي دي ځکه چې هغوی هم له موږسره دشوروي دیرغل په دغه ستر ناورین کی ځانونه شریک ګڼل اودخپل زړه براس یې دشعرپه ژبه بیان کړی دی

زه غروال صاحب ته ددغه اثرد لیکلومبارکي وایم اود څیړنمل له علمي رتبې څخه یې د څیړنوال علمي درنې رتبې ته دترفیع وړبولم

په درنښت

څیړنوال مسافرخان رئیس خیل

دژبواوادبیاتو دمرکز علمي منشي

۱۳۸۷ ۶ ۱۴

# تقــریظ :

عارفان کاله جهانه سره سوله
تاتړلی پرجهان د سولې وردی
ملا جا نان فد وي هوتک

**دافغانستان دعلوموااکاډمۍ محترم رئیس صاحب!**

دڅېړنمل محمدعارف غروال دڅېړنمل له علمي رتبې نه د څېړنوال علمي رتبې ته دترفیع ټاکلې علمي تحقیقی پروژه چې (په پښتو ادب کې د سولې انعکاس) ترعنوان لاندې یې اخیستې وه تاسودتقریظ دپاره د ـ۱۸۳ـ ۱۴ ، ۸۶ لیک په ذریعه ماته سپارلې وه دادی ددې پروژې د څرنګوالي په برخه کې خپل نظریه لاندې ډول لیکم.

داپروژه چې عنوان یی په پښتوادب کې د سولې انعکاس دی ماله لومړي مخ څخه تراخر مخ پورې په کره توګه ټکي په ټکي ولوستله ډېره په زړه پورې اودننني هغې غمیزې چې په هیواد کې روانه ده درملنه کوي.

داپروژه یوه مقدمه اوڅلورڅپرکي لري په اخرکې یې نتیجه اوماخذونه ښودل شویدي

لومړی-څپرکی: دڅیړنې پس منظر.
دوهم-څپرکی: سوله دانساني ټولنې دپرمختګ دیوه مهم ضرورت په توګه.
دریم-څپرکی: سوله دپښتو په شفاهي ادب کې.
څلورم-څپرکی: سوله دپښتو په تحریري یا لیکني ادب کې.
په لومړۍ برخه یا څپرکي کې محترم غروال دپروژې ارزښت اوپه ټولنه کې دهغې تاثیرات په هر اړخیزډول څیړلي اولیکلي دي.
په دویمه برخه یا څپرکي کې یې دوتلولیکوالو اومحققینو هغه لیکنې او تحقیقات چې دسولې او امن په حقله یې ترسره کړي را اخیستي او په ژوره توګه یې پرې رڼا اچولې اودهغوی لیکنې یې په کره توګه څیړلي دي.
دریمه برخه یا څپرکی چې سوله دپښتوپه شفاهي ادب کې ده غروال ددې برخې د بشپړولو د پاره د پښتو لنډیو، د پښتو لنډ کیو، کاکړیو، سروکو دپښتو متلونو، د ډیرو کتابونو له پلټلو اوکتلووروسته دسولې مرغلرې را ایستلي او هم یې ددې شفاهي ملغلرو دلاس ته راوړلو دپاره دپښتنو ډیرو هوښیارو اوتجربه کارو مشرانو اوځینوپوهو ښځمنوسره دناستې پروخت په سوله پورې اړوند متلونه،لنډۍ اوقصې راټولې کړي دي.
په څلورم څپرکي یابرخه کې یې دتحریري ادبیاتو دکلاسیکې دورې اومعاصرې دورې د نومیالوشاعرانو اولیکوالو ډیر کتابونه، مجلې اودورځپاڼو پاڼې اړولي اوله ډیر زحمت اوزیار وروسته یې هغو اشعارو اونثرونوته چې دسولې دمنځ ته راوړلو دپاره ډیر اړین اوپه زړه پورې وو په خپله علمي تحقیقي پروژه کې ځای ورکړی دی.
غروال صاحب دهغه هیوادني احساس اوزړه خوږۍ له مخې چې په تیرو دوه نیمو لسیزوکې زموږخوږوطن افغانستان دپرلپسې جګړوله امله ویجاړشوی اود ورور وژنې په اورکې لولپه شوی اولاتراوسه هم د ورور وژنې اورپه غرغنډو دی. دې نتیجې ته رسیدلی دی چې وینه په وینه نه مینځل کیږي بلکې اوبه دي چې وینه وربانديې مینځل کیږي،نو محترم

غروال دا دځان وظیفه بللې ده چې داسې یوه مهمه پروژه انتخاب اوبشپړه کړي چې ددوه نیمولسیزود غمیزې درملنه وکړي او د ورور وژنې اور وربانديې مړکړي هغه پروژه په پښتوادب کې د سولې انعکاس دی.

نوموړی دمعاصرې دورې دیوځوان شاعردیوه بیت داسی یادونه کوي

دسـولی کورته به ورځوکه په اغزو وخیږو
خیردی منویې که داور په سرو لمبووخیږو

بل ځای وائي

د خدای د پاره پښتنـــوځانونه وپیژنئ
ستا سولیا ره خوبه ځان له پیغمبرنه راځي

پس ویلی شو چې سوله هغه اسماني رڼا ده چې خپلې وړانګې ځمکې ته راښکته کوي او ددې سپینووړانګو په برکت دانسانانوترمنځ د مینې، محبت او د ورور ولی جذبه راپیدا کوي اوتورتم له منځه وړي.

زه ښاغلي محمدعارف غروال ته ددې ګټورې اومهمې پروژې دبشپړولو له امله چې په پښتوادب کې یوه ستره پانګه ده مبارکي وایم دزیاتو بریالیتوبونو غوښــتنه ورته کوم اودا اثرچې د ډیرو ستونزو په ګاللو سره یې بشپړ کړې دی دڅیړنمل له علمي رتبې نه د څیړنوال علمي رتبې ته د ترفیع وړ بولم.

په ډیره مــننه
څیړنوال نورالله ولسپال

## ((په پښتو ادب کې دسولې انعکاس))

## اثرته یوه لنډه کتنه

تر دغه پورته عنوان لاندې علمي تحقیقي پروژه د څېړنوال استاد محمد عارف غروال له خوا په ۱۳۸۷ هـ ش کال کې بشپړه شوې او داړوند عملي څانګې دغړو او مینه والو په وړاندې ترې بریالی دفاع شوې ده . زه هم له نیکه مرغه ددفاع په علمي غونډه کې حاضر وم، یقیناً چې استاد غروال په ډېره عالي توګه د خپلې پروژې څخه دفاع وکړه. ده په دغه اثر کې د پښتو ادب ، اولسي او لیکنی برخې په یقیني ډول ژورې څېړلي دي او هغه ګټور او ثقه مواد یې ترې را ایستلي چې دسولې په چارو کې د پښتون اولس علاقمندي، بوختیا، پوخوالی اوځیرکتیا ثابتوي.

پښتانه د سولې دتامین له پاره داسې ټولنیز او حقوقي موسسات لري چې په هیڅ بل ملیت او یا ملت کې یې ساری نشته، دهغې جملې څخه د مرکو او جرګو ټولنیز او حقوقي موسسات یادولی شو چې په پښتو ادب کې دهغو ارزښت او اهمیت پوره منعکس شوی دی. په ربښتیا هم جرګې او مرکې پخپله دسولې د تامین ډېرې پرمختللې موسسې دي چې نه یوازې په سیمه ییزه توګه

درول لرونکې دي، بلکې دهیواد په کچه په سترو سیاسي او ټولنیزو مسالو کې هم ترې هر وخت کار اخستل شوی دی.

ددې حقوقي، سیاسي او ټولنیزو موسساتو ارزښت او د سولې په تامین کې دهغو رول د څېړونکي له خوا په پښتو ادب کې څېړل شوی دی او دهغې په بنا داثابته شوې چې پښتانه ددښمنانو په حواله دجنګ خلک نه ، بلکې دسولې د ډګر پیاوړي اتلان دي.

ددې اثر لیکوال په بیلا بیلو فصلونو کې دسولې په اړه دولسي ادبیاتو او لیکنیو ادبیاتو جلا جلا توکي غوره او مرلي او هغه یې دځېل تیزس دکامیابۍ له پاره کارولي دي. بیلا بیل ډول اشعار (قصیدې، غزل، مخمسات، رباعیات ) او نور ډولونه لټول شوي دي. دغه راز دولسي ادبیاتو په برخه کې لنډۍ ، لنډکۍ، بګټۍ او سروکي په غور څېړل شوي او ددغو ټولو په نتیجه کې دسرلیک اړوند مطالب را اخستل شوي دي اوپه دې توګه دا ثابته شوې چې پښتون اولس سوله غوښتونکی ، خیر غوښتونکی د مظلومانو ملاتړ او دتیري کوونکو په خلاف دحق په خوا سرښندونکی اولس دی.

زه هیله من یم چې دغه علمي اثر به ژر تر ژره د چاپ په ګاڼه وپسولل شی تر څو یې فیض عامو ته ورسیږي، له الله پاک څخه ددې اثر لیکوال ښاغلی غروال صاحب ته توفیق غواړم چې دداسې نورو علمی ګټورو آثارو په لیکلو بریالی شي. ،زه دزړه له کومی ورته مبارکي وایم، په غښتلو متو او ګوتو یې برکت.

څېړنیوه نصرالله سوبمن منګل

چې په ژوندون مې په ښه نه شوې
دجنازې بنلهٔ مې مه نیسه مینه
( ټپه )

# د پښتو ادب په آسمان کې
# یو بل ستوری را وځلېد

آسمان په ستورو ښایسته دی
چې ستوري نه وي آسمان څه ښایست لرینه
( لنډۍ )

**درنو لوستونکو او د پښتو فرهنګ ښاغلو مینه والو!**

نه پوهېږم ، چې په موږ څه کانه راشوې ده ،څکه دلته زخمونه ، ویرونه ، دردونه ،غمونه ،ماتمونه ، بدې ورځې،کړاونه او جنګونه دي، چې زموږ په تندي کې راته کښل شوي ، ژړا او فریادونه زموږ دجنت نشان کلي دهرې شپې سترې سبلوې او سلګۍ دي چې را په برخه دي ، دا غاړ بوجن او ویرمن حال له ډېرو دردونو غمونو ،کړاوونو ، پردېسیونه ، سترې لیکوال تکړه او پوخ ،خوږ ژبي شاعرخېرنوال محمد عارف غروال ورور لیدلی دی،له همدې امله دی، دده ادبي زیارونه یادوم،دی د ګران هېواد دېرش کلنو غمیزو ،ورانو او ویجاړو دومره دردولی او خوږولی دی، دچا خبره چې دسولې او

امن په خبرو او لیکلو یې ژبه او دخیر ګوتې تناکې او پولې شوې دي، دا ولې؟ داځکه چې دی په خپل وران شوي هېواد، کړېدلي او ځورېدلي ولس کې روغه ، جوړه او سوله غواړي، په همدې ستره انساني هيله یې، د پښتو ادب په غوړېدلي ګلستان کې دسولې او امن دراوستلو په ګلانو پسې ډېرې ستونځې ، کړاوونه ، بې خوبی ، سړې او تودې په ځان تېرې کړې دي، خو له ښه مرغه ايبره او حاصل يې دسولې او امن له ګلو داسې ګېډۍ را ټولې، چې که خدای(ج) کول، په دې وران هېواد کې به یې دروغې د خوشبويي عطرونه زر تر زره خواره واره شي، پوره باور دی چې ګران او مېړني افغانان به دجنګ له ستړيو سلګيو څخه په امن شي او دسولې لورته به په مينه مخ واړوي، چې په دې هيله سره ماته داسندره په فکر کې راوګرزېده:

ځانګه به نن سبا کې ګل شي

ما يې په سرکې سرې غوټۍ ليدلې دينه

دخېړنوال محمد عارف غروال دغه ادبي څېړنيز اثر چې پښتو ادبياتو کې يې سولې او دسولې رنګينې او ګلورينې شاعرۍ ته ځانګړی کړی دی، ربښتيا هم دسولې ورمې خپروي، چې جلوه يې د پښتو شاعرانو په شعرونو کې د امير کروړ جهان پهلوان دوخت څخه رانيولې تر څېړندوی استاد حبيب الله رفيع او پيرمحمد کاروان پورې تر سترګو کيږي، ده دسوونو ، سوونو شاعرانو ديوانونه په ډېره ستړيا او زيار سره پاڼه په پاڼه او بيت په بيت کتلي ، دهغو څخه يې دسولې او امن ارزښتمنې دردانې را مرلي او چاڼ کړي دي، استاد غروال هڅه کړې چې دتورو سترګو ، سپينو مخونو او شنو خالونو پرځای ، دورانو باڼډو ، کليو او ښارونو دپاره دسولې او امن انځورونه غوره

وګړني زموږ ښه شاعر او پوخ ليکوال غروال په دې عقيده دى ، چې د تورو سترګو، ښکليو مخونو او شنو خالونو رنګين او ګلورين انځورونه په يوه دميني ژبه او دزړه په خوشالي‌خبرې کوي، خو دورانو او نړېدليو کليو ، ښارونو او باندو انځورونه او غمجن تصويرونه په سلو ، سلو غمجنو او ويرنه ډکو ژبو خبرې کوي، ددې ويرمن حال له منځه تلو دپاره يوازېنۍ ژبه سوله او امن دى، چې په ټولنه او هېواد کې را منځ ته شي، ددغې ټولنيزې اړتيا او له جنګ څخه زموږ دټولنې بچ کېدو او ژغور لو دپاره، بې له سولې او امن څخه بله دوا او درمل نشته....

په همدې هيله استاد غروال ډېرېې ساري فکر کړى دى،دا ورجوته ده چې پښتانه په سوله او امن مين خلک دي، په پېړيو پېړيو کې ، که ددښمن له خوا جنګونه پرې راغلي ، دهغو په مقابل کې يې په سرښندنه مېړانه کړې، د سرو وينو په تويولو يې خپل ولس او خاوره ساتلي دي، خو ددې سره سره يې دسولې او امن لار هم نيولې ده ، چې دښمن يې هم دغې انساني لارې ته غاړه اېښودې ده ، په دغه لاره کې يې په بېلو بېلو پېړيو کې روغه او امن هم په برخه شوى دى. استاد غروال په همدې تانده او لويه هيله دا خپل لوى او خوږ اثر د سولې او امن دراتلو دپاره ، په ډېره خوږه ، روانه ، ساده او سليسه ژبه کښلى دى، دسولې او امن په برخه کې يې ښايسته زړه باغ باغ کوونکي رنګين موضوعات سره را نغښتي، په پښتو ادبياتو کې يې ګټور ګام پورته کړ او له فيضه ډکه زياتونه يې پکې را منځ ته کړه چې دهر لوستونکي مينه پرې ماتيږي، دامن او سولې دپاره رنګين او ګلورين سبق پکې شتون لري، چې موږ دسولې او امن سره اشنا

کوي، زه په خپل وار سره درانه او عزتمن ورور محمد عارف غروال ته ددغه ښه ارزښتمن، او ابتکاري ادبي اثر دچاپېدو له کبله ډېره مبارکي وایم، زموږ دغه خوږ ژبي شاعرخو د پښتو خوږې او شیرینې ژبې شعر او ادب ته له پخوا څخه تر نن پورې ډېر خدمت کړی دی، ده ته دزیاتې مبارکی سره په څنګ چې په غوږو باندې غوږتوی شي، په ډېره لېواله مینه ددغه ادبي ستوري دراځلېدو لمن او وریستانې ، په څو ولسي ادبي خوږو لنډیو او سندرو سره رانغاړم:

بدرنګ د ښکلو قدر زیات کړ
چې بدرنګ نه وي، ښکلو قدر څوک کوینه

---

دسحر چرګه مرې وخورې
یا ر په کږه لېچه ویده را ویښ دې کنه

---

خدایه دا ټوله دنیا راکړې
چې په یوه خندا یې جار له یاره کړمه

---

راځه په دې بې فیصله کړو
افغانستان کې دې خدای امن راولینه

---

راشه په دې دې فیصله وي
شېته خو مه کړې د پښتو دباغ ګلونه

---

تقریظ یې مه ګڼئ یارانو
دا څو نیمګړې ټکي دی که منظور شینه

څېړنپوه علي محمد منګل
کابل- انصاري واټ
۱۹- ۱- ۱۳۸۸ هـ ش

# دمهربان خدایٔ په سپیڅلي نامه

## سریزه

زه نه پوهیږم ددې توان به ولرم اوکه نه چې دیوې داسې مهمې اوګټورې موضوع په اړه قناعت لرونکي اوقناعت ښونکي مواد درنو لوستونکوته وړاندې کړم چې له خوږو اواوبوڅخه وروسته ورته انسانان زیاته اړتیا لري. خودهمدغو انسانانوله خوا په خطرکې لویږي اوله منځه ځي.زه ډاډه نه یم چې په دې لیکنه کې به په سمه توګه هغه څه وخیږلای شم اوخلکوته به یې وړاندې کړای شم چې دانساني ژوند لومړی اصل جوړوي اوانسان پرته له هغې څخه منظم اوډاډمن ژوند نه شي کولای اوزه په دې هم باوري نه یم چې دیوه هغه شان انساني ضرورت دبیانولو په اړه به په دې لیکنه کې دلوستونکو قناعت حاصل کړای شم اوکه نه چې دژوند له لومړنیو.اړتیاو څخه شمیرل کیږي. خودومره پوهیږم چې په اړه یې ژورې څیړنې ته اړتیاده اوباید هراړخیزکارپرې وشي.

دامهم ضرورت اود ژوند کولو لپاره مهم اصل «سوله »او«انساندوستي» ده چې که په یوه ټولنه کې سوله نه وي اوانسانان یوله بل سره مینه اومحبت ونه لري. نوپخپل ټولنیز ژوند کې هغه شان ډاډمن اودیادونې وړ پرمختګ نه شي کولای لکه څومره چې ورته اړتیا وي. ځکه په کومه ټولنه کې چې سوله نیزژوند له ګواښ اوخطر سره مخامخ وي اواوسیدونکي یې له یوبل

سره مینه دوستي اوخواخوږي ونه لري. ټولنيزې چارې يې په ټپه درېږي او د پرمختګ په لار کې يې خنډونه اوځنډونه پيداکيږي.

«جنګ» او «سوله» دانسانانو له ژوند سره سم راروان هغه دوه متضاد بهيرونه دي چې يودبل په مقابل کې ولاړدي. کله چې کومه انساني ټولنه دځينو عواملو له امله له جنګونو اوجګړو سره مخامخ کيږي.نو ورسره جوخت دسولې دتأمين په اړه د فکرکولو اړتيا احساسيږي اود په جنګ اخته ټولني سوله دوست انسانان دانسانانو دژغورنې لپاره يولړداسي لارې چارې لټوي چې دهغوپه پلي کولو سره په ټولنه کې دجګړې عوامل له منځه يوسي، پرځای يې سوله ټينګه اودټولنيز ژوند دپرمختګ لپاره لاره اواره کړي او په دې توګه دژوند دبهير په لارکې پراته خنډونه اوځنډونه له منځه ولاړشي.

د افغانستان دعلومواکاډمی د ژبو اوادبيا تو علمي مرکز ددغه اصل داهميت له په پام کې نيولو سره دخپلو څيړنيزو پروژو په لړکې «په پښتو ادب کې دسولې انعکاس» په نامه علمي پروژه ماته راوسپارله چې ددې علمي پروژې په سرته رسولو سره د څيړنوال علمي رتبې ته ترفيع راکړله شي. ماهم دهغه احساس له مخې چې په تيرو دوه نيمولسيزوکې زموږپه تاريخي هيواد ګران افغانستان کې ددوامدارو جګړوله امله د سولې د تأمين او د سوله ييز ژوند د بهير د روانو لو په اړه راسره و دغه مهمه او حياتي پروژه ومنله اود ښاغلي څيړنپوه عبدالرحيم ځدراڼ تر عالمانه او مدبرانه لارښووني لاندې مې ددغې پروژې دبشپړولو په هيله اوتکل دپښتو ادب په بيلو بيلو صنفونو کې تحقيق اوڅيړنه پيل کړه، دپښتو دلرغونو ادبياتو پانې مې راواړولې. نظمونه اونثرونه مې وکتل ، د معاصر ادب نظم اونثرمې مطا لعه اودولسي ادبياتو بيلابيل ډولونه مې تر نظرتير کړل.

په دې اوږده اوهراړخيزه څيړنه کې دپښتوپه ادب کې دسولې او انساندوستی په اړه دومره زيات مواد لاس ته راغلل چې که ټول په دې

پروژه کې ځای کړای شي دنظرور اثر له دایرې څخه به ووځي، ځکه خونولازمه وبلل شوه چې په هره برخه کې دځونمونوپه راوړلو بسنه وشي. دپښتو ادب په دې اوږده بهیرکې زموږ د هیواد لیکوالانو اوشاعرانو دسولې او انساندوستۍ داهمیت له په پام کې نیولو سره هڅه کړې ده په خپلوادبي پنځونو، تخلیقاتو اولیکنو کې که هغه نثردی اوکه نظم دغه د ژوند مهم اوضروري اصل ځای کړی اوزیارېې ایستلی دی چې خپلو خلکو ته په خوږه اوروانه ژبه دسولې اوانساندوستۍ پیغام ورسوي.

موږ دتاریخ له یوه حساس پړاوڅخه تیرېږو. زموږخلکو دجنګ اوجګړو اوږدې اوترخې شپې ورځې شاته پرېښې دي، دجنګ اوجګړو په دې اوږده موده کې زموږ خلک ډیروځوریدل، ډیر وځپل شول اودټولنیزژوند ډیر امکانات يې له لاسه ورکړل، همدا لامل دی چې زموږخلک تربل هرڅه زیات سولې اوانساندوستۍ ته ترږي دي. په پښتو کې یومتل دی چې وايي (سوځي هغه ځای چې اورپرې بلیږي) موږهم جنګ اوجګړو ډیرسوځولي یو. نوددې لپاره چې ددغه سوځوونکي اورله لمبو څخه خپلو خلکوته نجات ورکړو او دژغورنې لارې چارې ورته ومومو دهر افغان ملي اواسلامي وظیفه ده چې پخپل هیواد کې دسولې دتامین اوټینګښت لپاره هلې ځلې وکړي اودغه ستر ملي اواسلامي مسئولیت له خپلو اوږو څخه سپک کړي.

زموږهیواد دجرګو هیواد دی، دلته چې دخلکو تر منځ، دقامونو ترمنځ اود پرګنو ترمنځ کومه شخړه اولانجه منځ ته راغلې ده ، نو سوله دوست خلک يې ترمنځ جرګه شوي اومشکل ته یې دحل لار موندلې ده، زموږ خلک په دې پوهیږي چې دمشکلاتو اوشخړو دحل یوازینۍ لار خبرې او تفاهم دی، ځکه خونو د خپل منځي مشکلا تو دحل لپاره جرګوته پناه وړي او دقا مي جرګو په ذریعه چې دقامونود مصلحو کسانوله خوا جوړې شوي وي خپلو ستونزوته دحل لاره پیداکوي

په پای کې د یاد ونې وړبولم او هغه دا چې په سوله او انساندوستۍ پورې اړوند مفاهیم اومسایل د یوې مهمې ټولنیزې حیاتي موضوع په توګه دپښتو ادب په پراخه لمن کې په پراخه پیمانه نغښتې اوخوندي دي. دهغو ټولو را اخیستل او پرې بحث کول دځو ټوکیزاثر دلیکلو غوښتنه کوي اوزه اړیم چې دخپلې علمي څېړنیزې پروژې په چوکاټ کې دپښتو ادب دځه کم یونیم زرکلن بهیرله هرې دورې اوادب له هرډول نه دګوتوپه شمیر بیلګې راخوښې کړم، نو مې په ډیرغورااواحتیاط سره داچارترسره کړې ده . خدای دې وکړي چې زما کړې خواري دموضوع علمي څېړنیز حق اداء اوهم دادب دمینه والو ادبي تنده لږه و ډیره خړوبه کړای شي

له بلې خوا ماغوښتل داثابته کړم چې پښتانه جګړه ماران نه بلکې جرګه ماران او دسولې او امن پلویان دي داځکه په نړۍ او سیمه کې دا تاثر موجوددی چې پښتانه له جګړې پرته په نور څه نه پوهیږي، داعلمي څېړنیزاثرددې شاهدي ورکوي چې دتاریخ په اوږده بهیرکې پښتنو همیشه په سوله ییزژوند ټینګارکړی او له جنګ جګړو او تاوتریخوالي څخه یې خپله ژوره کرکه څرګنده کړې ده

په مینه

څېړنوال محمدعارف غروال

# لومړی څپرکی

## د څیړنې شالید یا پس منظر

دهر علمي اوارزښتمن اثرليکل اوبرابرول يو لړزياتوعلمي څيړنو او پلټنوته اړتيا لري. دا څيړني اوپلټنې بايد په علمي معياربرابرې اودوخت غوښتنواواړتياوته سم اوپرعلمي معيارونو برابرځواب وويلای شي همدالامل دی چې هرليکوال اوڅيړونکی زيارباسي خپلې ټولنې اوخپلو خلکو ته داسې با ارزښته آثار وړاندې کړي چې دڅيړنې په علمي ميتود برابراوغني مواد ولري.

دافغانستان دعلوموااکاډمۍ له خوادعلمي پروژوپه لړکې دوخت دمهم ضرورت په توګه ماته (په پښتو ادب کې دسولې اوانساندوستۍ انعکاس) علمي پروژه راکړل شوه اوداهغه څه دي چې په اړه يې بايد پراخې څيړنې اوپلټنې ترسره شي ترڅو دپښتوادب په بيلابيلو دوروکې ددغه حياتي ضرورت دااهميت په اړه کافي مواد پيدا اوپه پروژه کې وړاندې شي. ماهم په هيواد کې دننه اوله هيواد څخه بهر په کوزه پښتونخواکې معتبروکتابتونونوته سرورښکاره کړ. دپښتو دادب لرغوني. کلاسيک اومعاصر آثارمې يوپه بل پسې له نظرنه تيرکړل دخپلو دوستانو لکه

حبیب الله رفیع او سید محی الدین هاشمي دشخصي کتابتونونو پاڼې مي راوارولې اوهغه یادښتونه مې له ځانه سره واخیستل چې ددې علمي پروژې له بشپړتابه سره یې مرسته کولای شوه.

سوله او انساندوستي یوه داسې موضوع ده چې دوخت اوحالاتو له مخې خپل ځان ښکاره کوي کله کله د یوې ټولنې خلک له جنګ جګړو او تاوتریخوالي سره لاس او ګریوان وي چې په دې صورت کې دسولې اوانساندوستۍ په اړه په ادبي لیکنو اوفنپاروکې دجنګ اوجګړو ضد اثرات په پراخه پیمانه ځان ښکاره کوي اودقلم خاوندان زیار باسي خپلو خلکوته دسولې اوانساندوستۍ په اړه ګټور اوسودمن پیغامونه ورسوي ترڅو په دې توګه په جنګ اوجګړواخته خلک دجنګ زیانونو اوناوړه عواقبوته متوجه کړي. نوپه دغه شان حالاتو کې دبیلابیلو ادبي لیکنو په نثراونظم کې کافي مواد ترلاسه کیدای شي اویوڅیړونکی کولای شي دخپلې څیړنې له پاره زیات مواد ترلاسه کړي. خوځینې داسې وختونه هم مخې ته راځي چې په ټولنه اوچاپیریال باندې بشپړه سوله واکمنه وي اودټولنې وګړي په پوره ډاډ پرته له ویرې خپل عادي ژوند ته دوام ورکوي ځکه خونو په یوه دغه شان سوله ییزه اوډاډ منه فضا کې لیکوال او ادیب خپلې لیکنې اوتخلیقات د ټولنیز ژوند نوروا ړخونوته متوجه کوي اود سولې او انساندوستۍ په اړه ډیرلږڅه تر سترګو کیدای شي اویا خو بیخي په دې باب څه نه وي لیکل شوي.

دمثال په ډول په هیواد کې دپخواني پاچا اروانباد اعلیحضرت محمد ظاهرشاه دواکمنۍ دوره دامن اوسولې یوه مثالي دوره وه.ددې دورې لیکوال اوشاعردې ته اړنه وچې په خپلو لیکنوکې دسولې په اړه څه ولیکي بلکې کوښښ یې کاوه دټولنیزژوند نورې هغه نیمګړتیاوې رابرسیره کړي چې زموږدخلکود ترقۍ اوپرمختګ پیغام پکې پروت وي. که څه هم کله نا کله به ددوو کورنیو اودووقامونوترمنځ په کوم غره اویاځمکه تاوتریخوالی پیداشو. خودومره دوام به یې ځکه نه کاوه چې

یاخوبه قامي سپین ږیري اومرکچیان پکې منځ ته شول اویابه دولت مداخله وکړه چې په دې ترتیب به تاوتریخوالی اوشخړه له منځه ولاړه او خلکو به بیرته عادي ژوند پیل کړ.زما یاد دي د ۱۳۴۷ هـ ش کال دسنبلې میاشت وه چې دلویې پکتیا ددووسترو قامونومنګلواوځاځیو ترمنځ په غره باندې شخړه پیداشوه او ورو ورو داشخړه په وسله واله نښته بدله شوه. یوشمیر کسان پکې ووژل شول اوځینې کلي اوکورونه داورلمبه شول، دولت کوښښ وکړچې دپوځې مداخلې له لارې جګړه پای ته ورسوي. خوڅه ګټه یې ونه کړه بالاخره اعلیحضرت محمد ظاهرشاه دهغه دخت یومشهورپیرمقتدا صاحب ته وظیفه ورکړه چې له خپل روحاني قوت څخه په استفادې سره دغه مشکل ته دحل لاره پیداکړي. مقتدا صاحب سیمې ته ځان ورساوه اوددواړو قامونومشران یې خپل حضورته راوبلل هغوی ته یې اعلان وکړچې دادی له همدې شیبې څخه ما داوربند تیره کیښوده اوتاسوته اعلان کوم چې که تردې شیبې وروسته کوم لوري ډزوکړنوزه ښیراوې کوم او بیا چې هر څه پیښ شول مسئولیت به یې ستاسو په غاړه وي. خپلې تسپې یې له جیب څخه را وویستې اوپه یوه ډبره باندې یې کیښودې اواعلان یې وکړ چې تر دریو کلونوپورې به دغه اوربند نافذ وي.

ددواړو قامونومنګلواوځاځیو مشرانو د مقتداصاحب اوربند ومانه اوخپلوخپلو جنګیالیوته یې امر وکړ چې سنګرونه خوشي کړي اوخپلوکورونوته ستانه شي. په دې شپوورځوکې زه په کلي کې وم اوددوبې دیوې میاشتې رخصتۍ دتیرولوله پاره کلي ته تللی وم.

زه په هغه وخت کې د پوهنتون د څلورم کال محصل وم اودکابل پوهنتون دادبیاتو په پوهنځي کې مې زده کړه کوله . ما له دې څخه پخوا کومه داسې وژونکې جګړه نه وه لیدلې چې زما احساس یې ژوبل کړی وای او بیا مې هغه ژوبل احساس ته په لیکنه کې ځای ورکړی وای. خودې جګړې زما احساس ژوبل کړ که څه هم په هغه زمانه کې زه مبتدي شاعروم. خو بیامې

هم دجنګ پرخلاف يوڅه وليکل چې دنمونې په توګه يې دلته راوړل ضروري بولم ،ځکه پدې شعر کې دجنګ ضد احساس موجود دی

يا شـــپونکی وای لوړو غرو کې چې رمې مې څرولای
را ســـره ښکلې شپيلۍ وای شا و خوا مې غږولای
ښـــه رمه مې وای په مخکې ګرځيدی په لوړوغروکې
لـــه هيڅ شي نه خبر نه وای تش ژوندون مې تيرولای
يـــا باغوان وای په باغچو کې کرد ګلو مې کولای
رنـــګا رنګ ښکلي ګلان مې څنګ ترڅنګه کينولای
يا چرسي وای لوی چيلم مې راته ايښی وای په خواکې
نيـــشه يې غوندې لګيا وای د م په د م مې څکولای
يا بيـــخي جوړ ليونی وای لوړو غروکې مې ګذران وای
چـــا له حاله د پښتون زه په هيڅ شا ن نه خبرولای
يـــا خو نوم د پښتون نه وای يا په سمه لار روان وای
څـــه به ښه وای لراو بر چې خپل وطن ودانولای
يـــو تر بله جا ر يد ل وای د پښتون په غره او سمه
د خــــپل خوږ وطن له پاره هر چا سر قربانو لای
کاشکې يو موټی يولاس وای که څه لردي که څه بردي
د غـــروال لاس کې رباب وای په ډيرشوق يې ترنګولای

په همدې ورځ چې ما دغه پورته نظم پوره کړ دجنګ له ډګرڅخه احوال راورسيد چې يوشمير ځوانان له دواړو لوريو څخه وژل شوي اويو شمير کورونوته اور وراچول شوی دی. نوبيا مې دغه ترانه وليکله چې دجنګ اوتاوتريخوالې پرخلاف د اوازدپورته کولود بيلګې په توګه يې دلته راوړم

نن بيا وطن په وينو رنګ دی پيغلې ژړيږي دپکتيا په غرونوجنګ دی
شاوخوا جوړې هنګامې دي
دښمن په کور ميـــلې دی

ميلې دي

پښتون تباه شو ورته جوړ دغم ګړنګ دی      وطن په وينو رنګ دی      نن بيا

پښتون راټول بيا شاوخوا دی

پخپلو کې لګيا دی

لګيا دی

يه دنګو غرونو کي دسپينو نوروشرنګ دی      وطن په وينو رنګ دی      نن بيا

منګل. خاځي سره جنګيږي

په وينو کې لمبيږي

لمبيږي

بدبختي راغله ورورله وروره ځني تنګ دی      وطن په وينو رنګ دی      نن بيا

کلي. کورونه سوځل کيږي

دغم باران وريږي

وريږي

له جهالته پيدا شوی ورته تنګ دی      وطن په وينو رنګ دی      نن بيا

زه به ترڅو کرم فريا دونه

له غمه تل ويرونه

ويرونه

غرواله[1] دي خلکو ته چاورکړی بنګ دی      وطن په وينو رنګ دی      نن بيا

دابيلګه ديوه مثال په توګه راوړل شوه. خوزما دځيړنو اوپلټنوپه بهيرکې ډيرځله داسې پيښ شوي دي چې ديوې دورې دزياتوکتابونوپاڼې مې اړولي اوړا اړولي دي اوله دي سرنه ترپايه پورې مې دنثراويا نظم اثرکتلی دی. خودخپلې موضوع په ارتباط مې يا هيڅ يکې نه دي موندلي اويا هم دنشت په حساب مواد لاس ته راغلي دي. مګرپه دې مې بسنه نه ده کړې بلکې خپلوځيړنواوپلټنو ته مې دوام ورکړی دی. دليکنيو ادبياتو ترڅنګ مې ولس ته هم مراجعه کړې ده اودولسي او شفاهي ادب د بيلا بيلو

[1] محمد عارف غروال. حرکه. داسعدو علمي پالګه. خاځي ميدان. ښيري صنه ۱۳۴۷ کال دسپلي لومړي ورځ. ۱۰۱-۱۰۲ مخونه

صنفونو په اړه مې پوښتنې او ګروېږنې سرته رسولې اوخپلې هلې ځلې مې جارې ساتلې دي

دماشومانوپه سندرواوښځینه سندروکې دډېروخیړنو او پلټنوپه نتیجه کې هم داسې مواد لاس ته رانغلل چې زما ضرورت ته ځواب وویلای شي ځکه ماشومان خوپه اصل کې له جنګ اوسولې سره بلد نه دي اوپه دې یې سرنه خلاصیږي چې جنــګ څه ته وايي او سوله څه معنی لري ځکه ددوی تولنیز چاپیریال په اصل کې په مینه، محبت اودوستی بنادی.نوکه ددوی ترمنځ کومې سندرې موجودې هم دي. هغه یوازې ددوی دساتیری په اړه دي . که څه هم زموږ دزمانې ماشومان چې زیاتره یې په جنګ کې زیږیدلي اوپه جنګ کې رالوی شوي دي. خودماشومتوب په دوران کې یې دې ټکي ته چندان پاملرنه. نه ده کړې اوخپلوعادي لوبوته یې دوام ورکړی دی. خوبیا هم کله نا کله په غیر ارادي توګه داسې څه ترې اوریدل شوي دي چې که هغه ثبت شوي وای نوحساب پرې کیدای شوو

یوه ورځ ماته خیږنوال حضرت محمد ویارقصه کوله چې دکارمل دواکمنی په شپوورځوکې په خیرخانه کې دکوم دوست کورته دهغه دلیدلوله پاره روان وم چې دکورونوپه مخکې څو ماشومان په لوبو بوخت وو او په ډیر ښکلي آوازیې دا سندره زمزمه کوله

کارمله ستا دلاسه کډې مو لوږوغروته لاړې واکارمله ستا دلاسه

دادهغو ماشومانودږونوآوازدی چې کیدای شي ځینې خپلوان به یې دوطن په پریښودلو اړ شوي اوغرونوته به یې کډې کړي وي اویابه له هیواد نه بهر ګاونډیو هیوادونوته تللي وي. له دې سره سره ما کوښښ وکړ یو لږ داسې آثاراولیکنې له نظره تیرې کړم چې دماشومانودسندرو او نورولوبو په اړه لیکل شوي وي. خوداسې څه پکې ونه موندل شول چې دبیلګې په توګه یې وړاندې کړای شم

دښځوسندرې هم معمولاً په ودونواویا داخترونوپه میلوکې ویل کیږي چې موضوع یې هم یوازې اویوازې پرهماغو مناسباتوپورې اړه

پیداکوي ځکه خونوزه بریالی نه شوم چې په ښځینه سندروکې هم داسې ډیرځه وموموم چې پخپله لیکنه کې دیادونې وړتکیه پرې وکړم که څه هم په دې اړه مې زیاته څیړنه اوپلټنه وکړه

په هرصورت کیدای شي په دې اړه به پولړمواد موجود وي اوامکان لري په راتلونکي وخت کې دپښتو ادب څیړونکي په دې بریالي شي چې په دې باره کې مواد ترلاسه کړي خواوس مهال ماته داسې مواد لاس ته راغلل چې دبیلګې په توګه یې وړاندې کړای شم . ماکوښښ کړی دی د پښتو ادب دبیلابیلو دورو ټول هغه آثاروګورم چې هم په نظم اوهم په نثرکې لیکل شوي اوپه کتابتونونو کې شته چې دادی زما دهمدې څیړنو اوپلټنوپه نتیجه کې دنظروړ رساله دادب مینانو ته په مخکې ږدم

**ومن الله التوفیق**

# دویم څپرکی

## (الف)

### سوله دانساني ټولنې د پرمختګ دیوه مهم ضرورت په توګه

ادب او ادبیات دیوې ټولنې دافکارو. نظریاتو اوعقایدو داظهار اوڅرګندونې وسیله ده . خو داوسیله یوه ښکلې وسیله ده . یوه لطیفه وسیله ده او یوه داسې وسیله ده چې له انساني زړونو څخه راوځي او راساً په زړونو اثر کوي . زړونو ته لار پیداکوي او دژوند د بهیر په سم لوري دروانولو لار په ښه کوي . دیوې ټولنې لیکوال او ادیب دهغې ټولنې دورځنیو اړتیاو او ضرورتونو له په پام کې نیولو سره کوښښ کوي په ډیرو ښکلو . رنګینو او خوندورو الفاظو کې هغه سپیڅلې اهداف او ضرورتونه د خپلو خلکو په وړاندې انځور کړي چې دژوندانه په ټولو ساحو کې یو مثبت تحول. تحرک او خوځښت راژوندی کوي

په دې اړه تر اوسه پوري زموږ دتاریخي هیواد پوهانو او ادیبانو ډیر څه لیکلي او خپلې ژورې او هر اړخیزې لیکنې یې زموږ په مخکې ایښې دي. او داټول هغه څه دي چې زموږ ټولنه دجنګ او زړه بداوي پرځای سولې او مینې ته رابولي . ټولنیز ګډ ژوند ته یې رابولي او د اجتماعي

ګډژوند هغه ښېګڼې بیا نوي چې انسانان دخپل ژوند دبقا لپاره ورته ضرورت لري

سوله. امن او خواخوږي د جنګ. لانجو او انسان دښمنی ضد کلمې دي کله چې په یوه ټولنه کې جنګونه . خرڅښې او انسان د ښمني دوام پیداکوي او دیوې ټولنې اجتماعي ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي نو دسولې. امن او یو تربله دخواخوږی ضرورت پیښیږي او دجنګ، لانجو. تاوتریخوالي او ګډوډیو پرځای د سولې دټینګولو. امن دراوستلو او انسانې خواخوږی دتامین پرضرورت فکر کیږي او په دې اړه رغنده هلې ځلې دوام پیداکوي

جنګ اوسوله دانسانانو له ټولنیز ژوند سره موازي راروان دي. کله چې دجنګ ضرورت له منځه ځي. نو پرځای یې سوله راځي. امن راځي اوانساني خواخوږي راځي اوبیا دهمدغې سولې.امن او انساندوستی په رڼا کې انسانان خپل ټولنیز ژوند تنظیموي او دیو بل په مرسته .دیوبل ترڅنګ اودیوبل په مینه خپلې ورځنی چارې پرمخ بیایي

جنګ دتباهی. بربادی اوګډوډی نوم دی. خو سوله د سوکالی . آرامی او ودانی په لور وګړي رهبري کوي ځکه خونود انسانانو په ټولنیز ژوند کې سوله لوړمقا م لري او په درنه سترګه ورته کتل کیږي. دکوم هیواد وګړي چې یا له نوروسره اویا دځینو عواملو له امله پخپلوکې په جګړه اخته وي.نو په ټولنیز ورځني ژوند کې له ډول ډول کړاوونو سره لاس اوګریوان وي او داجتماعي ژوند په بیلوبیلو برخو کې یې دوړاندې تګ او پرمختګ په لارکې خنډونه موجودوي.له دې امله دټولنې پوه اوسترګور شخصیتونه د سولې اوامن پر ضرورت زیات ټینګار کوي

افغانانودخپل اوږده تاریخ په بیلوبیلو دوروکې د جنګ او سولې ډیر پړاوونه شاته پرایښې دي او کله چې جنګ پرې تحمیل شوی او یا جنګ ته مجبور شوي دي.نو ترڅنګ یې سوله ییزې هلې ځلې هم نه دي هیرې کړې او کوښښ یې کړی دی چې د خپلو خلکو لپاره دسوله ییزژوند امکانات

برابرکړي چې د سولې دغه انعکاس پښتو ادب ته هم په پراخه پیمانه لارموندلې اودپښتوادیبانو. شاعرانو اولیکوالانو پخپلو لیکنو او فنپاروکې دسولې او امن پرضرورت زیات ټینګار کړی او په پراخه توګه یې خپل خلک دجنګ پرځای سوله ییزژوند ته رابللي او دجنګ جګړو ورانوونکې پایلې یې ورته په ښه کړې دي.

افغانان او په ځانګړې توګه پښتانه که څه هم دنړۍ پرمخ په توره، میړانه اواتلولۍ کې ځانګړی نوم لري.خوترڅنګ یې تربل هر چا زیات په امن اوسوله مین دي.توري اوجنګ ته هغه وخت مخه کوي چې ورته مجبورکړای شي. دچاله خوا وربانديې تجاوز وشي او ملي هویت او تشخص یې له ګواښ سره مخامخ شي. خو که داسې نه وي او له کوم لوري او دچا له خوا وربانديې برید او تعرض نه وي شوی نو بیا تر بل هرقام زیات دسوله ییزژوند له دوام سره مینه لري او انسان ته دانسان په توګه ارزښت ورکوي. له هغوی سره انساني خواخوږي لري او دورځینو مشکلاتو په له منځه وړلو کې یې هڅې او هلې ځلې کوي.

(ب)

## سوله دیوې ټولنې دورځني ژوند دبهیر دروانولو دعامل په توګه

افغانان په دې پوهیږي چې له سولې اوامن پرته ورځنۍ چارې لکه څنګه چې ښایي پرمخ نه شي تللی. افغانان له سولې اوامن سره څکه مینه لري چې دجنګ نتیجه اوپایلې ورته معلومې دي اوافغانان په خپل هیواد .سیمه اونړۍ کې څکه سوله او امن غواړي چې دترقۍ او پرمختګ یوازینی لامل یې بولي څکه داجتماعي ژوند بهیر هغه وخت په سم لوري روانیدلای شي چې دهغې ټولنې وګړي په ډاډمنه توګه خپلې ورځنۍ چارې سمبالې کړي او افغانان په دې ډیر ښه پوهیږي.

کله چې زموږ پر خلکو جنګ تحمیل شوی . نوورته معلومه شوې ده چې ټول ورځني فعالیتونه یې په ټپه درید لي او پخوانۍ لاس ته راوړنې

يې هم په اوبو لاهو شوي او اجتماعي ژوند يې ګډوډ شوی دی. کله چې په هیواد کې کورنی کشمکش او ګډ وډي منځ ته راغلې. نوا فغانانو ته ثابته شوې ده چې دژوند ټولې برياوې يې يوه په بله پسې په اوبو لاهوشوي دي او کله چې په هیواد کې امن او ثبات له ګواښ سره مخامخ شوی دی. نو زموږ خلک دې ته متوجه شوي دي چې په هیواد کې دسولې.امن اوثبات له ټينګښت نه پرته ژوند له مشکلاتو سره لاس او ګریوان وي.نو دې اصل ته په پاملرنې سره زموږ دهیوادهر لیکوال اوشاعر خپل ټول وس او توان په کاراچولی او داسې څه يې خپلوهيوادوالوته وړاندې کړي دي چې دهغو په رڼاکې دوی وکړای شي دخپل ژوند سمون ته متوجه شي او هغه لاره ونیسي چې دهغې په واسطه په هیواد کې امن.سوله اوثبات تحقق مومي اودوی ته دارام ژوند موقع په لاس ورکوي

زموږټولنه يوه سنتي ټولنه ده .دوی تربل هرڅه زيات پخپله اسلامي عقيده ټينګ ولاړدي چې دهمدغې سپیڅلې عقيدې په رڼاکې دخپل ورځني ژوند چارې سمبالوي ځکه دوی په دې پوهيږي چې اسلام دسولې او امن دين دی.اسلام انسانانو ته دوروري او محبت پیغام ورکوي اواسلام خپلوپیروانو ته لارښوونه کوي چې دنړۍ له نورو انسانانوسره په سوله اودوستۍ کې ژوند وکړي او ورسره راشه درشه ولري. همدالامل دی چې افغانان په ځانګړې توګه پښتانه دسولې ، ثبات او انساندوستۍ پلويان دي او دزړه له کومې داغواړي چې پخپل هیواد اوسيمه کې دورځني ژوند دبهیر دروان ساتلو په غرض ددوی په چاپیریال کې سوله وي اوامن وي. خودې عالي هدف ته درسيدو لپاره تر هرڅه دمخه علم او پوهې ته ضرورت دی ځکه دواقعي علم په ذريعه کولای شو خپل دغه مرام ترلاسه کړو ځکه خونو زموږ دزمانې وتلی فلسفي ليکوال اوشاعراروانښاد ګل پاچا الفت په يوه ادبي ليکنه کې موږ د ظلم او ناروادله منځه وړلو په غرض علم ته داسې رابولي

## ملک اوملا

دکلي ملک به چې هرڅه کول څوك يې مخې ته نه شو ورتلى.زروو كه زور ودواړه له ده سره وو هرڅه دده په لاس کې وو اوهرڅوك دده ترلاس لاندې وو .هيچا دخپلې خوراولور واک نه درلود

دکلي غوړي اوچرګان هرڅه دده وو. ښايسته ښځې به له ده کره وې،ښکلي هلکان به دده په مخکې ګرځيد ل او هر چابه دده خدمت کاوه، يوه ورځ په کور اوکلي کې دا اوازه خپره شوه چې هغه بې موره اوبې پلاره هلک چې په علم پسې تللى و دعلم اوکمال خاوندشو.هغه اوس له ډيرې پوهې سره بيرته وطن ته راځي.هرچاته سمه لاره ښيي. هرڅوك په حق پوه کوي او هر چاته حق وايي ځکه چې هغه دحق ملګرى دى اوله ظلم سره دښمني لري

دا اوازه په ملک باندې ښه ونه لګيده.ملک له دغه هلک نه وډارشو او پريشانه خوبونه يې وليدل.ملک پوهيده چې هغه خيرات خورملانه دى . دهغه سترګې ډيرې مړې دي اوپه زړه کې يې دزوروروډارنشته. هغه هيڅکله بې له خدايه بل چاته سرنه ټيټوي.له هغه سره دحق جذبه اوحقاني قوت شته اوپه ويناکې يې بل شان تاثير موجوددى .څوورځې پس ملا له يوې امسا سره راغى.ظلم اوناروانه يې بد وويل.دزوراوقوت مخه يې ونيوله .خلک يې پخپل حق پوه کړل او دمظلومانو ملګرى شو

دده ملګري ورځ په ورځ زياتيدل اوپه اولس کې پوهه اوبيداري پيداشوه.هغه ملک لرې شو او پرځاى يې بل ودريده.دغه بل ملک هغسې ملکي نه کوله اوډيرسم به چليده.چې علم اوپوهه پيداشي ملکان سميږي او خلک سم ملک دروي

د فرعون او موسیٰ قصه. دملک اوملا افسانه همدغه معنیٰ لري. هلکان باید په علم پسې لاړشي اودعلم رڼا له ځانه سره راوړي ›› [۱]

هنر او ادبیات هغه وخت خپل واقعي ارزښت تر لاسه کوي چې د جنګ ضد وي او د سولې لپاره وکارول شي. همدغه شعر اوهنر دی چې دنړۍ ګوټ ګوټ ته دسولې پیغام رسوي او دنړۍ وګړي تفاهم اوسوله ییز ژوند ته رابولي.پښتو ادب اوهنرهم دخپلو نورو اجتماعي خدمتونو تر څنګ سوله اوانساندوستي هم نه هیروي او دانساني ژوند د لومړني ضرورت په توګه یې له پامه نه غورځوي

سولې اوامن ته یوازې افغانان نه بلکې ټول بشریت ضرورت لري اویوه بشري ټولنه هم نه شي کولای چې له سولې.امن اوثبات پرته خپلې ورځنۍ چارې سمبالې اودپرمختګ پړاوونه ووهي. که څه هم انساني ژوند له لانجو او تاوتریخوالي سره تړلی دی. کله کله دځینوعواملو له امله یوانسان دې ته اړکیږي چې له بل انسان سره په لانجه کې ښکیل شي اوکه دریمګړی مداخله ونه کړي اوددوی ترمنځ پیښه شوې لانجه غوڅه نه کړي.نوکیدای شي چې له کوچنۍ لانجې څخه غټه لانجه جوړه شي.دغه شان دهغې ټولنې لیکوال اوشاعرهم ددریمګړي مصلح حیثیت لري.لیکوال او شاعرزیار باسي په ډیرمهارت اوخوږوالفاظوکې دلانجواوشخړو ناوړه عواقب اودسولې.تفاهم اودوستۍ ګټې بیان اودخپلوخلکو په مخکې یې کیږدي.دلته ده چې موږ دلیکوال اوشاعر تاریخي رسالت درک کوو

داسلام په مقد س د ین کې سولې اوسوله ییزژوند ته زښت ډ یرارزښت ورکړل شوی او په انساني ټولنه کې دسولې پردوام باندې ټینګارشوی دی.سوله دصلحې په بڼه عربي کلمه ده اوپه عربي ژبه کې په یوولسومعناو

---

[۱] اروانباد استاد ګل پاچا الفت. غوره نثرونه.خپروونکی سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان. ۱۳۷۲ هـ ش ۱۹۹۴م کال.۹۷.۹۵ مخونه

راغلې ده لکه چې امام راغب اصفهاني اونوروعربي ژبپوهانو ويلي دي اودغه معناوې په لاندې ډول دي

۱. منفعت اوګټه. ۲. ورتيا اومناسب والی. ۳. ښه والی. ۴. استعداد.
۵. جوړښت اوښېړتيا چې له يوه شي اويايوچا څخه نيمګړتياوې لرې کړای شي
۶. نيکي اوښيګڼه. ۷. نعمت. ۸. پخلاينه. ۹. اتحاد. ۱۰. اتفاق. ۱۱. اوربنداودجګړوبندول

داخود سولې لفظي تعريف وچې وړاندې شو خود سولې اصطلاحي تعريف داسې دی. دسولې په اړه علماواوفقهاو بيلابيل تعريفونه کړي دي داځکه چې دسولې مواردمختلف دي لکه

په اقتصادي معاملاتوکې سوله. په ازدواجي معاملاتوکې سوله.دميړه اوميرمنې ترمنځ سوله. د جګړه ماروډلوترمنځ سوله او داسې نورموارد سوله ځانګړي تعريفونه لري.خودلته له نورو اړخونوڅخه تيرېږوېيوازې دجنګ اوجګړو دپای ته رسولواوپرځای يې دسولې د ټينګښت په اړه د محدثينو. فقهاو. مفسرينو او دعربي ژبې دپوهانو اصطلاحي تعريف راوړو

ژباړه : سوله دجنګ بندول. دشخړوليرې کول او داختلافاتو ختمول دي دهغوشرايطوپربنسټ چې دسولې دشرطونوپه نامه يادېږي. يا په بل عبارت سوله هغه تړون دی چې جنګ . شخړه اونزاع پرې ختميږي داکه لفظي،وسله واله اويابل ډول وي [1]

په نړۍ کې داسې مشکل نشته چې د حل لارې ونه لري،خوکله کله انسانان په ځينوموارودکې دپرابلمونو اولانجوحل ناشونی بولي.په واقعيت کې داسې نه ده بلکې تاريخ ثابته کړې ده چې دنړۍ پرمخ ډيرې

[1] سوله داسلام له نظره. دعبدالخالق ستانکزي تخليص. دالمان خدماتي، پراختيايي موسسه. کابل، ۱۳۸۵کال، ۱-۲ مخونه

ستړې لانجې، شخړې او مشکل پرابلمونه دسوله ییزو هلوځلو په نتیجه کې اوارشوي اوانسانیت ته یې له تباهۍ څخه نجات ورکړی دی داکه دخبرواترولـه لارې وي، که دجرګوله لارې وي اوکه دغیرمستقیموخبرو له لارې وي، خومهمه داده چې هدف ترلاسه اودانسانانو ترمنځ سوله تامین اوتاوتریخوالی له منځه ولاړشي.[۱]

دلته ده چې دانساني ټولنې دورځني ژوند بهیر خپله لار پیداکوي اوانسانان دیوبل په وړاندې دمسئولیت احساس کوي، شخړې اولانجې خپل ځای دسولې ټینګښت، پخپلوکې تفاهم اودوستۍ ته پرېږدي اوپه نهایت کې انسان دانسان په توګه په ټولنه کې ژوند کوي. دغه عالي هدف موږ دفخر افغان پاچا خان په مشرۍ دخدایي خدمتګارۍ اوعدم تشدد په تګ لاره کې په ډېر وضاحت سره موندلای شو.

موږ چې کله دپاچاخان نوم یادوو، نو دخدایي خدمتګارۍ دهغه تحریک انساني هلې ځلې موپه مخکې ا نځورشي چې ټولو انسانانوپه ځا نګړې توګه پښتنوته یې خپل هد ف ته درسیدوله پاره په دوامداره توګه جارې ساتلې وې. پاچاخان په یوه داسې کورنۍ کې پیداشوی و چې که څه هم په خپله سیمه او ټول اشنغرکې یې تربل هرچا زیاته شتمني درلوده اودخپل وخت په خانانوکې تربل هرخان غټ خانان وو. خو ددوی دغه خاني اوشتمني ټوله دانسان په خدمت کې وه او تر بل هر څه یې دا غوره بلله چې د خپلو خلکو ا و خپل ولس د خدمت ویاړ ترلاسه کړي. دپاچاخان کورنۍ له لومړي سرڅخه له سوله ییز ژوند اوامن سره مینه درلوده. پخپله پاچاخان پخپل مشهور کتاب (زما ژوند اوجدوجهد) کې له انسان اوبشر سره دخپل پلار د مینې قصه داسې کوي.

---

۱ معراج الدین حکیمي، محمدپرویزاومحمدانور دسوونې اوروزنې پروژه ـ دسولې ښوونه اوروزنه (۱۳۸۲ هـ ش ۲۰۰۵ م کال)

زما دپلار نوم بهرام خان و . دکلي خان و اوپه مشرخان مشهورو .دی دنورو خانانو په شان نه و . په کلي کې دده هومره جايداد دچانه و . خودی داسې نه ښکاريده لکه خان. پوه اوزيږ پښتون و .په چايې زياتی نه کولو اونه يې مظلومان دبل چا زور زياتي ته پريښودل.که دده سره به چا زياتی وکړو هغه به يې په صبربرداشت کولو او دبدل جذبه يې په زړه کې نه ساتله . ورونواوتربورانو ورسره ډير زياتی کړی و . دده وس کيده چې بدل ورنه واخلي.خودبدل په ځای به يې وبخښل بلکې احسان اوښيګړه به يې ورسره کوله.مونځ ګذار.پرهيزګاراوسوله دوست سړی و.دصبر اوزغم خاوند و [١]

پاچاخان دخدايي خدمتګارۍ دتحريک د مشر اوسالار په توګه ديوه قام دکاميابۍ راز په اجتماعي تحريک اويووالي کې بولي ځکه خونو دخدايي خدمتګارۍ دتحريک په اړه خپل نظر اورايه داسې ښکاره کوي

دکاميابۍ له پاره اجتماعي تحريک اوقرباني په کاروي. نودچا په زړه کې چې داقسم جذبات اواحساسات پيداکيږي هغوی له پکاردي چې په قام وګرځي اوځان سره ددې قسم داحساس خاوندان ملګري پيداکړي اوپه ګډه دظلم.زياتي اوبې عزتۍ مقابله وکړي.چې په قام کې داسې ډله پيداشي اوقوم تنظيم کړي.نو کاميابي حاصليدای شي اوهغه قام بيا څوک غلام ساتلی نه شي. د اجتماعي او انفرادي حرکت يو فرق دا دی چې حکومتونه انفرادي حرکتونه خاموش کولای اوختمولای شي.همدا وجه ده چې په انفراديت کې ويره اوترس هم ډ ير وي اوحکومت اجتماعي حرکتونه وژلی نه شي ځکه چې ويره پکې نه وي. ډير انفرادي حرکتو نه چې ډيرو غښتليو پښتنو يې رهبري کوله مغلو. انګريزانو او پاکستان خا موش اوختم کړل مګرخدايي خدمتګارتحريک چې اجتماعي تحريک و نه دپيرنګيانو ظلمونو. وژلو. وهلو.ټکولو. قيدولو. پرمټونو. فريبونو

---

[١] عبدا لغفار. زما ژوند اوجدوجهد. کابل . دولتي مطبعه. ۱۳٦۲ هـ ش کال . ۴. ۲۸-۲۹ مخونه

او دسیسو ختم کړ اونه پاکستان ددوه دیرش کالو ظلمونو. شرمولو. وژلو،جایداد ضبطولو، قیدولو،بې آبه کولو.پرمیټونو اولالچونو ختم کړ په پښتنو کې ډیرلوی لوی پاچاهان اومشران پیداشوي اوتیرشوي دي.خوهیچا په پښتنوکې اجتماعي ژوند اوداجتماعي ژوند فکرنه دی پیداکړی،اولنی تحریک دخدایي خد متګارتحریک دی چې اجتماعي ژونداوفکریې پیداکړ. (۱)

پاچاخان په بل ځای کې دخدایي خد متګارۍ تحریک د حضرت امام حسین رض له قیام سره تشبه کوي او وایي

«موږ پښتانه دحسین رض ډیر قدرکوو اوپه موږ ډیرګران دی ځکه چې دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمسی و او پرهغه ډ یر ګران و. نوځکه پرموږهم ډیرګران دی. بله داچې امام حسین رض هم دحق اوجمهوریت له پاره راپاڅیدلی واوموږهم دخپل حق اوجمهوریت له پاره راپاڅیدلي یو. هغه هم مظلوم و او موږهم مظلومان یو. هغه هم له ظلم سره د مقابلې له پاره را اوچت شوی و او موږ هم له ظلم سره د مقا بلې له پاره راپورته شوي یو. هغه هم مسلمانانو ته دجمهوریت حق ګاټه او موږ هم مسلمانانو ته جمهوریت ګټو .هغه هم دامن له پاره کارکاوه او موږهم دامن له پاره کار کوو.» (۲)

پاچاخان خپل ټول ژوند په مبارزه اوجیلونو کې تیرکړی دی.خودده مبارزه دعدم تشدد پراصولو ولاړه مبارزه وه. له انسان اوانسانیت سره د مینې پرښنسټ عیاره شوې مبارزه وه اودسولې اوامن دمعیارونو دتحقق له پاره دانسان دوستۍ اوعزیزولۍ مبارزه وه پاچاخان دهغوپښتنو خانانو ملکانواوملایانو مخالف و چې خپله ګټه یې دقام اوولس له ګټې غوره بلله.هغه که له یوې خوادانګریزي ښکیلاك او پاکستاني استثمارپه

---

۱- عبدا لغفار، زما ژوند اوجدوجهد، کابل ، دولتي مطبعه، ۱۳۶۲ هـ ش کال ، ۲۸-۲۹ مخونه

۲- عبدالغفار، زما ژوند اوجدوجهد . کابل . دولتي مطبغه . ۱۳۶۲ هـ ش کال . ۳۸ مخ

وړاندې مبارزه کوله. نوله بلې خوابې دهغو پښتنو خانانو.ملکانو اوملایانو په مقابل کې هم سنګرنیولی وچې دقام دآبادی.سوکالی اوامن پرځای یې هغه لار نیولې وه چې یوازې اویوازې به ددوی مادي ګټه پکې وه.پاچاخان په دې اړه داسې لیکي
«پښتون یو ژوندی قام دی. دقومیت اوقربانی ماده هم پکې شته. خو راویښول غواړي. قومونه خوتش په کُف اوچُف نه بیداریږي.دقومونو دژوندي کولو اوبیدارولو له پاره داسې کسان په کار دي چې بې غرضه وي. دیانت داروي.ایمانداروي او دخدای دپاره دخپل قام خد مت ته تیاروي.چې داسې کسان په کوم قام کې پیداشي. نو دهغوی په کوښښونوپه هغه قام کې مینه. محبت. همدردي .وروري او عزیزولي پیداشي.هغه قام آبادشي.موږ بې همتو او خود غرضو خانانو.ملایانو اوباباګانو تیارې ته کینولي یوځکه خوزموږ دقام داحال شو. که چیرې داکارونه په تش کُف اوچُف. وظیفو او دوعاګانو کیدلی شوای نو زموږ خپل رسول ، به دومره کړاوونه ولې کول دومره قربانی به یې ولې ورکولې. تکلیفونه اومصیبتونه به یې ولې تیرول.خو د جومات په ګوټ کې به ناست وای د وعابه یې کوله. دهغه په شان دوعا دچا کیدای شوه؟ کاربه کیده. قام به آبادیده.خو خبره داده چې بې عمله دوعا دخدای په نزد نه قبلیږي.په دې کې دپښتنو څه ګناه ده؟ دوی ته چې هرچا جونګه جاړه اچولې ده .دوی ورته راتیول شوي دي. شکرانې یې ورکړې دي. دهغوی په مخکې یې منډې وهلي دي.خد متونه یې ورته کړي دي.ملکانې اوسیرې یې ورکړي دي تردې چې خویندې اولونه یې هم ورکړي دي.خوهغوی دا بد بختان په هغه دین هم نه دي پوه کړي. هغوی دا ګومان کاوه چې دازموږ ددین اودنیا نجات دهنده دي.خوله دوی سره نه ددین غم واونه دقام هغوی سره خپل غم

و.هرڅه یې خپل ځان ته کړي دي. قام وطن اودین ته یې هیڅ نه دي کړي.«(۱)

پاچاخان دخپلې مبارزې اوجدوجهد په لړکې وخت په وخت کله هلته اوکله د لته پراخې جلسې جوړولې اوله دې لارې یې دقام درابیدارولو او یو موټی کولو له پاره ونیاوې اوتقریرونه کول چې دغوجلسو اوغونډوته به زیات شمیر پښتانه ورتلل او ګډون به یې کاوه. پاچا خان چې کله د خپل قام زړونو ته لاروموند له اومحبوبیت یې له یوې ورځې نه بلې ته زیاتیدو، نوانګریزان هم سخت ورته متوجه وو اوکله کله خو به یې دجلسوپرجوړیدو بندیزهم ولګاوه.خودقام اوولس دټوپان مخه څوك نیولی شي په تیره بیا پښتانه چې یوځل دکوم کاردکولو اراده وکړي هغه هرومرو سرته رسوي. پاچاخان دیوې هغې جلسې یادونه هم کړې ده چې قام هغه ته په دې جلسه کې دفخر افغان لقب ورکړی دی. دی لیکي:

« انجمن اصلاح الافاغنه زما دراتلو په خوشالۍ دیوې لویې جلسې انتظام وکړواو د ټولې صوبې خلکو ته یې د شرکت دپاره دعوت نامې ولیږلې. د جلسې په ورځ په زرګونوخلک په ډیرشوق اومینه محبت شریك شول.په اتمانزو کې دټول قوم یوه عظیم الشانه لویه جلسه وشوه چې په هغې کې ماله دقوم دطرف نه یوه سپاسنامه (address) راکړی شوه. یوه تمغه اوجوبه هم دقوم دطرف نه راکړی شوه اوبله داچې دټول قوم له طرف نه یې ماله دفخرافغان لقب راکړو چې زما دتقریرکولو وخت راغی. نواول ما دټول قوم اوجلسې دکارکنانو دډیرې شکریې نه پس یومختصر تقریر وکړو اودقوم د ډاډ اوحوصلې زیاتولو دپاره مې ورته یوه قصه وکړه چې ما په مدرسه کې په یوکتاب کې لوستې وه.ما ورته ووې چې اې پښتنو ورونو تاسو باندې دهغه زمرې توقه شوې ده چې کوم په ګډوکې لوی شوی واوډګډوعادتونه یې اخیستي وو. په هغه کتاب کې لیکلي وو چې

(۱)-عبدالغفار . زما ژوند اوجد و جهد . کابل. دولتي مطبعه . ۱۳۶۲ هـ ش کال . ۴۷-۴۸ مخونه

یوزمری دمور په ګیډه وچې موریې دګډو په یو کنډك حمله وکړه دورتوپ ګولو سره یې بچی پیداشو اوموریې مړه شوه اوبچی ترې پاتې شو.دابچی ګډو سره لوی شو اوڅه وخت چې لوی شو نو ده کې اکثرعادتونه دګډو وو اوله هغوسره به څریده اودهغوپه شان یې د بین بین آوازونه هم کول. یوه ورځ یوزمری په دې ګډوراپیښ شو.دده په لیدو ګډې ددې خپل زمرکتې سره تس نس شوې او یوخوابل خواوتښتیدې. د ځنګلي زمري په دې زمري نظرشوچې دده په لیدو لکه څنګه چې داګډې تښتې او بین بین کوي دغه شان ددې زمري بین بین کول او تښتیدل ورته ډیر عجیبه ښکاره شول. ده ګډې پریښوې او ځان یې دغه زمري ته ورسولو اوهغه یې راونیو او ځان سره یې یو نږدې د اوبو تالاب ته راوستو. د تالاب په غاړه یې ودرولوچې په هغه کې خپل شکل ووینې اوخپل ځان وپیژني چې ته هم زما په شان زمری یې بین بین مه کوه اووغړمیږه زمري چې خپل شکل ولیدونوورته معلومه شوه چې زه خوزمری یم اوهغه وخت یې د بین بین په ځای غړمبیدل شروع کړل . نوما دې پښتنوته ووې چې اې پښتنو وروڼو تاسې هم زمري یئ نور بین بین مه کوئ وغړمیږئ دغلامۍ دازنځیروشلوئ . پاڅئ .ملاوتړئ اوخپل ملک اوقام دغیر دغلامۍ نه آزاد کړئ.زمادې تقریر په خلکو ډیر اثر وکړو او جلسه په ډیرې کامیابۍ سره ختمه شوه. (۱)

د لته د پاچاخان د مبا رزې د مشت نمونه خروار بیلګې وړاندې شوې . خو دا چې د خدایي خدمتګارۍ د تحریك د جوړیدو په اړه پخپله پاچاخان څه وایي اوکومې اغیزې ددې سبب شوې چې هغه له کانګرس سره د یوځای کیدو پرځای د پښتنو په خاوره کې دخدایي خد متګارۍ دتحریك اساس کیږدي اوله دې لارې دعد م تشدد نظریه وړاند ې بوځي پاچاخان لیکي

(۱) عبدالغفار، زما ژوند اوجد وجهد، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۲ هـ ش کال، ۳۰۸-۳۰۹ مخونه

## لاهورکې د کانګرس جلسه ۱۹۲۹ع

په د سمبر ۱۹۲۹ء کې په لاهورکې دکانګرس سالانه جلسه وه اوچونکه لاهور صوبه سرحدته ډیره نږدې وه په دې وجه دصوبه سرحد ډیر خلک دکانګرس دجلسې دلیدو له پاره لاړل. ما اوامیرممتازخان زموږ دآزاد سکول هیډماسټر دتللو اراده وکړه موږ کانګرس کې نه وو. موږ خوخلافت کې وو اوموږ تماشې له تللي وو. د کانګرس جلسې زموږ په ځوانانو باندې ډیرښه اثروکړو اوبیا دې خبرې پرې ډیر اثر وکړو چې ځوانان خوپریږده د هندوانو جینکۍ هم د ملك دآزادۍاوخدمت دپاره ملاتړلې ولاړې دي موږهم دکا نګرس په پنډال کې ځای په ځای وګرځید و موږ چې دجینکو والنټیرو (رضا کارانو) قومي جذبه ولیدله نوله دې نه ډیرمتأثرشوو.

موږ دصوبه سرحد نه تللي ټول ملګري هلته راجمع شوو ما ورته ووې چې سړي خو پریږده دهندوانو ښځې هم بیدارې شوي دي او د ملک د آبادۍ له پا ره یې ملاتړلې ده . په پښتون د ښځوډیراثرکیږي. ددې خبرې په هریوډیر اثر وشو اوهرسړی چې لاهورته تللی و.نو په زړه کې یې دقام اووطن احساس پیداشوی و. جلسه ختمه شوه

## خدايي خد متګاري

موږچې دلاهورنه واپس شوو. نوپه اتمانزوکې مولویه جلسه وکړه زه په جلسه کې راپاڅیدم اوخلکوته مې ووې چې تاسوخوویده یئ اوسړي څه کوئ چې دهندوانو ښځې هم رابیدارې شوي اوهغوی سروسره یوځای دملک دآزادۍ له پاره ملاتړلې ده اوجدوجهد کوي تاسو خولږدې لمرخاته ته وګورئ څومره لوی سیلاب را راون دی اوسیلابونه همیشه ویده قامونه وړي. پاځئ . ویښ شئ اوملا وتړئ. تاسو خوګورئ پیرنګیان وایي چې هندوستان موږپه توره فتح کړی دی دا زموږ دی اوموږ به پرې حکومت کوو اوګټه وته یې زموږ ده. هندوان پیرنګي ته وایي چې تاسې موږ په زوره نیولي یو.اوس چې موږ پوه شوو اومتفق شووخپل وطن درنه اخلو

دازموږ وطن دی اوس به پرې موږ حکومت کوو.تاسې ددې نه خبریئ که نه ؟ زه مو خبروم چې خبر شئ دهندوانو اوپیرنګیانو په دې جنګ دی چې پیرنګی وایي چې هندوستان کې به بادشاهي موږکوو اوهندوان وایي چې دلته به بادشاهي موږکوو اومسلمانان دغفلت په خوب ویده دي، نواې پښتنو ورونو زه تاسونه پوښتنه کوم چې تاسوبه څه کوئ، ناست به یئ، دوارو ته به دوعا کوئ اودغلامۍ اوپټتي توب ژوند به تیروئ( موږ چې هلکان وو غوزان به موکول، لویه دایره به مو راښکله اوپه هغې کې به مو غوزان کیښودل، ګټه بایلات به ددوو لوبغارو وو یو دریم سړي به دوارو له غوزان راټولول هغه سړي ته به یې پټتي ویلو چې چا به غوزان وګټل نو هغه ته به یې د وه غوزان د ګټې ورکول) نواې پښتنو تاسې ته وایم دادپټتي توب ژوند خوښوئ اوکه تاسو هم ځان د دې وطن مالکان ګڼئ؟ نوپاڅئ او ملا وتړئ او دا خپل ملک خپل کړئ جلسه په ډېر جوش اوخروش ختمه شوه اوپه پښتنو زما دتقریرډېرښه اثروشو.

د شپې زموږ دکلي محمداکبرخان،سرفرازخان اوحجاب ګل اویو څونورهلکان زما دلیدوله پاره زموږحجرې ته راغلل اوماسره یې دیو جماعت دجوړولو مشوره وکړه ما هغوی په ښه شان پوه کړل چې دا لوبې توکې نه دي داډېر مشکل کاردی.ددې په لارکې ډېر اغزي دي په تاسوبه زما دتقریر ډېراثرشوی وي،خولا ږشئ، په دې معامله ښه غور اوفکر وکړئ، هغوی مې رخصت کړل،بله شپه بیا راغلل ما ورته ووې چې ستاسوپه ذهن کې زما هغه تقریرلا اوس هم ناست دی.تاسو ددنیا تاریخ وګورئ په دنیا کې چې څوك دخدای دمخلوق د خد مت له پاره پاڅیدلي دي.نوپه هغوی مصیبتونه اوتکلیفونه راغلي دي تاسوپه دریم ځل په دې ښه غوراوفکروکړئ بله شپه بیا راغلل اوراته یې وویل چې موږپه دې کارډیرغوراوفکروکړ.موږ دملک اوقام دخدمت له پاره دهرقسم تکلیفونو . مصیبتونو اوقربانیوته تیاریو . بیا موږ کینا ستو اوپه دې خبره مو غور کولوچې ددې نوي جماعت نوم دې څه وي،زما خیال وچې په دې

پښتون کې دخدمت خیال نشته. په دې جماعت موږ یوداسې نوم کیږدو چې دپښتنو په دماغ کې دخدای دپاره دخدمت خیال پیدا شي. قسم قسم نومونه پیش شول .خو زموږ خوښ نه شول. دشپې زما په زړه کې دخدایي خدمتگار نوم راغی. چې سباله دوی راغلل نوما ورته دانوم وړاندې کړ. ددوی هم خوښ شو اودوعا دخیرپرې وشوه.دې نوم زموږپه زړونوکې یوقسم اطمینان پیداکړو. موږ پښتانه خدایي کار اوخد مت هغه کار اوخدمت ته وایوچې بې دکومې طمعې.غرض اواجرت نه یې دخدای دپاره کوو او خدای خوخد مت ته ضرورت نه لري.دخدای د مخلوق خد مت دخدای خد مت دی. زموږپه علاقه کې ملایانو ډولکی اوسرنا بند کړي وو . د ډمانو یو مشرو هغه خپلو کشرانوته ویلي وو چې بچو دا ډول ډ بلی دکوټې په تیرکې کیږدئ اخربه خدای مسلماني راولي. نو ډ مانو ته مووویل چې هغه خپل ډول ډبلی راواخلئ هغوی ډیر خوشاله شول.هغوی هم له موږ سره خدایي خد متگار شول او موږ داشنغر او بیا د وادي په دوره روان شوو اوچې یوکلي ته به نږدې شوونوډول به مو وواهه چې خلکو به د ډول او سرنا اواز واوریدو. نوحیران به شول ولې چې ډول اوسرنا خو ملایا نو بند کړي وو. نوچې چا به اوریده ښځې،نر،بچي به راغونډیدل اوموږ پسې به را روان وو. موږ چې به دکلي منځ ته ورسیدو نوډول اوسرنا به موبند کړل

دکلي اکثر خلک به راغونډ شوي وو اودې کار موږ سره ډیر مدد وکړو.نومابه ورته یو مختصر غوندې تقریر وکړو چې پښتنو ورونو موږستاسو وروڼه یو. ستا سو خدمتگار یو. ستاسو خد مت له راغلي یو. راځئ چې خپل وران کور جوړ کړو. تاسو لږدې د نیا ته وگورئ که علم مونشته نوسترگې خوموشته. ددنیا خلک اوقومونه اسمانونوته وختل اوموږپه ځمکه پاتې شوو.هغوی چې زموږپه شان بنیادم دي.موږ ورته لاس نیولي دي چا نه داني غواړو.چانه پیسې غواړو.موږله خدای دجنت په شان ملک راکړی دی. ددولتونو اونعمتونوډک دی او زموږ پکې څه حال دی؟ دجوارو ډوډی نشته چې په مړه گیډه یې وخورو.هغوی ولې اباد

شول؟ اوموږ ولې پاتې شوو؟ هغوی کې وروړګلوي ده . قامولي ده او اتفاق دی، په موږ کې پرې دي . جنبې دي اوبغض دی، کينه ده،نفاق دی، دانن دنيا دقامولی دنيا ده که قوم شوئ نو ستاسو دنيا به هم آباده شي او ستاسو آخرت به هم آباد شي

زموږ دې خبرو په خلکو ډير اثروکړو اوموږ چې به هرچيرته لاړونوښځې،نر، واړه،زاړه به ټول راسره روان شول، نوملايانو دافتوا ورکړه چې پاچاخان دجال دی ددجال په هکله دامشهوره وه چې دی راشي نوښځې، نر،اوماشومان به ورپسې وي، ملايانوبه خلکوته ويل چې تاسو ګورئ چې نر،ښځې، زاړه، واړه ورپسې دي کوم ځوان چې به زموږ جماعت کې داخليدو نو هغه به عهد کولو . موږ به ورته ويلې چې دا لار ډيره ګرانه ده اوپه دې لاره کې ډيراغزي،مصيبتونه اوتکليفونه اوقربانۍ دي. که دې ته تياريې، نوهله خدايي خد متګار کيږه،ښه غوراوفکرپکې وکړه بيا به مو ورته ويلې چې خدای ته خو دخد مت ضرورت نشته. دخدای خد مت دادی چې دهغه دمخلوق خد مت دهغه درضا له پاره وکړئ بيا به مو ورته داخبره وکړه چې پرې، جنبې،تربګنۍ به پريږدئ ولې چې ددې دلاسه زموږ کور وران دی اوکه څوك درباندې زياتی وکړي،نوته به ترې بدل نه اخلې. صبربه کوې،بيا به موورته ووې چې تشدد به نه کوئ ولې چې تاسو وګورئ دپښتون خپل کور دتشدد په وجه وران دی اود ده تشدد خوخپل وروږسره دی بل ته يې ايمان نشته خدايي خد متګا ر به دخپل قوم اوملک خد مت د خدای د پاره کوي بل غرض به يې نه وي. رسم او رواج به پريږدي او هره ورځ به پخپل لاس دوه ګينټې کارکوي داوعده چې به يې وکړه، نو هله به موږ دهغه نوم دخدايي خد متګاروپه فهرست کې وليکلو

دعدم تشدد په هکله خلکو کې عجيبه عجيبه خيالات دي. ددې په هکله ډيرې پروپا ګنډې کيږي اوپه خلکو کې غلط فهمي پيداکوي،څوك وايي چې که څوك په يومخ څپيړه درکړي نوته ورته دابل مخ هم ونيسه،چا به وې چې ته ورته پروت اوسه اوبل به درباندې ګرځي. چابه وې چې ته به ورته

پروت یې اوهغه به دې وهي ته به لاس پښه نه خوځوي.چابه وې چې پښتون یوبهادر او زبردست قوم دی. غفارخان یې بزدله کوي.لنډه داچې قسم قسم خبرې وې، دراصل عدم تشدد یوطاقت دی څرنګه چې تشدد یوطاقت دی دعدم تشدد هم دغه شان پوخ دی لکه څنګه چې تشدد دی خود عدم تشدد وسله تبلیغ دی او دتشدد وسله ټوپك دی، عدم تشدد په خلکو کې محبت پیدا کوي،همت پیداکوي او جرأت پیداکوي اوتشدد په خلکو کې نفرت پیداکوي او ویره پیداکوي اوبزدلي پیداکوي. بعضې خلک وایي چې د ډ-یفنس (دفاع) له پاره خوتشد د پکار دی. دوی دې ته فکرنه کو ي چې تشدد دې وکړو ،نودعدم تشدد لاره دې پریښوه حالانکه عدم تشدد کې خپله دفاع شته.عدم تشدد کې شکست نشته او تشدد کې شکست شته.څنګه چې دتشدد یونظام دی دغه شان دعدم تشدد هم مکمل نظام دی. تشدد اسان دی اوپه دې لاره تلل هم آسان دي او عدم تشدد ډیر ګران دی اوپه دې لاره تلل هم ډیر ګران دي، یو سړي له دپړق ځواب کې پړق ورکول اسان کاردی. خو پړق زغمل ګران کار دی (۱-۲)

مونږ ګورو چې په پښتنوکې که په انفرادي توګه د تشد د اوتا و تریخوالي پرخلاف جدوجهد دوام موندلی دی. نو په اجتماعي اود یوه تحریک په چوکاټ کې هم دغه انساني غرپورته شوی او دتاوتریخوالي په وړاندې کرکه اونفرت ښکاره شوی دی

[1]- عبدا لغفار، زما ژوند اوجد وجهد ، ۳۵۴، ۳۵۹ مخونه

(۲) احمد دخدایي خد متګارتحریک.لومړی ټوک،دسرحدونو چارو وزارت ،۱۳۶۹هـ ش کال ۱۲۵ ، ۱۲۲ مخونه

(ج)

## سوله دوګړوترمنځ دوروري، برابرۍ اوعزیزولۍ دټینګښت دعنصر په توګه

دیوې ټولنې وګړي چې غواړي دخپل ورځني ژوند ټولنیزې چارې په ښه توګه سمبالې اود ژوند د بریاو په لورګامونه واخلي ، نوترهرڅه د مخه ورته لازمه ده چې پخپل چاپیریال کې دسولې په ټینګښت اوپایښت فکر وکړي اوداسې لارې چارې ولټوي چې ددوی داجتماعي ژوند په سمبالښت کې ورسره مرسته وکړي چې هغه پخپلو کې وروري،محبت اودسولې تامین دی.

زموږټولنه یوه عنعنوي ټولنه ده، زموږ په خلکوکې یولړداسې تعاملات او روایات موجود دي چې دهغوپه رڼاکې دغه عالي هدف ته درسیدولاره اسانیږي اوموږکولای شوددغو تعاملاتو او روایاتو په رڼاکې د تاوتریخوالي اولانجو مخه ونیسو. اوس د غوتعاملاتو او روایاتو په ملي کچه ریښې غزولې اوآن چې دښوونې اوروزنې تعلیمي نصاب ته یې ددرسي مرستیالوموادوپه توګه لارموندلې ،نوراځئ چې ددغې ګټورې رسالې په پاڼوکې « دسولې په راوستنه کې دمشرتابه ونډه» ترسرلیک لاندې مطلب ولولو.

جنګ ځپلوټولنو ته سوله راوستل ،خلک ددې پوښتنې دځواب لپاره بیل بیل نظرونه لري اود مسلک اوپوهې خاوندان هم جدا جدا نظریې وړاندې کوي.په دې اړه یو شمیر کسان دسولې په منځ ته راتلوکې دمشرتابه ونډه ستره بولي اووایي که په یوه لانجه کې دوې یا څوراښکیلې خواوې پریوه مشر سره راټول شي،مسئلې په اسانۍ سره حلیږي.

که مسئلې د یوهیواد دبیلا بیلو جغرافیایي حد ودو ترمنځ وي دهیواد مشر اوکه د ټولنې د وړو وړو ډلو ترمنځ وي دهغو دمحلي یا سیمه ییزمشر تر لارښوونې لاندې حل کیدای شي. له بله پلوه بیا داسې فکر کیږي چې له

ټولنې څخه مشر منځ ته راځي په لانجو او جګړوکې اخته ټولنه ځانته له خپلو غوښتنوسره سم مشر ټاکي.مشران دخپل اولس داحساساتو نمايندګي کوي.که چيرې په هغه ټولنه کې ددښمنۍ اورمړشوی نه وي. سوله خوښي مشران دهغوی مشري نه شي کولای. لومړی بايد ټولنه له جګړوڅخه پاکه شي اوسولې ته يې مخه شي.نو بيادسوله خوښي مشردرامنځ ته کيدو لاره اواره شي.

ټولنپوهانو اودمسلک خاوندانو هغه مشران چې د سولې په ټينګښت کې ونډه تر سره کولای شي په بيلا بيلو طريقو په لاندې توګه معرفي کړي دي

**ديوهيواد په بيلا بيلو برخوکې مشرتوب**

ديوملک په کچه صنفي ډلې .سازمانونه.دولتي اوغير دولتي موسسې هريوخپل خپل مشران لري چې داټول په دريو سطحو ويشل کيږي

**۱. لوړپوړي مشران**

داهغه موقعيت دی چې د شمير له مخې کم او دموقف اوواک له نظره تر ټولو لوړمقام لري.په دې کې دولتي مشران اودمخالفوغورځنګونو مشران ځای لري.دوی ځان دخپلو اولسونووياندويان اوداحساساتو نمايندګان بولي. د سولې اوجګړې په کارکې ونډه اخلي.بحثونه اوسنجشونه کوي اوپه پای کې پريکړې کوي چې څه وکړي.په دې سطحه کې دګوتو په شميرمشران ځای لري چې په پراخ ډګرکې داغيزخاوندان وي دامشران دشمير له پلوه کم.خوهرچيرته مطرح کيږي.ددوی وينا وو اودريځونوته زيات پام اړول کيږي .په ټولنيزو رسنيو اوآژانسونو کې ددې خلکو کړه وړه اوغبرګونونه زيات خپريږي اعلانونه اومقالې ددې کچ مشرانو دقانونيت لپاره کارکوي

دغه مشران دخپلو دريځونو دساتلو لپاره تل غواړي چې دخپلو سيالانو په مقابل کې پياوړی دريځ غوره کړي اوله خپلوټاکلو اوځرګندو اهدافو څخه په کم څه قانع کيدل کمزوري بولي او ځان ورته د خپلو خلکو په وړاندې کم ښکاري. نوله دې امله په لا نجو کې کلک د ريځ غوره کوي

اودستونزو دحل په وړاندې کله کله خنډ شي له بلې خوا په عامه توګه په نړیوالوربړو کې د پریکړو واک او د عملي کولو توان لري

۲ـ دټولنې دمنځنۍ سطحې مشران

دامشران دټولنې په منځنۍ کچه وي.دامشران داوړدې مودې لانجوپه چاپیریال کي کارکوي،ددې کچې مشران کولای شي چې په رسمي دریځونواو پوړیولکه ښوونه اوروزنه. کرنه،عامې روغتیا اونوروکې کاروکړي.خوپه خپل شخصي ارزښت اواعتبارسره کیدای شي چې په خلکوکې ددرناوي وړوګرځي اوهم کیدای شي چې په غیررسمي موقفونولکه مذهبي ډلو.اکاډیمیکي تشکیلاتو اویابشري سازمانونوکې کاروکړي اوبالاخره کیدای شي چې دلانجوپه محیط کي پیژند ل شوي وي او په ټولنه کې یې درناوی حاصل کړی وي. لنډه داچې دمنځني کچ مشرتوب دلانجوله محیط څخه راڅرګندیږي. دسیمې دننه اویا دباندې پیژندل شوی دی

دمنځنۍ کچې مشران هم له لوړو اوهم له ټیټو مشرانو سره اړیکي لرلای شي دوی به دټولنې دپاسنۍ سطحې له مشرانو سره اړیکي لري.خومکلف نه دي چې دهغوی دسیا سي اشاروله مخې پریکړه وکړي .همداراز داډله مشران دټولنې دټیټ کچوخلکو اودهغوی دمشرانوتجربې هم لري.بله خبره داده چې دټولنې دمنځني کچ مشرانو موقف په سیاسي اوپوځي پیاوړتیا پورې تړلی نه دی.ددوی ټولنیز موقف اواغیز په چاپیریال کې ددوی دپرمختیایي ودې په اړیکو پورې تړلی وي. لکه ددوی په مسلکي اړیکو.موسساتي اړیکو .رسمي اړیکو اویا پرشخصي دوستۍ اوملګرتیا ولاړوي

ډیرکم لیدل کیږي چې داډله مشران دې ملي اونړیوال موقف ولري. ځکه نودوی په ویلو اوکولوکې نرموالی ښیي دوی غواړي چې خپلې اړیکي له خپلو سیالانو اوورته کسانو سره وساتي او دامشران دلوړپوړو مشرانو له شمیرڅخه ډیرزیات دي اوټولنیزې پراخې اړیکې لري.دیادوشویو

ځانګړتیاوله مخې دوی په ملي کچه دلانجو داوارۍ اوبدلون ځانګړی صلاحیت اوورتیا لري، چي په ځینو وختونوکي د لوړې مرتبې مشرانو اوهم د ښکتني کچ مشرانو په پرتله ډ یراغیزناک رول لوبولای شي.

۳ـ **په ټولنه کي دټیټې سطحې مشران**

په ټولنه کې ددې کچې خلک تل د خپل ژوند داړتیا و دلاس ته راوړلو په هڅه کې وخت تیروي، داډول مشران دښوونځیو مسئولین، روغتیا یې کا ر کوونکي ، د مهاجر ینو دکمپونو مشران دمرستورسونې پروژومسئولین اونور ورته کسان دي ، په عنعنوي ټولنوکې لکه زموږ دهیواد زیاتې قبایلې سیمې بیا دلانجو داوارولو لپاره ځانګړي مرکچیان اوقومي مشران لري،،لیکوال،، دا مشران دورځني کړکیچ مقابلې ته مخامخ دي اودلانجو ټول تکلیفونه،کړاوونه پخپله احساسوي اود ورځینودـ ښمنیود ژورې کړکې لومړني عیني شاهدان دي،د وی دمحلي او سیمه ییزولانجو د حل پرلاروچا روبا ندې له نوروڅخه ښه پوهیږي او یوه لار ورته را ایستلای شي،خونه شي کولای چي په پراخه ساحه کې لکه په ملي سطحه لانجې اوارې کړي.

۴- **محلي (سیمه ییز) مشران**

دیني مشران،دیني عالمان ، مشایخ اوروحانیون په دیني مشرانو کې شمیرل کیږي، ددې مشرانو مقام متد ینو خلکوته ډیر لوړوي له دې کبله ورته درناوی کوي، ددې مشرانو ارزښت اواعتبار دهغوی دپلویانو ددیني عقیدې په درجې اوهم دمشر دشخصیت په سپیڅلتیا پورې تړلی وي، دوی ددین دحکمونو په استناد او دخپلې ځاني وړتیا په اساس دلانجو دوضعیت دبدلون اودسولې د ټینګښت په برخه کې له هر چا څخه زیات اغیزمن وي.

**۵- قومي مشران:**

افغاني ټولنه ترزیاته حده پورې یوه دودیزه ټولنه ده (لکه پورته چې ورته ګوته ونیول شوه) چې په قومي اوسیمه ییزو دودونو او اړیکو پورې اړه لري، اودهیواد په هغو سیمو کې چې دا اړیکې ټینګې اوخلک سیمه ییزو دودونو ته غاړه ږدي،هلته دقومي مشرانو ونډه دخلکو دستونزو په حلولوکې دپاملرنې وړوي،اوڅرنګه چې خلک د خپلو مشکلاتو دحلولو لپاره دوی ته رجوع کوي نودوخت په تیریدو سره ددې مشرانو تجربې هم دلانجوپه حلولو کې زیاتیږي.

**۶- درسمي چاپيريال مشران:**

درسمي چاپيريال مشران چې دخپلو ادارو مشري په غاړه لري درسمي واک درلودلو له امله پخپلوموسسوکې د لانجو دحلولو په برخه کې له هرچا نه زيات واک او توان لري، سربيره پردې ځينې له دې مشرانو څخه درسمي چاپيريال اوسيمې دخلکوترمنځ دارتباط کړۍ جوړوي لکه دسيمې دتعليمي اوروغتيايي موسسومشران او داسې نور. دوی کولای شي پخپل چاپيريال کې هم دلانجو دحل په هکله ښه رول تر سره کړي،دټولومشرانو تجربې،اعتبار او نفوذ دلانجو په حل کې زياته مرسته کوي. که دلانجو په حل کې دمحلي بااعتباره مشرانو ونډې ته پام ونه شي،دلانجو حل به له خنډ سره مخامخ شي.

**سوله ييز ژوند کول څه ته وايي؟**

ـ دهرچا فطري آزادۍ ته په شرعي حدودوکې په درنه سترګه کتل اواحترام کول.

ـ د چا پر شخصي مال باندې تعرض نه کول.

ـ د چا په مالي کاروبارکې خنډ نه واقع کيدل.

ـ د چا پرناموس لکه په ميرمنې،مور،خورواولورتعرض نه کول اودهغو احترام کول.

ـ دچا پرعقيده اودين تعرض نه کول اونه له ديني شعايرو څخه ديوچا منع کول
ـ د چا معبود ته ښکنځل نه کول اوورته په سپک نظر نه کتل
ـ له متبوع حکومت څخه سرغړونه.نه کول.په دې شرط چې دالله تعالی دتوحيد اوعباداتو پرضد نه وي
ـ پخپل لاس او ژبه چا ته ضررنه رسول
ـ ګاونډي ته په درنه سترګه کتل اوپرهغه تيری نه کول
ـ په ټولنه کې دفتنې اوفساد اواخلاقي رذايلو له ترويج څخه ډډه کول
ـ اوداسې اعمالوڅخه ډډه کول چې بل څوک ورڅخه زيانمن کيږي اوامنيت يې ګډوډيږي (۱)

دپورتني پښتومتن په کتلو سره موږ وينوچې په يوه ټولنه په ځانګړې توګه زموږ په جنګ ځپلې ټولنې کې سولې او ا منيت ته څومره ضرورت موجود دی د همد ې مهم ضرورت پربنسټ موږ اړيو د خپلو وګړ و ترمنځ د وروری . برابری او عزيزولی دټينګښت لپاره هلې ځلې وکړو اوخپلوڅوريدلوخلکوته هغه لارپه ښه کړو چې په هغې کې زموږ دخلکو نيکمرغي اوسوکالي نغښتې وي

که څه هم زموږ پراخې پرګنې تربل هروخت زيات دې ټکي ته متوجه دي اوزيار باسي چې دسوله ييزژوند دچاپيريال په برابرولوسره دخپل ورځني ژوند بهير په مثبت لوري روان کړي. خو له دې سره سره لا نورو زيا تو هلو ځلو ته ضرورت دی تر څو د جنګ کلتور يو مخې له منځه ولاړشي اوځای يې.مينه .دوستي اوعزيزولي ونيسي، دخپلې دې مدعا دلاپياوړتيا لپاره غواړو«د سولې هڅه» دمجلې هغه متن راواخلو چې دې ضرورت ته داحسا س پربنسټ يې پخپلو پاڼو کې ځای کړی دی

---

(۱) ـ معراج الدين حکيمي، محمدپرويز او محمدانور. دښوونې اوروزنې پروژه . دسولې ښوونه اوروزنه، ۱۳۸۴ هـ ش ۲۰۰۵ م کال . ۴۲ . ۴۵ . مخونه

« زموږ ګران ټاټوبی افغانستان دزیاتې مودې لپاره دبې مفهومه اوبې هدفه جګړو ډګرو . دکور ورانوونکو جګړو اود بهرنیو تجاوزاتو . تیریو او دمفکورو دتحمیلولو په ترڅ کې زموږ د یروبې وژلو وګړو خپل ځانونه له لاسه ورکړل. ډیریې کاونډیو اود نړۍ نورو ملکونوته مهاجر شول. داصیل افغاني دود او د ستور ځای ټوپک سالارۍ. تا وتریخوالي. بدبینی. بدویلو ، ځان لوی لیدنې. ویري اوداسې نورو منفي کړنو ونیو ماشومان اونوي ځوانان دتعلیم له نعمت څخه بې برخې شول. د محلي اومنطقوي جګړو له امله په رواني اونورو ناروغیو اخته شول. زموږ د ټولنې بنسټیز مشکل دتعلیم له نعمت څخه بې برخې کیدل دي چې په پایله کې یې زموږ ډیروګړي دعلم له رڼا څخه بې برخې پاتې دي او ددې جوګه نه دي چې په دې جګړه ځپلې ټولنه کې د سولې د ټینګښت لپاره فعاله اومؤثره برخه واخلي لا تر اوسه هم زموږ دوطن ډیر وګړي له بنسټیزو ټولنیزو اسانتیاو څخه برخمن نه دي اوپه تیره بیا روغتیایي اسانتیاوې خو بیخي په نشت حساب دي. خلک د ناروا او بد چلند څخه د ژوند په هر اړخ کې شکایتونه لري . لاتراوسه زموږ دوطن خلک دڅښلو پاکې اوبه په واک کې نه لري اوژوند په ښارونو اوکلیوکې لاستونزمن کیږي اوزموږ مهاجر ورونه دراستنید و پر مهال د سرپناه اونورو رازراز ستونزو سره لاس اوګریوان دي.آن داچې ډیری ماشومان یې دخوارځواکۍ له ستونزې سره مخامخ دي.ددې لاملونو پربنسټ ضروري ده چې ټولې ټولنیزې ټولنې او خلک دهمیشنۍ ټولنیزې سولې د ټینګښت او رایج کیدولپاره دسیاسي سولې ترڅنګ چې په دې اړه دولت اونړیوالې ټولنې فعالیت کوي ګډ کار اوکړي نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړي.» [۱]

---

۱ -- دسولې هڅه . المان دانکشافي خد متونو د موسسې په مرسته. میاشتنی مجله.څلورم کال .یوویشتمه ګڼه. د ۱۳۸۵ هـ ش کال جوزا . ۶ مخ

ددې نظريو او مفکورو په بيانولو سره زموږ دا باور پياوړی شو چې زموږ په سوله اوثبات مين خلک په پراخه پيما نه دسولې او امن پرتامين ټينګار کوي اوغواړي هغه ټول عوامل له منځه يوسي چې زموږدوګړوترمنځ وروري، برابري اوعزيزولي زيانمنه کوي که څه هم ښايي موږ په دې اړه ډيرې لږې برياوې ولرو، خودادې معنیٰ نه لري چې موږدې لاس ترزنې کينوبلکې لازمه ده چې خپلې دغه رغنده هلې ځلې دوامدارې وساتو ترڅوپه پای کې په دې بريالي شو چې دګران وطن ټول خلک دوحد ت اوورورګلوۍ په يوه کلک مزي منګولې ولګوي اوپه خپل هيوادکې داډمن اوبسيا ژوند پيل کړي.

# دريم څپرکی

## سوله د پښتو په شفاهي ادب کې

### الف: سوله په پښتو لنډيو کې:

د پښتو دفولکلوري اوشفاهي ادبياتو اوشعرونو په لړکې لنډۍ زموږ دافغاني ټولنې دفولکلوري اوولسي شعرونو دعظيمې شتمنۍ يوه ستره او مهمه برخه ده، دپښتو لنډيو.يوه ستره ځانګړتيا داده چي دهغوسند ريز خصوصيت. آهنګ روزونکی فطرت اوجامع مفهوم د نړۍ د نوروژبو په ټولو اويازيا ترو فولکلوري شعرونو اوسند روکې ممتاز دی اوساری نه لري.

پښتو لنډيو دخپلې غوره ځانګړتيا له مخې دانسان داحساساتو ،عواطفو، دردونو، رنځونو،انګيرنو اوټولنيزو غوښتنو ډيره عالي،دقيقه او هراړخيزه درجه بندي کړې ده اوهغه يې دډيرخواږه،زړه راښکونکي اوظريف بيان په چوکاټ کې وړاندې کړي دي.زموږپه هيواد اوزموږدجغرافيايي سيمې په ټول فولکلوري قلمروکې دخپل آهنګي خصوصيت،دخپلې تغزلي شتمنۍ اودخپل سموالي اوهيځاً له پلوه هيڅ بله سندره او بل فولکلوري شعر له لنډيو سره برابري کولای نه شي

پښتولنډۍ هغه شعراویااشعاردي چې شاعريې معلوم نه دی.همدا لامل دی چې دهرحسا س پښتانه اوحساسې پښتنې داحساساتو اوجذباتو هینداره بلل کیږي

د پښتنو په غرو اورغو کې، کلیو، باندو او ښارو کې. په شنو اوتنګودرواوپراخودښتوکې دآبشارونوترڅنګ اود کیږدیو ارخ ته.دشپانه په شپیلۍ اودبنوال په زمزمه اودروي کې اوبالاخره دپښتنې ورشواوخاورې په هرګوټ اوهره پېښه کې له پښتو لنډیو څخه په یو شان اویوډول خونداخیستل کیږي اود یوه ګډ هدف او موخې له پاره زمزمه کیږي زاړه اوبوډاګان یې د خپلوځوانیو دخاطرو په یاد زمزمه کوي.زلمیان اوپېغلې دخپل زلمیتوب اوځوانۍ.شور.مستي اوخوځښت پکې لټوي.مینان له خپلو معشوقو سره دراز.نیازاورویباړۍ څرك پکې ګوري.دتورې اومیړانې په میدان کې دتورې خاوندان په شوراوغورځنګ راولي اوله خپل خواږه وطن څخه په سفر تللي پښتانه پکې دخپل وطن مینه تازه کوي

پښتو لنډۍ چې څومره ساده.رواني اوسلیسې دي په هماغه اندازه دپردیو ژبو له اغیز اواثر څخه هم پاکې اوخوندي دي. لنډۍ د سیلابي سیستم له مخې ځانته عروض لري. لومړۍ مسرۍ یې لنډه (۹) سیلابه اودویمه مسرۍ یې اوږده (۱۳) سیلابه ده چې په دې حساب دپښتولنډۍ دسیلابونوټول شمیر (۲۲) دی

دپښتولنډیو.یوبل مهم اوځرګند خصوصیت دادی چې زیاتره پکې دښځې له خوا نارینه ته خطاب شوی وي اوداچې له نارینه څخه دښځې احساسات نرم اورقیق دي.تأثرات یې ترنارینه اغیزناک اواوازیې ترنر خوندوردی. ځکه خونوپه لنډیوکې هم دپښتوترنوروشعرونوخوند اواغیزه زیاته محسوسه ده

همدارنګه هره پښتو لنډۍ زموږدملي موسیقۍ یوداسې نوټ بللی شو چې پربیلابیلو طرزونو اواهنګونوباندې غږول کیدای شي.هم دزړم.هم

دبزم .هم دسفر.هم دحضر.هم دناستې هم دولاړې هم دغم او هم د خوښې دحالاتو له ډول ډول لحنونو او آهنګونو سره سمون خوري او دپښتو د موسيقۍ دهرډول مجلس اوبنډار خوند اورنګ زياتوي.

پښتو لنډۍ په بيلابيلو وختونو اوبيلابيلو ځايونو کې په ډيره ښکلا اونازکخيالۍ ځان راڅرګندوي لکه دپسرلي په وخت کې چې پسرلنۍ وږمې خورې وي او چاپيريال رنګارنګ ګلانو ښکلې کړی وي،دتورې په وخت کې چې افغاني ځوانان ددين او وطن په سپڅلې مينه دجنګ په ميدان کې ولاړوي اوله دښمن سره ډغرې وهي.د پرديسۍ اومسافرۍ په وخت کې چې ځوانان له خپل هيواداوله خپل کورکلي څخه ليرې خپل وطن ته دبيرته تللو ارمانونه کوي.دبيلتانه په وخت کې چې کله دوه مينان له يواوبل څخه بيل اودبيا يوځای کيدو چيغې اوناري وهي.دديدن په وخت کې چې څه وخت دوه مينان ترډيرې جدايۍ اوبيلتون وروسته ديواوبل په ديدن نه مړيږي اودګودر پرمهال چې کله يوعاشق دخپلې معشوقې راتګ ته په انتظار ولاړوي اوديوې شيبې ديدن له پاره يې دګودرلاره نيولي وي اوداسې نورډولونه.خوزه غواړم په دې ليکنه کې پرهغو لنډيو وغږيږم چې دانسانانو دسوله ييز اوداډمن ژوند دتأمين په اړه دهيواد په غرونو او دروکې ازانګې کوي

سوله اوانساندوستي هغه عالي پيغام دی چې پښتو لنډيوپه پراخه پيمانه پخپله غيږکې ځای ورکړی اوپه ډيرو ښکلواورنګينو الفاظوکې دتاوتريخوالي اوخوابدۍ پرخلاف خلک مينې.محبت خواخوږۍ او وروړګلوۍ ته رابولي. وګورئ په لاندې پښتو لنډۍ کې څومره عالي پيغام پروت دی

دتورې سل پرهاره روغ شي د ژبې زخم ترقيامته پورې وينه (۱)

۱- پښتو لنډۍ ، کابل چاپ ، ۵۶ مخ :

همدارنګه دسولې اوانساندوستۍ په اړه دپښتو هره لنډۍ پرځپل ځای ځانګړی ارزښت لري اوهغه پیغام چې له ځانه سره لري اورید ونکی دې ته رابولي چې د تا وتریخوالي اوناخوالوپرځای،مینې،محبت،خواخوږۍ اوورورګلوۍ ته مخه کړي تر څو په دې توګه په انساني ټولنه کې دانساني لوړوصفاتو په لرلوسره ټولنیز ژوند پرمخ بوزي.په همدې لوړه هیله دپښتو لنډیو څو هغه نمونې را اخلو چې پورته ذکرشوی پیغام له ځانه سره لري:

اخترته ځکه خوشالیږم چې مرور جانان به ما پخلا کوینه
اختره څومره بختوریې چې دوه یاران یوبل ته غیږې ورکوینه
اختره ډیردې احسانمندیم چې مرورآشنا مې بیا غیږله راځینه
اجر،جزادعمل حق ده څوك چې دنیکوعمل کړي نیکي به وړینه
اختراٰلویه خوشالي ده چې زړونه اخلي پرې دعمر پیوندونه
آسمان ته لار دختونشته دځمکي سردې راته بلې لمبې کنه
آسمان اوځمکه دواړه ژاړي چې یوآشنا له بل نه اخلي رخصتونه
سبا به کاني بوټي ژاړي چې یوآشنا له بل نه اخلي رخصتونه
آشنایه راشه چې پخلاشو څوچې مرګی په دنیا شته جدابه شونه
آشنادې بدپرماثبوت کړي بې بدو زړه له مانه ولې بدوینه
بخت به مې هله رابیدارشي چې مرورآشنا پخلا راسره شینه
بدي دبدوخلکو کار دی څوک چې نیکان وي هغوی بدنه قبلوینه
پښتنانه واړه سره یودي ورك دې نفاق شي چې به دوی جلا کوینه
دښوټوپکووستا کاره دښوځوانانوخون به ستا په غاړه وینه
تورو ټوپکو کاریګره که ځوانان مړه شول خون به ستا په غاړه وینه
په چونۍ جنګ دی ډزې کیږي ګولۍ وریږي وینورنګ کړل وطنونه
ټوپکو بیا غاړې رنې کړي رنجکو وسول دځوانانو لړمانونه
زلمیه بس کړه جوړه وکړه مومندې کونډې شوې ښیرې درته کوینه (*)

(*)زلمی دمنګلود موسی خیلوپوټلی قومي مشرو.

حاجي ميرويسه جنتي شې — مور دګرګين له ظلمه تا خلاص کړي يونه
دجانان زړه دې له مابد کړ — دژبې سره په قيچي دې پرې کومه
دخيبرجنګ چې مې په زړه شي — له دواړوسترګومې دوينوڅاڅکي څينه
ددوومينو سوله وکړئ — پرزرغونه بالبنت يې يوځاى کړئ سرونه
دغم لړم به دې کرم کړي — ددښمني په سوړومه وهه لاسونه
راځه راځه چې روغه وکړو — زماستا څوك دي چې به مور پخلا کوينه
راځه چې بيا سره پخلا شو — مرګ راپسې دى نيمه خوا به پاتې شونه
عالمه يوتربل جاريږئ — دنيا فاني ده ميلمانه دي صورتونه
عالمه يوتربل جاريږئ — مادمجلس ياران ليدل چې خاورې شونه
عبدالمتينه نوريې بس کړه — ډيرې دې کونډې کړې ښيرې درته کوينه
هلک ته سپينې جامې ورکړئ — تورې جامې يې مردکو خوړلي دينه
سرېې په سره دسمال تړلى — خدايه يارجوړکړې ماناجوړه کړې مينه
جانانه هلته دې خداى مل شه — چې دټوپکوله خولوخيږي شنه دودونه

په پښتولنډيوکې نورې ډېرې داسې لنډۍ هم شته چې د سولې اوخواخوږۍ پيغام پکې انعکاس موندلى دى. خوددې له پاره چې موضوع رالنډه شوې وي، نودبېلګې په توګه ګوته په شمار لنډۍ راوړل شوې باوردى چې دموضوع له روښانتيا سره به مرسته وکړاى شي.

ب: سوله په پښتولنډکيوکې:

دپښتو دولسي اوفولکلوري ادب دغه له پامه لويد لى اوپاتې شوى ډول تر يوې مودې پورې دپښتو دولسي اوفولکلوري ادب څېړونکونه وڅېړلى اوپه دې اړه داسې څه په لاس کې نه وو چې پښتوادب څېړونکي ورباندې تکيه وکړي اوپه اړه يې څېړنې اوتحقيقات ترسره کړي.ځکه دغه فولکلوري سندرې يوازې دښپنو اوولسي سندرغاړو په سينوکې خوندي وې اوپه غرونو اوبيدياوکې به يې دغرنيو سندرو په لړکې زمزمه کولې.

دپښتو دولسي اوفولکلوري ادب دغه خوندوري سندرې په لويه پکتيا (خوست، پکتيا، پکتيکا) کې په خپله بڼه اوقوت سره خوندي دي اودپښتو دفولکلوري ادب ځانګړی باب جوړوي دا يو ډيرخوږاولنډکی شعردی چې تراوسه پورې يې دپښتو په ليکني اوفولکلوري ادب کې انډول نه دی موندل شوی اودپښتو په فولکلوري ادب کې له دغه شعر څخه لنډکی شعرنه لرو داڅکه دکاکړي غاړو ددواړومسريو سيلابونه معمولاً شپاړس اودلنډۍ دواړه مسرۍ دوه ويشت سيلابه دي.خوداشعر يوازې يوه څوارلس سيلابيزه مسرۍ ده چې دپوره لنډۍ مفهوم پکې پروت دی.څکه نو دلنډکۍ نوم ورته غوره بلل شوی دی

لنډکی که له يوې خوا له لنډۍ سره نږدې والی لري. نوله بلې خوا له لنډۍ سره خوڅکه نږدې ده چې دلنډۍ له دويمې مسرۍ نه يې يوازې يو سيلاب زيات دی.نورنوپه وزن اواهنګ کې ورسره يو شان ده اوله سروکي سره څکه ورته والی لري چې داهم لکه سروکي غوندې معمولاً له لنډۍ نه وروسته ويل کيږي. خو له لنډۍ سره يې لوی توپيردادی چې دلنډۍ دويمه مسرۍ دمعنی له مخې غالباً نيمګړې وي ترڅوچې لومړۍ مسرۍ ورسره يوځای نه شي مطلب يې ګونګ اونيمګړی وي اوهم دلنډۍ دويمه مسرۍ هيڅکله څوارلس سيلابه نه وي اوله سروکي سره يې توپير دادی چې يوه لنډکی معمولاً مطلب لري اوله هرې لنډۍ نه وروسته بدلېږي اوله مناسبې لنډۍ سره مناسبه لنډکی ويله کيږي (۱)

## دلنډکۍ جوړښت:

لکه مخکې چې وويل شول لنډکی معمولاً څوارلس سيلابه وي.همدارنګه لکه دلنډۍ په شان (لنډکی) هم په (ونه.ينه او مه) سرته

---

خيبرمل محمدعارف عروال، غرنۍ سندرې، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۶۰کال ، ۱۲۱ ۱۲۲ مخونه .

رسیږي چې ځانګړی وزن او آهنګ لري لکه په لاندې مثالونوکې چې لیدل کیږي

غـــــونډه منډه زه یم یارمې بله لټوینه

*** ***

توري سترګې سره لاسونه تاته ناسته یمه

*** ***

سوال زاري ونه کړې ایرانۍ ولاړې دینه

## دلنډ کیوموضوع:

لنډکۍ هم لکه دلنډۍ غوندې رازرازحماسي.عشقي.اصلاحي. اجتماعي. تاریخي اونوراړخونه لري اواجتماعي ژوند ټولې خواوې پکې رانغښتل کیدای شي.لنډکۍ د لویې پکتیا د خلکوله زړونوراوتلې هنګامې دي چې د دوی دودونه. رواجونه . تاریخي اعلام. ټولنیز خاص ممیزات اوغرنۍ روحیه پکې نغښتې ده او دپورته یادووشویوټولو موضوع ګانوپه اړه کوټلې اوهراړخیز مطالب پکې ځلیږي. خودلته له نورو اړخونو څخه تیریږو او یوازې هغه اړخ یې را ا خلو چې مینه. انسا ند-وستي اوسوله ییز ژوند پکې ځان څرګند وي.چې دادی دبیلګې په توګه څو هغه لنډ کۍ رااخلو چې زموږ دغه ادعا ثبوت ته رسوي

غـــــــرغــره یې لکه د بصرې په بازارونه

---

غره په بیخ یې پرې کړل دزیبو سپین مروندونه

---

غــره پرسریې پرې کړل دخټک چنګک بریتونه

---

پــورې ووري جنګ دی سره سټ یې کړل مینه

---

تــــور ببری نسکور دی زه په بام ولاړه یمه

---

تــورې سترګې سره لاسونه تاته ناسته يمه

جـــار ځان مې په هيره کړې چې تابه هيرومه

مـــا خو دې خدای نه لري چې ته نه وې مينه

پـــــريږده د دنيا غمونه زه دې ډيره يمه

راشــــه چې خوله درکړم مرور ګرځې مينه

جـار غمـو ته اور وراچوه چې و سيزينه

تـــه چې پنـــاه کيږې مخ را واړوه مينه

ســرې سترګــې راجګې کړه دمينې يار دې يمه

خـدای ته وکسه وخانده چې لاړ مې شي غمونه

حـق دی مرګی حق دی ستا ځواني مې ژړوينه

پـــريږده وطن پريږده چې ما يرې نږدې مينه

يـــو وار په خندا شه مخ راواړ وه مينه

لاس پـــه مينه راکړه سبا بل وطن ته ځمه

ته له خيــــره راشې زه له مينې مرم مينه

ما خـــو دې خدای نه لري چې تا نه يا دومه

جار رنـــځوره ياره په د يدن دې روغومه

پاس په هـــوا راشه کوزې لیارې بندې دینه
یو وار پـــــه خندا مخې ته بیا راشه مینه .

## ج: سوله په کاکړۍ غاړوکې

کاکړي سندرې یا کاکړۍ غاړې دپښتو دولسي اوفولکلوي ادب هغه لنډ اوخوږ شعر دی چې دپښتو تر لنډکۍ وروسته دپښتو په ډیرو لنډو شعرونو کې شمیرل کیږي خو له لنډکۍ څخه یې توپیر دادی چې لنډکۍ یوازې یوه مسرۍ ده اوکاکړي غاړې یا کاکړي سندرې بیا دوې مسرۍ لري چې هره مسرۍ یې اته (٨) سیلابه ده چې ټول شپاړس (١۶) سیلابه کیږي. کاکړي غاړې دویلوځانګړی طرز اوبڼه لري. داتړ په میدان کې،په ادبي بنډارونو کې اودخوښیوپه مجلسونوکې دباذوقه او دخوندوروآوازونودخاوندانو له خوا ویل کیږي چې مجلس ته ځانګړی خوند اورنګ ورکوي.

کاکړي غاړې هم لکه دپښتو لنډکیو په شان بیلابیل اړخونه لري لکه اجتماعي، عشقي،اخلاقي اصلاحي اوانساندوستي اوسوله.چې دلته یوازې دسولې او انساندوستۍ په اړه هغه نمونې را اخلو چې زموږ داجتماعي ژوند مهم اړخ ورپورې تړلی دی.

دمثال په توګه په لاندې کاکړي غاړه کې موږ هغه عالي احساس اولوړ پیغام وینو چې دجنګ اوجګړو پرځای خلک روغې اوجوړې ته رابولي، په دې غاړه کې جنګ اوجګړه داور له لمبو سره تشبه شوې اوپه دې توګه له جنګ اوجګړو سره کرکه او نفرت پکې ځان ښکاره کوي لکه:

په لمبوموځله مړه کو راسه روغه سره وکو[١]

همدارنګه په لاندې غاړوکې موږ وینوچې مینه اوانساندوستي له شاتو سره تشبه شوې،جګړه غندل شوې اودروغې جوړې له پاره بلنه ورکړل شوې ده

[١]- د پښین د صاحبزاده حمیدالله اثر.(٢، ٣، ۴) کاکړ،سیال ، غاړې، ۵٠ ، ٩۴، ١٢١، مخونه .

زما وستا مینه خوږه ده　　دا تـــرشا تو علاوه ده (۱)
که جــگړه سوله کړاره　　بیـړۍ پـاکه جلات خانه (۲)

---

ګـــرانه راشه روغه وکو　　اندیښـــنودواړه زاړه کو (۳)

---

شین خالی وېل نازکه　　بیرته ځم د یدن مې وکه (۴)
شین خالی وې دامې یاردی　　مسافر د بل دیار دی

---

د ه ژړل . دا په خندا وه　　دی مجنون و . دا لیلا وه

د یدن وکه بیرته ځمه　　څه پرخدای به دې سپارمه (۵)

## و: سوله دپښتو په سروکو اوداتڼ په ناروکې

دپښتو په ولسي اوفلکلوري اشعاروکې سروکي(نیمکی) اوداتڼ نارې یوه ډیره په زړه پورې اوخوندوره برخه ده. سروکي په عمومي ډول یوبیت وي چې دوې مسری لري . لومړی مسری یې اوږده اودویمه مسری یې لنډه اوکله کله ددواړو مسریو سیلابونه سره برابر وي. دقافیې له مخې هم دځینو سروکو دلومړی مسری اودویمې مسری قافیه سره برابره خودځینو نورو سروکو اوداتڼ دنارو دمسریو ترمنځ د قافیې برابرې شرط نه ده.

سروکي (نیمکی) اوداتڼ نارې دویلوبیلابیل طرزونه لري. سروکي چې کله وویل شي، نو وروسته لنډی پکې ورلویږي او سروکی بیا ورسره تکراریږي. خو د اتڼ د میدان نارې بیا دلنډیو ورلویدوته ضرورت نه لري او پرته له خودګوتو په شمار نارو څخه چې لنډی پکې ورلویږي نورې ټولې نارې په مستقله توګه او دلنډیو له ورلویدو پرته ویل کیږي.

---

(۱، ۲، ۳) کاکړ، سیال . غاړې. ۵۰ . ۹۴. ۱۲۱. مخونه.

(۴) پښتې سندرې. لومړی برخه. د پښتوټولنې دادبیاتو دڅانګې له خوا. کابل ۱۳۳٤هـ ش کال. ۳۷۱ مخ

(۵) پښتې سندرې. لومړی برخه. د پښتوټولنې دادبیاتو دڅانګې له خوا. کابل ۱۳۳٤هـ ش کال. ۳۷۱ مخ

سروکي اوداتڼ نارې که له يوې خوا په موسيقۍ کې پياوړې اوديادونې وړ رول لري نوله بلې خوا داتڼ په ميدان کې هم يوځرګند اوښکاره رول لوبوي.چې دغه دپښتو ولسي اوفولکلوري شعرونه هم لکه دلنډيو اولنډکيو په شان ځانګړې اوځرګند شاعرنه لري بلکې دټول ولس شريک اوګډ مال بلل کيږي.

سروکي اوداتڼ دميدان نارې لکه دپښتو لنډيو اولنډکيو په شان دټولنيز ژوند دبيلابيلو اړخونو په اړه ويل شوي دي لکه اجتماعي. عشقي. اخلاقي. اصلاحي اومينه اوانساندوستي چې دلته يوازې دسولې.مينې اوانساندوستۍ په اړه سروکي اوداتڼ دميدان نارې رااخلو

۱ - سروکي (نميکۍ):

مهـــا جرين راغلي دينه زماتوره جانانه پــه کابل جنګ دي (۱)

په ماشيندار وکاني بوټي لوټوينه غزا دشګې پله ته راغله (۲)

زما توره جانانه پيرنګی راغی ماکابل ته خيږوينه زما توره جا نا نه (۳)

شاه عبدالر مانه زور وره دشاغاسي کلادې ولې ورانوله

شاه عبدالر مانه (۴)

زمـا په غوږ شول داووډزواوازونه د زلمــو جنګ دی

راشه ومورجانې بلې ته راشه (۵)

---

ګل سرداره ياره جارشيرينه ياره ټول وطن سوراورشو ما په غيږ کې واخله (۶)

---

ولــــې خپه يې راتـــه ووايه حالونه په تا تيريږي څومره ظلم ستمونه (۷)

---

(۱، ۲) پښتنې سند رې، دويم ټوک . ۲٤۲، ۲۵۶ مخونه .

( ۳، ۴، ۵) پښتنې سندرې ، دويم ټوک. ۱۵۶، ۲٤۲،۲۳۸ ، ۲۷۳، ۲۸۶ مخونه.

(۶-۷) پښتنې سندرې ، دويم ټوک. ۱۵۶، ۲٤۲،۲۳۸ ، ۲۷۳، ۲۸۶ مخونه.

تل دې په داسې جم اوجوش کې وي قامونه
بې اتفاقۍ دلاسه ورك شول ولسونه (١)

---

پټانه رنـــګ دې شه نرې نرې برجونه
په هروطن کې قرارې په تا جنګونه (٢)

---

ځـــائيوونيول دتـــــوروغروسرونه
د سمې کورمې جينکۍ ژړا کوينه (٣)

---

خاونده مـــــه راولې بيا داسې کلونه
کورمې په سترو کڅو وختل توپونه (٤)

پورتنيو سروکو ته په کتنې سره موږ ګوروچې انساندوستي. مينه اوله جنګ ځخه کرکه پکې له ورايه ځليږي اوپه هرسروکي اوبيت کې کوښښ شوى دى چې په ځانګړې توګه يوه خاصه موضوع په ځان کې راونغاړي اودانساندوستۍ پيغام ته انعکاس ورکړي

## ۲ - داتڼ دميدان نارې:

داتڼ د ميدان په ناروکې هم ليدل کيږي چې انساندوستي اوخواخوږي په ځومره قوت سره ځان ښکاره کوي چې دبيلګې په توګه لاندې ناره رااخلو اوګوروچې په دې ناره کې دظلم اوناروا پرخلاف موقف نيسي:

لوريې ژنيو بوتله سپين ږيرى مو په سپينه ږيره ژاړي (٥)

## د سوله په پښتو متلونوکې:

متلونه ديوې ټولنې اويوه قام دکلتور هغه غوره مميزه ده چې دهغې ټولنې په ژبه اوادب کې ځان راځرګندوي او دهغه ملت او ټولنې دعاداتو اوکړو وړو، دود او دستور، پوهې اوتجربو اودطبيعت دصفايۍ هينداره

---

(١، ٢، ٣، ۴) پښتنې سندرې، دويم ټوک، ١۵٧، ١۶١مخونه:
٥- خيرمل محمد عارف ، غروال ، غرنى سندرې ، کابل ، ١٣۶٠ هـ ش کال ، ١٨٣ مخ .

بلل کیږي.متلونه دمعنی اوداستعمال دځای له مخې دوې خواوې لري چې یوه خواېې دمتل حقیقي معنی اوبله خوا يې داستعمال ځای اومورد دی.داضروري ده چې لومړی دمتل دمورد په اړه معلومات ولرو اوبيا يې پرحقیقي معنی ځانونه پوه کړوچې لومړی برخې ته يې حقیقي معنی اودویمې ته يې کنايي معنی ويل کيږي.

متلونه په يوه خاص اوځانګړي اړخ کې نه بلکې دټولنيز ژوند په بيلابيلو اړخونو کې ځان راڅرګند وي اولکه د کانې کرښې په شان تلپاتې بڼه غوره کوي له يوه نسل څخه بل نسل ته سينه په سينه ليږدي اودخپل واقعي ارزښت په ساتلو سره دټولنې د اجتماعي خصوصياتو اوممیزاتو څرګند-ونه کوي. پښتومتلونه هم دافغاني ټولنې بيل بيل اړخونه لکه ، فکاهي ، اجتماعي ، تاريخي تلميحي،سولې او انساندوستی او... خواوې لري چې موږ دلته د متلونو په نورو برخو نه غږيږو او يوازې هغه متلونه رااخلوچې په هغوکې سوله اوانساندوستي ديوه ځانګړي ارزښت له مخې ځای شوې اوپه دې ټینګار کوي چې انساني ژوند له سولې او انساندوستی پرته خپل حقيقي ارزښت له لاسه ورکوي اوانسانان دبدبختی اوتباهی په لوربیایي.

د سولې اوانساندوستی په اړه چې کوم پښتومتلونه زموږ په وړاندې پراته دي دوې بڼې لري چې يوه بڼه يې لکه دنظم غوندې منظومه ده اوبله بڼه يې دروان نثر په شان ده چې دغه دواړه بڼې دمفهوم اومحتوی له مخې ډيرې ژورې،پخې اوله مفهوم څخه ډکې دي اوکوم پيغام چې وړاندې کوي هغه په واقعي توګه په زړونو اثرکوي او اوريدونکی ترخپل ژورتاثير لاندې راولي چې دلته يې هره بڼه جلاجلا راوړل کيږي:

١ - د سولې او انساندوستۍ په اړه د پښتو منظوم متلونه

امير چې ظلم کار وي اوربل په تول ديار وي(١)

که پورتني متل ته په ژوره توګه وکتل شي. نو په انساني ټولنه کې روان کشمکش او تاوتريخوالی به ضرور په هغو عواملو کې ومومي چې په پورتني متل کې ورته ګوته نيول شوې ده او دا يو واقعيت دی چې دکومې ټولنې واکمن ظالم وي.جابروي او له خپلو خلکوسره دترمښت پرځای له زور اوجبرنه کار اخلي. نوله امله يې په ټوله ځا معه کې دبې امنۍ اوبې ثباتۍ ريښې خوريږي اوټولنه دبدبختۍ اوبدمرغۍ داور سرو لمبوته ټيل وهل کيږي

که بدي نه کړای بدې چارې بدی به چا واژه بې لارې(٢)

ربښتيا خبره داده چې هرعمل عکس العمل لري.که څوك ښه کوي.نو دښو انتظار دې وباسي اوکه برعکس له چاسره دبدۍ له مخې چال چلندکوي.نوهغه څه به ورسره کيږي چې دده دناوړه عملونو زيږنده دي.پورتنی متل هم د ټولنې افرادوته دا پيغام رسوي چې که څوك له چا سره دبدوکولو نيت ونه لري اوچاته تاوان ونه رسوي. نودده ژوند به هم په امن کې وي اوهيڅوك به ددې اراده ونه لري چې دده د ژوند آرامي اوسوکالي له منځه يوسي دغه لاندې دوه پښتومتلونه هم دپورتني متل له پخلي سره مرسته کوي اوکټ مټ هغه پيغام ورکوي لکه چې په پورته ذکرشوي متل کې يې انعکاس موندلی دی اوهغه په دې ډول

څوك مه وهه په ګوته تا به نه وهي په لته (لغته)
څوك مه وهه په نوك تا به نه وهي په سوك

راځئ چې لاندې متل هم وګورو

---

(١) حبيب الله رفيع ، د خلکو سندرې . ١٣٠ مخ کابل چاپ.
٢ - حبيب الله رفيع ، د خلکو سندرې ، ١٣١ مخ کابل چاپ.

بنده راشه دخدای خپل شه　　لکه په ځان يې داسې په بل شه [١]

دخدای له بنده ګانو سره مينه لرل اوله هغوی سره ښه کول له خدای سره د خپلوۍ او دوستۍ معنی لري.څوك چې غواړي خدای خوشاله کړي او دخدای رضا تر لاسه کړي.نو هرومرودهغه سترپروردګار له بنده ګانوسره ښه کوي او هغوی ته د تکليف رسولو پرځای ورسره مرسته کوي اودهمکارۍ لاس ورکوي چې په پورتني پښتو متل کې هم دغه ستر انساني پيغام نغښتی اوپه ټينګار سره غوښتنه کوي چې دخدای له بندګانو سره دمرستې اوهمکارۍ له لارې خپل ځان خدای ته نږدې کړي

چې يويې خوري بل ورته ګوري　　دأسمان نه کاني اوري [٢]

په دې متل کې دخواخوږۍ اوانساندوستۍ هغه عالي پيغام پروت دی چې شتمنو او بډايو انسانانو ته په ټينګار سره داسپارښتنه پکې کيږي چې له اړو اومحتاجو بنده ګانو سره دهغوی دژوند دمشکلاتو په له منځه وړلوکې مرسته وکړي ځکه د حضرت سعدي رح ددې بيت پرمصداق چې وايي

بنی آدم اعضای يکد يګرند　　که درآفرينش زيک جوهرند

چو عضوبه درداړد روزګار　　ديـګر عضوها رانماند قرار

نو چې يو انسان وږی وي . اړوي. محتاج وي او د بې وزلۍ شپې ورځې تيروي. دهغه په ګاونډ کې شتمن اوبډای انسان ته لازمه ده چې دخپل توان په اندازه ورسره مرسته وکړي اودهغه دورځني ژوند مشکلات څه نا څه راکم کړي.لاندې متل هم چې په ولس کې سينه په سينه له يوه نسل نه بل نسل ته ليږدي دپورتني متل په شان پيغام له ځانه سره لري

چې يوخوري بل ورته کسي　　خدايه ويې باسې کسي

داهم په ټولنيزو چاروکې دصداقت اوايمانداری په اړه يوه بله بيلګه

(١،٢) حبيب الله رفيع ، د خلکو سندرې ، ١٣١ ، ١٣٢مخونه، کابل چاپ.

الا بلا به ته کړي　　　لور اوزوی به پرې ماړه کړي
د مولا ځواب به څه کړي

دنورو پرحق باندې ختیته اچول، حرامه ګڼه وته کول اودنورو انسانانو له جیبونو څخه دخپلو جیبونو ډکول که له یوې خوا داسلام دمقدس دین خلاف عمل دی، نو له بله پلوه پښتني او افغاني ټولنه هم ددغه شان ناوړه عملونو دسرته رسولو اجازه نه ورکوي ځکه خونوپه پورتني پښتومتل کې سرغړوونکي انسانان دې ټکې ته متوجه کوي او په ټینګار سره غوښتنه کوي چې له دغه شان ناوړه عملونو څخه پرهیز وکړي او په دې توګه دنورو انسانانو دتکلیف سبب ونه ګرځي.

داهم دجنګ ضد منظوم متل

پښې لوڅې مزل ښه دی نه په پښو کې پایزار تنګ
سختي د سفر ښه ده نه په کور کې مدام جنګ

## ۲- دسولې اوانساندوستۍ په اړه دپښتو نا منظوم متلونه

که څه هم پښتومتلونه دخپل طبیعي جوړښت له مخې پخپل ځان کې تون اوآهنګ لري اوپه منظومه بڼه ویل کیږي. خونامنظوم متلونه ځکه ورته وایو چې لکه دیوه بیت په شان دوې مسرۍ نه لري بلکې دنثر په بڼه وي، خوله نثري جوړښت سره سره پخپل ځان کې یوډول آهنګ لري چې ځونې یې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

انسان تابع داحسان دی
اول حق دګاونډي دی
اول سلام، بیا کلام
بد زوی، نه زوی
بد مه کوه، بدبه نه مومې
بدخوی چې زورورشي، عقل مرورشي
بل نه چې یوه ګوته ونیوله شي، ځان ته درې ګوتې نیول کیږي
برښو تلوار، پر بدو تأمل

په یوه څپېړه سل مخونه خوږېږي
زورچې زورورشي پټی تخم سره خپل شي
هرڅه خوره خوهرڅه مه وایه
ترخه خوره ،خوترخه مه وایه
پاك اوسه. بې باك اوسه
چې بد ګرځې ،بدبه پرځې
چې بده غواړې په بده به واوړې
دظالم کاسه آخرچپه ده
دظالم کاسه نسکوره ده
زړه د مینې کور دی
ښارپه نرمه ژبه خوړل کېږي نه په کلک کوتک
ښه عمل د لارې مل
مه کوه په چا چې وبه شي پرتا
نرمه غاړه توره هم نه غوڅوي
کار چې په سلا وي. بې بلا وي
پاك نیت دتیارې لارې رڼاده
خپله ژبه هم کلا ده ،هم بلا ده
وینه په وینه نه مینځل کېږي
له مینې نه مینه پیداکېږي اوله کرکې نه کرکه

**هـ : سوله په ښځینه سندروکې**

ولسي اوفولکلوري ادبیات اوسندرې یوازې دنارینه وله خوانه ایجادېږي بلکې ښځینه طبقه هم چې دټولنې نیمایي برخه جوړوي اوله نارینه وسره په ټولنیزو چاورکې برابره ونډه لري دولسي اوفولکلوري سندرو په ایجاد کې ستر رول لري . د پښتو دولسي اوفولکلوري سندروپانګه غني کوي اوهره پښتنه میرمن اوپیغله د ښځینه سندرو یوه دیادونې وړ زیرمه پخپلوسینو کې خوندي ساتي اوپه ودونو.د ژوی

دپیداکیدو په مراسمو. په اخترونو او دخوښۍ په نورو بنداروکې دغه بیتونه او سروکي په ښکلو اوزړه راښکونکو اوازونو وايي او د مجلس خوند اورنګ پرې زیاتوي

ښځینه سندرې هم لکه دپښتو دنورو فولکلوري ادبیاتو په شان بیلابیل اړخونه لري. خو مینه او انساندوستي پکې زیات څکه انعکاس پیداکوي چې پخپله ښځینه جنس د مینې او محبت سمبول اودانساندوستۍ ننبه ده چې دلته دښځینه سندرو هغه نمونې را اخلو چې مینه محبت. خواخوږي او انساندوستي پکي له ورایه ځان ښکاره کوي لکه په لاندې سندروکې چې ګورو

تللی مو کاروان. کاروان دی     سلامت راشي لالیه نذرمې پیزوان دی[1]

---

جانان مې ګوښی جنګ ته لاړدی مړبه شینه     په زړه مې رتې نرۍ چیغې ګډې دینه

---

شنه شنه دې خالونه لیلا     وی ډیرپه ننداتو ووړکومه کوه ظلمونه لیلا[2]
ورته راغلې یم لالی پخلا کومه     ګورګورې تولومه     زه ګورګورې تولومه[3]

---

دانورې سترګې دې ورجګې کړه په مینه     لیلا یاردې بل وطن ته ځینه[4]

---

سمه کورمه تالاکیږي وای نرۍ مانبام دی     ماله خوبه ویښوینه وای نرۍ مانبام دی[5]

---

بې ګناه نشته مرګونه     زما جانان بې. بې ګناه وژلی وینه     جار بې ګناه[6]

---

له غمه ډك زړګی به چاته تشوینه په ارمان کې دی     وا وړې لیلا په ژړا یاردې لاړو (۷)

---

۱  خیرلسل محمد عارف . غروال . غرنی سندرې. کابل ،۱۳۶۰ هـ ش کال . ۱۸۹ مخ .
۲  نندان د ترحم وړ خوان ته ویل کیږي او د ننا دان مترادف شکل دی .
۳ - محمد عارف . غروال . غرنی سندرې. کابل . ۱۳۶۰ هـ ش کال . ۱۹۷،۱۹٤،۱۹۲،۱۹۱ محونه
۴. ۵. ۶) محمد عارف . غروال . غرنی سندرې. کابل . ۱۳۶۰ هـ ش کال . ۱۹۷،۱۹٤،۱۹۲،۱۹۱ مخونه .
۷-محمد عارف . غروال . غرنی سندرې. کابل . ۱۳۶۰ هـ ش کال . ۱۹۷ مخ .

د سپینې خونې پرسرمندکه ستا بلیا واخم وروره خومکه
تــا به ما نیې کاوئ له لا لکه له سردارانو دې دوستي وکه
ترشـا تربرونه لرې بې شکه خــورې که روغه ورسره وکه
ما به ترمرګه کې د رڅا ورکه[1]

یادونه انګۍ دکاکړستان اوژوب دسیمې فولکلورې سندرې دي چې دښځو له خوا ویل کیږي اوپه عامه پښتوکې ورته ساندې وایي (لیکوال)

## ح دولسي شاعرانو په شعرونو کې د سولې انعکاس

دپښتوولسي شاعران دپښتودولسي ادبیاتوهغه پنځوونکی قشر دی چې فی البد یهه شعر وایي او پخپل شعر کې هغه پیغا م رسول غواړي چې د ټولنې له ورځنې ژوند سره تړاولري. دولسي شاعرانوپیغام ځکه ساده اوعام فهمه دی چې دولس په ژبه وي او په هغه ژبه وي چې دده ولس پرې خبرې کوي ځکه خویې نو دخلکوله خواتودهرکلی کیږي اودخپلوښادیومجلسونه ددوی په ولسي شعرونولاخوندورکوي ډارمستیرددغوولسي سندرواوشعرونوپه اړه پخپل کتاب (دپښتونخوا دشعرهاراوبهار) کې داسې وایي ((په پښتوکې دخلکوسندرې دعامیانه تفکرټول هدفونه اواندیښنې په خپله لمن کې رانغاړې لکه دین. مینه. افسانې. د مینې کیسې. جنګي اوسیاسي پیښې...))[2]

دپښتودشفاهي ادبیاتوڅیړونکی حبیب الله رفیع شفاهي ادبیات دځینو خصوصیاتوله مخې په دوو برخوویشي

۱) عامې سندرې. یعنې هغه سندرې چې ویونکې یې نه دي ښکاره اوپه ګرد ولس پورې اړه لري لکه لنډۍ. لنډکی. سروکي. نارې. دښادۍ بدلې اونور

---

[1] سیال کاکړ. انګۍ. پښتو ادبي بورډ. کوټه. ۱۶۰ مخ.

[2] جیمز ډارمستیټر، دپښتونخوا دشعرهاراوبهار، دحبیب الله رفیع په اهتمام پښتوټولنه. ښوونې اوروزنې مطبعه، دریم چاپ کابل. ۱۳۵۶ هـ ش کال دزمرې ۱۵، ۲۰ مخ

۲، خاصې سندرې، په دې سندروکې هغه سندرې راځي چې دبې تعلیموولسي شاعرانوله خوا جوړیږي اویا جوړې شوي دي. یعنې شاعران یې معلوم کسان دي لکه چاربیتې، بدلې، بگتۍ ، لوبې، داستانونه ، مقام، کسرونه اونور [1]

خودلته زه دولسي سندرواودولسي شاعرانوپرنوروارخونوغږیږم ځکه زه غواړم دولسي شاعرانوپه شعرونوکې هغه پیغام وړاندې کړم چې دسولې اوانساندوستۍ انعکاس یکې پروت وي اودازما دڅیړنې اوبحث موضوع ده. له بلې خواتراوسه پورې دپښتوادب زیاتوڅیړونکواو پوهانوپخپلو څیړنیزولیکنوکې دپښتودادب بیلابیل اړخونه څیړلي اواوږده بحثونه یې پرې کړي دي.

ماچې تراوسه پورې دپښتودولسي شاعرانوپه شعرونواوسندروکې تحقیق اوڅیړنه کړې ده د ډیروداسې ولسي شاعرانوشعرونه اوسندرې مخې ته راغلي دي چې په یونه یوډول دسولې او انساندوستۍ پیغام یکې ځلیږي اوداهغه څه دي چې له سولې اوانساندوستۍ سره د پښتنو دعامووګړو مینه اواحساس ښکاره کوي او داسې ښکاري چې عام پښتانه د جنګ او تاو تریخوالي پرځای امن ، سولې اوخواخوږۍ ته ترجیح ورکوي

دلته دبیلګې په توګه دځوتنوولسي شاعرانوهغه سندرې اوشعرونه رااخلوچې زموږ دبحث وړ موضوع ته ځواب یکې پروت دی.

په لاندې یوه ولسي سندره کې چې دکوزې پښتونخوا دولسي شاعرمیرمحمد له خواویل شوې ده هغې تاریخي پیښې ته یکې اشاره شوې ده چې پیرنګیان پښتونخواته راغلي اوداویره موجوده ده چې دانګریزانودغه راتګ به ددې لامل شي چې دپښتنوسوله ییزژوند له ګواښ سره مخامخ کړي

[1] سرمحقق زلمی هیواد مل ، دپښتوا دیباتو تاریخ لرغونې اومنځنی دورې، دانش خپرندویه ټولنه ، پیښور، ۱۳۷۹ هـ ش کال لړم ، ۲۰۰۰ع کال نومبر ، ٤ مخ.

دښـــــکيه راغـــله پيرنګيان　　شـــوپه وطـــن الغو ســوران
خاونده خيرکړې جوړپسات شو　　پيرنګی لاړديره په سوات شو

لام يــــــي ترلی دکاشکار　　پرنـــګ په سرنه دی حصار

پرنـــګ په سرنه حصاريږي　　داتــــول عالم ترينه ويريږي
خـلــک يادیي عمـر ا خا ن　　دښــــکيه راغله پيرنګيا ن

خـــــلک راځي ورله دلرې　　پـه هروطـــن کې دي خبرې
چې دسيدوبابا وفـات شو　　پـيرنګی لاړديره په سوات شو
ميرمحمد وايي خوږ يې لغات شو
پيرنګی لاړ ديره په سوات شو(۱)

دکوزې پښتونخوايوبل ولسي شاعر عنوان الدين کاکاخيل که له يوې خوا دسوات دښکلې او زرخيزې سيمې صفت کوي . نوله بلې خوايې دخلکوله نفاق اوله يوبل سره دجنګونو له امله سر ټکوي. دی وايي

دسوات ځمکه ده زرخيزه　　خومخلوق يې دی درويزه
دوی مـــدام کوي ويشونه　　يودبـل سره جنـــــګونه
ځکه ښه نـــــه آباديږي　　چـــې سيلونه پکې کيږي
هم دسوات وطن دی يخ
هميشـــه وم پکې خوښ (۲)

دکوزې پښتونخوا يوبل ولسی شاعرجرس مروت چې کله په مروتوکې له يوبل سره جګړې او شخړې ګوري نوپه يوشعرکې چې

---

۱- هيوادمل،زلمی،ولسي سندرې(دپښتون مجلې په حواله) د قومونواوقبايلو وزارت،کابل،۱۳۶۶هـ ش کال،۲۰ مخ .

۱- جم دارمستير، دپښتونخوا دشعرهاراوبهار، دحبيب الله رفيع په اهتمام . پښتوټولنه ، دښوونې وروزنې مطبعه، دريم چاپ . کابل ، ۱۳۵۶ هـ ش کال دزمري ۱۵، ۳۲ مخ

دمروتوپه محلي لهجه یې ویلی دی ددغه تاوتریخوالي په وړاندې خپله کرکه اونفرت داسې ښکاره کوي:

زړګـــــــــي خوشي مې نسته وطن اورشه
مروتـــــــــــو سره پـــــا م سه په بدی،
هـــــــــلې درې پلاري سوه په ګنــــدی،
زړه موبـد سه درې پلاري سره نیمګورسه
پنـــــــجو مروتو غونډ ي کړې لشکرې
یـــــــارانو زه بـــــــــه ووایـــم خبرې [1]

پورتنی شعرتشریح غواړي. خوزه دلته ځکه ترې تیریږم چې زما دبحث موضوع نه ده، بیا هم که څوک غواړي په اړه یې ځان وپوهوي، نودعبدالرحیم مجذ وب مروت اثردمروتوکسرونه دې وګوري

ولسي شاعرعطایي مروت له مروتو سره دوزیروبدي اود ښمنۍ غندي او وایي:

دمـــــــــروتو بدي مـــه کوه وزیره
اي زومړیه دابدي به کړې بیا ځیره
موسی خیل مې درته اینډی په ښې دي [2]

دکوزې پښتونخوایوبل ولسي شاعرفیروزمومند دجنګازواود باجوړ دښار دخلکو ترمنځ د ۱۳۰۸ هـ ش کال جګړه داسې غندي:

په جنــــــګازو بده ډزا وه کنه | دابه دپــــــاک الله رضـــا وه کنه

---

جنـــــګ یې کړوجوړپرې چتي | عـــــالم یې تول کــړ ســــــتي
دښارحاکم په خپلوکلوویریدنه | سره برګـــــــي توغونه به ورتلل

---

۱- مروت،عبدالرحیم مجذوب ،دمروتوکسرونه ،د بیاچه د میرشرف خان وزیر، پښتواکیډیمي، پېښوریونیورسټي، پبلک آرټ پریس،پېښور،۳۳،۳٤ مخونه .

۲- هیوادمل زلمی،بدیاني ګلونه، دافغانستان دعلوموااکاډمي،دژبواوادبیاتومرکز، پښتوټولنه،کابل،۱۳۶۲هـ ش کال ـ۱۵۰،۱۵۸،۱۵۹ مخونه.

تــــــــــري تــاويــــدنه    جنګ په ځګازو ورژېدل ګلونه (١)

دکوزې پښتونخوا يوبل ولسي شاعرعقل محمد مقبل چې کله دمسلمانانو اوپه ځانګړې توګه د پښتون بد حالت اوپخپلوکې بد بيني اوتربګني ګوري ، نوخپل غږ داسې پورته کوي :

خدايه ستا دا امتحان به وي تــرکومه    بې اقـــــباله مسلمان به وي ترکومه
انســـانان واړه ديـونيکــه او لاد دي    نــــــا خبره له قرآن به وي ترکومه
بدنيتـــــې کـورونه وران کړل يوتربله    دامــرض په دې جهان به وي ترکومه
له پيـــــدانه دې غريب دبل محتاج کړ    دامحتــاج پـه ويرد ځان به وي ترکومـه
دظـالم دلاسه خوارشو پښتون خوارشو    داپښتون دا ظــالمان به وي ترکومـه

دا مقبل عقل محمد کچکول په غاړه
ناست په درکې دجانان به وي ترکومه (٢)

اوپه بل ځای کې داسې وايي :

اصيل نه دی چې دنوروعزت اخلي    وي کم اصـــل چې دکلي تهمت اخلي
کوي ظلم چې هرڅوک عقل محمده    دا بدل به تـريـنـه ګوره قد رت اخلي (٣)

دبرې پښتونخوا ولسي شاعرمحمد شينواری غريب چې کله پرپښتنوباندې دنوروظلم اوتيری او دپښتنو اخلاص اوصداقت ته نظرکوي . نودغه دواړه حالته په يوه شعرکې داسې انځوروي :

داسې سرې نښته چې دخوږ زړګي درمل وکا
زه وايم طبيب دی، خوچې راشي زخم بل وکا
وايم لاس به راکا مستغيث راته ښکار يږي
دی چې راشي دې شي په لغتو خملول وکـا
دا کله کيدای شي چې پښتون د بل غلام وي
داهم څه عيب نه دی چې له بل سره خوړل وکا

---

١- درد مند، کابل مجله ، پښتوټولنه ، ١٣٥٢ هـ ش کال ، ورغومي مياشت ، ٤٢ مخ
٢- هيوادمل زلمی،بيدياني ګلونه، دفغانستان دعلوموا کاډمي،دژبواوادبياتومرکز، پښتوټولنه،کابل،١٣٦٢هـ ش کال ، ١٥٠،١٥٨،١٥٩ مخونه.
٣- زلمی هيوا: مل ،بيد ياني ګلونه،دافغانستان دعلوموا کاډ مي- کابل،١٣٦٢هـ ش کال،١٥٨، او ٢٠٠مخونه

زر به په زرین تالي کې تیغ باندې حلال شي
څوک چې اې «غریبه» د سبا غوندې خندل وکا (۱)

دخوست داسمعیل خیلود دلپوریواوسیدونکی مربیک چې دخپلوخلکوترمنځ ناوړه دودونه، کرکې اوناخوالې ګوري، نودیوه ولسي شاعرپه توګه خپل غږ داسې پورته کوي:

آخره زمانه ده خدایه تــــــه مې غور وکه
دنن زمانې خوی ته پـــــه خندا دي آسمان ځمکه

توبه مې دې وي خـــــدایه نه مې وو داسې لیدلي
چې یوهند وورجـــــګ شي بل هندویې وي وژلی

اوس دا بد مـرض وکسئ مسلما نو ته راغـلی
دورورمرګ ته به ناست وي سرته یې ولي خوبیولی

که ښه مــــــــې نه وي ویلي خپله فکر ورته وکه
دنن زمـــــــانې خوی ته په خندا دي آسمان ځمکه

آخـــــــــــره زمانه ده زه بیان کړم په میدان کې
هوښـیاربه ها سړی وي چې څوک فکروکي ځان کې

دنیـــــــا پاتې آخر ده نشان وکسه په آسمان کې
اول سهـــــــــارچې پاڅې خیرډیرغواړه ایمان کې

کم عقـــله مسلما نه د قیا مت سختۍ په زړه که
آخره زمــــــــا نه د ه خدایه ته مې غوروکــــه

آخـــــــره زمــــانه ده شعربس دی نورخلاصیږي
چې څومره شــعرویایمه دخولې خوندمې زیاتیږي

هوښـــیاربه هغه څوک وي چې په ښه بد وپوهیږي
دا شـــعر د مربیک دی که د ریاب داسې بهیږي

---

۱- زلمی هیواد مل ،بید یاني ګلونه،دافغانستان دعلوموااکاډ مي، کابل،۱۳۶۲هـ ش کال، ،۱۵۹او ۲۰۰مخونه .

لوچـک که پرې خبرشي پرې بې نه ږدې بې کوتکه
آخـــــره زمـانه ده خـدایه تـه مې غور وکـه[1]

دمربیک تول شعرونه دخپلې سیمې په لهجه ویل شوي اوهر شعریې ځانګړې تشریح غواړي. درانه لوستونکي کولای شي چې دخپل مشکل دحل له پاره د ١٣٥٠کال دمرغومې دمیاشتې دکابل مجلې ۳۶ مخ ته مراجعه وکړي.

همدارنګه دبرې پښتونخوا دخاص کونړدکلي اوسیدونکی مولاناحبیب الله مومند ښواوګټورو عملونوته خلک داسې رابولي:

بدمه کړه ښه کړه، شه توبه ګاره    تـــوبه وبـاسه مـه شه بد کـاره
فـــکر کـړه وخت در حلت شو    سخـــت دی سفر اوږده ده لاره
ملا دې کږه ده قوت دې کم شو    خوشالي لاړه قسمت دې غم شو

ذکردرب کړه مه شه بد کاره
ذکردرب کړه مه شه بد کاره

غواړه امان چې نن دې وارد ی    بدمه کړه ښه کړه نن دې اختیاردی

قرآن رهبرکړه سم ځه په لاره
ذکردرب کړه مه شه بد کاره

حبیب الله مل دې الله اوسه    چې بچ شې بچ له سره انګاره
قرآن رهـبرکړه سم ځه په لاره    توبه وبـــاسه مه شه بد کاره[2]

## ط: سوله دپښتو په کلاسیکو اولرغونو داستانونوکې:

قصې اوداستانونه دپښتودادب په تاریخ کې لرغونې ریښې لري اوزیاتره دهغو اتلانو او تاریخي شخصیتونوله ژوند سره تړاولري چې پخپله زمانه کې له لوړتولنیزموقف څخه برخمن ووا و پخپله زمانه کې یې

۱- محمد عارف ، غروال ، کابل مجله ، پښتوټولنه ، ۱۳۵۰هـ ش کال ،دمرغومي میاشت ، ۳۶ مخ
۲- یوهنیار جلال الدین ، کابل مجله ، پښتوټولنه ، ۱۳۵۲هـ ش کال ، سلواغه ، ۷٤ مخ.

داسې څه ترسره کړي دي چې دتاريخ ديوه جزپه توګه دتاريخ په پاڼو کې خوندي وي.

څه ناڅه درې نيم زره کاله پخوا دآريايي قومونو ريشيانو (شاعرانواومبلغينو) لومړی په باختر اوبيا دهندوکش په لمنوکې د خپلوپلرونوکارنامې، مذهبي احساسات، دود اودستوراوروايات اويولړ نورې اخلاقي لارښوونې په شعرکې خوندي کړي اوځای کړي دي. دا ددې له پاره چې ددوی راتلونکی نسل دخپلوپلرونواونيکونو خصوصيات اوکړه وړه هيرنه کړي. دويدا مجهول اومعلوم سرودونه اوداويستا ګاتونه همدغه دريشيانواشعار. خطابې اولارښوونې دي چې پښتنوشاعرانو ترنن ورځې پورې دغه لړۍ ساتلې اوپه شعرکې يې اخلاقي اومذهبي لارښوونې دقصو اورواياتو په توګه راوړي دي.

هغه روايات اوافسانې چې پښتنوشاعرانوپه نظم سره ويلي دشعري فن اوادبي خصوصياتو له مخې په عمومي ډول دوې برخې جوړوي.

١ـ **قصه**: هغه شعردی چې دچاربيتې په شان ويل کيږي اوپه همدې ترتيب دوام مومي ترڅوقصه پای ته ورسيږي.

٢ـ **داستان**: هغه شعردی چې دمثنوي په شان ويل کيږي. سرنه لري اوديوه بيت ددواړو مسريو قافيه يوشان وي.[١]

دپښتوپه زياترو کلاسيکو اولرغونوداستانونو کې له انسانانو سره خواخوږي، له اړوکسانو سره مرسته اوله انسان سره دانسان مينه انځورشوې اوزياتره دغه شان داستانونه موږ ته يولړ داسې پيغامونه له ځانه سره لري چې د خپلو پخوانيو په اړه زموږ ذهنيتونه روښانه کوي چې دادی ددغه شان داستانونو ځينې بېلګې وړاندې کيږي.

---

١- قصې اوداستانونه، پښتنې سندرې، دويم ټوک، ١٩٨ مخ.

په وړانــــدې زمانه کې یوفقیر ومستانه

غوښته یې شهزادګۍ پاچا ته ودریده عرضې

په وړانــــدې زمانه کې یوفقیرو زورور
توررنګ لکه حبش کچکول په غـاړه وزړور
په لاس کې یې کوتک ګندیې اغوستی سربر
ورتیـــرشو له قابچیانو نه پــه چل او په هنر
پاچا دتخت په مخکې یې خپل ځان کړ برابر
سلام یې ورته وکه چې شاه رادې کړه دختر
بادشـــاه پرې حکم وکړچې مړکړئ دادیوانه
پــــه وړاندې زمانه کې یوفقیر و مستا نه

په دې مـــجلس کې ناست ودپاچا قابل وزیر
پاچـــاته یې ویل چې مرګ اسان دی دفقیر
بدنام دې خدای نه کاندي پرې زموږعادل امیر
دولت ورباندې ډیر کیږده همدا یې دی تدبیر
پاچـــا ویل فقیرته په غوږ واوره دا تقریر
چې سل مایه اوښان په یوه غاښ په یوځنځیر
بـــــې شماره دولت راوړه زه به هله شم راضې
غوښته یې شهزادګۍ پاچا ته ودریده عرضې
پاچـــا چې داخبره کړه فقیر لره تـکرار
کـــوتک یې په اوږه کیښود راووت له دربار
په لـــوري دحاتم طایي یې ونیوله لار
چـــــې شپې ورځې یې وکړل مزلونه په تلوار
ورننــــوت فقیردطایي په ښکلي ښار
کــــه ګوري په چینجنه اوښه دی. دی ګرفتار

پــــه درمان دهغې اوښې تل ولاړو مردانه
پــــه وراندې زمانه کې يو فقيرو مستا نه
فقـــــيرچې حاتم وليده نوشولو په ګريان
چــــې دازيرک سړی کله به راکړي سل اوښان
داســل قسمه دولت لال وګوهردرومرجان
راغـــلی چې يم زه په دې راتګ يم پښيما ن
بيـــګاه دحاتم کورته لاړو ودريده حيران
له وينـــځې سره جنګ وپه پلتې د شمعدان
له ځان سره به يې وې چې مابه کله ولمانځي
غوښته يې شهزادګۍ پاچا ته ودريده عرضې
ســــــباته زما وروره فقيرلاړو دل نادله
ترې ويـــې غوښتل سل مايه اوښان په يوه ځله
حاتم فقـيرته وې چې راشه واخله بې تامله
مـــــهاريې په لاس ورکړچې ورځه فقيره ځغله
په لاس کې يې مـهارپاچا ته راغی زماګله
ســـــــلام يې ورته وکړ پاچا وګوره پخپله
داســل قسمه دولت اوپه سل قسمه خزانه
پــه وراندې زمـانه کې يوفقيرو مستا نه
ورپاڅيده پاچاهم دمجلس ټول عام وخاص
کونجي يې په لاس ورکړه صندوقونه يې کړل خلاص
کره يـــې کړل پخپله لال ګوهردروالماس
فقــــيرته يې ويل چې دغه چا درکړل په لاس
فقـــيرپاچا ته ووې يوځوان وکړ دا اخلاص
پاچــا ورته وې راوړه دهغه سړي خپل راس[1]
فقير يوور حاتم ته دا فرمان د پـــاچا هي

---

(١) راس = سر.

غوښته يې شهزادګۍ پاچا ته ودريده عرضي
چـــې ورغی فقيرحاتم ته يې ووې حقيقت
حيا مې درنه کيږي په خوله نه راځي اوچت
پاچـــادرنه سرغوښتی چې کوتاکړم حکايت
حاتم ورته ويل له مور سره کړم مصـلحت
دې موريې ورته ويل فقيرته پيښ کړه سهولت
پاچا ته ورسره پخپله لاړ شـه دا سـاعت
که د لته دې سرغوخ کړي پاچا ونه کابهانه
په وړاندې زمـانه کې يو فقـير و مستانه
چې ورغـــــی حاتم پاچاته ودريده حضور
ســـــلام يې ورته وکړپاچا ناست وپه غرور
پاچا حاتم ته وې چې خوارشې څه په تاضرور
حاتم ورته ويل دخدای په نوم مې ځان کړچور
داسرهـــــم ورکوم په دغه لاره يم مسرور
راپـــاڅه ژرېې غوڅ کړه خوفقيرته ورکړه لور
ښه وګورئ عـا لمه عشق يې نه ومـجازي
غوښته يې شهزادګۍ پاچا ته ودريده عرضي
پا چـــــــاچې وليده دحاتم دارنګه اختيار
حرم ته يې څوک واستاوه شهزادګۍ يې کړه سينګار
ورکوم يې دې فقيرته که هرڅودی غريب خوار
ملـکونه مې دي ډيرحاکم به يـــې کـړم ديوه ښار
فقيرورته ويل چې ملک مې نه دی ستا پکار
شـاه رادې کړه د خترراته چـــې ځــم په خپله لار
نور څه مې ستا پکارنه دی بې غيردجانانه
په وړاندې زمانه کې يوفقير ومــــستا نه

فقیـرچې داحال تیرکړشهزادګی یې په لاس ورکړه
فقیر د لاسه ونیوه دربارنه یې بهـــر کـــــړه
چې ووت له درباره نوره ښکل یې پاس په سرکړه
وې ته شوې زمالورشهزادګی ځه پلاردې خـــبرکړه
دغــه وه دحاتم قـــــصه په شعــرمې برابرکړه
((غلام شاه)) ددرګاه خاورې یې رانجه دخپل بصرکړه
لـــه دغسې میړونو سره ښـایي آشنـا یي
غوښته یې شهزادګی پاچا ته ودریده عرضي[١]

په پورتني داستان کې دحاتم طایي هغه انساندوستي اوخواخوږي انځورشوې ده چې دیوه اړ انسان دارمان دپوره کولوله پاره نه یوازې له مال څخه تیرشوبلکې دهغه دخوشالۍ اوارامۍ له پاره دخپل سرورکولوته هم تیارو. دپورتني داستان اخلاقي اواجتماعي اړخونوته په کتنې سره انسانانوپه تیره بیا افغانانوته داپیغام رسوي چې دنوروانسانانوپه ځانګړې توګه افغانانودسوکالۍ اوآرامۍ له پاره خپلې هیڅ ډول هلې ځلې ونه سپموي.

همدارنګه په لاندې داستان کې له انسان سره دمینې له مخې یوانسان دې ته تیاریږي چې بل انسان ته دهغه دژوند ددوام له پاره دخپل ژوند دپاتې عمر نیمایي برخه وروبخښي خوهغه بل انسان بیا دنفسي خواهشاتواوغوښتنوله مخې هغه په خالي ډاګ پریږدي اودیوه غله په نامه یې معرفي کوي له یوداسې چا سره مخه کوي چې دشان شوکت اودبدبې خاوند دی،چې دخپل دغه ناوړه اوغیرانساني عمل نتیجه ډیره ژرګوري،خوپیښماني ورته هیڅ ګټه نه شي رسولئ نو راځئ چې دغه داستان وګورو اوهغه انساني پیغام پکې پیداکړو چې دمینې اوخواخوږۍ څرک پکې له ورایه ځلیږي.

---

١- غلام شاه ، دحاتم طایي داستان ، پښتني سندرې، دویم ټوک ، ٢٠٢،١٩٩ مخونه .

عیـــــسی و پیغمبر          دی دوســت وداکیر
داخل په هدیره شودزاړه قبرترڅنګ
دیره و یو ملنګ
عیسی ویل اې ځوانه          پوښتنه کړم له تانه
داڅـومره موده کیږي دې مکان ته راغلې کله
دې ځای کې ناست یې څله
فقـــیروې پیغمبره          قصــــه کوم له سره
یـوزه یوه مې ښځه دواړوکړی مصلحت دی
چې دایې حکایـــت دی
مـــــا وویل جلۍ          لـــــه عشقه لیونۍ
کـــه زه مړشوم اول نوبیا کوه راته کوندتون
چــې څودې وې ژوندون
دې وویـــل هوښیاره          زمــــا دمینې یاره
که زه اوله مړه شوم چې ودان نه کړې بل کور
دیـــــره مې شه په ګور
مـــوږ کړې داوعده وه          پـــوره شوې موده وه
داشوه راڅخه مړه ځکه یې ناست یمه په قبر
په خــــاورو کوم صبر
بې شـــانه ښایسته وه          په حــسن آراسته وه
سپـــــین مخ یې ځلیده رڼایې کړه لکه د لمر
عــــــیسی و پیغمبر
داوه پــــه نوم مهتابه          ښایسته وه بې حسابه
سرې شونډې سپین غاښونه بلوري پیاله دبنګ
دیـــــره ویو ملنګ
عیســــی ویل زلمیه          کـــم عقله لیونـــیه
ورڅه بیرته کاله ته دغه ستا خوښې خواري ده

دمـــړوځه ياري ده ؟
فقيروې کورمې دادی قسـم خوړلی ما دی
ترمرګه پورې شپې ورځې به کړمه دلته تيرې
که لرې وي که ډيرې
عيسی وې په رېښتنې مـــين په ناز نينې
داتـــــللی عمرتللی باقي کړئ سره قسمت
که ډيردې وي حاجت
چې وکوم دوعا زه په حـــکم د مولا زه
داښـځه به ژوندی شي نوربه ځئ غاړه په غاړه
مــيره ارتينه دواړه
فقـــيروې پيغمبره لــــــه ټولو معتبره
داپـــــــاتې عمرماکړله دې ښځې سره نيم
ورځه ياد کړه رحيم
عيسی وې غني خدايه دخـــــلکو رهنما يه
په عـــــــمرکې غمجن دی دغه ستا بنده فقير
پــه قبرناست زهير
دی زاړي روزوشب حاصـل يې کړه مطلب
زوړقـــــبرشودوه ځايه چې قبوله يې دوعاشوه
حاصله يې مدعا شوه
مــــيره ارتينه دواړه روان شـــولو همغاړه
چـــې بيرته يې کتلې عيسی ورک شوهغه درنګ
ديـــره ويو ملنګ
دې ښـځې وې ځښتنه دعــــــمر کړمنه
راځــــه چې ځوکاله ته څه به کړو په هديره کې
په دې خوشې ميره کې

فقــــيرويل نګارې یـــودم کينه قلارې

مـــــا کړي شوګيرونه چې ويده شمه په ناز
ورنـونه دې کړه ساز

دې غيرګړه ورته سمه ويده شو پرې بې غمه
ناګاه يو شهزاده وچې راپيښ کړکردګار
وتلی و په ښـــکار

لـــــه ورايې وليدله چـــې ناسته وه بلبله
ورو ورو يې خواته راغی ترې نه ويې کړپرسان
حـــال کړه راته بيان

ته څوک يې راته وايه راغـلې له کوم ځايه
داڅوک دی چې بې غمه دې په غيږکې کوي خواب
چې نه دې شته حجاب

دې وويـــل داغل دی هميـش راسره مل دی
زه ده يــــــم تښتولې ډيرپخوا له خپل مکان
پـــوه نه يمه په ځان

ميـــن پرې شهزاده شو په مـــــينه يې الوده شو
داهـــــم شوه پرې مينه دواړوجوړدغه چلول کړ
فقيريې منځ کې غل کړ

ســــپره يې کړه پرآس پـــــه ښه خندا هوس
فقـــــيريې ويده پريښود هيڅ پرځان نه وخبر
عـــــيسی و پيغمبر

داښــــځه يې کړه روانه خـــــوشاله وه بې شانه
په مخکې به يې وهل شول سرودونه رنګ په رنګ
ديـــــره و يو ملنګ

راويښ چې هغه ځوان شو خـوارپاتې هک حيران شو

تـــــرې ورکه معشوقه وه گرځیده په غره اوسمه
ژړل بـــه یې له غمه
گرځـــــیده به چارچاپیر پـــــــه غره اوسمه ډیر
کـــــــاته له ورایې ولیده سپاره په یو مکان
فـــقیر شو ور روان
روان چـــې داغریب شو لښـــکرته چې قریب شو
کــــــــاته یې ارتینه یې شهزاده پسې سپره وه
پرې شوې مسخره وه
فقیـــــــرویل حاکمه پرمـــــا باندې ظالمه
زمـــــــادا نکاح کړې ته له مانه بیایې چیرې
مومن یې که کافریې
راستون چې شهزاده شو فقـــــیر ته په غصه شو
وې دابنـــــځه خو وایي چې پرمایې کړی چل دی
میره مې نه دی غل دی
سوټ بوټ یې دا فقیر کړ مضبوط یې په ځنځیر کړ
داخــــــل یې کړپه ښارکې په لاس پریوت دکوتوال
غــوږ کیږده وایم حال
پـــــاچا یې له دې حاله خـــــبر کړ زما لاله
مــــاغل دی راوستلی ښکارته تللی وم سحر
عیـــــسی و پیغمبر
له ده ســـــره جلی وه راغـــــلې په ځوانی وه
بې غمه یې په غیږ کې خوب کاوه لکه پلنګ
دیــــــره و یو ملنګ
پاچـــــا ویل کوتواله خــــــبرشه له دې حاله
ته راولــــه سړی چې په رښتینی سره غل دی
که ده جوړ کړی چل دی

سړی اوښـــځه سم    روان شـــول هغه دم
پاچـــا وویلې ښځې ته داځنګه قیل وقال دی
داڅه پیښ شوی حال دی
دی ښـــځې ویل شاه    زمـــوږ د سر پناه
زه ده وم تښـــتولې په تګی له خپل مکانه
پـــوه نه ومه له ځانه
فقـــیرویل سلطانه .    دروغ وایـــي داشیطانه
دولـــت مې دی ورکړی په هوس می واده کړې
زمـــا دانکاح کړې
پـــاچا ویل اې ځوانه    خـــبره دې شوه ګرانه
دد واړوشـریعت دی یوشاهد تیرکړه پرې باندې
ددې قاضي په وړاندې
فقـــیر شوپه خندا    شـــاهد لرم عیسی
ســـبا دلمر په څرک به یې دلته کړم زهیر
روان شـــو دا فقیر
عیسی به چیرته ګوري    په کوم ځای کې به ښوري
چـــې دایې بهانه وه ځان یې کړلو لراوبر
عیـــسی و پیغمبر
دې ښـــځې ویل امیره    جـــوګي لاړو له کیره
دعوه یې خوشې لاړه ځان له مرګ یې کړپه څنګ
دیره و یـــو ملنګ
جاسوس یې پسې سم کړ    روان یـــې هغه دم کړ
وې ورشـئ لاس تړلی سړی راولئ په لاس
چې نه شي درنه خلاص
فـــقیرچې له دې ښاره    وتـــلی زما یاره
بـــهرپه لویه دښته کې دیوې ونې دوړاندې

ویده شو ترې دلاندې

عـــیسی پــه یو دستور　　　په خـــوب شوورحضور

وې زه بـــه ماسپښین له خیره درشمه سباله

دادہ لاړ شه خوشاله

لـــه خوبه شو بیدار　　　ولاړ و څـــوکیدار

فقـــــیریې لاس تړلی هلته بیرته کړروان

حضورته د سلطان

پاچـــا ویل بد رایه　　　عیسی څه شو اوس وایه

دروغـــجنه منافقه کاردې پوڵ واړه دچل دی

راغلی دې اجل دی

فقـــیرویل صاحبه　　　دا واوره مـــنا سبه

ســـبا په ماسپښین به یې عالم وینې تما م

عیسی علیه السلام

سبـــا په ما سپښن　　　عیســـی نه شو تعیین

فقـــــیرغریب خپه و غلی کیناستو ستومانه

پاچا ویل شیطانه

راغـــلی دې اجل دی　　　خولړ پـــکې معطل دی

جوګـــي یې په ریښتینې چې لرې مکروهنر

عیسی و پیغمبر

نا څـــاپه شو یو غږ　　　په ښارکې جوړشو زوږ

عیسی حضورته راغی ددې ښځې شوزیړرنګ

دیره و یوملنګ

پـــاچا ویل پیغمبره　　　له خـــلکو معتبره

ددې دواړو دعـــوه ده که معلوم وي درته حال

نوخلاص کړه دا جنجا ل

عیـــسی ویل اې ښځې　　　کـــم عقلې بې تمیزې

درکــــړی امانت ددې سړي ورکړه دوباره
چــــې ځي پخپله لاره
ددې ښـځې دانیت و راغــلی یې شومیت و
له ورخــــه تیرې شوې اوبه بیا کله جاروځي
زما په خوله به څه ځي
دې وې واخله امانت که ستا وې څه دولت
خوداد دې وینـــــا وه نوردخاوروشوه ډیران
فقیــــرشو ترې روان
پاچا ویل عیسی ته دا حــال ووایه ما ته
داڅنـــــګه معامله وه چې تا پته فیصله کړه
زموږ دې اندیښنه کړه
قیصه یې کړه بیان پاچا شوهـک حیران
چې بیرته پرې راستون شو داعیسی علیه السلام
مجـلس یې کړو تما م
سیــــد عبدالغفاره ګل نشته بې له خاره
چې چیرته معشوقه وي نه وفا لري نه ننګ
دیره و یو ملنګ (۱)

په پورتني داستان کې که له یوې خوا له بشر اودهغه له ژوند سره مینه نغښتې ده ، نوله بلې خوا دانسان پرژوند باندې دلوبوکولو او دهغه دروا حقوقو دترپښو لاندې کولو نتیجه هم پکې له ورایه ځلیږي اوپه دې توګه انسانانو ته دا پیغام رسوي چې که څوک له بل چا سره ښه وکړي نو نتیجه به یې ښه اوکه بد ورسره وکړي نونتیجه اوبدله به یې هرومرو بده وي.

---

۱- سید عبدالغفار، دیوه خاوند اودهغه د میرمنې داستان ، پښتنې سندرې، دویم ټوک ، ۲۱۰،۲۱۷ مخونه .

### ي: دپښتو په کیسیو او روایاتو کې دسولې انعکاس:

لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه پښتانه ذاتاً سوله دوست پیدا شوي اوله انسان سره یې مینه په خته کې اخښل شوې ده ، دوی خپل دغه احساس اودغه انساني غوښتنه پخپلو کړو وړو، خبرو، قومي جرګو، لیکنو او روایاتو کې ښکاره کړې ده ،ترڅو راتلونکي نسلونه دغو اصیلو بنیا د ونو او ارزښتونوته په پاملرنې سره دغه احساس پخپلو کې لاپیاوړی کړي اوژوندی یې وساتي. دمثال په توګه خوشال خان خټک دعدل اولورینې په اړه دنوشیروان عادل یو روایت رااخلي اوددې روایت په راوړلو سره غواړي پخپله ټولنه کې عدل، انصاف اوخواخوږی ته خلک راوبولي، دی لیکي

" نوشیروان عادل په طعام ناست و، بقاول طعام راوړ، دآش کاسه یې راوړه . کاسه کړه شوه څه خوآش ورځنې توی شه. دنوشیروان لمن پرې ککړه شوه،هغه درسته کاسه په سردنوشیروان تویه کړه درست یې ولاړه. نوشیروان ورته ووې چې دادې ولې کړل چې درسته کاسه دې دآش راباندې واړوله. بقاول وې داوله چې لږ آش توی شه دما په اختیارنه وه. ستا لمن ککړه شوه تا راته بدنظروکړپه داکاته په لږګناه هم ته قتل فرمایې. ماپه زړه کې خپل مرګ ولیده،ماوې زه خو مرم ولې درسته کاسه ده په سروانه ړوم چې ډیرګناهګارشم ګوندې مې وبخښې که مې ووژني هم په ګناه به ومرم نه بیګناه، نوشیروان وبابښه "(۱)

داهم دافضل خان خټک یوبل روایت دی چې په ټولنه کې دژوند دکولو هغه معیار راپه ګوته کوي چې دانساني ژوند لومړنی ضرورت دی افضل خان خټک لیکي:

هرګاه چې سلطان بهلول تردنیا تیرشه. سلطان سکندر په قصد دسلطنت په ملازمت دحضرت قطب الاقطاب شیخ سماءالدین کنبو چې د ډیلي و

(۱) خوشال خان خټک ، دپښتونترانه سوه کاله ،سرڅېړونکی زلمی هیوادمل ،ملت پرینټرز،لاهور، ۱۳۷۵هـ ش ۱۹۹۶ کال، ۲۹۲،۲۹۱ مخونه .

ورغی اوعرض یې وکړ چې زه نسخه دصرف میرچې میزان دعلم صرف دی غواړم چې په خدمت یې دحضرت ولولم. نورکتاب یې له بغله راوکیښ اوپه مخ کې یې دشیخ کښیښ، شیخ وفرمایل بدان اسعد ک الله تعالی فی الدارین. په مجردددې ویل سلطان سکندرلاسونه مبارک دشیخ کښل کړل اوعرض یې کړه چې مراداومقصود دما همدا کلمه وه چې له زبان مبارک په حق دبنده ظاهره اوهویداشي، حضرت شیخ ته حسن ادب دسلطان سکندرډیرښه ښکاره شه اوله مخه دباطن یې وفرمایل چې ستا نظام مې له خدایه غوښتی دی چی سکندردخپل وخت شي اوډیربندګان دحق تعالی له تاکامګاراوفیض یاب شي. شهزاده دا دوعا په فال ونیوه سوورشه اوپه یمن ددوعا په هسې مرتبه ورسید چې مبراله تفصله اوله بیا نه وه اوهریوامرا اوارباب دولت به چې وظیفه اومد د اوامداد ددرویش اودمحتاج په تقدیم راوړ هغه به ډیروسلطان ته معززاومعتبرواوورته به یې فرمایل چې بنا درویشي ده،روادارېي په نقصان مه شه اوپه خبرداری دسپاه اورعیت ترهسې ځایه رسیدلی وچې پټ رازدخلکوبه وده ته رسیده او ګاه ګاه به هغه واقعه چې تنها به له چا په خلوت کې په وجود راغلې وه چې هیڅ زیان اونقصان به پکې نه و ظاهره به یې کړه .ترهسې حده چې په خلق کې شهرت شوې وه چې سلطان تسخیر دعالم غیب یعنې دپیریانوکړی دی چې خبرله پوشیده اوله مغیبات حال وایي. نقل دی چې یوه مرد په زمانه کې دسلطان سکندرآیره ددیوال کینده اوپه وخت دکیندلوډیوه څلورګوټې په ځمکه کې را ښکاره شوه،هغه مرد وخپلومتعلقا توته وویل چې داچراغ ښه وساتئ لایق دکوردی. هرګاه چې شپه شوه څه خوتیل یې په ډیوه کې واچول. ډیوه یې بله کړه ، نورفی لحاله دوه سرې پیدا شول. هغه مرد ورته وویل چې تاسو څوک یئ ؟ دوی ورته وویل چې موږ موکلان ددې چراغ یو. هرکس چې داچراغ بل کا موږ محکوم اومامورده یواوهرچې فرمایي هغه په ځای راوړو. بیا طرفه دا کاردی چې هغه مرد په لـــور د یوه سوداګرمین و. په سبب دتجربې یې خپل راز په میان کې راوړ .هغه موکلانو جینۍ دکتهه سره

چې پرې اوده وه حاضره کړه.هغه مردچې پس له عشرته مواصلته وموکلانوته وویل چې داجل چې موله هغه ځایه راوړې وه بیایې وهغه ځای ته ورورئ في الجمله هره شپه به یې هغه جل راوړه اووړه اوهغه مردته یې احتیاج دهیڅ څیزپرې نښی. رفته رفته له دې معاملې هغه جل زیړه زرغونه اورنځوره شوه،هغې جلۍ یوه ورځ کیفیت دخپل احوال ومورته بیان کړ،موریې پلارله دې واقعې خبرکړ اوویې ویل چې هره شپه دوه تنه مخ له غیبه راښکاره کا اودا لوردتا واخلي اویوېې سي اویا داچې په کورکې دموړپېټ شي په وخت د فرصت دا واخلي یوېې سي اویو ځوان دی درسته شپه نرد مواصلت اوعشرت ورسره کا.هرګاه چې شپه په آخرشي بیا یې وکورته راوړي، هغه مرد چې سوداګرو یوه حیله یې برپا کړه او دا مقدمه یې وسلطان سکندرته په عرض ورسوله. بادشاه وکوتوال ته وفرمایل چې تفحص اوتفتیش ددې واقعې په تاکید تمام سره وکا. کوتوال که هرڅه په داباب سعې وکړه لیکن ترسره نه شوه او هیڅ اګاهي یې له دې حاله بیانه مونده . آخرسلطان سکندرومیان بهوا چې وزیرو ورته یې ووې چې پیروي اوتجسس دمعاملې په تاکید کړی بویه . میان بهوا هغه سوداګرته ووې چې ښیښه ډکه په زعفرانو ولورته ورکړه چې په جامواوبستردهغه شخص زعفران پوړوهي، هم هغه رنګ یې په عمل راوړه،هرګاه چې هغې جل زعفران له ځانه یووړاوپه جامویې دهغه ځوان ولوستل،ځوان حقیقت دکارمعلوم کړ،پس له هغه موکلانوته یې ووې چې اوس څه تدبیرکړی بویه ، موکلانو زعفران راوړه هم دسلطان اوهم په جاموداکثروامراګانویې پوړ وهل ، سلطان چې داحال ولید متفکراومتحیرشه اونه پوهیده چې چاره ددې کارڅه ده، آخرلامر ویې فرمایل چې حل ددې عقدې بې له نرمۍ اوله ملائیمته کیدونی نه دی، پس له هغه یې قسم دکلام الله یادکړاومنادي ندایې په تمام شهرکې وکړه چې که صاحب ددې معاملې راشي اوځان ښکاره کا هرچې یې مراد اومقصود په خاطروي واړه به ترسره شي. چې هغه ځوان معلوم کړه چې آخرداکاردانتیجه لري ډیوه یې واخیسته اوسلطان ته

راغی او خان یې ښکاره کړاوحقیقت یې په واقعي عرض کړ. سلطان آرزو دده پوره کړه او ډیوه یې ترې واخیسته .[۱]

داهم دخواخوږۍ اوانساندوستۍ په اړه یوبل روایت:

زوروړله ښایي چې په کمزوري باندې زورنه کوي اګرچې کاریې خرابیږي لکه چې دروم د ملک بادشاه ، نوشیروان بادشاه ته قاصد لیږلی و،چې دلبارته ورسید څه ګوري چې یوه لویه ماڼۍ ده بادشاه پکې په تخت ناست دی اونوربادشاهان اوامیران اووزیران ورته په کورسو ناست دي،لیکن چې قاصد تماشه وکړه یوځای ورته په هغې ماڼۍ کې کوږښکاره شو،نوله یوسړي نه یې پوښتنه وکړه چې داځای ولې کوږدی،هغه ورته وویل چې دا دیوې بوډۍ کورو،په هغه وخت کې چې بادشاه داماڼۍ جوړوله ، نوهغې بوډۍ ته یې وویل چې داکورپه ما خرڅ کړه مګردهغې رضا نه وه اوپه زورسره خوبادشاه داکارنه کاوه، نوپه دغه سبب سره داځای په دی ماڼۍ کې کوږپاتې شوی دی،قاصد وویل چې رښتیا خبره داده چې داکوږوالی ډیرښه دی له هغه سموالي څخه چې په ظلم سره شوی وي اوحق دانصاف دادی چې داکارنه په روميږ زمانه کې چا ویلی دی اونه مې وروسته ګومان کیږي چې څوک له بادشاهانونه وکړي ،بادشاه چې داخبرې دقاصد واوریدې ډیرخوشال شواوانعام یې ورله ورکړاوپه مداراوعزت یې رخصت کړ.[۲]

داهم دتاوتریخوالي پرخلاف اودسوله ییزژونددتامین اودوام په اړه یوبل روایت:

---

۱- افضل خان ختک ،تاریخ مرصع، مقابله ، تصحیح اونوټونه له دوست محمدخان کامل مومند،یونیورستي بک ایجنسي، پیښور، ۸٦،۸٤ مخونه .

۲- مولوي احمدصاحب دتنګي،ګنج پښتو،اداره اشاعت سرحد،پیښور،قصه خوانی، ۲۳،۲۲ مخونه.

## دقدرت فیصله

دژمي زمانه وه.دماښام وخت و.یخه هوالګیده اوکله کله به دسیلۍ چلکه هم پکې راغله دتیرا په غرونوواوره نه وه پریوتې ولې بیاهم پوره ساړه وو. په داسې وخت کې د تیرا د لمرخاته خوا دیو اوچت ځنګلي غره په اړخي کې یوسړی ټوپک په لاس دونو لاندې چپ چاپ لکه البنګ ولاړو او داسې معلومیده چې لکه دښکارپه انتظارکې وي.

داغردویخ نه ترسره پورې یوځنګل و.په خواوشاکې یې بل دومره ګورځنګل چیرته هم نه و. دلرګونه علاوه دښکاردپاره هم داځنګل ډیرمشهوروواوخلق به ورته په پټه په څرګنده ښکارته راتلل ولې دشپې په داسې سخته تیاره اوسیلۍ کې ښکارڅوک کوي؟ داسړی داسې معلومیده لکه چې د ځنګلي ځناوروپه ځاوکې وي اوپه اصل کې دی دبنې آدم دښکارپه نیت ولاړواوپه ځیرځیربه یې یوخوابل خواته کتل. دسختې سیلۍ په وجه څه آوازهم په غوږوراتلی نه شو. بیا به هم چې کله کله دسترګودرپ هومره سیلۍ ودریده.نودی به ویښ ویښ شواوپه خپل ټوپک به یې ګرفت مضبوط کړو.داسړی په اصل کې ددې ځنګل ما لک ګل بازو. دتیرا اکثرغرونه شاړدي.نودچا په ملکیت کې چې ځنګل یاشین غررسیدلی وي. نوهغه ډیربختورګڼلی شي اودښمنان ورسره په حسد وي داځنګل پخوا زمانه کې دګل بازدقام ددښمنانوپه قبضه کې تلی و. دمغلو په زمانه کې د ګل بازمشرانود ډ یرومقد مواوقضیونه پس بیا راګرځولی و. اګرکه دګل باز مشرانوګټلی و اودهغوی حق منلی شوی و. خو بیا هم دښمنانود شوې فیصلې پروانه کوله اوهروخت به په دې ځنګل بلوسید ل. کله ونې پریکړې. کله ښکا رکړی. کله اور لګولی .غرض داچې نقصان به یې کولواو ددواړو قامونوترمنځ پرې څوځوځله مرګونه ژوبلې هم شوې وې اوداخانداني عداوت پشت په پشت راغلی پاتې شوی و. ګل بازچې څه وخت دخپل قام مشرشو.نوددې عداوت شپږمه پیړۍ شروع شوې وه.په دښمنانوکې ډیرخطرناک اوفسادي شیردل خان و. ده به څوپه څو یمه په دې

ځنګل ډاکه اچوله اوپټ په پټه به يې کله ونې وهلې ، کله واښه کړي ، کله ښکار، ګل بازاو شيردل دواړه ديوبل وينوته تږي ناست وو ، په ورکوتوالي کې لاديوبل دسردښمنان وو ، اوچې لوی شول نوديودبل به يې د بيخ بنياد دويستوکوښښ کاوه،ددې ځنګل په سردداړو قومونوترمنځه سخته دښمني وه،داکيدی شوه چې دادښمني لرې شوې هم وای اوسوله شوی وای خودګل بازاوشيردل ذاتي عداوت ددې قومي دښمنۍ په اوردتيلوکاروركړو اوهريو دخدای نه دا غوښته چې دښمن مې په قابوکې راشي اوسريې وچقوم.

ګل بازدځنګل دڅوکۍ له پاره سړي هم مقررکړي وو اوپخپله به هم ددښمن په څاوکې ګرزيدو ولې تراوسه يې لاموقع په لاس نه وه راغلې، شيردل خان هم داسې کچه سامی نه و ، هغه به هم هميشه دځان سره پوره ډله راوسته اوډيرپه احتياط به يې په ځنګل ډاکه اچوله.

نن هم ګل باز دخپل ځاني دښمن شيردل په انتظارکې ولاړو.هغه ته پته لګيدلې وه چې شيردل به نن دشپې په ځنګل ډاکه غورځوي. داسې موقع هغه دخدای نه غوښته . اول موقع ته رارسيدلی و ، ګل باز خپل سړي په يوه سمڅه کې پټ کينولي وواوپخپله په داسې ځای ولاړو چې ګيرچاپيره ښکته پورته هرڅه يې په نظرراتلل.

ګل بازپه ډيرې بې تابۍ سره دخپل دښمن دراتلوانتظارکولوچې په دې کې ناګهانه ديوې کندې نه صحرايي کوترې والوتې ، دا د دې نخښه وه چې څوک را روان دی څکه چې کوترې په تياره کې اوبيا په سيلۍ کې بې وجهې دځای نه نه الوزي ګل بازځان سمبال کړو. دغه وخت دهغه په زړه کې يوه هيله وه اوهغه داچې که په دې تياره شپه اوخوشي ځنګل کې شيردل يوازې په يوازی خدای په ګوتو راوستونود ډيرعمرډ ک زړه به پرې تش کړم.

په دغوخيالاتوکې ديوې غټې ونې دتنې نه تاوشو اودسردښمن شيردل خان يې مخ په مخ وليده. ښه شيبه خودواړو يوبل ته په ځيرځيرکتل.

ددواړوپه لاسوکې ټوپک وو، ددواړوپه زړونوکې یو بل ته ډکه وه ، دواړه د ډیرې مودې راسې دداسې موقع په تلاش اوارمان وو، ولې دا دپښتون فطرت نه دی چې په دښمن ناڅاپي حمله وکړي اودخبروځه موقع هم ورنه کړي.

ګل بازاوشیردل هم دیوبل دسردښمنان وو، ولې داسې دښمني یې نه وه چې دلیدوسره یې په یو بل ډ زې کړې وای،د شپې په تیاره کې ګل باز او شیردل د واړه یوبل ته مخامخ د یو د ووقدموپه فاصله ولاړ وو، ددواړونیتونه بد او ارادې یې خرابې وې . د زړونو براس یې اوښکل غوښتل،ولې قدرت په دواړوپورې خندل،په دوی کې لایوهم خوله نه وه پرانستې چې دسیلۍ یوه سخته جلکه راغله، داسې معلومیده چې دنیا په بل مخ اوړي اویوه غټه ګوره ونه دیوناڅاپي کړس سره راماته شوه، ګل باز اوشیردل یوطرف ته دټوپ نیت کولوچې دونې غټ غټ ښاخونه پرې راپریوتل او دواړه سره دلاندې راوغورځیدل.یو طرف ته ګلبازدونې دتنې لاندې پروت یولاس یې غټ مات اوورلاندې راغلی و،اوبل لاس یې ژوبل شوی اوچت نیولی و مخ اوسریې هم ځای په ځای ژوبل شوي وو اوویني ترې بهیدلې، بل طرف ته شیردل په یوګزفاصله کې بې حس اوحرکته ددوه و غټوښاخونودلاندې بدۍ بد راګیرشوی پروت و،اودپاسه پرې په سوونومنونودرنې څانګې راغلې وې، دده هم سراوسینه ډیرسخت ژوبل شوي وو .یوه پښه یې په دوه وځانګوکې الول شوې وه او د واړه لاسونه یې هم ګیرشوي وو .غرض داچې په نوم دواړه ژوند ي وو او د خوځید و یا دځان دخلاصولو طاقت په یوکې هم نه و.یوه شیبه پس شیردل وخوځیدو اوډیره درده یې زبیرګي شروع کړل په مخ یې وینې بهیدې.یولاس یې په مټه خوارۍ راخلاص کړو، له سترګونه یې وینې پاکې کړې اوچارچاپیره یې وکتل ، ورسره خواکې ګل بازهم بې تابه اوبې طاقته پروت و، دواړویوبل ته په داسې وخت کې هم په انتهایي نفرت اوحقارت سره کتل ددواړو په زړونوکې رنګا رنګ خبرې ګرځیدې .

ګل بازپه دې خبره خوشاله و چې شکردی چې دمرګ نه بچ شوم،ولې یوپه زخمونواوبل په دې خیال چې دسردښمن راله خدای په ګوتوراکړی دی اوزه ورسره هیڅ هم نه شم کولای، دهغه زړه پیړق وچاوده ولې دایې هم یقین وچې شیردل هم بد بد راګیرشوی دی اوخلاصیدی رانه نه شي، بل طرف ته شیردل خپل زخمونه اوبدحال هیرکړی په دې خوشالیدو چې دسردښمن مې هم بد بد راګیرشوی دی، اوپه خپل ځنګل کې زما په شان بې طاقته بې مجاله پروت دی ، یوه لحظه خو دواړو یوبل په سترګو سترګوکې خوړل آخرشیردل داپرهیزمات کړدپیغورپه شکل یې ګل باز ته ووې چې پکار خوداده چې ته مړشوی ولې خیرکه مړنه یې نوهم راګیر شوی بد بدیې ، او عجیبه دا چې هم پخپل ځنګل کې چې تاسو په تګې تورۍ خپل کړی دی دقدرت انصاف ثومره زورور دی دایې وویل اوبیا یې ښه په زوره وخندل ، ددې خندا پیچموزوپه ځواب کې ګل باز وویل چې زه خوپخپل ځنګل پخپل ملک کې پروت یم ، خوتاته شرم اوغیرت نه درځي لکه دغل دخپل همسایه په ملک کې دقدرت دلاسه بد بد راګیرشوی بې حاله پروت یې.اوس چې زما سړي را ورسي اوته هم دغه شان ویړوازپروت یې ، نودافسوس منګول به مروړې وایې به چې خدایه ددې نه خومرګ ښه و، شیردل یوه لحظه خوچوپ وبیا یې ډیرپه استقامت سره دا ځواب ورکړو چې ستا دا یقین دی چې ګنې ستا سړي د لته رارسي، نوموږبه دغه شان دلته پراته یو؟ ګل بازه!

وارمه خطا کوه، له ما سره هم خپل سړي راغلي دي اوپه ما پسې سم راروان دي، اول به هغوی دلته رارسي او چې ما د دې ځای نه وبا سي، نوستا په مرګ کې چې کسرپاتې دی هغه به هغوی پوره کړي، داباقي ځانګې به هم درباندې انبارکړي اوچې ستا سړي رارسي،نوته به بلې دنیا ته تللی یې اوزه به سبا ستا خپلوانوته عذرخواهي ورلیږم.ګل بازپه ځواب کې ووې چې داخبره دې په ښه موقع رایاده کړه.زما سړي چې څه وخت راورسي، نوهمدغه شان عمل به درسره وکړم. لیکن عذرخواهي به دې

خپلوانوته نه لیږم ځکه چې زما په ملک کې لکه دغلوراګیرشوی یې.
شیردل په غصه کې ووې چې ډیره مې خوښه ده په دغه ځای نن دافیصله کوو.ته اودستا سړي اوزه اوزما سړي،بې دریمګړي به داقضیه ختمه کړو،یابه ستا ککرۍ ورغړي یابه په موږه ځلی جوړکړي چې هډوغم غوځ شي.

ددې خبرواترونه پس یوه شیبه دواړه غلي وواوپه دې فکرکې ووچې دچا ډله به اول رارسي؟ هسې نه چې دابل راباندې ړومبی شي دواړوپه زړه کې دوعا کوله چې خدایه! اول زما سړي راورسوې! نا امیده په قلاره پراته وو.یخه هوالګیده، ولې سیلۍ کمه شوې وه.ګل باز زیات بې حاله ودزخمونونه علاوه حلق یې وچ و اودتندې نه یې ژبه راوتې وه . داوبو پتکی ورسره و. ولې دومره طاقت یې نه وچې یې لاس خلاص کړی وی اواوبه یې څښلی وی.یوه لحظه خویې تنده تیره کړه.خوآخریې زغم تمام شو.په ډیرتکلیف یې یولاس رااوږدکړو په غاښویې دپتکي سر لرې کړواوپه یوواریې نیم پتکی تش کړو.چې لږه ساه پکې وشوه . نوبې اختیاره یې خپل دښمن شیردل ته وکتل چې خوارې سترګې یې نیولې وې اودوینو روډیږې رامات و. دګل بازپه زړه کې ترس راغی اودپښتومهمان نوازۍ جذبه یې را اوچته شوه او داخیال یې راغی چې څه رنګه ته تږی وې دارنګه دی هم تږی دی.اوداوبو دیوګوټ محتاج دی که مې دسردښمن دی.خوبیا هم بني آدم دی اودبني آدم تږي وژله سړیتوب نه دی په خپل زړه کې یې ځان ملامت کړواوپه ډیره نرمه ژبه یې شیردل ته ووې چې که دې پتکي ته لاس را اوږدولای شې،نودرڅکوم یې.زما خومرۍ وچه وه.دتندې نه بدحاله وم .خوشکردی چې پتکی مې رایادشو یوګوټ اوبه مې وڅښلې.ساه راکې وشوه.ته هم یوڅوګوټه اوبه تیرې کړه . نولږدم به درکې راشي. په موږه دواړوکې هریو چې وې مرې خوبه مرې.خوراځه چې دمرګ

نه وړاندې دیوې شیبې دپاره خوخپله دښمني شاته وغورځوو اوپه یوپتکي اوبه وڅښو .(۱)

داسې ډیررو ایات شته چې په پښتوکې په شفاهي توګه موجود دي اوله یوې پیړۍ نه بلې پیړۍ ته،له یوه نسل نه بل نسل ته اوله یوې زمانې نه بلې زمانې ته سینه په سینه لیږدي،دتاوتریخوالي، کرکې او نفرت پرځای د امن ، مینې ،خواخوږۍ اوانساند وستۍ تلقین کوي .زه لا کوچنی وم، په ښوونځي کې مې زده کړه کوله، خوپه دې ډ یرنه پوهیدم چې تا وتریخوالی څه ته وایي اوامن څه شی دی،کرکه اونفرت څه پایلې لري اومینه ،خواخوږي او انساندوستي انسانانوته څه وړ فایدې او ګټې له ځانه سره لري،خوچې دچا ترمنځ به تاوتریخوالی و،کرکه به وه اوله یوبل څخه به یې نفرت درلود چندان خوند به یې نه راکاوه،مابه له ځانه سره ویل چې دوی ولې له یوبل سره مینه نه کوي،ولې یوبل ته خاندي نه اوولې دیوبل په غم اوښادۍ کې ځانونه.نه شریکوي بیابه مې خپلې دغه اند یښنې له خپل اروا ښادپلارسره شریکې کړې .هغه به مې په سربانديې لاس راتیر کړ اوراته وبه یې ویل: زویه : ته خپه کیږه مه اوپه دې باب اندیښنه مه کوه ځکه که خدای وغواړي د تاوتریخوالي ،کرکې اونفرت پرځای امن .مینه اوخواخوږي هم د دغه شان خلکو په زړونوکې ځایولای شي،خوچې ما بیا بیا خپله اندیښنه تکرارکړه نوارواښاد پلارمې یوهغه روایت راته بیان کړچې هغه له خپلوپلرونونه اوریدلی و .هغه روایت دادی:

دتیرا دپروځمکنوپه یوه دره کې دخوږدواړوغاړوته مخامخ دوې سترې کورنۍ اوسیدلې. په لومړي سرکې دغو دواړوکورنیو دمینې اودوستۍ په فضا کې ژوند سره کاوه او ډیره ښه راشه درشه یې درلوده. خویوه ورځ ددواړوکورنیو ددووځوانانوترمنځ په یوه ډیره عادي خبره خبرې ترخې شوې اوبالاخره سره لاس اوګریوان شول اوپریوبل یې دډبرو وارونه وکړل. له بده

---

۱- ګل مست ،دقاضي عبدالسلام ،د پښتوادبي سوغات ،لومړی چاپ ،منظورعام پریس ،پېښور، د۱۹٤۸کال فروري، ۲۱، ۳۱ مخونه.

شامته یوه ډېره دیوه ځوان پرسرولګیده اوسرېې مات شو ،په هغه زمانه کې ډاکتران اوطبیبان هم نه وو او خلکوبه کورنۍ درملنې کارولې،داچې ټپ ډېرژور و اوسمه درملنه هم پرې ترسره نه شوه، نو هغه ځوان دهغه ټپ له امله مړشو اوپه دې توګه ددواړوکورنیو ترمنځ دښمني پیل شوه، دمقتول ورثې دخپل پورداخیستلوپه غرض دقاتل دکورنۍ دوه تنه تر ډزولاندې ونیول ترڅوپه دې توګه دیوه تن په وژلو سره خپل بدل واخلي،خود ډزوله امله دواړه ځوانان ووژل شول اوپه دې ترتیب دبیا بدل اخیستلوله پاره بهانه پیداشوه.

دتیراپه خلکوکې ددووکورنیواو دووقامونوترمنځ ډېرې دښمنۍ تیرې شوي دي اوچې کله ددوو کورنیوترمنځ چې په نږدې واټن کې سره اوسیږي دښمني پیداشي بیانودکورنۍ نارینه کسان په کورونوکې ځانونه کلابند کړي اوچې دهغې بلې کورنۍ کوم نارینه له کوره راووځي. نوترډزو لاندې یې ونیسي ځکه نودکوربهرټول کارونه دښځوپه غاړه وي اوښځې مجبورې وي چې دکرکیلې اونورو ضروریاتو دترسره کولوله پاره ډیرو درندوکارونوته مټ ورکړي، نو ددغو داوړوکورنیو نارینه هم په خپلوکورونوکې کلابند شول او چې کله به یې د ټوپک زخه دهغې بلې کورنۍ پرکوم سړي باندې برابره شوه پرته له ځنډه به یې له پښووغورځاوه، دغه دښمني شل کاله اوږده شوه او ددواړوکورنیو زیات شمیرغړي پکې ووژل شول.

یووخت دیوې کورنۍ مشرسخت ناروغ شو ،داچې له یوې خوایې مناسبې درملنې ته لاس نه رسیدو اوله بلې خوایې دګرځیدو اوراګرځیدوامکانات هم نه درلودل،نوروغتیایي حالت یې له یوې ورځې نه بلې ته پسې خرابیدو ،دهغه له ناروغۍ څخه دهغې بلې کورنۍ مشرخبرشواوداسې ورته وویل شول چې کیدای شي په خوورځوکې حق ته ځان تسلیم کړي،نواراده یې وکړه چې پوښتنې ته ورشي اودوروستي ځل له پاره یې وګوري،دچا په خوله یې احوال ورولیږلوچې زه غواړم د خپلې کورنۍ دنارینه غړیوپه

ګډون ستا پوښتې ته درشم که تاته په دې کې څه مشکل نه وي نو مثبت ځواب به راکړې.

استازي چې دهغې کورنۍ دمشرپیغام وروړساوه،نوناروغ مشرله خپلو کشرانو سره ترمشورې وروسته دهوځواب ورکړاوورته ويې ویل چې همدانن مازدیګرمور ددوی راتګ ته سترګې په لاره یو،دمقابلې کورنۍ ټول نارینه له خپل مشرسره له خپلوکورونوڅخه راووتل، په داسې حال کې چې ټوپکونه یې په متونوایښي وو دهغې بلې کورنۍ دکورونوپه لوروخوځیدل، هلته چې ورسیدل دهغې کورنۍ ټول نارینه یې هرکلي ته ولاړ وو اوترروغبړوروسته یې ټوپک ترې واخیستل (په پښتنوکې داتعامل دی چې میلمه دچا کورته ورشي نوورسره وسله ترینه اخلي اوپه یوه مناسب ځای کې یې ږدي) مشرد مخه اوکشران ورپسې مخامخ دناروغ مشرخونې ته ننوتل، ناروغ مشرپه ډېرتکلیف ځان کیناستوته برابرکړخومیلمه مشرپه ډېره چټکۍ دهغه چپرکټ ته ځان ورساوه اوهغه یې له کیناستلوڅخه منع کړ.

له روغبړ وروسته ټول په مناسب ځای کې کېنا ستل اوراغلي مشرناروغ مشرته په خطاب کې وویل: فلانی خانه! څنګه یې اوروغتیایي حالت دې څه وړدی؟ هغه ځواب ورکړ: فلانی خانه ! خدای دې تاسوته دنیکۍ بدل درکړي چې دلته راغلئ، زما روغتیایي حالت له یوې ورځې نه بلې ته خرابیږي خدای خبردی چې څومره دانه به مې پاتې وي ،خو په دې خوښ شوم چې دژوند په وروستیوشیبوکې مې ستاسو ملاقات اودیدن په نصیب شو.

میلمه مشرپه ځواب کې وویل: فلانی خانه! زه هم‌په دې خوښ شوم چې له تاسره مې لیده کاته وشول،خوپه دې خپه یم چې که ته مړشې نوزما به یوسترارمان په زړه کې پاتې شي اوهغه دا چې کاشکې ته زما دټوپک په ګولۍ لګیدلی وای،نوهغه وخت به مې په زړه کې ارمان نه وپاتې، ناروغ مشرمسکی شواوپه شمیرلو الفاظوکې یې ورته وویل: فلانی خانه ! ستا

دغه ارمان خوبه زه پوره کړم اودغه دی زما تپک واخله اوخپل ارمان دې سرته ورسوه ،خوزما دارمان پوره کول په تاپورې اړه لري اوهغه داچې کاشکې زما په ژوند زموږاوستاسو ترمنځ روانه دښمني په دوستۍ بدله شوی وای چې دا ارمان ته پوره کولای شې اوآيا ته پوهيږې چې ددغوټولوقتلونوذمه واري زما اوستا په غاړه ده ځکه هرڅوان چې وژل کيږي زما اوستا په رضا اوامر وژل کيږي، زه خوفکرکوم چې همدومره وژل بس دي. ميلمه مشر ترلږ سوچ وروسته غاړه ږنه کړه او ورته وې ويل : فلانی خانه! ته پوهيږې چې ددې دښمنۍ له منځه وړل ناشونې بريښي ځکه يوتن نه دوه تنه نه بلکې په لسګونوتنه ددې دښمنۍ ښکارشوي دي ځکه خوېې نوماته هم دحل کومه لارپه نظرنه راځي. ناروغ مشرتر يوه اوږ ده زګيروي وروسته ورته وويل: فلانی خانه! که زه اوته وغواړو همدا اوس ټوله دښمني په دوستۍ بدلولای شو اوهغه داچې تيرپه هير ونيسو اوپخپلوکې دخويندو ،لوڼو دوستۍ سره وکړو. ځکه همدا اوس ستا په کورنۍ کې لس دوولس ځوانان ودونه نه لري اوهمد ومره جينکۍ پيغلې ناستې دي، په همدې ترتيب زما د کورنۍ ځوانان اوپيغلې هم د-رواخله،نوکه ستا خوښه وي راځه چې زما دکورنۍ جينکۍ ستا دکورنۍ ځوانانواوستا دکورنۍ جينکۍ زما دکورنۍ ځوانانوته په نامه کړو ،خوپه بدوکې نه بلکې دعادي دوستۍ په توګه.ميلمه مشرترلږسوچ وروسته خپلوکشرانوته مخ واړاوه اوورته وې ويل: بچيانوستاسوځنګه خوښه ده؟ هغوی چې ديوې داسې ورځې په ارمان وو په يوه غږ وويل : باباږستاسو فيصله زموږ فيصله ده اوکه تاسوغواړئ دښمني له منځه يوسئ موږ مخالف نه يو ،ناروغ مشرچې د مقابل لوري دکشرانوخبرې واوريدې نوخپلوکشرانوته يې وويل: بچيانودسمالونه راواخلئ، زه ديوې يوې جلۍ نومونه اخلم اودخپلود تربرونودځوانانونومونه هم يادوم. زموږدکورنۍ جلۍ اود دوی د کورنۍ زلمی اوهمدارنګه دخپلې کورنۍ دځوانانو نومونه

یادوم اودوی به دخپلې کورنۍ دجینکو دنومونوپه یادولو سره دخبرې سرته غوټه ورکړي.

په دې توګه دمیوې دسمالونه وویشل شول، په پښتنوکې ددسمال په اخیستلو سره دټوپکوډزې کیږي .نوددواړوکورنیوځوانان دباندې راووتل اودټوپکوباړونه یې وچلول، په دره کې دنوروکلیو خلک ځک شول چې کیدای شي ددښمنو کورنیوترمنځ بیا شخړې زور اخیستی وي اودمقابلې کورنۍ ښځو اوماشومانوپه ژړا او انګولا ګوتې پورې کړې ځکه دوی فکر کاوه چې ددوی د کورنۍ ټول نارینه یې ووژل.خوددوی مشر له پورې غاړې نه ورته نارې کړې چې ژاړئ مه دادخپګان ډزې نه بلکې دخوښۍ ډزې دي اوموږبه دماسخوتن ترډوډۍ خوړلو وروسته په خیراو سلامتۍ له دسمالونواومیووسره درځواوتاسوبه هغه څه واورئ چې په اړه به مو فکر هم نه وي کړی.

دوی چې دماسخوتن ډوډۍ له پاره ځانونه تیارول دناروغ حالت ورو ورو دبدلیدوپه لور روان و او د ډوډۍ پروخت د دې جوګه شو چې له خپل سیال سره په یوه کا سه کیني او ډوډۍ ورسره وخوري داځکه هغه به شپه او ورځ دخپلې کورنۍ اودمقابلې کورنۍ دراتلونکوبدمرغیو په اړه فکر کاوه اوهمدغو سوچونودده صحت او روغتیا ته سخت زیان رسولی و ، خونن چې دده دډیرې مودې ارمان پوره شو او دغه داوږدې مودې دښمني په دوستۍ بدله شوه نوروحي سکون یې و موند اوله ماغزوڅخه یې هغه بوج لرې شوچې همیشه به یې ترفشار لاندې راوستلی و اوپه دې توګه ښل کلنه دښمني په یوه شیبه کې په دوستۍ بدله شوه .(۱)

پښتانه د مغلو په زمانه کې که له یوې خوا دمغلي واکمنوپرخلاف په ډغروبوخت وو، نو له بلې خوا قبیلوي جنګونه هم روان وو اودپښتنو یوه

۱- زما داروابناد پلاردخولې روایت چې هغه له خپل پلارڅخه اوریدلی و اوهغه ته دخپل پلارله خوا چې زما غورنیکه کیږي اورول شوی و .

قبيله به له بلې قبيلې سره په معمولي خبره جنګيده چې په دغه شان جګړوکې به ددوارولوريو ترمنځ زيات شميرپښتانه له منځه ولاړل اوپه سيمه کې به ورسره غم اوماتم خپورشو ، خوپه دغه شان له تاوتريخوالي نه په ډکوشرايطوکې دسولې د تأمين له پاره هم دسوله خوښوپښتنوله خوا وخت په وخت هلې ځلې کيدلې اوډيرځله خوددغه شان هلوځلوله برکته دلويوتباهيو مخه هم نيول شوې ده چې دبيلګې په توګه دتواريخ حافظ رحمت خاني له کتاب څخه لاندې متن رااخلو او په دې متن کې به وګورو چې ديوې قبيلې مشرپه څومره مهارت دد وو قبيلوترمنځ موجود تاوتريخوالى له منځه وړی.

**رفتن ملک احمد به خانه ملک محمد خان دلزاک به جهت صلح دلزاک:**

القصه ملک احمد له يو څوپياده و سره روان شه،کوزله لښکره ولاړه،دميچنی په دويم ګذر چې منتهي دغره وهورته پورې شه ، ور روان شه ـ ګو يند چې وقت د غرمې وچې ملک محمد خان دلزاک کره ورغی، ورننوت،کښينا ست اوپه دغه وقت کې ملک محمد خان کورنه و،په لښکرو،باري قبيله دمحمدخان ډيره ځوانمرده عاقله وه، دی ‹ يې › وپوښتيده چې څوک يې، چيرته راغلی يې؟ ده ورته وويل، ملک احمد يوسفزی يم ، ملک محمدخان ته په ننواتې راغلی يم ، نورهغې دده ښه دارمدارعزت حرمت وکړ،نوريې خپل سړی اواعتباري پټ محمدخان ته واستاوه، د ملک احمد له راتلويې خبرکړ،چې په ننواتې راغلی دی اوهغه سړی هم دې ښه پوه کړ،چې ګوره خبر دارشه دملک محمدخان اودنورو الوس کل مرضي دريا فت کړه نورراشه ، احوال ماته بيا ووايه.

لکه هغه سړی لاړشه مخفي يې محمدخان له دې حاله خبرکړ، محمدخان نورخپل دکور واړه عزيزان راوبلل،له دې حاله يې خبرکړل،مشورت يې ورسره وکړ،آخرش هغه خبره ترهرچا ورسيدله، څرګنده شوله،درست لښکرپرې خبرشه، لکه په جنګ کې د هر چا ورونه عزيزان مړه وو، هر چا سره ويل چې ملک احمد خدایٔ راکړ دېرپښوونه دی، نوردرست لښکرپه

زوري،په جوش خروش،په قهر په غصه دملک احمد په مرګ راوکوچيدل دمحمدخان کلي ته روان شول. اوملک محمدخان اودده دکورعزيزان دملک احمدپه بدو روا دارنه وو. دلزاکوته يې وويل چې دا مناسب نه دي.په کوردننواتې خلک چا وژلي نه دي.په داکې بدنامي ده . داکاردکړونه دی.هرچند چې ډيرنصيحت محمدخان ورته وکړ باري فايده ‹ يې › ونه کړله.درست لښکرد محمدخان کلي ته روان شه اومحمدخان هم ورسره و.ګويند چې دملک محمدخان عورتې چې اول هغه خپل سړی استولی و. ورته يې ويلي ووچې هرشان چې دمحمدخان اودلښکراحوال دي وليده،نوراشه ماته ووايه.هغه سړی قبل له لښکره راورسيده اودااحوال يې ورته با لکل ووايه ،چې لښکردرست دملک احمدپه وژلوروان شه. دملک محمدخان خبره هيڅوک نه مني. نورقبيلې د محمدخان. به ملک احمد آمده ظاهرنمود «تمامي لښکر برای کشتن شما روانه شد. مي آيند و ملک محمد خان هرچندکه مخالفت ونصيحت ميکند ،فايده ندارد ،اوزوردالوس بد دی » راشه په تاخانه کې چې ما مزکه دننه کندلې ده اوبارونه درخت مې پکې پراته دي. ته ورننه وځه دهغوبارونو دلاندې پټ شه.ځان ساتل فرض دي.ملک احمد ورته وويل « هرچې ته مناسب ګڼې ښه خبره ده » نورملک احمد ورننووت هورته دبارونولاندې پټ شه ، اودغه فکرد محمدخان قبيلې له اوله کړی و. دغه ځای يې ورته دبارونودلاندی کندلی و ،نوروخپلوراز داروسړيوته يې وويل چې کوځه په کوځه و ګرزئ نعرې وکانئ. چې ملک احمد وتښتيده لاړشه. هغه سړيوهمدغه رنګ په حکم ددې.ځای په ځای په کلي کې نعرې وکړې چې ملک احمد وتښتيده لاړشه. هرچيرته داخبره عامه شوه .

هرګاه چې لښکرددلزاکوراغی. له فراره دملک احمد خبرشه.له موندلوېې مايوس شه ،ډير زهيرشه . ګويند ،هرچې دانااوعاقل خلق وو ،هغوی ډيرترتاب اوافسوس کاوه چې هرکله تومنونه سره بدوکاندي،باري چې داهسې ميړونه غولي ته په ننواتې ورشي.هغه بدي ترميانه وباسي. او

دننواتې راکړه په ننواتې راغلی و.مونږ قبول نه کړ. راڅخه بې عزته لاړشه.په وګړي په تومنونو بدنام شوو.پس له دې به څوک اعتبارراباندې ونه کا اوپه محمدخان به يې هم دارنګه ملامت کاوه.چې حيف دی چې دملک احمد غوندې ميړه ورکړه په ننواتې ورغلی و.هيڅ شرم يې دخپل غولي ونه کړ.ملک احمدبې آبرويه ورڅخه لاړشه اود محمدخان قبيلې به هم په خپل ميړه دغه رنګې ملامت کاوه چې دکارنه وې.دغولي شرم اوپت دې ونه کړ. اودمحمدخان عزيزانوهم دغه رنګ ځان ته توکل.چې څه رنګ چاروشوه.په تومنونو رسوا شوو وشرميدلو

هرګاه چې دمحمدخان قبيلې وليده چې دلزاک پښيمان شول وخپل ښځتن ته يې وويل.چې که ته ملک احمد د د لزاکوله وژلوساتلی شې اوننواتې به يې قبلولی شې.زه به ملک احمد پيداکړم.محمد خان ورته وويل چې داخوهرګوره ډيره ښه خبره ده. که ملک احمد پيداکولی شې. مونږخودا ساعت له خدايه غواړو.چې که احمد پيداشي چې په عزت حرمت سره يې رخصت کړو.چې د هرچا آبروسره په ځای پاتې شي. اودلزاک هم بالکل اوس واړه پښيمان دي. هرڅوک دا ارمان سره کاندې چې دريغه احمدموپه آبروسره رخصت کړی وی. پس که ته يې پيداکولی شې هيڅ خطره يې نشته په عزت په حرمت سره به يې رخصت کړوچې شرم آبرو دهرچا سره په ځای پاتې شي.

نورقبيلې يې وويل چې ملک احمد هيچيرته نه دی تلی. په دروغه ما آوازه ګډه کړې وه چې احمد وتښتيده او احمد هغه دی دننه تربارونو دلاندې په تاه خانه کې دی. چې ځای مې ورته هورته جوړکړی سازکړی پټ مې په کې کښينولی دی. نوردا ورغله بارونه يې لرې کړل احمد « يې » راويوست،نورملک احمد راغی له محمدخان سره ملاقي شه. محمدخان ډيرخوښ شه دار مداردلاسه استمالت يې دده ډيروکړو. نورپس له هغه يې خپل دکورعزيزان راوبلل له دې حاله يې خبرکړل. هغه هم راغلل له ملک احمد سره يې وليدل ډيرېرې خوشحاله شول. پس له هغه ملک محمدخان

درست لښکرچې لا هورته وو خبرکړ.هرڅوک ازکه ومه په داخبره خوشحال شوراغلل. دلاسه دملک احمد ‹ بې › و کړله اوله ډیرې خوشحالۍ ډمامې اونغارې یې ووهلې . دارېې و دراوه، آخرش ملک احمد ودوی ته وویل چې . اې دلزاکو!

تاسې نهایت زبردست زورور الوس یا ستئ اوموږلږ خلک سره بني. دلته راغلي په تاسې پورې پراته یو .نورقام مودلته نشته داګذارزموږ ګناه معاف کانئ چې ګوره زه ترخپل سره تیرشوم په داهسې وقت په ننواتې غولي ته درته راغلم، دالښکرخورکاندئ اوپس له دې غرض دبدۍ راباندې مه کوئ. نوردلزاکوورته وویل چې ملک احمده ! لکه ته راغللې ستا په مخ موستا قام عفوه کړباري خپل تومن پوهه کړه چې بیاداهسې بدي ونه کاندي. نوربې صلح مصالحه سره وکړله اوپه قسمونوغلیظویې سره محکمه کړله.نورسروپای اویوښه آس مسرجه ملجم ‹ بې › وملک احمد ته ورکړ. په اعزازتمام یې رخصت کړ.(۱)

په لاندې متن کې دسلطان محمودغزنوي هغه خواخوږي اوزړه سوی بیان شوی دی، چې له جنګونوسره سره یې دخدای له بند ګانو سره درلود اوپه هرصورت یې سولې ته په جنګ او تاوتریخوالي ترجیح ورکوله.

اوپه سن څلورسوه دیارلس هجري کې دلاهورپه لاربې اراده دننداً دوطن وکړله چې دګوالیار کلاته ورسید مصلحت یې داسې وکړچې داکلاحصاره کاندي.پس له څلورو ورځو راجه دهغې کلا هوښیار هوښیارقاصدان دپنځه دیرشوهاتیانوسره وروليږل صلح یې وکړله . سلطان له هغه ځایه کالینجرته روان شوچې ننداً پکې اوسیده .ننداً درې سوه هاتیان دصلحې له پاره راولیږل.چې سلطان هاتیان قبول کړل. نوراجه ټول هاتیان بې له هاتې واناڼومیدان ته ورخوشي کړل.سلطان ترکانوته حکم وکړټول یې ونیول پرې دپاسه سواره شول اودکلاخلک ورته حیران پاتې شول. او ننداً په هندي

۱- پیرمعظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خاني، دیباچه دمحمد نوازطائر، پښتواکیډیمي ، پېښور یونیورسټي، عزیز خان پرینټر شاهین پریس ۱۹۷۱ ع کال ، ۶۱،۵۷ مخونه .

ژبه دسلطان په مدحه کې شعروواېه ورله یې راولیږه.سلطان عالمانودهندوستان او دعربواوعجموته هغه شعر ښکاره کړیولوآفرین اوشاباشی ورباندې ووایه ،سلطان ډیرخوشاله شو فرمان د حکومت دپنځلسوکلاو چې یوه له هغونه دکالینجروه سره د نوروپیشکشویې ورکړه.ننداهم ډیرمالونه اومرغلرې په خد مت کې د سلطان حاضر کړل بیا سلطان په بیر ته غزنین ته روان شه په خیرسره راورسید.(۱)

په لاندې نظم کې چې دشهزاده بهرام اوگل اندامې دداستان له یوې برخې څخه رااخستل شوی دی شهزاده بهرام ته دخپل پلار نصیحت راغلی دی چې دانساندوستی اوخواخوږی یوغوره پیغام پکې پروت دی.

بیا بادشـــاه ورته ویل واوره فرزنده
کـــه هوښیار یې خبرشه زما له پنده
دارونـــــق دسلطنت واوره بهـــرامه
پرورش درعــــیت کړه خرد منده
په عـــاجزوباندې رحـــم ډیرثواب دی
دمـــظلوم آزارول خدای ته نا پسنده
پـــه هـــردم شـکردخدای کوه بهـــرامه
چـــې خدای درکړه مرتبه هسې بلنده
جـــــــوازنه لرې آزاردمظـــلومانو
لـــه آزاره بازار نشـــته دانشمنده
پـــه هـــرکارکې تدبیرښه بویه بهـــرامه
دازمـــا نصـــیحت واوره عقلمـنده
شـــهزاده بهرام قبول دانصیـــحت کړ
تسلـــیمات یې وراداکړه په څوچنـده

---

۱-پادري هیوز،کلید افغانی،تاریخ دسلطان محمودغزنوي،داطلاعاتواوکلتور وزارت،کابل، افغانستان ۱۳۵۶هـ ش کال دزمرې میاشتې ۱۵ ، ۱۷۲ مخونه .

دودســـته سلام يې وکړوخپــل پلارته
تـــــوبه ګارشودعاجزو له ګزنده
شهزاده دپلارخدمت واړه په ځای کړ
ځــــکه کاريې شه فياضه له آننده (۱)

د آدم خان اودرخانۍ دولسي کيسې يوه ځنډه :

دآدم خان اودرخانۍ کيسه يوه ولسي اوفولکلوري کيسه ده.دغه ولسي کيسه زياتره په نثراو روانه ژبه ويل کيږي. خوچې کله ددووخواوترمنځ دسوال اوځواب خبره رامنځ ته کيږي بيانودغه سوال اوځواب په نظم بدليږي اود نکلچيانوله خوا په يوه خاص اوځانګړي آهنګ سره ويل کيږي. زه دلته ددې کيسې يو هغه پړاکی (برخه) را اخلم چې پکې دخواخوږۍ اوانساندوستۍ پيغام پروت دی

کارونه دخدای وو.ميروګی د آدم خان په عشق کې تللی و. دهغه په لوري يې په مينه سره تګ کاوه. د آس يې ځلو رخپلې اوځلوريې ورپردۍ کړې په لاره کې يې متروکه ورکړه. ډيرتيز تيز مزل يې کاوه، دلمرترلويدو پورې يې زيات مزل وکړ. دماښام درپو وخت وچې د آدم خان دکلي ترځنګ کلي ته ور ورسيد. هلته يې د آدم خان پوښتنه وکړه، چا ورته وويل هغه کلی دآدم خان دی دبنګلې مخې ته يې دوې لويې کوټې جوړې کړي دي.په دا دووکوټوکې يې سل اويا شپيته تنه پهلوانان ژوندکوي.داځکه چې دی دښمندار دی،نورتربرونه،نه لري چې له ده سره کومک وکړي. کوم يوتربورکه لري هغه هم دده دښمن دی.دی په دې پهلوانانو ځان ساتي. دهغوی خرڅ او خوراک اوکالې مالي دی ورکوي. ميروګی له دې کلي نه روان شو. دماښام تياره ده.خوځان يې د آدم خان دبنګلې لاندې کوټانۍ اوکوټې ته ورساوه. دکوټې دروازې ته چې ورسيد که ګوري چې خوټنه

---

۱- پادري هيوز، کليدافغاني،شهزاده بهرام اوګل اندامه،داطلاعاتواو کلتووزارت، کابل، افغانستان، ۱۳۵۶هـ ش دزمرى ۲٤٥،۲٤٤،۱٥مخونه .

چارچاپېره سره ناست دي اوپه ډېهو ډېهو اوشنولوخروچلم سره څکوي اوکوټه ټوله دچلم لوګي نيولې وه .ميروګي چې په کوټه کې دغه ځوانان وليدل دی ورروان شو .دايې ليت وچې له دوی سره به چلم وڅکوي اود آدم خان پوښتنه به ترې وکړي.ميروګی چې کوټې ته ورننوت که ګوري چې دکوټې په دغه بل سرکې څوتنه دغيږي په نيولوسره اخته دي.ميروګي چې دا پهلوانان وليدل پوه شو چې دابه د آدم خان پهلوانان وي

دخبرې ځنډنه وزي. کارونه دخدای وو ميروګی چې دکوټې منځ ته ورغی د دړې دليچي تر څنګ يې چلم څکوونکو( چلم کښو) ته سلام درواچاوه.هغوی دده سلام ته دوعليکم السلام په ويلو سره ځواب ورکړاو پوښتنه يې ځنې وکړه ورته وې ويل. اې هلکه ' په دا تياره ماښام څنګه دلته راغلې. څه کارمارلرې اوڅه غواړې؟ ميروګي دوی ته نورڅه ونه وې . خالي دايې ورته وويل که تاسې خپه کيږئ نه زه به له تاسې سره يوکښ چلم وڅکوم چلم کښوچې داله ده واوريدل په لوړه غاړه يې ورته وويل هله هلکه ' راځه .خودا په ټينګه سره واوره چې ددغه چلم څکول څه آسان کارنه دی. دغه لوی چلم خوستا غوندې سره خوله هلکان اوکمزوري ژنککي نه شي څکولی. راشه چلم دغه دی ويې څکوه.ميروګی ورغی دخدای کارونه ووچلم ډيرلوی اوجګ دروئ درلود .دی په ولاړه ورته ودريد .چلم يې تازه ورته ډک کړ. هرچا داچلم په ولاړې څکاوه دچلم په سرخانه يې دوې سکروټې ورته کيښودې.چلم لا ميروګي کش کړی نه وچې غريبې په وکړ.اوس به يې واورئ چې څه به يې ويلي وي

دچــــــــــلم سرولې بيا په بيړه راکئ . وئ په بيړه راکئ
ماپه آدم خان بيا په ادم خان پسې راکړې دې مزلونه. وی مزلونه

***

بولی. خــــــوارسری چـــې غورې کړې تربام کويری دی

کارونه دخدای وو ميروګي چې دچلم په دروې خوله کيښوده.ده خوله ګهيځ نه ترماښام پورې چلم نه وڅکولی.ډيرزړه يې ورته شوی و سخت

خوندېږ ورکړ.چلم یې په زیاته مینه سره په شنو ډ ډوزو اولوګي کې پټ کړاود سرخانې ګوټی یې له تما کیوسره یوځای پورته وغورځا وه اودچلم سر یې په ګوښې ځان سره پوچ کړ دچلم ترڅنګ چلم کښ ځوانان چې د آدم خان پهلوانان وو دده چلم څکولو ته حق حیران پاتې شول.مشرپهلوان په زړه کې دا سودا ووهله چې دا سره خوله هلک ګوره اودغسې چلم څکول؟ نوپه زړه کې یې ډیرقهرورته راغی اورخه یې پیداکړه. له ځان سره یې داغوټه کړه چې که چیرې داسره خوله هلک دلته پاتې شي او آدم خان یې ووینې چې دا دومره سره خوله هلک اودغسې چلم څکول خود ډیرزورورسړې کاردی. نوبه دغه ځوان ته آدم خان ډ یرقدراوعزت ورکړي اودپهلوانانومشربه یې کړي. په دغه نیت اوشومیت یې نه پوښتنه نه حال اونه احوال یوه کمکلي خپل پهلوان ته یې اشاره وکړه چې دلاس نه یې ونیسه دکوټې نه یې بهرته وباسه.وړوکی پهلوان دمیروګي لوري ته ورغی بې له کوم سوال اوځواب نه یې میروګي ته چې توله ورځ ډیرستړی اوستومان و وویل چلم دې وڅکاوه .نورنوپخپله مخه ځه. هرچیرې چې ځې په مخه دې وچلیږه له موږسره خونورڅه کارمارنه لري؟ داخوتا ویلي ووچې خالي چلم درسره څکوم میروګي پهلوان ته په خنداووې.سمه ده دلاس نه مې پریږده زه په خپله ځم. خو کارونه د خدای وو پهلوان میروګی لږ ټیله کړ.میروګي ته په دغې ډکې اوټیله کیدوسره ډیرزیات تاوورغی.پهلوان ته یې ووې ماته مې موردانه دي ویلي چې تاته دې څوک څه ووایي اوته ورته غلی شه . که زه درته غلی شم پښتوبه خرابه شي اودپښتون نوم به بد شي.خپل لاس یې وڅانډه.دلاس له څنډلوسره یې پهلوان دکوټې دغولې دپاسه لکه نانځکه اودلرګي ناوې راځملاوه

مشرپهلوان چې داحال په سترګوولید زړه کې یې نوروسوس اوانديښنه پیداشوه اوله ځان سره یې ووېل ډیره بده بلا راغلې ده اوس یې چې له ځان نه څنګ ته نه کړم بیا به مې دلستوني منګورشي. نویې بل پهلوان ته اشاره وکړه او ورته ویې ویل دلاس نه یې ونیسه بهرته یې وباسه چې بیا یې رنګ

اوګوشکه دلې ونه وینم کارونه دخدای وودا دوهم پهلوان چې میروګي ته ورتیرشوهغه ته یې په توره تنده ووې چلم څکولوته راغلې زارۍ دې کولې اواوس دې خیمې پسې رالکې کړې زرشه ووځه . دلاس نه یې ونیوچې ویې باسي ،میروګي پهلوان ته ووې که په خوشاله طبعه. خندا اوښه خوله سره وي خوځم،که دزوراوبې پتی. خبره وي.نوداسې نربه دلې څوک وي چې ماپه زورسره له دغه ځای نه ایله وښوروي.ایستل خولاپریږدئ؟ پهلوان ورته ووې ځه ځه څومره سپین سترګی یې خبرې هم ته کوې.لاس یې میروګي ته ورتیرکړراځنډیې واهه . میروګي ورته وویل وروره مه مې ځنډوهه ژوبل دې کړم. هغه بیا راځنډواهه.میروګي ته قهر ورغی پهلوان یې دلاس نه راونیوچې راځنډیې واهه خوله یې دکوټې په غولې ولګیده اوپه یو د رنګ کې یې راځملاوه دخبرې ځنډ نه کیږي میروګي په دغه شان سره ټول پهلوانان دکوټې په غولې یودبل دپاسه را څملول نورپهلوانان پاتې نه شول په آخرکې دمشرپهلوان وار راغی. مشرپهلوان چې دخپلو پهلوانانو کوټه اودلی. ولیده لکه لیوه چې دپسواومیږو رمه ماته کړې وي.زړه کې یې خوږشول چې دابدکارمې دخپله لاسه وکړ.څه مې کاوه شپه به یې تیره کړې وای اوپخپله مخه به پسې تلو. اوس مجبوریم چې خپله پنجه ورسره ورکړم.میروګي ته ورروان شوچې ورنږدې شوورته ویې ویل موږ زړه درکړ،خوتاسورکړی سیخ پرې ومانده.زرشه په حیاکې له دې ځایه ووځه . میروګي ورته وویل ماخوپه اول کې درته وویل که چیرې په ښه خوله وي ځم اوکه دزورکاروي.نونه ځم ته میږنی چې ځان د دوی مشرګڼې او په هغوی خوارکیوبه دې امرکاوه چې ورچینې اوبهرته یې په زورسره وباسئ اوس دې واردی. راځه چې درمالومه شي اوپټ به پاتې نه شي میږنیه. پخپل میړنتوب او توروډې ځان خلاص کړه اوما دکوټې نه بهرته وباسه په تشو خبروسره څه نه کیږي لږ عمل په کاردی

کارونه دخدای وو میروګي چې دپهلوانانومشرته داخبرې وکړې دهغه څیره له قهرنه تکه توره شوه اوګوشکه یې په بلې څیرې واوښتله. واردواره

یې میروګي ته لاس ورواچاوه چې له کوټې نه یې دباندې وباسي،میروګي چې پهلوان په مړوندکې راونیولکه ورسته منګړیته (شلغم) په یوه درنګ اوغوټه یې دنوروپهلوانانودپاسه رانسکورکړاومیروګی دپاسه پرې کیناست،چلم یې څانته رانږدې کړاوپه ډېډو ډېډو یې په ارامه وڅکاوه، ده لادچلم څکول تمام کړي نه وو چې ( توتیا ) د آدم خان ښځه له خپلوځوتنونوکرانوسره کوټې ته راروانه ده اود آدم خان پهلوانانوته مړې راوړي چې دماسخوتن مړۍ وخوري. توتیا چې دکوټې ددروازې په دړه سرورد ننه کړکه ګوري چې کوټه کې خړګرد پروت دی اود آدم خان څلوېښت نازولي ګېډورپهلوانان چې ده به توري پرې کولې یودبل په سرلاندې باندې کوټه اودلی. پراته دي اویوخام سره خوله ژنکی دپاسه پرې ناست دی. د خدای کړه وو توتیا چې د آدم خان د پهلوانانو د پاسه دغه ځوان هلک ولید زړه یې پښوته و لوید په زړه کې یې وویل داځه بده بلا په آدم خان پسې چا رالیږلې ده چې ټول پهلوانان یې یودبل دپاسه راڅملولي اودی دپاسه مزې پرې خوري. هغه ډېره خپه شوه په زړه کې یې ووې آدم خان خودښمندار اوبدیداردی.دښمنان یې ډېردي.دی یوسردی. داڅلوېښت اوسل تنه مړۍ خواره وګوره چې دلاندې دپسوپه شان یې یودبل دپاسه غورځولي اوداسره خوله هلک پرې ناست دی.دآدم خان خوراکي دادومره زیات خرڅونه اوعزت ګوره چې دغوپهلوانانوته یې ورکوي،هغه دخپل ځان خواړه اواوبه دوی ته رالیږي چې دوی آرام اوډاډه وي،ماته یې تل دانصیحت کاوه چې زما پهلوانان ښه ساته ، زه خوپه دوی ژوندی یم ، که دوی نه وي یوه ورځ به مې دښمنان نابېره مړ کړي . که دا دده پهلوانان وي. خوآدم خان خوهسې مړو اومړدی. داهلک که بلې کوټې ته ورشي هغه نوربه هم وتړي توتیا چې د آدم خان دپهلوانانودابده ورځ ولیده ډېره زیاته په چرت کې شوه .عقل فکریې هیر شو.په زړه کې یې بیا دا راوګرځیده چې داخوډېره زوروره بلاده که آدم خان راخبروم چیرې نه چې کوم تاوان ورته ورسیږي. که نه یې خبروم دا دومره ګېډورمړي خواره پهلوانان ګوره چې د پاسه پرې ناست دی. که

دغه پهلوانان ځای په ځای مړه کړي آدم خان به هم ژوندی ترې خلاص نه شي توتیا په دې چرت کې وه، سودایي غوندې شوه چې څه وکړي. په زړه کې سودا وهي. خونابېره دټولوپهلوانانولاندې پهلوان دغه راغلې سره خوله هلک ته غږ کوي څه به ورته وايي. توتیا هم ورته غلې شوه اودپهلوان غږ اوري

زه به تاوته وایـــــم ولې بیاتا وته وایم ښکلیه ځوانه! وه ښکلیه ځوانه!
دټولې دنیا زورولې بیا په مانې پروت دی که مې پرېږدې وه که مې پرېږدې
زه دتـــــا ددر.ولې بیا ددرنوکریم که مې پرېږدې وه که مې پرېږدې
داسیلوې ساه ، مې خیجې ولې بیاخیجې زړه مې ریږدي وه زړه مې ریږدي
بولۍ. خوارسړی چـــــې غورې کړي ژوندون یې خواردی

دخدای کارونه وو. میروګي چې ترټولونه دلاندې دخوارپهلوان دغه سوې کوکې اوزارۍ. واوریدې په هغه خواربانديې یې زړه وسوځید.په زړه کې یې سودا ووهله چې دده ګناه نه وه .هغه یې پرېښود.په دې ډول ټولوپهلوانانوزارۍ ورته وکړې اوټول یې خلاص کړل. توتیا چې دغه چار پخپلوسترګو ولیده.لږڅه خوشاله شوه.خوسخته سودایي وه.داسې یې انګیرله چیرې نه چې دا زوروره بلا په آدم خان پسې راغلې وي اوهغه راځخه مړنه کړي.لکه چې بل کوم کارنه لري.له هغې سره ویره او ډارملګرې و.په منډه آدم خان ته ورغله ادم خان ته چې وررورسیده. آدم خان که ګوري چې دتوتیارنګ په بله اوښتی دی اوتوتیا واردواره په آدم خان ناره وکړه څه ورته وايي

زه به تـــــا وته وایـــم آدم خـــــانه تـــه یې واوره ته یـــــې واوره
کـــــــه خبرنه وې ولـــــې بیا په دې خبرشه واپـــه دې خبرشه
ستا په سلوپهلوانانوولې بیا پهلوانانويوخام هلک ناست دی خام هلک ناست دی
بولۍ. چـــــــې په نـــــیازيې لویوي په غم ودیږي

آدم خان چې دتوتیا دخولې داغږواورید. پوه شوچې په سلوپهلوانانویې کومه بله زوروره او لویه بلا اوښتې ده. که کومه وړه بلاوای خوزوريې نه

پرې رسیده.له پهلوانانونه توتیا هم په زور اوقوت کې څه کمه نه وه هغې به پنجه ورکړې وه . آدم خان هم چرت واخیست . سودا وهي چې څه وکړي؟ دڅه درنګ له پاره حق حیران اوهیښ پاتې شو او دافکر کوي چې دابه څوک وي؟ په دالرې اونږدې کې خو داسې څوک زه نه وینم چې زما دجوس لورته دې نږدې اوزړور راتیرشي لکه چې دکوم لرې ځایه په ماپسې راغلی دی.په دې سودا کې و اوناڅاپه یې په توتیا باندې غږ وکړچې زما مسری توره اودبابا لوی پوستین راکړه چې پسې ورشم ،خدای راپیښه کړې ده له پیښې نه تیښته نشته. څه چې خدای کړې وي هغه به کیږي. توتیا توره اوپوستین ورکړ. آدم خان دخپل بابا (حسن خان ) پوستین په اوږوکې واچاوه.توره یې ترپوستین لاندې په تخرګ کې ونیوله اودپهلوانانودکوټې په لوري پسې روان شو . دتلوپه وخت کې یې توتیا ته مخ ورواړاوه اوپه نرم غږیې ورته ووې که دې خوښه وي په چل سره به یې سرپه توره پرې کړم.هغه به څه میراث خواره نه لري.توتیا ورته ووې آدم خانه ! ستا دنوم ټانګې په لرې اونږدې وطنوکې تللې دي.دتورې شرنګ اوسروده (رباب) له ترنګ نه دې دنږدې اولرې علاقوخلک خبردي اوستا نوم یې په خولو کې دی. په داسې امیند یمیند خوارکۍ او بې غیرتۍ کې به په چل او دوکې سره دا خا م هلک نه وژنې نوم به دې بد شي. پاس بنګلې ته یې درسره راوله.دهغه نه پوښتنه وکړه چې څوک یې اوچیرې ځې؟ څه کارلري؟ نن شپه په کورکې ورکړه.که خبره دبدۍ وه نوبه یې ګهیځ په پهلوانانوباندې کوم ځای کې مرکړې اوکه نه دمرګ ځوان خونه دی.دچادمرګ زړه نه پرې کیږي.ګوره پام کوه چې بې ځایه واراوبرید پرې ونه کړې هغه تش لاس دی. په ټول بنیراو یوسفزیوکې به دې نوم پرې بدشي.خلک به وایي چې دآدم خان نوم او خاني ګوره دده دا کوچنی او د پښتونه لرې کارګوره.چې یوکمکلی خام ځوان له ده کره میلمه و اوهغه یې په ایمیند خواري کې مرکړ.ګوره دمیړوکاربه کوې چې میړانه دې پاتې شي. آدم خان دتوتیا خبرې واوریدې. خوڅه غوږمږیې پرې ونه نیواوپخپله مخه روان شو. توتیا

دلې پاتې شوه، آدم خان چې دبنګلې لويې دړې ته ورسيد دبنګلې دړه اودروازه يې په توتيا پسې بنده کړه، ځان يې په کرارۍ سره دخپلوپهلوانانو کوټې ته ورساوه. دکوټې په دراوزه کې يودرنګ غلی ورته تم شو نيت يې داوچې په دې پوه شي چې داخام ځوان څنګه راغلی دی،خوکله يې چې دکوټې ددړې اوتمبې له ليچيوپه کوټه کې دننه دخپلوپهلوانانو رنګونوته وکتل چې په بله څيره اوښتي دي اوپه ځوان يې سترګې ولګيدې ښه ورته ځيرشوکه ګوري چې ددې خام ژنکې ږيره او بريت سم نه دي راغلي،حق حيران شوچې دا ووړهلک ګوره اوزما پاخه پهلوانان چې ده په يو ساعت کې څنګه راځملولي دي،نولکه سودايي غوندې يوه ناڅاپه دکوټې په دروازه ورننووت. پهلوانانوچې وليد ټول ورته پورته شول اوکوړک سرونه يې ښکته ځمکې ته له شرمه ونيول.آدم خان له دوی نه تيرشودنوي راغلي ميلمه څنګ ته ودريد چې ستړی مشې ورکړي

دخدای کارونه وو آدم خان دميروګي دزوردمالومولوله پاره هغه ته لاس ورکړاوده دميروګي لاس په خپل لاس کې ټينګ کړ. ويل کيږي چې ده په ميروګي نې د ومره ټينګ زور و کړ چې د ميروګي دلاس دګوتوله سرونونه يې دخولو څاڅکي راوبهول.ميروګي چې دآدم خان لاس پخپل موټي کې ټينګ کړد آدم خان دګوتوله سرونه يې دوينوڅاڅکي وبهول. دوی دواړوپه دې ډول د يوه اوبل زورسره مالوم کړاودواړوښه په مينه اوخندا ستړی مشې اوروغبړسره وکړ، آدم خان ته دده دلاس قوت اوزورمالوم شوچې ډيرزورورپهلوان دی. ميروګي په زړه کې ووې چې دا پهلوانان ټول ورته ودريدل لکه چې دا آدم خان وي.خوڅه يې ورته ونه ويل آدم خان دغه ځوان ته په زړه کې ډير شين و، ورته کري او ريبي چې څه ډول بريد برې وکړي او سرپه توره ترې و وهي. کله يې چې دده زورپه خپلوسترګواولاس سره وليد. نوقهريې ورته يوپه دوه شو.سرنه تر پښوپورې شنه لوخړه شو. آدم خان خوداله خدايه غواړي چې پرې راتاوشي اودلته يې سرپه توره ووهي. ميروګی په ده باندې پوه شوچې وارپاريې بدل دی اوحال يې اوښتی دی.

نویې په خندا ورته ووې: اې ښکلیه اودښې سیکې اورنګ سرېه! که خپه کیږې نه زه خونن ستا میلمه یم . پښتانه خوپخپل کور اوکلي کې دمیلمه ډیرعزت اودرنښت کوي، میروګي چې داخبره ورته وکړه د آدم خان قهر لړ کیناست . د توتیا خبرې یې په زړه کې راوګرځید ې اوداسوچ یې وکړکه دلته یې مرکړم سبا ته به دا خپل پهلوانان شاهدي راباندې وایي او پیغوربه راکوي چې وړوکی هلک یې بې له څه پوښتنې اوکوم تیري څخه مرکړ، دتوتیا خبره سمه ده ټول ښیراوسوات کې به مې نوم بدشي چې آدم خان یوخدایي میلمه پخپل کورکې وواژه.له څه درنګ چوپتیا وروسته یې ځوان ته مخ ورواړاوه ورته ویې ویل:

اې ښکلیه اوسره خوله ځوانه ! ته څوک یې .له کومه ځایه راغلی یې .څه کارلرې. او څه غواړې؟ میروګي په ځواب کې ایله دومره ورته ووې: له آدم خان سره څه کارلرم.په هغه پسې له ډیرلرې ځای نه راغلی یم.دهغه ګیډوراوخیټورچې بې ځایه دآدم خان غوندې دنامې سړې مړی. خوري اوسنا ترمخ ولاړ دې ما دومره ورته ووې چې آدم خان پیژنئ ، هغه چیرې دی ؟ اودهغه څه پته اودرک راکړئ. دوی مړی خوروداسې فکروکړچې دابه له مورنه دماښام ډوډی. چې کومه دآدم خان له لنګرنه ورته راځي وخوري،چلم مې چې وڅکاوه،مشرپهلوان نوروته اشاره وکړه چې بهرته یې وباسه، ماورته ووې په ښه خوله ځم که دزورکاروي نه ځم اوټولودخپل عمل جزا ولیده،ته خوډیردواک اوښه خوی ښتن رامالومیږې،ته رښتیا ووایه چې د آدم خان کورچیرته دی په لارکې خلکوراته وویل چې دآدم خان نوم مه اخله.دهغه دښمنان ډیردي دده په نوم به تا مرکړي.

آدم خان چې دمیلمه اوسره خوله ځوان خبرې واوریدې،په دې باندې پوه شوچې هغه ماغواړي په زړه کې یې ووې چې دلته اوس څه نه شم کولی.نویې ځوان ته ووې: اې ښکلیه ځوانه! زه آدم خان یم راځه چې له ماسره دې چې کاردی پاس بنګلې ته به سره ولاړشو.هرڅه کارچې لرې هلته به سره پرې پوه شو. میروګی خوپه آدم خان باندې پوه دی چې له قهرنه یې

رنګ توراوښتی دی نوېي ځان ښه ورته په اختیار او په اعتبارکې کړ. داهم ورمالومه ده چې هروخت یې لاس راباندې برشي بې له مرګه مې نه پرېږدي اوخوښم راته نیولی دی.

دخدای کارونه وو میروګي. آدم خان ته ووې چې ته آدم خان یې نوبیا ستړی مشې،شکرچې ته مې په خیرسره ولیدې په لیدو دې ډیرخوشال شوم.که خوښه دې وي یودرنګ به دلې ستا له دغو مړی خوروسره کینو.په ګډه به یوچلم ورسره وڅکوودنیا تیره ده بیابه داسې وخت اوشپه په موږ راشي اوکه نه؟ څه درنګ دمه به ته وکړې بیا به بنګلې ته سره پورته شو،دمیروګي غرض دادی چې د آدم خان به قهرسوړشي اوپه توده کې به سره غوځ کړو.

دمیروګي له خبرونه وروسته آدم خان هغه ته وویل: اې ځوانه! په ډیروخبرودې نه پوهیږم که له ماسره دې کاروي راځه چې ځو اوکه بل کوم غرض لرې.نوهمدلته له دوی سره کینه چې مینه دې پرې ماته شي. آدم خان خو په زړه کې ورته کړي اوریبې چې اې خدایه! کله به داسې وخت وي چې دمسری توري خوله پرې سره کړم.میروګی اوآدم خان دپهلوانانوله کوټې نه سره راووتل آدم خان له میروګي نه مخکې دی. غواړي چې څوقدمه ترمخ واخلي اوبیا په میروګي راوګرځي اوخلاصه توره ورواچوي اومړیې کړي.میروګی د ده په نیت پوه وپه آدم خان پسې ترڅټ خخ اوڅرمه قدم اخلي. آدم خان دې ته نه پرېږدي چې په ده بیرته راوګرځي او وارپرې وکړي. دواړه په دې ډول دبنګلې لویې دروازې ته سره ورسیدل آدم خان دانګړه لویه دړه خلاصه کړه.میروګي کورته دننوتلوپه وخت کې ټوخله وکړه. آدم خان ته یې ووې.ګوره خپل کورته یا دبل چا کورته چې ننوزې خامخا به ټوخله کوې. د آدم خان دبنګلې له غولې نه دهغه حجرې ته مخامخ سل ړکیه (اړکیه) اندرپایه ختلې وه آدم خان خودپهلوانانوله کوټې نه ترخپلې بنګلې پورې په داچارباندې برنه شوچې میروګی په مسری توره ووهي اومړشي.حجرې ته دننوپه وخت کې آدم خان میروګي ته وویل: اې ځوانه!

ته مخکې شه . دغه اندرپایه ګوره سکه سیخه زما حجرې ته ختلې ده. زه څه کارلرم،درپسې درغلم دخدای کارونه وومیروکي چې د آدم خان دا خبره واوریده نوپه خندایې آدم خان ته وویل .ګوره ته خولوی سړی یې، ستا دتورې،میړانې اوپښتوتانګې په ملکو او وطنوکې تللې دي.ته په دانه پوهیږې چې میلمه څوک په خپل کورکې مخ ته نه کوي.میلمه ته لار څه مالومه ده، داخودپښتو کار اوکړه نه دي اونه په پښتوکې داسې کارشته ،ولې دې دومره وارپار خطادی. زه خوڅه سړیخورنه یم اونه دتا دښمن یم.
آدم خان چې دقهرنه تورتورخوټیده څه یې ورته ونه ویل.حجرې ته مخامخ په اندرپایه کې پورته روان شو. زړه یې وچې څوارکیه دمخه ولاړشي اوبیاپه میروکي راوګرځي اوپه توره یې سرووهي.میروکی دنربچی په داپوه وچې وخت ورته برابرشي خا مخامې وهي. نوپه اندر پایه کې یې په آدم خان پسې جوخت اوخخ قدم اخیست. سل اړکیه اندرپایه کې دواړه پورته سره وختل. آدم خان ته چې نیت یې بدو داسې شیبه په مخه ورنغله چې میروکی ووهي. دواړه یوځای حجرې ته غبرګ سره ننوتل . کارونه دخدای ووتوتیا د آدم خان ښځه داشیبه دحجرې په کونج کې وه . هغه په دې پوه شوه چې آدم خان له قهرنه تک توراوښتی اوپه دې یې لاس نه دی برشوی چې دغه ځوان په توره ووهي. ددې له پاره چې آدم خان په حجره کې په میلمه بریدونه کړي پخپل ځای کې په دواړوپښوسپکه ورته ودریده اوله ځایه جګه شوه.مخامخ دواړو ته ولاړه وه . سترې مشې یې ورکړه.میروکي ورته وویل خواره مه شې. دمیروکي چې سترګې پرې ولګیدې هغه فکروکړچې د آدم خان خوریا لوربه وي څکه چې توتیا دټنډې پیچکې اووینښته نه وو اړولي او اوربل یې نه درلوده په ټنډه باندې یې پیچکې تارتار پرتې وې. نودمیروکي داخیال وچې واده شوې به نه وي، ددې له پاره چې دآدم خان خوښم نور هم ده ته زیات شي. نودمیروکي خولې بخار وکړ. آدم خان ته غړکوي څه ورته وایي

زه به تاوته وایم ولې بیا آدمه یاره ! وای ادمـــــــه یاره !

داولاړه جــل ولې بیا دستا څه ده ؟ وه دســــــتا څه ده ؟
داخـــوولې بیا زما سره جوړیږي وه زما سره جوړیږي

بولی: مابه روغې چارې کړې که روغ مې ځان وای

میروګي چې دا غږ په آدم خان وکړلکه په بغل پورټوپک دې چې ویشتلی وي دومره قهرورغی چې له توان اوقدرت نه ولوید.لیونی شوچې دايې څه راته ووې؟ دحجرې په کونج کې دوه منی تبرګی ایښی وهغه ته یې ورمنډه کړه اوراوايې خستو.مسرۍ توره یې له تخرګ اودبابا پوستین یې له دواړواوږوڅخه لاندې ولویدل.مسرۍ توره توتیا زرپورته کړه چې دمیروګي پرې پام نه شي آدم خان دحجرې له کونج څخه په دواړومټوپه میروګي باندې تبرګی په منډه راوړ.میروګي ځان بریدته برابرکړ.آدم خان په تبرګي میروګی په داسرواهه چې سریې په دوه توکه کړي.خومیروګي وزر ورجګ کړل. آدم خان یې وارته پرې نښود.تبرګی یې ورسره شریک کړ.دواړه سره غیږپه غیږ اومنګولوشول.په دې شیبه کې دمیروګي زړه ته داولویده اوپوه شوچې سهوه مې وکړه اوولې مې دا زیاته خبره وارد واره له خولې ووتله؟ دابه دده کډه اومیرمن وي ځکه یې دومره زیات زور ورکړچې لیونی غوندې شواوپه تخرګ کې یې نیولې مسرۍ توره له یاده ووتله.چیرې نه چې په دغوخلکو کې به پیچکودپرېښودو دود اودستوروي اودودزن په وخت کې به یې نه اړوي. څه وکړم اوس خبره له خبرې تیره شوې ده.دمټ په زوربه یې اوس ورسره هواروو.دوی دواړه سره په منګولودي.توتیا په زړه کې سودا ووهله چې دامیلمه هلک خوځوان دی.آدم خان پوخ سړی دی زربه یې زړه ستړی شي.که دامیلمه هلک یې راځملوي ،هغه خوپه دې پوه دی چې زه یې وژلم نوبه یې مړکړي.که مړیې نه کړي د آدم خان به په ټول سوات اوبنیرکې نوم بد شي چې یوه میلمه هلک آدم خان رانسکور اوځملاوه. توتیا په ډیره نرمه ژبه آدم خان ته سوې سوې

کوکې وهي ،چې نن يې نه هي کله به يې وهي واردتوتيا دی آدم خان ته به څه وايي:

زه به بله ولې بيا بله درته وايم آدم خانه ! وه آدم خــــانه !
دميلـمه عزت ولې بيا عزت په کار دی وه عزت په کاردی
دتـــا چـــار دپښــــتو نه ده وه دپښـــتو نه ده

بولی: دغه شپې ورځـې به وي ياران به نه وي

ميروکي چې دتوتيا دا غږواوريد په زړه کې يې ووې درنه، پاک لمنه اوعزتمنه پښتنه ده، نو دهغې دعزت اودرنښت دساتلوله پاره غږپرې کوي،واردميروکي دی توتيا ته غږېږي څه به ورته وايي:

زه به بله تاته وايم ولې بيا وايم آدم خانه وه وه آدمه
ياره داولاړه جل ولې بيا داولاړه جل زما دين په دنيا خورده وه زما دين په دنيا خورده

بولی: ترحــــجره دې تيريدم ولې بيا غږ دې ونه کړ

توتيا چې درنه پښتنه ميرمن وه، دميروکي دا دروندغږيې چې ترغوږشواوهغه خپله خوروبلله واردتوتيا دی،ميروکي ته يې مخ ورواړاوه غږورته کوي څه به وايي:

زه به بلـــه درته وايم ولې بيا ښکليه ځوانه ! وه ښـــکليه ځوانه !
ماپه خـدای ولوبوتلې ولې بيا ښکليه ځوانه ! وه ښـکليه ځوانه !
راته وايه ولې بياپه اصـل نسب څوک يې پهلوانه ! وه پـهلوانه !
ته زمـادين په دنيا ولې په دنيا وروريې وه په دنـيا وروريې

بولی: مــــــيرني يې ګډوي تکيه په خدای ده

ميروکي چې دتوتيا دا دروندغږ.قسم ورکول اوهغه ته وروروېل واوريدل،وار دميروکي دی خپلې خورتوتياته ځواب ورکوي څه ورته وايي:

زه بــــه تاوته وايم ولې بيا تا وته وايم ښکلې پښتنې
تـاپه خدای ولوبوتلم ولې بيا ولوبوتلم چې ته څوک يې
زه به تـــــاوته وايم درنې خورې ولې بيا درنې خورې

زه په اصــــــل یوسفزی ولې بیا ستا وروږسکنی یم
په یوسفــزوکې دخویشکي ولې خویشکي بابا زوی یم
په نـــــــامه میروګی ولې بیا میروګی یم میړنی یم

میروګي چې دا غږتوتیا ته وکړ. آدم خان بې له درنګه هغه پریښود، حق حیران په حجره کې ودریداوپه دې پوه شوچې داهلک میروګی نومیږي، په قام دهغې خوایوسفزی دی اوتوتیا ته یې دا وویل چې ته مې سکنی خوراوزه دې سکنی ورورېم. په زړه کې یې سوداووهله زوی یې مړکړې چې وژلی مې نه دی.آدم خان میروګي ته د مینې غیږخلاصه کړه دواړو دمینې غیږې سره ور کړې. یوساعت یې ټینګ په غیږوکې سره ونیول. جنګ ژوبله یې په مینه او وروری بدل شول. توتیا له حجرې نه کوټې ته ولاړه چې دواړوته ډوډۍ راوړي.آدم خان اومیروګی دوه په دوه تر نیمې شپې پورې په حجره کې سره ناست وو. میروګي دراتګ بیان ټکي په ټکي ورته وکړ. دواړو سره وپیژندل.میروګي دورک وروږحال هم ورته ووایه. میروګي په آخرکې آدم خان ته دوروری لاس ورکړاو ورته یې وویل چې زه له تانه. نه ځم ترهغې اوسم چې بلوګی پیدا کړم.[۱]

په پورتنۍ کیسه کې خوږوالفاظو اوله انسان سره مینې تاوتریخوالی، جــــنګ اودیوبل وژل په وروری. مینې اومحبت بدل کړل اونتیجه داشوه چــــې آدم خـــــان اومیروګي یوبل ته دوروری لاسونه ورکړل.

---

۱- علي محمد، منګل ، آدم خان درخانی ،دافغانستان داسلامي دولت دعلومواکاډمي ،دژبو او ادبیاتو علمي مرکز، دفلکور څانګه ، دولتي مطبعه ، ۱۳۷۲هـ ش کال ، ۵۰، ۶۶ مخونه.

# څلورم څپرکی

## سوله په لیکني (تحریري) ادبیاتوکې

### الف : سوله په پښتولرغونواوکلاسیکواشعاروکې :

ادب اوادبیات د یوې ټولنې د افکارو، نظریاتو اوعقایدو دظهاراوڅرګندونې وسیله ده. خو دا وسیله یوه ښکلې وسیله ده، یوه لطیفه وسیله ده او یوه داسې وسیله ده چې له زړونو راوځي او راساً په زړونو اثرکوي، زړونو ته لار پیدا کوي اودژوند دبهیرپه سم لوري دروانولو لار په ښه کوي، دیوې ټولنې لیکوال اواديب دهغې ټولنې دورځنیوضرورتونوله په پام کې نیولوسره کوښښ کوي په ډیروښکلو، رنګینواوخوندوروالفاظوکې هغه سپیڅلي اهداف اوضرورتونه دخپلو خلکوپه وړاندې انځورکړي چې دژوندانه په ټولوساحوکې یومثبت تحرک اوخوځښت را ژوندی کوي

جنګ دتباهۍ، بربادۍ اوګډوډۍ نوم دی، خوسوله دسوکالۍ، آرامۍ او ودانۍ په لور وګړي رهبري کوي. ځکه خونودانسانانوپه ټولنیزژوند کې سوله اوامن لوړ مقام لري اوپه درنه سترګه ورته کتل کیږي، دکوم هیواد

وکړي چې یاله نوروسره اویا دځینوعواملوله امله پخپلوکې سره په جګړه اخته وي.نوپه ټولنیزورځني ژوند کې له ډول ډول کړاوونوسره لاس اوګریوان وي او د ټولنیز ژوند په بیلا بیلوبرخوکې یې دوراندې تګ په لارکې خنډونه موجود وي.له دې امله دټولنې پوه اوسترګورشخصیتونه د سولې پرضرورت زیات ټینګارکوي

افغانان اوپه ځانګړې توګه پښتانه که څه هم دنړۍ په قامونوکې په توره . میرانه اواتلولۍ کې ځانګړی نوم لري.خوتربل هرچا زیات په امن اوسولې مین دي.تورې اوجنګ ته هغه وخت مخه کوي چې ورته مجبورکړای شي. دچاله خوا وربانديې تعرض وشي اوملي هویت اوتشخص یې له ګواښ سره مخامخ شي. خوکه داسې نه وي اوله کوم لورې وربانديې برید اوتعرض نه وي شوی. نوبیا تربل هرقام زیات دسوله ییز ژوند له دوام سره مینه لري اوانسان ته دانسان په توګه ارزښت ورکوي،له هغوی سره انساني خواخوږي لري اودمشکلاتوپه له منځه وړلوکې یې هڅې اوهلې ځلې کوي

له سولې، امن،انساني خواخوږۍ سره مینه اودهغې دپاللوروحیه له هماغولومړیو وختونوڅخه را پدیخوا په پښتوادب کې موازي را روانه ده اوپښتنوشاعرانووخت په وخت پخپلو اشعارو او فنپا روکې دغې عالي، انساني روحیې ته ځای ورکړی اوپه ټینګار سره یې خلک ګډ خواږه ژوند ته رابللي دي

په دې توګه موږوینوچې پښتوادب هم لکه دختیځ دنورو ژبو دادبیاتوپه شان دسولې، امن او انساني خواخوږۍ په اړه خپل رسالت سرته رسولی اولا پرمخ روان دی. موږچې کله دامیرکروړ جهان پهلوان له وخته بیا ترنن ورځې پورې دپښتو شاعرانواولیکوالو اشعاراولیکنې مطالعه کوو. نودپښتو داکثروشاعرانو او لیکوالو په اشعارواولیکنوکې دسولې.امن اوانساندوستۍ روحیه په پراخه پیمانه موموداوددې معنی لري چې پښتانه تربل هرچا زیات دسوله ییزګډ ژوند له دوام سره د زړه له کومې مینه

لري، چې دغه عالي روحيه له يوه نسل څخه بل نسل ته په ميراث پاتې شوې او ترنن ورځې پورې رارسيدلې ده.

اوس به د پښتودهغوشاعرانو داشعارو ځينې بيلګې راواخلوچې پخپلواشعا رو او فنپاروکې يې سولې، امن اوانساني خواخوږۍ ته زياته پاملرنه کړې اودپښتود ادب دغه مهمه برخه يې بډايه او غني کړې ده اووبه ګوروچې په پښتوادب کې دحماسي، عشقي اوتفريحي اشعاروترڅنګ له سولې امن اوانساندوستۍ سره څومره مينه موجوده ده.

دپښتود ادب يوځلانده ستوری شيخ اسعد سوري چې په ۴۲۵ق کال په بغني کې وفات شو (۱) په يوه هغه قصيده کې چې په ۴۴ بيتونوکې يې دهغه وخت دواکمن اميرمحمد سوري په مړينه ويلې ده دامن سولې اوانساني خواخوږۍ ځرک پکې له ورايه بريښي، شيخ اسعد سوري وايي

د فلـک له چارو څه وکړم کــوکـا ر
زمــو لوي هرګل چې خاندي په بها ر
هرغټول چې په بيد يا غوړيده وکــا
ريژوي يې پاڼې کاندي تارپه تا ر
څه تيری څه ظلم کانــدې اې فلکه
ستا دلاسه نه دی هيڅ ګل بې له خا ر
پــه ويرژلو، لورنه کړې پــه زړه کراړيه
په نـــتليو اوروې د غــم نـا تـا ر

په هند کې افغان ټولواک سلطان بهلول لودي که له يوې خوا د سلطنت پرمقام ناست او ددې غوښتنه يې کوله چې دخپلې واکمنۍ ددوام له پاره يولړداسې چاروته هم لاس واچوي چې درعيت دتکليف اوکړاوسبب شي، خوهغه د ظلم اوجبرپرځای عدل او ورکړې ته ترجيح ورکوله اوپه خپلو اشعاروکې يې خپل دغه نظرته داسې انعکاس ورکاوه.

---

۱_ سرخيړونکی، زلمی هيواد مل، ، دپښتوادبياتو تاريخ ، لومړی ټوک ، پېښور، ۶۹،٤ مخونه .

ملک به زرغون کړم پــه ورکړه راســه
گـــوره اوریځې د داد له پاسه
خـــول مې دعـــدل پــه دور روڼ دی
جهان به زیب مومې زما له لاسه [۱]

همدارنگه دروښانې دورې یومشهورشاعرقادر داد چې په ۱۴کلنۍ کې له خپلې کورنۍ سره هندته ولاړاوهلته لوی شوچې تر ۱۱۱۸هـ ق پورې یې ژوند یقیني دی [۲] هم پخپلو شعرونو کې د جنگ اوجگړو ضد افکار بیان کړي اوخپل نظر داسې ښکاره کوي:

چې مدام په زړه کې خیال لري وجنگ ته
څوک به څه وایي دې مست اوشوخ وشنگ ته
چــې پرې آه د عـــاجزانو اثر نه کا
د نـــرمۍ خوی به څه ستـــا یې و سنگ ته

ملا الف هوتک چې دزرم هجري په شاوخواکې دکلات داتغرپه سیمه کې اوسیدو.یو ښه عالم او شاعرو. په ۱۰۱۹هـ ق یې یواثرنظم کړی [۳] اوپه دې اثرکې یې ټول نصایح بیان کړي دي چې په دغونصایحوکې له انسان سره مینه اوپه ټولنه کې دانسانې چلند په اړه غوره پیغام له ځانه سره لري چې یو دوه بیتونه یې دلته سره لولو:

بل که سرې یې، خوته خلق محمدي کوه تل
شیرین زبان، ځلاند جبین دې احمدي کوه تل
په طـــــبیعت دهرسړي برابري کوه تل
چــې حسن خلق به دې پکارشي د میزانه سره

رحمان بابا دپښتوپه ادب کې دځانگړې مقام خاوند دی، رحمان بابا له انسانیت سره مینه لري. بشرته دبشرپه سترگه گوري اودیوان یې له دغه

---

۱ـ سرخیرونکی، زلمی هیواد مل، ، دپښتوادبیاتو تاریخ ، لومړی ټوک ، پېښور، ۴۰۶۹ مخونه .
۲ـسرخیرونکی، زلمی هیواد مل، دپښتوادبیاتو تاریخ ، لومړی ټوک ، پېښور. ۱۰۵ مخ.
۳- سرخیرونکی، زلمی هیواد مل، د پښتواد بیا تو تاریخ ، لومړی توک ، پېښور ، ۱۲۵ مخ.

شان اشعاروڅخه ډک دی. درحمان بابا زياتې پيژندګلوی ته څکه اړتيا نشته چې هرلوستی اونالوستی افغان هغه ښه پيژني څکه به نو اوس دده ديوان ته ورننوزو اوپه معجز کلام کې به يې هغه څه وموموچې دوخت دغوښتني له مخې موږ اړه ورته لرو. دی وايي

کردګلوکړه چې سيمه دې ګلزارشي
اغـزي مه کره په پښوکې به دې خارشي
کوهی مه کينه دبل سرې په لارکې
چيـــرې ستا به دکوهي په غاړه لار شي
آدم زاد په معنی واړه يوصورت دی
هــــــرچې بل آزاروي هغه آزار شي
هغـــه زړه به له توپانه په امان وي
چې کښتی غوندې دخلکو باربردار شي

په يوه بل ځای کې وايي

هرمارغه چې دبل غوښې خوري مردار دی
ځان حلال کړه لکه زاڼه. شاهين مشه

اويا داچې

دخليل ترکعبې دا کعبه ده لويه که آباد کا څوک ويران حرم د زړه

رحمان بابا انسانې ټولنه لکه ديوه بدن غړې بولي اوچې دبدن کوم غړی دردمن شي، نو ټول بدن ورسره نا قراره وي لکه چې وايي

درست صــــورت ديـــوه نوک په درد دردمن شي
وران شـــي شهر ديوه سړې پـــه تور
چــــې يوغاښ په خوله کې خوږند شي يا ووځي
درسته خوله پرې بدنما يه شي هرګور
يوسرې چې په کــــــوږمه کې دچـــا ګرم شي
واړه ګـرم کـــا که پنځه دې که څلور

په بل ځای کې انسان ته دخدمت کولواومرستې رسولوپه اړه خپل پیغام داسې وړاندې کوي:

کـــــه دونې په څیرګل او میوه غواړې
ځان په لمرکړه سایه بان دهرخاکسار شه
دست په دست که دخپل کارپه درستول یې
لا تـــرځان رومبی ولاړ دبل په کار شه
کـــــه دې ویره شي له خپلې درماند ګیه
ددرمـــاندو دستګیري کړه خبر دار شه

اویا داچې:

که دې ویـــــره شي له ظلم له ستمه
ته هم مه کړه په هیچا باندې ستم
که امـــیـد لــــرې له رحمه له کرمه
ستــا هم بویه په هرچا بــاندې کرم
له هرچا سره چې کړې هغه به مومې
دهیـــخ تـخم میوه نه دروميي برهـــم

او له مرګ ژوبلې اونوروته له ضرر رسولوڅخه خپله کرکه داسې ښکاره کوي:

آدم زاد په څـــــــــــمکه يوبل سره وژني
په دریاب کې وبله غوښې خوري ماهیان
لکه غوښې چې ماهیان خوري په دریاب کې
پـــــه هواکـــې هم دغه کاندي مارغا ن
خزنـــــــــــــده اوپرنده دي ددې دهر
همـــــه واړه یوتربل مشت او ګریوان
مرداري ددې دنیا خو همدغه ده
ځکه بیرته ځني ګرځي درویشان

دتورې اوقلم خاوند اوپښتوادب څو بعدیز شخصیت سترخوشال خان خټک له دښمن سره د تورې چلولوترڅنګ قلم هم په لاس کې نیولی وساته، هغه دخپل قلم له څوکې څخه د ویر چیغې ، د ښادۍ آوازونه، د رزم غږونه ،د بزم نغمې اودکلتوراوفرهنګ زمزمې وپنځولې،ددې ترڅنګ خوشال خان خټک انساندوستي،مینه اوخواخوږي هم له یا ده ونه باسله او پخپل کلام کې یې دغه ستر اسلامي او انساني پیغام خپلوخلکوته ورساوه، دی وایي:

آدم زاد په اصل واړه آدم زاد دی
ښه هغه چې خوی یې ښه لکه سره زر (۱)

خوشال خان خټک په پورتني بیت کې د انسانیت معیار ښه خوی او له خلکو سره انساني راشه درشه بللې اوپه دې ټینګارکوي چې د ښواخلاقو اونیک چلند په خپلولوسره دانسان ارزښت لا ډیرپورته ځي اولکه دسروزرو په شان په ټولنه کې مقام ترلاسه کوي.

خوشال خان خټک دسختۍ ځواب په نرمۍ اود ترخې خبرې ځواب په خوږې خبرې ورکول غوره بولي دا ځکه دی باورلري چې ټولنیز ژوند په خیرښیګڼه اودوستانه راشه درشه ولاړدی او په دې توګه انسانان کولای شي دټولنې د افرادو ترمنځ تاوتریخوالی له منځه یوسي اوله مینې او محبت څخه ډکه یوه ټولنه جوړه کړي لکه چې وایي:

چې یوځـــل ښیګڼه ووینې له چا
په یوه یـــــې شـــل بدیه کړه ترشا
که له یاره نه ترخې خبرې واورې
خوږ شیرین ځواب یې ورکړه په خندا (۲)

۱-ارمغان خوشال خان،دمیا رسول رسا په سریزه منظورعام پریس،خیبریونیورستي بک ایجنسي،پیښور، ۲۰ مخ

۲- ارمغان خوشال خان،دمیا رسول رسا په سریزه منظورعام پریس،خیبریونیورستي بک ایجنسي،پیښور،۵۳مخ.

خوشال خان ختک لویې په تواضع کې ګوري، له آفتونو او مصیبتونو څخه خلاصون او نجات په دوستانه چلند، اصلاحي فکراوسمه پوهه کې لټوي لکه چې وايي:

درته وښـــــیم کیمیا د سعادت
لـــه بدانو سره مه کوه صحبت
مه بدګوی، مه بدآموز، مه بداندیش شه
که دې زړه وي چې درنه رسي آفت
کـــه لویي غواړې ځان کم ګڼه تربله
بـــل ترداد پاسه نشته نصیحت
په دوســـتانو تلطف کړه څوپه تا شي
لـــه دښمن سره هم ښه کوه خلقت
دلمـــانځه ترقضا ګرانه داقضا ده
چـــې قضا شي د څلورو مصلحت
څـــو بدانو سره بدشي هومره ښه وي
ولـــې عفوه کرم ډیر لري لذت (۱)

اوس به د خوشال خان ختک هغه مرغلرې راواخلوچې په هربیت کې یې یو کتاب نصیحتونه او لارښوونې پرتې دي اوله یومخې پکې دسولې، مینې، انساندوستۍ اوخواخوږۍ پیغامونه ځان ښکاره کوي او داهغه څه دي چې که عمل پرې وکړای شي انسان له ډیرو بدبختیو، نا خوالو او مصیبتونو څخه نجات پیداکولای شي. سترخوشال وايي:

خپل استـــــاد وماته ووې څوپندونه
هـــــــریوپند یې مرغلرې دی لا لونه

۱- ارمغان خوشال خان،دمیا رسول رسا په سریزه،منظورعام پریس،خیبریونیورسټي بک ایجنسي،پېښور، ۵۵ مخ

وې یې هره بدي کړه هغه بدمه کړه
چې له لاسه دې آزارشي دچا زړونه
که دې زړه دی چې بدنه مومې له چانه
اول ته پرېږده د بدو خصلتونه
ته کینه، رخه، حسد له هیچا مه کړه
د ازل په ورځ مقسوم دي قسمتونه
له هرچاسره دښوسلوک بایده دی
په بدۍ کې څه فایده ده کوم سودونه
له هرچاسره نرمي ملایمت کړه
ګوندې وې چې په داخپل کړې دچا زړونه
هغه کارچې په نرمۍ ترسره کیږي
څه حاجت چې رساوه شي ترجنګونه (۱)

قلندراپریدی دپښتودلرغوني ادب د دیوان خاوند شاعردی چې په خواږه کلام کې یې د نورو ټولنیزو موضوع ګانوترڅنګ خپل منځي ښواړیکو ،ښواوغوره اخلاقو اوله نوروسره ښو او دوستانه اړیکو اوتعلقاتو ته په اهمیت ورکولو ټینګارکړی دی لکه چې وايي:

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلیږي
په بد خوی باندې خپل واړه شي سیوا

اویا داچې وايي:

که دې خپله خوله په واک شي قلندره
دفلک له خولې به بیا مومې امان

قلندراپریدی دنورودلجویي اودهغوی غوښتنې په پام کې نیول دټولنیزژوند دسمون یوه غوره او ګټوره وسیله بولي اودا دوګړو ترمنځ د راشه درشه دیوښه عامل په توګه تبلیغوي:

۱- ارمغان خوشال خان،دمیا رسول رسا په سریزه منظورعام پریس،خیبریونیورسټي بک ایجنسي،پېښور، ۷٤ مخ.

سرخرويي به يې منظوره شي هرچا ته
که په اوښکويې دخپل مخ شست وشوی شي

اويا داچې وايي:
دلجويي به دې تمام وګړي وکا
که ته هم د دلجويي په جستجو شې

سعيد خټک هم دپښتوپه هغولرغونوشاعرانوکې دی چې داشعارو ديوان لري، دده په کلام کې هم په پراخه پيمانه دانساني خواخوږۍ ، له يوبل سره دمينې اوضررنه رسولوځرک ليدل کيږي لکه چې دی وايي:

هرچې هسک کاځينې سربيا يې پابوس کا
ځکه نه لري زوال په هموارۍ کې
په بل ځای کې دغه عالي پيغام خپلو خلکوته داسې رسوي:
په صورت دانســــان جوړېدان، ددان دي
دانســان په نقصان نه رضا انسان کا
ســـګ نــــافع دی، ستمګرمضر دخلکو
دظـــالم مثال په ځای نه له سګان کا
مذمـــــت دظــــالم دابس چې کوتا يې
نسبـــــــــتونه دفرعون له همان کـا
سعــــيدنه مري دصورت په مرګ ژوندی دی
څوک چې ژواک په نيکناميوجاويدان کا

سعيد خټک دخپل کلام په يوبل ځای کې خپل دغه عالي پيغام ته داسې انعکاس ورکوي:
سکندر ،سنجر ،تيمورخاوروخودرنګ کړل
له ځان څه ګټې د مرګ دحــملې باک
باربردارخــــــربه کوي کتاب لـه هغو
چې په ظلم يې دخلک غوښې خوراک

سلطـــنت خو بې زواله په مسلم شي
کـــه سعید کمین بنده شي دلولاک

همدارنګه سعید خټک دعادل شیرشاه سوري په وفات ځکه متأ-ثردی چې هغه یوعادل ټولواک و، خواخوږی اومهربان شخصیت واوله خپل رعیت سره یې په نرمۍ چلندکاوه چې دسعید خټک دغه ژور تأ ثر دده په لاندې شعرکې موندلای شو:

دی وایي:

پـه ننمځل یې زړه ښه کیږي          بـــل لویي کا پرې افغان
دشیرشــــاه بل فکر نه و          خـوبې یو وړو ترې میدان
چـې شیرشاه تردنیا تیرشو          اوس دې عـیش کا مغلان

بیدل دکوزې پښتونخوا په شاعرانوکې د دیوان خاوند لرغونی شاعردی چې په کلام کې یې د اخلاص اوله نوروخلکوسره دهمدردۍ، خواخوږۍ اودلجویۍ څرک لیدل کیږي لکه چې وایي:

حـــکایت دشکایت به کله اوري
چـــا چې کړی یوکلام دی داخلاص
ددانش دخزانې کونجي په لاس کا
چا چې کړی ځان غلام دی داخلاص

دنوروخلکودمشکلاتود له منځه وړلو اودخواخوږۍ دښودلو په اړه داسې وایي:

چې اول نکه تر ځان د بل غرض          وبه نه رسي هرګز ترخپل غرض

له سپکو، نااهلو اوخود غرضو خلکو څخه دکرکې اونفرت څرګندولو په اړه خپل غږ داسې پورته کوي:

چې په ښـــهرغم آبا د یم دیره شوی
ورکـــــوي ځکه زما د زړه بساط
ثقیل قدرمې له غره سپک ترښې شو
چې مې وشو له سپک خویه اختلاط

معزاله مومند هم دخپلې زمانې په شاعرانو کې هغه شاعردی چې په خواږه کلام کې يې زموږ دبحث وړ موضوع په پراخه توګه ځليدلې ده . دی وايي

دا په حـــال دمقتول ژاړي که پوهيږې
چې له تيغه وينې ځا ځي د قصاب
چپه خوله ناستی بهتردی که پوهيږې
نه پرانستې خوله د بدو په ځواب

معزاله مومند د ټولې پښتونخوا د شاعرانوله جملې ځخه ځکه رحمان بابا زيات خوښوي چې په کلام کې يې په پراخه پيمانه انساندوستي اوخواخوږي ځليږي.دی درحمان بابا په باب داسې وايي

دتمامې پښتونخوا له شاعرانو معزاله ! عبدالرحمان دی منتخب

معزاله مومند هغه ژبه نه خوښوي چې له امله يې دنورو انسانانو زړونه ازاريږي ځکه خو، نو داسې ژبې ته په کرکه ګوري او داغوره بولي چې دبدې اوناوړه وينا لرونکې ژبه که وچه شي ښه اوغوره به وي لکه چې وايي

وچه ښــــه ده هغه ژبه چې په بدو شي ګويا
تيغ دآه لـکه برق تيزدی آزارمـــه اخله د چا
تـکبرمه کړه که ښه کړې دا دنـــيا ده بې وفا

معزاله مومند دخپل کلام په بل ځای کې بيا داسې وايي

مــــه کوه ددښمنانو په مرګ سخه ددوستانو دې هم داده لار په مخه
له هرچا سره سينه کړه خپله صافه مـه له چا سره حسد کوه. مه رخه

د حسد اوکينې په اړه په بل ځای کې داسې وايي

په حســـد اوپه کينه له هيچا مشه بل دنفـــس او دهوا په رضا مشه
نوم دپلار .نيکه په بدوچارويادکا نا خلف دښـــو کسانو پيدا مشه

اوپه بل ځای کې پربل چا دبدو پيرزوينه ردوي اوپه کرکه ورته ګوري لکه چې وايي

هرهغه چې په چا باندې بد پيرزوکا پرې هميش به وي پراته دغمه غر

حسين دپښتوژبې يوبل لرغونی شاعردی چې داشعارو ديوان لري ، دده په کلام کې هم انساني خواخوږي.مينه اواخلاص له ورايه ځليږي.دی خودپرستي اوله نوروسره غلطي نه خوښوي او خپل دغه عالي پيغام خلکو ته داسې رسوي:

ځای ته نه رسي روان په لارغلط　　دی پوه شوی خود پرست په کارغلط
ته به څرنګه دبل قدرشناس شې　　چـــې غرور درځخه کا مقدار غلط

حسين چې کله ديتيمانواويسيرانو سپيره مخونه وګوري، نوانساني عاطفه يې په جوش اوغورځنګ راشي او داسې وايي:

په تندي يې لاس راکاږه نن هنګا م دی　　مومي تل په د لاسا يتيما ن حظ

ځان له نورو انساناتوڅخه کوز اوښکته بلل هغه لوړانساني صفت دی چې انسان ته په خپله ټولنه اوخپل چاپيريال کې ښه اولوړمقام ورپه برخه کوي.حسين هم دې ټکي ته په پاملرنې سره دغه مطلب داسې بيانوي:

دهغوګردن بلند په درست جهان شي
چـــې ځـــان وګڼي له بله مقرر کوز
په لوړېـــــام داهل دلو قدم کيږدي
هرچې لاندې کا ترپښو دتن منبرکوز

مهرباني.نرم خويي اودنورو دزړونو ساتل په ټولنه کې دنظم اوپيوستون ډيرغوره لاملونه دي ځکه خونوحسين هم دغه لوړصفتونه ، نه هيروي اوداسې وايي:

رب دې مـــه کړه لرې ملاله خندان اوســه
لــکه يې داهسې تل مهربان اوسه
په ګرمۍ به دې ګرمي په صورت راشي
لطيف طبعه.نرم خويه باران اوسه
له يوې به يــــــې کروړونه بدل مومې
په زر ژبې ثنا خوان د جانان اوسه

داهم داخلاص په اړه دحسين عالي پيغام چې وايي:

که څه کاردی نوهم کاردی داخلاص
تـــــیزله نوره نورانوار دی داخـلاص
هغــه مات زړونه دخلکوپیوندي کا
چـــــې په لاس یې ته‌ه کاردی داخلاص
ترڅان تیربلبل سینه وریاندې تراشي
وروستی ګل دی ړومبی خاردی داخلاص

احمدشاه بابا هغه پښتون ټولواک دی چې دعدل،مهربانۍ اوپراخ نظرۍ له امله یې دخپل عمر په ۲۵ کلنۍ کې دبابا لقب وګاټه، پښتانه هرچاته دبابا لقب نه ورکوي،خوپه لوی احمدشاه بابا کې هغه صفتونه موجود وو چې دبابا لقب دترلاسه کولوله پاره وړوو،دی که څه هم څواکمن ټولواک و،خودظلم پرځای یې عدالت ،ددښمنۍ پرځای یې دوستي اودخودخواهۍ پرځای یې دنورودرناوی خپل نصب العین ګرځولی و. څکه خویې نوپه اشعاروکې انساني خواخوږي،له نوروسره مینه او ټولنیز عدالت په پراخه پیمانه ځلا کوي اوسربیره پردې چې دی پادشاه و، خوکمیني یې غوره بلله اونوروته یې دکمینۍ اوعاجزۍ تلقین کاوه لکه چې وایي:

کمـــــیني اوعاجزي دتا کمال ده دنفـس تند خویونه مه واخله له مرچه
هغه خپل اصل به ته هله بیا مومې چــــــې دکبرغاړه وباسې له خرچه
احـــمدشاهه دهمت توره درواخله نفـس شیطان کافردې وباسه له کچه

په بل ځای کې د ښه خوی اوښې راشه درشه په اړه داسې وایي:

پـــــه باورکې که یقین درسره مل کړې
په رښتیا به شي که شک ته داحول کړې
که ژوندون دې په ښه خوی کاوه له نورو
خـــــپل پردی به هله ته له ځانه مل کړې
له څـــــــــلوروخوا به دُر درته ځلیږي
کــــه دعــــلم روڼ څراغ ته درته بل کړې

زړه له علمــــه رڼا اخلي هله زده کړه
احمدشاهه چې بدخوی په ښه بدل کړې

دنوروانسانانوپه غم اوخپگان کې ځان شریکول دیوه واقعي انسان صفت دی،ځکه خونلوی احمدشاه باباهم دغه عالي اخلاق له پامه نه غورځوي اوپه دې اړه داسې وايي:

یارهغه دی چې په غم دیارشریک وي
چــې په غـم یې غمجن نه هغه نامرد دی
احمــد شاهه بې پتي ننګ کړه یارانو
چې پرپت دیارۍ سربښندي اوس فرد دی

پښتانه وايي چې «خپله ژبه هم کلا ده هم بلا » دهمدې متل پرمصداق احمدشاه بابا هم دښې وینا، پستې ژبې اوښوخبروتلقین کوي اوښه وینا دانسان دنجات اوبریالیتوب وسیله بولي،دی وايي

همیـــشه دې ښه وینا بویه شفیع
چې په ښه وینا عالم دې شي مطیع
بیـا په هره ویـــنابویه ستا نظروي
ویوهـــــیږه وینا لږ معنٰی رفیع
چـــې په ژبه هرسړی ګرفتاریږي
فـــهم وکړه دادعقل کرسي وسیع
که مې قهرکړمغلوب عقل غالب کړ
نودعــقل تاج به لوړ وي له جمیع
داحـــــمد ویل خواږه دي غور وکړه
چې نادان یې نودرپیښ به شي تصدیع

علي خان دخپل وخت په هغووتلواونوماندو شاعرانوکې دی چې داشعارو دیوان لري اوپه خپلو اشعاروکې یې انساني همدردي، بد نه کولواوخیرښیګڼې ته پوره پاملرنه کړې ده، دی له نورو سره د بد نه کولو په اړه وايي:

ور دبل په ګوته وهل خپل ور نړول دي
ويره له چا مه کړه خوخپل ځان سنبال لره

په بل ځای کې دظلم په مقابل کې دصبراوحوصلې سپارښتنه کوي اوخپل پيغام داسې رسوي:

ديارمرئی يم په هسکه غاړه     که دی ظالم شي زه بې مظلوم يم

همدارنګه دخپلوخلکوبد غوښتل اودټولنيزژوند اونظم ګډوډول دنااهلو او دښمنوعناصرو کار بولي اوخپل دغه مطلب داسې بيانوي:

نسبي چې دې بهر ته کمی غواړي
ستا په ورونو عزيزانو حساب نه دی
چې دقام بهبودته نه ګوري بې سوده
زوروړی په خانانو حساب نه دی
چې آشنا دآشنا ښه بده وانخلي
هغه هيڅ په آشنايانو حساب نه دی

داتفاق اويووالي په باره کې وايي:

آشنايي لکه سرود په اتفاق شي
نغمه کله کا چې وي پکې يوتارسست

کاظم خان شيداختک چې شعريې دنازکخياليو، خوږو استعارواوکنايو بيلګه ده،پخپل خواږه کلام کې انساندوستي، له انسان سره مينه، مجبورانسان ته لاس ورکول اودسوله ييز ژوند له پاره هلې ځلې په ډيرو خوندورو الفاظوکې ځايوي اودانسانيت دغه پيغام داسې وړاندې کوي:

شګفته کړه لکه لمر تندی هرچا ته
چې په تله دې سيه پوش تمام جهان شي

همدارنګه نوروته خيررسول اود هغوی د ستونزو د له منځه وړلوله پاره فکرکول د يوه واقعي انسان فريضه بولي اوښکلا ، لکه چې وايي:

افروخته يې وي محفل په شان دشمع
چې سوخته دبل په کارکې خپل دماغ کا

په بل ځای کې هرچاته خیررسول اودیوه سوله دوست انسان خوی اوعادت خپلول داسې بیانوي

ځای دروغ دلیوني شه که هوښیار یې
صلح کل دځان پیشه لکه صحرا کړه

حمید ماشوخیل هغه رندانه اومستانه شاعردی چې شعریې تېوله ښکلاده اونازکخیالي،ځکه خونو دخپل وخت اوترده وروسته شاعرانو دموشګاف لقب ورکړی اودخپل وخت په شاعرانوکې د ځانګړې سبک خاوند شاعردی. حمید ماشوخیل که هرڅومره رندانه اومستانه شعروایي،خو تر څنګ یې انساني مینه، عاطفه اوخواخوږي هم له پامه نه غورځوي اوځای ځای یې پخپل کلام کې دغې انساني عالي روحیې ته هم ځای ورکړی دی لکه چې وایي:

چې ساتلی دچا زړه په میوه نــه شي
ده ترسمې سروې ښه کړه ارهنده
په لباس دښــکلومه غولیږه حمیده
له ثمـــره وي ښیرازه ونه شنده

اوپه بل ځای کې بیا دغه عالي اوانساني روحیه داسې وړاندې کوي

چې دبل په خوښه پریږدي خپله خوښه
تردې خوښې،خوښه نشته بله خوښه

ملاجانان فدوي دخپل وخت دمشهورشاعرپه توګه سوله اوثبات له پامه نه غورځوي چې په لاندې بیتونوکې دده دغه فکرډیرښه معلومیږي:

په تــــــلوار دروم‌ه جلو دسولې نیــه
فـــدوي څووهې ته دم په اختلاف
سپین پښتون وي ساده لوحه مسلمان
بـــې مزې یې کا صنم په اختلاف [۱]

---

۱- دملي آرشیف قلمي نسخه.

عارفان کــــا له جهانه سره سوله
تــا ترلی په جهان دسولې وردی (۱)

ته چې کانې له مـــجنونه سره ولې
بند دسولې ستا کوي هوښيارپه څه (۲)

پـــــروانه لري له آهه دخوارانو
کــــربلا مدام وطن دپښتنو ده (۳)

عبدالقادرخان خټک هم لکه دخپل وخت دنوروشاعرانوپه شان پخپل شعرکې مينه، انساندوستي، خواخوږي اوښه اخلاق نه هيروي لکه چې وايي:

چې په قــام په قبيله کې يوبد کار شي
په سبــــب ديوه بد واړه ياديږي
خر، غوڅکی ديوه ګډ دچا په کښت شي
بدنامي يې تمام کلي ته رسيږي
په بل ځای کې دزور اوظلم په اړه خپل پيغام داسې رسوي
چې دې له لاسه آزاروي زړونــه
مرګ دې بهتردی له دې ژوندونه
څوبه دې بلې لمـــبې دظلم وي
آخربه وســوځي دا اورستا خونه

عبدالقادرخان خټک عادل واکمن د يوې ټولنې له پاره د نيکمرغی ښنه اوظالم واکمن د بد بختیعلامه بولي او زيار باسي دداوړه ډوله واکمنانوځيرې په واقعي معنٰی وښيي لکه چې وايي

۱- دافغانستان دعلوم‌واکاډمی قلمي نسخه .
۲- دزلمي هيوادمل دکتابتون قلمي نسخه .
۳- دزلمي هيوادمل دکتابتون قلمي نسخه .

په قیامت به وي دعرش ترسیوري لاندې
بادشـــاهان چې عادلان شي عدل کاندي
په هرقـــــوم چې کرم دکرد ګارشي
سرداران بـــه يې دینداره نیکو کار شي

په بل ځای کې وايي:

ښه حـاکم رحـــمت په خلکو دسبحان دی
بـد صـورت که د انسان لري شیطان دی
ښـــانه دخدای دقـــــهر بد حاکم وي
چې هیڅ عدل، انصاف نه لري ظالم وي
په هـــرلوري کا دظـــــلم لمبې بلې
پــــــکې زړونه د عالم کا جلې بلې
که هرخـووطن شیرین وي خوبې پریږدي
چـــې یې چیرته آرام شي هورې ته لیږدي
ظالمـــان جان وجهان لره بلا دي
هغه خوارشول چې په ظلم مبتلادي

علي محمد مخلص هم لکه دپښتنو دنورو ډیرو شاعرانو په شان کینه، حسد، ځان غوښتنه اونورو خلکوته ضرر رسول سخت غندي اودټولنې دخلکوترمنځ دیوه خواږه ژوند په هیله خپل غږ داسې اوچتوي:

چې کینه، حسد، غیرت لري په زړه کې
مبـــــتلا په غم اندوه لري له سخه
دکینـــــې په رنځ اخته دي نه پوهیږي
د حــــــسد رنځ لا دوا ګنه ترزخه
درنـــــــده صفت دسګ یا دلیوه دی
دامـــومن له ځانه سګ لرې کړه چخه
نوس تمام دسګ صفت لري په ځان کې
په جیفه پسې تیز ګرځي تر سبز رخه

چې يې عدل انصاف نه وي په کشور کې
بادشــاهان ناحق په سرږدي تاج کوټخه

ارزاني خويشکی چې دخپل وخت دمشهورو شاعرانوپه ډله کې دی پخپل کلام کې ځای ځای رښتينولي . صداقت . مينه . وروږګلوي اوعاطفه له ياده نه باسي اودا دانسانيت دتکميل له پاره يوه غوره وسيله بولي لکه چې وايي:

پـه هرچا کې يې بهترکړې اې خـاکي صورت بشره
لکه ښـه يې هسې ښه کړه تــه پرهيز وکړه له شره
داپښـــــتو وينا رموز ده پوشـــيده له کور و کره

په بل ځای کې وايي:

ته پرښـــــه کړه ددل فهم دبـــې ښوده ښه تش فهم
ترګــل ښه،ښه آشنا يې ده دآشنـــــا شي پربل رحم
چې دښه،ښه يې وهيرکړې وهيرېې شي پرايمان زخم

له بدو څخه وښو اوغوره چاروته انسان داسې رابولي:

راشــــه ونغوږه انسانه ددېـــن چار نه ده آسانه
بـدي مه کړه،بدمه ګوره بـــــدمه باسه له لسانه
هرکـــــلام په فهم وايه ويـــــنا مه وايه پريشانه
دراســــتيه سبق وايه لـــه هندو ، له مسلما نه

بد په هرصورت بد دي اودبدو نتيجه هم خواشينوونکې اوناوړه وي،ځکه خونو ارزاني خويشکی هم انسانان له بدو څخه راګرځوي اوښوچاروته يې رابولي لکه چې وايي:

دبـــل په بد مه ويا‌ړه دبل بد ، خپل ښه مه غواړه
پـــه بدی لره خوله چپه لک يوسف د ورورېد نغاړه

ميرمن نيکبخته چې دکوزې پښتونخواداشنغردمموزيو اوسيدونکې اود نوماندو شاعرانو له جملې څخه وه،هغه سربيره پردې چې يوه پاک لمنه ميرمن وه کوښښ يې کاوه نورخلک هم سمې لارې ته راوبولي

اودخدای دبندګۍ اصلي مفهوم وروښيي، په لاندې شعرکې مور دميرمن نيکبختې دغه عالي احساس ډيرښه ليدلی شو، څکه دغه پاک لمنه ميرمن نيکۍ ته په بدۍ ترجيح ورکوي او وايي:

په طلب يې ودريږه　　په خدمت يې هوسيږه
له جمله بدونفرت کړه　　ونيکۍ ته ولاړيږه
په نيکۍ کې يې اخلاص کړه　　بدي مه کړه وپوهيږه
پرګناه له دوارو سترګو　　دباران په دود وريږه
چې يارب العالمينه!　　له ګناهه را تيريږه
خدای به رحم پرتا وکا　　په زاريو ته ژړيږه
بې پروا وخدای ته مشه　　له غضبه و ويريږه
ه (غه) فعل چې يې حق دی　　په طلب يې وښوريږه

په دې توګه مور دپښتو د لرغوني ادب د څينو شاعرانوپه کلام کې دامن ، سولې ، انساني خواخوږۍ ، مينې اومحبت څوبيلګې وليدې ، باوردی چې دنورو زياتوپلټنوپه نتيجه کې به نورې داسې بيلګې هم ترلاسه شي چې دپښتوادب ددې برخې په غنې توب کې به لامرسته وکړي.

**ب : سوله دپښتو په معاصرشعرکې:**

دسولې ، امن، انساندوستۍ اوانساني خواخوږۍ پيغام دپښتوپه معاصرادب کې هم ځای موندلی اودپښتودزياتومعاصروشاعرانوپه اشعاروکې يې په پراخه پيمانه څرک ليدل کيږي.په تيره بيا زمور دخواږه اولرغوني هيواد دتيرودوه نيمولسيزودناوړه حالاتوپه بهيرکې که په پښتوادب کې زياتې حماسې ايجادشوې،نوورسره جوخت سوله،امن اوانساني خواخوږي هم له پامه ونه غورځول شوه.

دجنګ اوجګړوپه دې تيره دوره کې که کوم افغان ژوبل شوی دی ،نوورسره سم د شاعر او ليکوال زړه زخمي شوی اودهغه دزخمونودټکورله پاره يې غږ اوچت کړی دی، که دکوم يتيم پر سپيره مخ يې اوښکې ليدلې دي، نوورسره سم يې ژړلي اودهغه د داډګيرنې له پاره يې لارې چارې

لټولي دي اوکه دکومې بورې مور اوکونډې پیغلې فریادونه یې ترغوږشوي دي، نودهغوی د فریادونوکړیکې یې دنړۍ تربل کونج پورې رسولې اوله نړیوالوسوله دوستوقوتونوڅخه یې غوښتي دي چې په هیواد کې دامن اوسولې دټینګښت په لاره کې ورسره مرسته وکړي.

زمونږدوخت دشاعراولیکوال دغه چیغې اوناري ددې سبب شوې چې په سیمه ییزه اونړیواله کچه زمونږپه هیوادکې دعادلانه سولې دتأمین په اړه فکروشي اوهم سوله دوست افغانان دې ته و هڅېدل په هرقیمت چې وي په هیواد کې دوینو دتویبدولوبهیرپای ته ورسوي اودسم سمکي دراوستلو له پاره خپلې هڅې ګړندۍ کړي.

د لیکنې په دې بحث کې زیاراېستل شوی دی چې د لرې اوبرې پښتونخوا د شاعرانو د زړونو هغه آواز راواخیستل شي چې په شریکه یې دګډ هد ف له پاره، دافغانانودهوساینې او ډاډمن ژوند له پاره اوپه دې تاریخي کورکې دتاویریخوالي دبیخي له منځه وړلوله پاره اوچت کړی اوپه شریکه یې ددې ستر ماتم له امله ژړلي اودجنګ جګړوپرخلاف یې یوګډ دریځ نیولی دی.

اباسین یوسفزی چې دکوزې پښتونخوا یو وتلی شاعراولیکوال دی پخپلو شعرونوکې دې ټکي ته زیات متوجه دی،اباسین یوسفزی له خپلوافغانانو وروڼو سره یوځای ددې سترناورین په اړه اوښکې بهوي اوپه افغانستان کې دسولې اوامن دټینګښت له پاره له خپلوافغاني شاعرانواولیکوالو سره یوځای غږ پورته کوي،خوترهرڅه دمخه اسلامي ټینګه عقیده دټولو ټولنیزو چارو دسمون اساس بولي اوپه ټینګه غواړي چې پښتانه ددې مقدسې عقیدې په رڼاکې دامن ، سولې اوانساني خواخوږۍ لاره خپله کړي اوپه دې توګه دتاوتریخوالي مخه ونیسي ، اباسین یوسفزی وایي:

لکه بې سترګوچې تیاره اورڼا نه پیژني
هغه به ړوند وي پیغمبره چې تا نه پیژني

ځان پيژندل دخدایٔ دپيژندلو اوانسانيت دپيژندلو اساس جوړوي ، څوک چې ځان نه پيژني هغه خدایٔ نه پيژني اوجهان نه پيژني ځکه خونواباسين يوسفزی پښتنوته دځان پيژندلو تلقين کوي او په لوړ آواز ورته وايي:

دخدای دپاره پښتنو ځانونه وپيژنئ
ستاسو له پاره خوبه ځانله پيغمبر نه راځي

تردې وروسته اباسين يوسفزی مينې او محبت ته خپل پام راګرځوي اودمحبت توري او کلمې داسې تفسيروي:

هاغه چې موږه يې بلود محبت په نامه
په دې ساده توري کې څومره لوی اسرارپروت دی
مدام چې ناست په کومه ځانګه هماغه ريبې
پښتونه! دا درپکې لـــوی دعقل کار پروت دی

بل ځای خپل خلوص اولورينه داسې ترسيموي:

بنګله اومحل نه لرم جونګړې تــه مې راشه
نه کټ ته به مې ګورې نه پوزې ته به مې ګورې
خومـــا له چې راځې نودايوه خبره واوره
تالــې ته به مې نه ګورې تندې ته به مې ګورې

اويا داچې وايي:

زما کـــتاب کې دنفرت هډو نامـــه نشـــته دی
زه هميشه په مـحبت دخلکو زړونه تړم
ستـــا محبت مې په سينه کې غورځنګونه وهې
دې اباسـين ته به ترڅو پورې بندونه تړم

حبيب الله رفيع که له يوې خوا زموږ دزمانې يووتلی څيړونکی اوسياسي شخصيت د ی، نو له بلې خوا دشعرپه ډګرکې هم دوخت دمشهورو شاعرانو دسرپه کتارکې شميرل کيږي ، دده شعر بيلا بيل اړخونه لري اودژوند په ټولوبرخو کې يې خپل قلم چلولی اودشعرله لارې يې خپل رغنده پيغام خپلوخلکو ته رسولی دی، حبيب الله رفيع يو سوله دوست اوبشردوست انسان دی،همدالامل دی چې په شعرکې يې انساني

مینه ، خواخوږي ، امن اوسوله په پراخه پیمانه ځای شوې او د نوي خواږه ژوند ددوام له پاره یووالی اوپیوستون ترټولو نورو خویونو غوره اوضروري بولې لکه چې وایي:

قول به دمینې سره نوی کړو رادې کړه لاسونه په لاسونوکې

حبیب الله رفیع له جنګ ، جګړو اوشرڅخه کرکه کوي اوهغه څوک چې تش په خوله دسولې او امن نارې وهي، خوپه عمل کې دجنګ اوجګړو اورته لمن وهي په کلکه غندي او دبشردښمنان یې بولي ، دی وایي:

په خوله بشروایي ، بشرغوارې خوپه عمل کې شور او شرغوارې
ســوله ، وروري ، برابري وایي خوپه میــدان دجنګ شرر غوارې

دخپلې جنګ ځپلې ټولنې دزړه آواز ته داسې انعکاس ورکوي:

زما دمیــنې کرونده ده کافري ګــلونه
دافصل سیوری غوړولی نه شي لمربه غواړي
نورتحمل یې دړنا مینان.نه شي کړلی
شپــه ډیره ډیره توره شوې ده سحر به غواړي

د کابل د ښار، دهیواد دپلازمینې اودهیواد دزړه په رنګو کنډوالو خپلې اوښکې تویوي او وایي:

سپینه کوتره یم دسولې، خوسره پره په وینو
ولې مې ټول چې د کابل ترښاره ځمه راځم

دجنګ اوجګړو مینان اودسولې دښمنان دانسانیت اود انسان دسعادت دښمنان بولي اوخپل دغه عالي احساس ته داسې انعکاس ورکوي:

ټول د ښمنان د انسا نیت د سعا دت ګنمه
چې په ترخوترخو ، لوخړو ککړوي چاپیرچل
کــوروراېرې کړي په نرونرولوګیوکې یې
د زرو وړې چــې په زهرو مړوي چاپیرچل

دخپل کلتوراوفرهنګ دښمنان بې سره انسانان بولي او پرخپلوخلکوغړکوي چې ددغو شر اچوونکو او پرديو په لاره تلونکو مخه ونيسي لکه چې وايي:

چې شوبې سره هم له کلي هم له نرخه ووت
بشرپخپل لاس ځانته پرانسته دشرغيړه
داځکريزتوپوپستې نه کړې داسرکښې تړې
کـــــره دحـــمزه غزلو نرمه دخيبرغيړه

له سولې اوامن سره دافغانانو مينه او بيا دپرديو له خوا ورباندې دجنګ اوجګړو تپل هغه څه دي چې حبيب الله رفيع پخپل شعرکې ډيرښه انعکاس ورکړى دى ، دى وايي:

نيــــــت مې ټول عمري دپخې سولې و
بيا دشوخو سترګو په جنګ واوښتم
زوړ دپـــــــرون درس مې ده ته هم ورکړ
نـــن چې زه پـــه نوي فرنګ واوښتم
ما دبنګړوشرنګ غوښت خوپښتون تقدير
ګوره چې دتورو په شرنګ واوښتم

حبيب الله رفيع په پورتنيوجامع بيتونوکې په څرګندو ټکوکې داښيي چې په اصل کې افغانان سوله دوست خلک دي، خوکه جنګ او جګړوته مجبورکړاى شي، بيا نوتر بل هرچا ښه او زورور جنګ کولاى شي.

اروښاد استادعلامه پوهاند عبدالشکوررشاد زموږ دوياړلي هيواد هغه نوماند ټولنيز شخصيت و چې دعلم په خپرولوسره يې خپل هيواد اوسيمه روښانه کړه، استا د رشاد که له يوې خوا وتلى استاد .اجتماعي اوسياسي شخصيت و .نود خيړنې اوليکنې په ډګرکې يې هم ډيرلږ مثال ليدل کيږي استاد دټولونورو بوختياو ترڅنګ شعرهم وايه او دوخت دهغوشاعرانوپه سرکې وچې په شعرونو کې به يې دټولنيز ژوند ټول اړخونه له ورايه ځليدل. له سولې اوامن سره مينه اوله جنګ،جګړو او وحشت څخه کرکه د استاد په

شعرونوکې په زیاته پیمانه ځان ښکاره کوي،په تیره بیا څه وخت چې پرهیواد دپخواني شوروي اتحاد سرولښکرویرغل وکړاوکمونستي تاړاک دهیواد هرڅه لولپه کړل،نوستر استاد د وخت د ظالمانو په وړاندې چو-په خوله پاتې نه شو اوله دغه وژونکي تاړاک سره یې خپله مقابله په ډاګه اعلان اودهغوی اصلي څیره یې داسې انځورکړه:

په ښکاره وایي لعنت دې پرابلیس وي
خو په پته دابلیس مخلص انیس وي
دلتـــــــه ستړي په بلنه وي د سولې
هلته چیغې دجنګونو دتحریص وي

اویا داچې:

په نړۍ کې که دوستي، که دښمـــنی، دي
خپلې ګټې خپلې وتې یې محور دی
خپلې پیښې،خپلې خوښې،خپل مرادونه
پـه بشرکې دامیراث دخیراوشردی

لوی استاد علامه عبدالشکور رشاد دروسانو دسره ښکیلاک په وړاندې خپله کرکه اونفرت داسې ښکاره کوي:

چې ګډه په وطن شوه سره وبا کلي په کلي
دخدای مســلمانان یې کړل تبا کلي په کلي
مرګوده رابـــــللې دې ددانو ، مرتدانو
سره کړه نامرادیو دمرګ خوا کلي په کـلي
اجــل دی چې راوځي له توپو ،له مشینګنو
ځوانــــی دې رژولې دې بلا کلي په کـلي
سپــیره کړه بمباریو ودان کلي،ښنه کښتونه
ټانــکونو بورجلونه کړل بیدیا کلي په کلي
بمونه شپه و ورځ اوري دروس له جهازونو
سرې وینې دې بهاندې شاوخوا کلي په کلي

اې لويه قديرخدايه! دغه خواست موته قبول کړه
روسان کـــړې ستـــا په قهر مبتلا کلې په کلې

ګوهررحمن ګوهر دکوزې پښتونخوا شاعراوليکوال سرېتوب او انسانيت دنورو انسانانو په خدمت اوچوپړ کې وينې اوهغه ځوک چې په دې لاره کې هلې ځلې کوي دقدرپه سترګه ورته ګوري اوداسې وايي:

دمردی پتـــــــکی هغه سره جوړېږي
چې په ځان باندې د درست وګړي غم ږدي
چې يې ژوند لکه ځاروی خوړل اوځښل وي
هـــــغه خله په ځان نوم د بنيا د م ږدي
دهغه دکتاب توري به څوک وران کا
چـــې پخپله توده وينه کې قلم ږدي

په بل ځای کې پرهغه چا سلام استوي چې له ځان څخه دمخه دنورو انسانانو غم ورسره وي او په دې توګه دنورو دخدمت ويار ترلاسه کوي، دی وايي:

سلامونه دې زما په هغه چا وي
چې په غم کې دعالمو وروستی ځان کا

پيرمحمدکاروان زموږدهيواد دځوان نسل هغه خوږ ژبی اونازکخيال شاعردی چې دخپل ژوند په ډېره کمه موده کې يې دخپلې شعري ښکلا اونثري بلاغت له امله زيات شهرت وموند.پيرمحمد کاروان په يوه داسې چاپيريال کې رالوی شوچې هره ګړۍ ويرو،ماتم و اوژړاوې وې،په هغه محيط کې چې کاروان ژوند کاوه هره شيبه دبمونواوګوليو باران اوريدواو دبې ګناه انسانانووينې بهيدلې. کاروان چې لاتنکی ځوان ودغه حالت سخت ځوراوه اودخپل ژوند هره ګړۍ ورته سرې سکروټې وې، همدا لامل وچې له دغه حا لت څخه د وتلوله پاره يې خپلې چيغې اونارې هره خوا خورې کړې اودجنګ اوجګړوضد آوازيې دهرچاغوږونوته ورساوه

راځئ چې په لاندې خوندور غزل کې دجنګ اوجګړوپرخلاف دکاروان دغه سپیڅلی احساس وګورو، کاروان وایي:

غزل

په مـــــــينه ، مينه مينه که يوبل ته غيږې واکړو
پـــــــــه دې ورکه دنيا کې به اخر سره پخلا کړو
پرجنګ بـه تيره کيږدو ،جنګ به مروسترګوته پريږدو
راځـــــــــه چې له شاهين سره کوترې په هواکړو
ليــــــلاچې کوم خواسترګې غړوي مجنون به ويني
اوږکــــــــــه له ليلانه به څلورکونجه دنيا کړو
منـــــــــــصوربه په ګلاب اوپه نرګسوباندې ولو
دحـــــــــــــق پرضد باطله به دهرملا فتواکړو
داتـــــــوره وچکالي به يې په سپينواوښکووينځو
لـــــــــــه ډيرې خوشالۍ نه به بلبلې په ژړا کړو
شـــــپې ورځې دژوندن به موخوشبوکې وي نغښتي
لمــــــــــونځونه دسحربه په ګلونوکې ادا کړو
روان بــه شـــو "کاروانه! " دبـــنوپرڅـــوکو.څوکو
رانجه به دجانان لــــه خــــماري سترګونه غلاکړو (۱)

دمعاصرادب په ځوانو ليکوالو اوشاعرانوکې شفيع الله بابرزی هغه شاعردی چې په هرشعر کې يې نوی پيغام ځان ښکاره کوي.دهغه په شعرکې که له يوې خوا دوطن مينه اوله خپلووطنوالو سره مينه ځليږي.نوله بلې خوا دټولوانسانانوپه ځانګړې توګه خپلوهيوادوالوله پاره سوله او امن ډيرضروري بولي.راځئ دغه عالي پيغام د بابرزي په دې شعرکې وګوروچې دخپل خواږه وطن له مينې سره يوځای دسولې اوامن پيغام خپلوخلکوته په څومره ښکلې اندازکې وړاندې کوي دی وايي:

دشــــــــملووطن ته راشه چې شملې درته په سرکړو

تـــــــــه رڼا دستورو راوړه مونږبه ويني دزړه درکړو
مونږبه خپــلې ځوانۍ لوکوخودوخت تياری به لمرکړو
ددې نـــــــــوي ژوند په رازبه دارنځوروطن خبرکړو
ددې وران وطــــــــن په غيږکې ددې ټولوځای به ؤشي
درحـــــــــــمت په بارانونوخړايلبند غزنی به ؤ شي
هوســـۍ بيا به ستا مستۍ ته دسپين غرشينکي به ؤشي

تـــــه دبنکلې اموشورشـه
زه بــــــه چـــيغه د بــولان شم

تــه مې نوم دکندا ر واخله
زه بـــــه تانه جـار قـــربان شم

تــه دشين بدخشان لال شه
زه بــــــــه زړه ديو افغان شم

تــــه دبــلخ نه سلام راوړه
زه بـــــــه باد دمالستان شم

دبنـــګـلوسيوری که نه وي
دکــــــيږدۍ شمال خوشته دی

درحمت باران پرې غواړو
خدايه خوله دسوال خوشته دی

دخـــــــــبروتغرخوردی
يــــــودسولې کال خوشته دی

راراون يـوسپين سهاردی
دراتـــــــلواحوال خوشـته دی

راځـــــئ بيا دغرولمن کې
پــــــــــــه اتڼ مين خبر کړو

شـــــــــــملوروشازلموته
دســـــــــــندروتاج په سرکړو

دايــــــوب دوينورنګ به
دمـــــــــــلالو خال تـه ورکړو

تـه دميني کربنه کش کړه
زه بـــــــــــه پاڼه دکتاب شـم

تـــــه نـغمه شه ته سندره
زه بـــــــــه ستا دغيږ رباب شـم

تـــــــه دسولې قافلـه شه
زه بـــــــــه سيوری دعقاب شـم

تـــــه زما دشعرتعبيرشـه
زه بـــــــه ستا دمونځ ثواب شم

په داتشه تشه غيږکې خپه وروڼه رانيوی شو
لامـووينه پردی نه ده سره بيرته خپليدی شو
دخـــــــــبروپه وزرو رڼاګانې راوستی شو

شهرت ننګيال دروسانودسولې درواغجنې نارې په ډاګه کوي اوانسانانوته سپارښتنه کوي چې د سولې اوامن په دغو.غولوونکو

انسانانو تیرنه وځي څکه هغوی سوله اوامن دراکړ اوایتم بم په خوله کې ګوري لکه چې وايي:

ســـوله دوستي دسرو وحشيانو راشئ لږ وګورئ
سوله يې جنګ، دوستي يې غم اودستم کيسه ده
دامـــــــنيت تيکه داران به امنيت ګني دا
چــــې امنيت يې د راکټ او ايتم بم کيسه ده

محمدهاشم زماني دسرې بلا په وړاندې دنړيوالې سولې او امن زيرى وړاندې کوي او ډاډه دی چې دامن اوسولې دپيغام په برکت به دسولې دښمنان مات شي او په سيمه کې به سوله واکمنه شي:

دجهان دسولې زيرى مې راوړی سره روسى بلا وطن کې به بندي کړم

دوخت انقلابي شاعراوسياسي شخصيت اجمل خټک که څه هم دوخت يوانقلابي شخصيت دی اوخپل خلک ددښمن په وړاندې مبارزې ته رابولي،خودجنګ اوجګړوپه وړاندې هم سنګرنيسي اودسولې او امن له پاره خپل غږ داسې اوچتوي

مه ســـــيزه اې جنګه دازمــــا ګلونه مه سيزه
داســـــــې په بمونو دجـــــنت باغونه مه سيزه
دا دويــــــنې ميني دفــــــطرت دښکلا ګانو کور
دا دحـــــسن ونور دمسيـــــذونکو رڼا ګانو کور
دا دتـــــــاريخونودځـــــلا اوزمانوښائيست
دا دقـــــــوت تـــــوره اودروح دترانو ښائيست
دا دمــــــذهبونودپيـــــغام اود وحدت ځانګو
دا داولـــــــسونو دژونـــــدون دمحبت ځانګو
داپه خــــــــــړه خــــاوره د آدم دشرافت نښه
دا ددنـــــــګوغرونو په لمـــــن کې دجنت نښه
دلـــــــته کې نغمې دانســـان ميني زيږولي دي
دلته سپوږمی، ستورو رنګيــــنی راغوړولي دي

دا درې، لمـــــــنې، خـــزانې دنغمـــتونودي
دانــــــن ددهشـــــت په اورایرو کې پټوې ولې ؟
داسترګې ډیوې، شونډې کاسې، تندي سپوږمیه دي
دا دبــــــې ګنــــاه مرګي په قهر مرې کوې ولې ؟
بس ماته دمـینې ډک دامن دوران راوله
ماته دانسان یوګلالی شان جانان راوله (۱)

پیرګوهرد کوزې پښتونخوا هغه نوماند شاعر دی چې له سولې او امن پرته یې په شعرکې نور څه نه لیدل کیږي څکه خونودامن په شاعرمشهوردی اوچې دپیرګوهرنوم اخیستل کیږي دسړي سترګوته یوه داسې درنده ستړه ودریږي چې له سولې اوامن پرته یې نورڅه په فکرکې نه ځایږي چې دادی دبیلګې په توګه دده د(امن) یو شعررا اخلو.دی وایي:

(امن ، امن، امن ،)
زه غـــــوارم په امن له ازغود ایشیا لمن
نـــــه غوارم چې سوځي په لمبود ایشیا لمن
ډکـــــه دې وي تل په ګلوسرود ایشیا لمن
ســــــتایمه شاعریم په پښتو د ایشیا لمن
بس په حق انصاف دې په ریښتیا خبره سپینه شي
غوارمـــه چې ټوله دنیا مینه ، مینه ، مینه شي
تــل دې په مزو وي دیوروپ اوامریکې ورونه
کـــــړي دې ترقي د استرالیې اوافریقې ورونه
ښــاد دې اوسي تل دخپلې خپلې میکدې ورونه
وي پــــه یوه وروری، ددې دنیا ددې خطې ورونه
لـــرې دې ستم کشمیر، ویتنام اوفلسطینه شي

---

۱- اجمل ختک، دژوند چیغه، یونیورسټی بک ایجنسي ، پیښور، ۲۰۰۲ ع کال ، ۲۰ مخ

غـــوارمه چې ټوله دنیا مینه ، مینه ، مینه شي
غږمـــــې دی ددې ښکلې دنیا دبنیادم په نوم
غـــــــږکوم په نسل د حوا او دآدم په نوم
ټـــول انسانیت راغونډول غوارم با هم په نوم
هـــــم درنګ اونسل دتهذیب اوبې قلم په نوم
بیا دې خیږې ستورو اوسپوږمۍ ته چې شاهینه شي
غوارمـــــه چې ټوله دنیا مینه ، مینه، مینه ، شي
نـــه دې څوک دبل په حق ناحقه بلوسیدل کوي
نـــــه دې بنیادم دبنیادم غوښې خوړل کوي
نه دې څوک مظلوم ناتوان انسان پورې خندل کوي
نه دې څوک اوږو باندې همیش مزې دبل کوي
ټول مـــــلت ددې نړۍ دې تاوله یوه آئینه شي
غوارمـــــه چې ټوله دنیا مینه ، مینه ، مینه شي
هرکورکې تعلیم اوروغ صورت اوخوشالي غوارم
زه پـه دې نړۍ باندې پوره پوره سیالي غوارم
هم دبلـــــــــبلانوحق په باغ هم دما لي غوارم
دادنـــــیا دبغض او حسد غمه خالي غوارم
ټولـــــــه زندګي دې په خلوص باندې رنګینه شي
غوارمـــــــه چې ټوله دنیا مینه، مینه ، مینه شي
دا دبا شـــــــــعورونړۍ غوارم چې آباده وي
ورک دې شي بمونه اوجنګونه ملک برباده وي
امـــــن امن امن بس په امن دې تل ښاده وي
داځـــــانګوډامن دې رښتیا په امن یاده وي
زاردې امریکه له روسه ، روس دې زارله چینه شي
غـــــوارمه چې تــوله دنیا مینه ، مینه ، مینه شي

که څه هم ارسلاخان سليمي وردګ په هيواد کې دناخوالوله پيل کيدو دمخه هغه وخت له فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړي دي چې زموږپه وطن کې امن و،سوله وه اودخلکوترمنځ د ورورۍ ژوند و،خودنړۍ په بېلابيلو سيموکې ناخوالو او تاوتريخوالي ځوراوه اودهمدغه احساس په رڼاکې پرانسانانوغږکوي چې دکرکې اونفرت پرځای په زړونو کې مينې ته ځای ورکړي ځکه چې مينه انسان جوړوي اومينه جهان جوړوي له دې امله په لوړ آواز وايي:

مينه کردی په وطن کې دګلونو
مينه ژوند اوسعادت دی دقامونو
دژوندون ترخه په مينه خواږه کيږي
ورکوي مينه خواري د اولسونو
کوم قامونه چې په مينه سره ژوند کړي
تل وي خلاص دزمانې له آفتونو
کردګلوکړه چې سيمه دې ګلزارشي
مينه لارده دلوړتيا د ملتونو
مينه مينه ده چې جوړ پرې دا جهان دی
مينه اصل دوجود او د انسان دی (١)

نادرخان نادرهم دسليمي وردګ په شان مينه دنوي جهان دجوړولو لامل بولي او وايي:

ځئ چې وران دا زوړ جهان کړو ښکلی نوی شان ودان کړو
چيرته مينه چې مذهب وي په مسکا کې هر يو لب وي
چيرته هرځای چې ښکلا وي مينه مينه دا دنيا وي
چيرته هروخت چې خندل وي زاريدل قربا نيدل وي

١- ژوند اوفن، داجمل ختک راغونډونه

دخـــــــيالونومشالونه چې کړوبل جوړچـــراغان کړو
ځئ چې وران دا زوړجهان کړو، ښکلي نوی شان ودان کړو (۱)

زموږدوخت خوږژبی او اورژبی شاعرعبدالباري جهاني پخپل خواږه شعرکې دسولې او امن غږته داسې انعکاس ورکوي:

کلـه به يـو شي دا مورمړی اولس
کله به ورکـه شي زوی مړې بدي
کلــه به بيتې نيکه خپره کړي لمن
کلــه به جـوړکړوپکې کورابدي
کله به خويندې شي دښمنې خونې
کـله به ورونه شـي غليم کورونه
هـيرې کـــړئ تيرې د بدی خبرې
سـره راواخلئ د وروری نکلونه (۲)

همدغه دخواخوږی ،انساندوستی اوخوږې ميني عالي احساس دفضل رحيم ساقي په شعرکې هم ځليدلی او کوم پيغام چې دی غواړي خلکوته يې ورسوي دده په دې لاندې شعرونوکې په پراخه پيمانه ليدل کيږي لکه چې وايي:

که سرې سترګې ليدل نه غواړې دچا
ســترګې سرې له قهره مه کړه په هيچا
تريـــنګړي دبـــل تنبې لره ورنه کړې
که دې خـــوښه وي دخپـــل کا له حيا

په بل ځای کې وايي:

دنيا ځای دبـــــــدلې دی د هرچا
نـــــن چـــې کړي ورسره کيږي به سبا

---

۱- ژوند اوفن ، داجمل ختک راغونډونه
۲- ورکه مينه. دعبدالباري جهاني اثر

دبـدی بــدل یوه بدي مونـده شي
دنیـکی بدل موندی شي سل او یا
هیروه خـپله نیـکي اودبل بد
ښه ژوندون پـه دې جوړیږي ترابد
په یوه بدی چې سل نیکی برباد کړي
دغـه کـارخویا ددیو دی یا د دد
پرګنـه په ښومیړونوښایسته شي
اوپـه سپکوباندې سپکه پرګنه شي
لـواړه ژبه تیره توره ده په خوله کې
اوپاسته ملهم ترې سازشي چې پسته شي (۱)

فضل رحیم ساقي له ظالم مسلمان څخه عادل او زړه سواند کافرښه بولي او وایي:

که ظالم او کا فرونښلي په جنګ
ورته کینه تمـا شه یې کړه تردرنګ
که کافریې مړکا وه سوله یې وکړه
که ظالم یې مړکاوه شه ترې په څنګ

اکبرسیال دکوزې پښتونخوا دملاکنډ دبټ خیلې اوسیدونکی چې اوس په اسلام آباد کې ژوند کوي دشعرزیاته برخه یې سوله، مینه ښکلا اوخواخوږي ده، دی وایي چې «مینه ژوند دی او ژوند مینه ده» اکبرسیال له انسان سره مینه لري، دانسان له ژوند سره مینه لري او دانسان له بقا او پایښت سره مینه لري، دده دغه مینه یوازې پرافغانانو او مسلمانانو پورې نه محدوده کیږي بلکې ټول انسانان چې په هره عقیده په هرفکروي او په هرقام اونژاد پورې اړه ولري دهغه په مینه کې ځان ښکاره کوي، دی وایي:

---

۱- نیم جا م ، دفضل رحیم ساقي اثر.

په دنیـــا حکم چلوونکو خــلکو! د ایــتم بم طاقت لرونکوخلکو!
زموږاوستاسوپه شریک کلي کې زمـوږپه کلي کې شرمه جوړوئ

ډاکترا وطبیب چې د خپل ژوند ټولې هلې ځلې يې د انسان روغتیا ساتنې او درملنې ته ځانګړې کړې وي، له دې څخه څونداخلي چې دیوانسان ژوند وژغوري اوله مرګ څخه نجات ورکړي . څوکه دغه ډاکترشاعراولیکوال هم وي نوپه زړه کې يې له انسان سره مینه څوبرابره زیاتیږي او سربیره پردې چې په فزیکي لحاظ دانسان په جسمي د رملنه بوخت وي د روحي د رملنې او سوکالۍ له پاره يې هم خپلې نغمې غږوي اوپه دې توګه دخپلوخلکو له پاره اوپه مجموع کې د ټولوانسانانوله پاره سوله او ډاډمن ژوند غواړي.

ډاکتر عبدالرحیم غروال هم یوله هغوډاکترانوڅخه دی چې دانسانانود درملنې ترڅنګ دهغوی د سوله ییز اوډاډمن ژوند له پاره هم خپل غږ پورته کوي او وایي:

اې د سولـــې ځلاند لمره!
زرشـــــه دا وطن رڼا کړه
په ښائیسته زرینووړانګو
دغه تــورې شپې سبا کړه

د لته جنګ د وروڼو منځ کې وروړ دورور پـه لاس وژل شي
شنــې لو خړې د بـــاروتو دوست د ښمن نه پیژندل شي
دوسلو پـه د رزهار کـــې د خـیر غږ نـــه اوریدل شي

نو تـه اې د سولې لـمره!
داشغلې دې راخورې کړه
شنې لوخړې تارپه تارکړه
اوروښـــانه دافضا کړه

دلتـــــه توپـو راکټونو لــړزولي دي هســـک غرونه
د چـــــاودنـوله قوته ویــــجاړشــوي دي کورونه

دافـــــغان په پاکه وينه ـــــن سره شوي دي سيندونه
نو تـــه اې د سولې لمره !
داشـغلې دې راخورې کړه
دا دجنګ وسلې اوبه کړه
اوګــلزار مې دا دنيا کړه
دلتـــــه واړه ولـــسونه اوس دســـولې پـــه ارمان دي
زخـــــمي شوي صورتونه نـــور غوښتونکي د درمان دي
ژوند له سولې سره غواړي کـه لويـــــان که ماشومان د ي
نو ته اې د ســــــولې لمره !
داشغـــلې دې راخورې کړه
د تـــــــورزړو په ماغزوکې
هم دســـولې خوند پيدا کړه
ســـوله مينه ورورولي ده ســـوله ژوند لره هـــستي ده
جنـګ برباد کړي ملتونه ســــــوله بيزژوند آبادي ده
دغـــــروال دغـه شعاردی ژوند دسولې خوشبختي ده
نوتـــه اې دســـــولې لمره !
داشغلې دې راخـورې کړه
خوشبـختي درسره راوړه
او پـــــوره مــــې تمنا کړه
اروانښاد ډکترغلام جان جکړشينواری هم له هغوډاکترانوڅخه دی چې دفزيکي درملنې ترڅنګ روحي درملنه هم له پامه نه غورځوي اوزياترباسي دسولې ګټې اوښيګڼې په رنګينو الفاظوکې بيان کړې، دی وايي:
جنګ په هرڅه شي خزان د ی سوله مينه ده جانان د ی
جــــــنګ وراني ده تباهي ده ســـوله شته ده آرامي ده
ماشومان خوسوله غواړي
ټول په سوله باندې وياړي

مــورپلارګران په ماشومانو په ښــایسته ښکلوګلانو
دمـوراوښکې لوی توپان دی دیتـــــیم ژړا خزان د ی
سوله پوهه ده حکمت دی
سوله پت دی اوعزت دی
مـــــورډ سولې پلویان یو له هرجنګه سره وران یو
انـــسانان دي سره ورونه خیـــر که بیل دي نژادونه
تــــــــول دیــو بابا اولاد دي
غـــــم یې غم په ښــادی ښاد دي
جنـــــګ تــــــیاره ده تبــاهي ده
ســـــــــوله ژونـد دی آبادي ده
ورک دې جنګ اوجنګ غوښتونکي
تــــــل ژوندي سوله غوښتونکي (۱)

برکت الله کمین دهمیشه بهارننګرهاردشنوباغونو بلبل له جنګ جکړوځخه کرکه کوي ، په بد نظر ورته ګوري اوهغه څوک چې دجګړواورته لمن وهي دوینو تږي لیوان اودخزانونوملګري یې بولي دی وایي :

دا په وسله مینان دا دوینو تږي لیوان
کله تا غوارې دا ملګري دخزان سپرلیه !

ځکه خونو دلوی اومهربان خدایٔ په دربار کې دجګړود پای ته رسیدو دوعا کوي او وایي :

نوره کړې ختمه دا ناولې جګړه
چې ترینه زړونو ته غمونه راځي

---

۱- ډاکترغلام جان جګرشینواری. دماشوم ترانې . دانش کتابتون . قصه خوانی بازار. پیښور. ۱۳۷۹ هـ ش کال لومړی مخ.

اوچې کله بیا هم په پرله پسې توګه په وطن کې دورانوونکوجګړو ناوړه عواقب ګوري، نوخپله دوعائیه داسې پسې اوږدوي:

خدایه! زړه مې ته په مینه دې صفا کړې
داتــــیـــارې تیارې په ما رڼا رڼا کړې
چې انســــان دې کرم پیدا نو زما ربه!
دانسان مینه مې هم زړه کې پیدا کړې
دضررتوان مې ورنه کړې لاس اوپښې ته
مـل مــې خپل کرم دنورو په رضا کړې
ترڅــان وړاندې خدمتګارمې کړې دنورو
داحســان لویې هستۍ نه برخه راکړې
افغانان په جـــګړو ستړي له کلونو
خــپلو مینــوکې ارامه اوبسیا کړې

ځوان شاعر افضل ټکورچې دخپل خاوره اوتاریخي وطن په وینوسره لمن ګوري، نوبې واره یې له خولې څخه داسې سوې ناره راپورته شي:

زړه مې ژوبل، خیال مې ژوبل، ذهن ژوبل دی یارانو
هرې خواته چې نظرکړم، هره لارپه وینو سره ده

خوله دې ستړې ملامتۍ څخه ځان ته هم برائت نه ورکوي او تقریباً ټول افغانان ددې ستر ناورین په راپیداکولو کې شریک بولي او وایي:

تــا نه وه که مانه وه، خوورانه شـــوه داد حـــق خبره کول ګرانه شوه
خـدایه! دې وطن کې ولې هرڅـــه نه وینه دانسان دومره ارزانه شوه
خدایږوغورځوي مو دمرګ کندې ته دا قــافله کوم لوري روانه شوه

له جنګ، جګړواو بدو ورځوڅخه ستړی شاعر، دمینې اومحبت لیواله شاعراو دچاپیریال دسکون هیله من شاعر په نړۍ کې نور څه نه غواړي بلکې سوله غواړي، مینه غواړي، امن غواړي او له ټوپک څخه بیزاري

غوارې، دغه دامن او سولې غوښتونکی شاعرعبدالما لک بیکسیاردی، دی چې له جنګ اوجګړو څخه څومره کرکه لري دده په لاندې شعرونو کې له ورایه ځلیږي:

درون ستوري کیسه به درته وکړم بیکسیاره
له ډزوکه لږ خواته شو کرارې ته ورځیرمه

اویا داچې وایي:

چې ته ورګورې په رڼو اوڅه کولای نه شــې
چې څوک په زوره په تندي درته ټوپک وکړي
ځوخلاصوې ته بیکسیاره له یوې لومې ځان
وخـت به په لاردرته دامونه نوریولک وکړي

بل ځای وایي:

لږ راشه په میدان شپې که د شپوشوې بیا به ګډ ځو
لږ ورکې اوازې که دجګړو شوې بیا به ګډ ځو

خوچې ددې سترناورین په وړاندې ځان بې وسه اوبې کسه وګورې، نو له جګړو او دښمنیو څخه دخلاصون په غرض سترخوشال مرستې ته رابولي او وایي:

ګولۍ وریږي ځوانی ساه ورکوي بادونه لـــګي غوټۍ ســاه ورکوي
خوشاله چیرته یې چې ویې ګورې پښتون په څه بې وسی ساه ورکوي

دی ټوپک او وسله دپښتون دخوارۍ اوبیرته پاتې کیدو نښه بولي او وایي

ځوبه دښمن زاړه ټوپک ته پښتانه رابولي
پریږده دغه ویاړ دغه زموږ دخوارۍ نښه

دوطن مشهورملي شاعر ملنګ جان دخپلو ملي اووطني ترانو ترڅنګ له انسان سره مینه او له بشریت سره مینه خپل ویاړ ګڼي او په دې توګه له جنګ اوجګړو څخه خپله کرکه داسې بیانوي:

همت لرم بې همت نه یم خو نزاع نه غواړم شورپه دنیا نه غوړام

جګړه نه غــوارم په دنیا کې امنیت غوارمه
زوی دانسان یم په رښتیا انسانیت غوارمه

ملنګ جان له خپل قام سره مینه اوله خپلو خلکو سره مینه دژوند اساس بولي اوله هغوخلکو څخه خپل ځان قربانوي چې دخپل قام اوخپلو خلکوخدمتګاروي لکه چې وايي:

قربانیـږه ملنــګ جـانه دهغـوخلکـولــــه زړونه
چې دقام له میني ډک وي دهیواد خپل غمخوري کا

داسلام دستر پیغمبرحضرت محمد(ص) ددغه ارشادله مخې چې فرمايي: « څه چې د ځان له پاره خوښوئ، نوروومسلمانانوته يې هم خوښ کړئ » پښتون شاعردوست محمد کامل دخپلې پاکې او سپیڅلې عقیدې پربنسټ څه چې دځان له پاره غوره بولي هغه د نورو له پاره هم غواړي هغه که خپل کوراوکلی اباد لیدل غواړي ، نودنورو کورونه اوکلي هم له پامه نه غورځوي او له ټولو انسانانوسره دبدۍ اوکینې پرځای دمینې ،محبت اوخواخوږۍ تبلیغ کوي لکه په دې شعرکې يې چې ګورو:

| | |
|---|---|
| چې خپل کور دوانوم زه | دبـل کـــور نه ورانوم زه |
| نه مـې چا سره بدي شته | نه مـې چاته بدنیتي شـته |
| له هرچامې وروروليـ ده | خپل پردي سره آشتي ده |
| زه هـــرچا لره ښه غوارم | زه چـې ځان لره څه غوارم |

دانسان له پاره امن ، دمسلمان له پاره امن او دافغان له پاره امن يې خپل شعار ګرځولی اوخپل دغه شعاردا سې وړاندې کوي:

بیا جــــــهان تــه ورکوي دامــن زیری
راوینښ شوی مسلمان دی نوی نوی
زوړتړون موپه داوخت ګوري هیرنه شي
نه اســلام اونه افغان دی نوی نوی

خو زموږ د وخت شاعر اسدالله حنفي ناهیلی او انا امیده نه دی ،هغه عقیده لري چې لوی او مهربان خدای به له خواږه وطن افغانستان څخه

دجنګونواو نفرتونوځپه ليرې کړي، دلته به سوله وي، دلته به امن وي اودلته به خوږه وروروليې وي ، نوبيا به ټول افغانان لکه دخوږو وروڼو غوندې ديوبل ترڅنګ دوروری اوخوشالۍ ژوند کوي ، وطن به ودانوي ، ديوبل پرزخمونوبه پټۍ لګوي اويوبل ته به دمينې او وروړګلوۍ غيږې ورکوي اوهغه ورځې به بيا راشي چې افغانان به ديو اوبل په مينه نه مړيږي ، دی وايي:

خدایٔ به کړي تيرې دجنګونو شيبې — ددې کشتار ددې مرګونو شيبې
داخوت فضا به جوړه شي بيا — تل خوبه نه وي دبريدونو شيبې
دسولې لمربه مو وطن رڼا کړي — نه به وي دا دتورتمونو شيبې
يوځل به بيا شو سره وروڼه وروڼه — نه به وي تل دا دګوندنو شيبې
تمام هيواد کې به خوښي خوښي وي — چې به تيريږي دغمونو شيبې
بيا به کابل له خوشالو نه ډک وي — ضروربه دروميي دويرونو شيبې
بيا به بلبل خوږې سندرې بولي — شي به نابودې دباړونو شيبې

بيا به راځي زموږ تا ټوبي لره
د حنفي دغزلونو شيبې

محمودآيازلکه څومره چې دسولې،امن اوانساني خواخوږۍ له پاره خپلې هلې ځلې جاري ساتي خو لکه د نورو زياتو شاعرانو په شان دومره ډير هيله من هم نه ښکاري اوخپله نا هيلي نه پټوي لکه چې وايي:

په هغه ښارکې دنفرت سيلۍ په ځرپ تيريدې
په هغه ښارکې په سپرلي کې هم ګلان نه کيدل
هلته له بده مرغه وچ ولو شوندان دسهار
په هغه ښارکې ارزوګاني وارخطاوې ټولې
هلته شيطان غوښتو امان له انسانانوڅخه
هلته اسمان هم دربهاری د زړګي اوريدو
هلته شريفوانسانانو تويولې وينې
هريو وجود وچاکې چاکې دګريوان په شانې

پہ هـــغه ښارکې چا د چـــاپوښتنه نه کوله
هلتـــه درزونه دزخـــمونو هيچا نه ډ کول
هلتـــه فرياد هـــم له هيبته چيغه ونه کړله
هلـــته دظلم پہ ضد درد هم احتجاج ونه کړلو
هلتـــه خو ورځ هم پټه خوله وه له هيـــبته څخه
هلـــته ضميرهم مختيوی د جـــبر ونه کړلو
پہ هغه ښارکې ژوند پناه غوښته له مرګه ځيني
هلته مظـلوم اوښکه له ډاره تويــولی نه شوه
نه خـــوبخت وژړل دهغه ښارپه خلـكوباندې
نه وخــت په هغو بد حالاتو مضــــطربه شولو
هلته ناحقـــه شوټوکرټوکـروجود دژوندون
هلـته ناحــقه له زخمونو شــوې ټټاکې جوړې
هلته پہ حق ويلوبانـدې ډيرې ژبې پرې شوې
پہ هـــغه ښارکې پاچـــهي دبې ضميرو وله
له مرغلـرواوښـکو جوړې شوې ټټاکې دخيال
پہ هـــغه ښارکې دليوانـوژوندون ښه تيريدو
مادبشــــــرپه تن وسروجاموته نه شوكتی
ما دهـــغو خلـكوپه حـال ماتم كولی نه شو
زه دمـــــاتم پہ تورلباس کې له وطنه راغلم
زه بـــې پوښتنې له خـورمنه انجمنه راغلم
دلتـه هم چا زموږد وطـــن پہ حال ژړاونه كړه
دلته هم چا زموږ دزخـــمونو هيڅ دوا ونه كړه
ماد جـــــهان له انســـانانو نه مايوس وګڼه
اسمانه ته راسره مل شــــه ته مې مرسته وکړه
ته خواسمان يې ستاسينه به وي له مينې ډكه
ته دظـــــــالم پہ سرباران درحمت و وروه

چې بـــــــيا ژړا دمظلومانو په زخمونو وکړي
په مهـــــــربان نـظر خوږمن وطن ته وګوره لږ
څنګه ناحقه شو تو کرتو کروجود دژوندون
څنګه ناحقه له زخمونوشوې تناکې جوړې(۱)

محمود آياز له خپلې ناهيلۍ سره سره دهغه انسان تصويرانځور کړی دی چې دانسان په جامه کې دليوانوعادت لري اونوروته ضرررسول يې خپل نصب العين ګرځولی دی لکه چې په لاندې شعرکې ګورو:

موږه څه يو ؟
يا کاڼه يو
يا رانده يو
يا په شکل انسانان يو خوليوان يو
دخپل ځان سره په جنګ لاس اوګريوان يو
موږه څه يو ؟
ما جتونه
ما ندرونه
موږپه سرووينو ځانونه ولړلو
دنفرت په بدبويۍ مو ايمانونه ولړلو
موږه څه يو؟
نفرتونه
زخمتونه
موږپخپله دې کرلي په دې ځمکه
چا دې وينې بهولي په دې ځمکه؟
موږه څه يو ؟
زه جلاد يم

۱- دمحمود اياز اثر، تناکې خيال . کويټه ، بلوچستا ن

ته جلاد يې
ديوبل په وينه پايو ظالمان يو
خلافت دځمکې زموږدی پاچاهان يو (۱)

خوموږبايد ناهيلي اومايوس نه شوځکه هره تياره په ځان پسې رڼا لري.همدالامل دی چې د خوست ځوان شاعرساده حيدرخيل ناهيلۍ ته لغته ورکوي اوديوه خواره ژوندون په هيله غړ پورته کوي او داسې وايي:

شپه به کړي رالنډه دسحرجــامې به واغوندي
تکه سپينه ورځ به شي دلمرجامې به واغوندي
ګوښــې دالفت اومحبت دنيـــا به جوړه کړي
ستوري به پخلا کړي دقمر جامې به واغوندي
ګرمې به دسولې نغمـــې بيا په سرکې ونيسي
بازبه په بـــام کينني دکوترجامې به واغوندي
زړونوتـــه به ورکانـدي پيغام دپاکې مينې زر
شــــوخ نظرديارد پيـغمبر جامې به واغوندي
خدای کــه دساده په ژوندکې نوی تحول راوست
ښې ښــــکلې رنګينې د هنر جامې به واغوندي (۲)

دسولې اوامن دتأمين په اړه د ساده حيدرخيل په زړه دامید زړی راشين شوی او غزونې کوي لکه چې وايي:

بيا مې يواميد دزړه مزارکې راشين شوی دی
دالکه ګـلاب په وچ ګلزارکې راشين شوی دی
ژوند مـــې دباروتوپه لوګيوکې تورسوی دی
روح مې دجـنګونو په ديارکې راشين شوی دی

---

۱- دمحمود اياز اثر، تناکې خيال، کويټه، بلوچستان
۲- ساده حيدرخيل، دمحازجريده، دريم مخ، ۱۸۳ ګڼه

ځنګه چــې ښکاره دکائینات په آئینه کې دی
داسې هم ساده ته په هرکارکې راشین شوی دی [۱]

قاضي فضل غني کامه وال ددغه شان نادودو اوناخوالودله منځه وړوله پاره دیوه داسې سالار، مالیاراوغمخواروجود لازمي بولي چې ددغه ډول ناوړه حالاتو دله منځه وړلوتوان او قوت ولري اودیوه داسې سهارپه رابره کیدوکی مرستندوی واقع شي چې دهیواد په پراخه لمن یې تورې تیارې خپرې کړي دي لکه چې وایي:

چې داشاړباغ پرې آباد شي مالیارکوم دی ؟
چې پرې داخزان بــــهار شي بهارکوم دی ؟
چې روانــــــــه قافله کړي خپل منزل ته
داسرکښ دســـــمې لارې سالار کوم د ی ؟
چې پریشـانه زړونه یوموټي کې ځای کړي
ددې مـاتو زړو دوصـــــل فنکار کوم دی ؟
چــې دا ورانـــې جاړې کړي له مخې سمې
نــن ددې له پاره داسې غمـــخوارکوم دی؟
چې تیاره دتورې شپې پرې سبا کیږي
هسې ستـوری دسبا او سهارکوم دی ؟ [۲]

محمد آصف مهجورمومند بیا ددغه شان ناخوالوپه وړاندې دحوصلې او داسقامت غوښتنه کوي اودیوه داسې زعامت اومشرتابه له پاره لاس په دوعادی چې هیوادوال سره پخلا اوملي وحدت تأمین کړي لکه چې وایي:

لویه خــدایه حوصله ا ستقامت را پخه ژبه مـــې تیره کړه فصاحت را
بغض کینه عداوت واړه رانه واخله په بدل کې دوستي ، مینه مروت را
لوریــدنه دتاریخ یوزرین باب دی داســـــلام دلومړي دور اخـوت را

۱_ سا ده حیدرخیل ،د محازجریده ، دریم مخ ، ۱۷۷ ګڼه .

۲ قاضي فضل غني کامه وال. دمحاذ جریده . دریم مخ ، ۱۷۹ ګڼه

چې دقـام اودوطن په درد دواشي مؤثـــربشپړ علاج ملي وحـدت را
پخـــــلاینه دملت چـې یې آرزو وي
ښه مخلص مقبول زعیم او زعامت را [۱]

ظاهرزایرځاځی دغه ټولې نادودې اوبدې ورځې دپردیو دلاس وهنوله امله بولي او دخپل خواږه هیواد دزخمي زخمي بدن په ویرکې خپلې اوښکې داسې تویوي:

دخـــــپل زخمي زخمي هیواد دپرهرونو په درد
که دهجرت په تورو شپوکې زه دلګیروژاړم
وروروپه ورور وژني په کوربه باندي یې کور ورانوي
د وروروجـنون که ددښمن دغه تذ ویر وژاړم
پوهـــــنتون رنګ، مکتب ویجاړد استاد کورتالاشو
زه دښوونځي ما ته تخته که تباشیر وژاړم [۲]

زړه سواند شینواری په ډیره حیرانۍ دهیواد دوامدارکړکیچ او تاوتریخوالی ځاري او خپل غږ داسې پورته کوي:

له کـوم ځای با دونه راغلل له اوږویې زما غلا کړه
په ګولو سورۍ شړۍ مې خړو دښتو کې شوه ورکه
دوطـــن وینې او اوښکې اباسین سره شوې ګډې
زمـــــا زړه ورسره لاړه له کابل نه تـــر اټـــکه [۳]

خزان دوطن دناورین دله منځه وړلو له پاره علم اوادب ضروري بولي اودلوی خدای په دربار کې زاری کوي چې دوطن دبچیانوپه زړونوکې دنفاق اوبد بینۍ پرځای دعلم اوپوهې مینه ځای کړي اوداسې وایي:

خدایه! زوی ته دافـــغان عـــلم وادب را
ذوق اومـــینه یې ورتلو ته د مکتب را

---

[۱] محمد آصف مهجور. د محاذ جریده. دریم مخ. ۱۸۰ ګڼه
[۲] - ظاهر زایرځاځی. د محاذ جریده دریم مخ. ۱۸۴ ګڼه
[۳] - زړه سواند شینورای. دمحاذ جریده. دریم مخ ۱۲۳ ګڼه

چې په يوه ښوونځي کې واړه سره ټول وي
کرکـــه مـــوږ ته له فرقې اوله نسب را
چې دګـــــران وطن ميـــرې واړه ګلزار کړو
په وطن کې دکار توان په روزوشب را
خزان وايـــي د جګړې اور راته مړ کړې
ته پخـــپل قدرت امان له دې غضب را [1]

دهيواد يو وتلی سياسي اوادبي شخصيت شهيد محمد موسٰی شفيق له خپل وطن اوله خپلو خلکو سره مينه هغه ځنځيربولي چې ديوچا په غاړه اوپښوکې پروت وي اوکومې خواته دتللو توان يې له لاسه ورکړی وي دوطن دمينې اومحبت دغه ځنځيردشهيد محمد موسٰی شفيق په غاړه اوپښو کې پروت اود خپل خواږه وطن غمونوخندا ترې هيره کړې ده لکه چې وايي.

غمازمې حايل کيږي ما آشنا ته نه پريږدي
ځنځيردمـــحبت مې بلې خواته نه پريږدي
اغزي مې خواره شوي دراحت په بستره کې
غمونه دوطن مې خوب خندا ته نه پريږدي
د ږ ږ چـــــينجو دلاسه آباد نه شولې وطنه!
داځيـــــني خائينان دې ارتقا ته نه پريږ
پرګل دښـــکلي مخ دې چې کوم نغمه خواني
دې زاغ، زغن ته ګوره مانواته نه پريږدي
چې وينم رقيبان دې په انګړکې حلاليږم
داولې مې جانان يوازې ماته نه پريږدي [2]

---

[1] - خزان . دمحاذ جريده ، دريم مخ ، ۱۷۲ ګڼه
[2] - شهيد محمد موسی شفيق ، دمحاذ جريده ، دريم مخ ، ۱۷۳ ګڼه

له افغان سره مینه، له انسان سره مینه اوله جانان سره مینه هغه څه دي چې انسان ته له انسانیت اوبشریت سره دمینې پیغام ورکوي .
انجینرمحمد رحمان کمال دغه مینه داسې انځوروي:

پښتـــــون بابا ویل د ډیلي له تخته
ما ته خـــــرپړکور دافغان خوږ دی
په دې نړۍ کې رنګا رنګ خلک دي
چاته دولـت چا ته انسان خوږ دی
کمـــــال ناري کړي ددنیا په مخ کې
خـدایږو له هرڅه نه جانان خوږدی

ګل نبي ارمان له زیاتو ارمانونوسره اوله زیاتو دردونوسره په هیواد کې دامن اوسولې په هیله خپلې اوښکې داسې څڅوي

لـــکه چې نورموله تیږي مرغۍ نه ساه وخته
پاڅه جانانه دزګیـروي آواز له کومه راغی
داچې کبــــلي خواره واره پردامانونوځغلي
بیا نودغشي اوښکاري آواز له کومه راغی
په ګونــــګۍ ژبه یې ویل زما شهیده پلاره
په نیمه شپه د اسویلي آواز له کومه راغی
آه دخیرې وني درپټ یې کړه وړوکی جانان
شم به میرات د مردکي آواز له کومه راغی
دزړه تنکۍ رمه یې څري د ماینونوخواکې
ورشه ارمانه دشپونکي آواز له کومه راغی

پوهنمل معین مرستیال باجوړی دهیواد دحالاتوترژورتحلیل وروسته ټوله پړه اوملامتي د سره ښامارپراوړو وراچوي اوخپل غږ داسې پورته کوي

مستي مـې شوله مړاوې اویادونه زلزلې دي
خوبونه پریــــــــشانه ژړیدلې اندیښنې دي

سپرلی کـــړه په شاده اوزما له کلي ځغلي
سره يخه سيـــــلۍ اودبلبل سوي نغمې دي
نارامه ولولــې شوې اوخپل تيرياودنه پالي
ياربه څه مـــاتم شو دادې ورځې اوکه شپې دي
مستۍ اوخوشالۍ څوکوه قاف ښامارتالاکړې
مرګي ته اوس درشل کې ښامارګوتې اوپلمې دي
خـــوږه شـــانې فضا وه اوډيرخوږ زما هيواده
داڅه درباندې وشول چې آسمان ته دې لمبې دي [1]

ځوان شاعر«وړ» دجنګونواوهجرتونوله مصيبت اوکړاوڅخه ډک حالت داسې انځوروي:

په لاس نـکريزې اوپه سپينه تنده خال نه لري
زموږښدلې پـــيغلې حسن لري خيال نه لري
چې له تورخمه اوړې سترګوته دې لاس ونيسه
جونې يې تولې دي سرتورې په سرشال نه لري
وحشي تـوپان به مې پردې دخيمې خودجګوي
پردی وطـن دی کورمې شاوخوا ديوال نه لري
يوځومـــــووژني اويوځوموزولنوکې تړي
چـــا ورته ويلــې دافغان قتل وبال نه لري
دوخت له هرجنګه مې قوم وي تل بری راوړی
خو «وړه» يويې هم په غاړه کې مدال نه لري [2]

ناصرمومند که له يوې خوا دخپل کوراوکلي دامن اوسوکالۍ له پاره دوعاکوي ، نوله بلې خوا دهغه چا دکورلولپه کول غواړي چې زموږپه هيواد کې يې دغه اوربل کړی دی ، دی وايي:

---

[1] - پوهنمل معين مرستيال ، باجوړی ، دمحاذ کلکسيون ، دريم مخ د ۱۳۸۰ کال ۱۵۵ ګڼه ، حمل
[2] - وړ، دمحاذ کلکسيون، دريم مخ . ۱۵۲ ګڼه

په وطن کـې مې نور مړدغم دا اورکړه
بل ځـراغ دخوشالۍ مې په هـرکورکړه
دحسد اواضـطراب تیارې رڼا کړه
دالفـت وړانګې خورې په هـریو لـورکړه
ته وحـدت او وروړګلوي موږته عطأ کړه
له نفـاق اوخودبینۍ نه موزړه تورکړه
ټولې شـاړې دوطن مې کړه ودانې
سمه غرمـې دوطن ربه سمسورکړه
دغـمونو په اورونو مې زړه وسو
په دارو دخـوشالۍ مې زړه ټکورکړه
دلته شـورد ژړیدو دی نورځه نشته
ته په سـوردخوشالۍ بدل داشورکړه
چې زمـا کوریې په اور لمبه، لمبه کړ
لویه خدایه ددوی کورهم سوی سکـورکړه
اې ناصـره دا دوعا ملت ته وکړه
یودبل دزړګي سرد سترګوتورکړه (١)

په بل ځای کې داسې وایي:
پـراته یوداورونواولمبوپرځمکه موږ
اوسیـرودسروویـنواوجګرو پرځمکه موږ
خوښي موخوښه نه ده اضطراب ته غاړې وځو
بدبخته یوچې خوښ یودسلګوپرځمکه موږ (٢)

١- ناصرمومند، دمحاذ کلکسیون، دریم مخ، ١٢٣ ګڼه.
٢- ناصرمومند، دمحاذ کلکسیون، دریم مخ، ١٨١ ګڼه.

نذیراحمد سهارنه یوازې پخپل هیوادکې بلکې په ټوله نړۍ کې دجنګ اوجګړوسخت مخالف دی.په تیره بیا چې په وطن کې دجګړوداورونوشنې لوخړې ګوري،نوخپل غږ داسې پورته کوي:

هلتــه په غــره کې ورې ځالې دمرغیووسوې
د جنــــت پا نې مې د ښار ځولیونیو وسوې
هغه دي بیا داور ویشتونکې په کمره ولاړدي
د کونړځنــــې یې په رنګ د سپیلنیو وسوې
ماوې یوه ځمکه ده اسمان هم په موږاوروروي
دننګــــترځانګې مې سکروټوسروړلیووسوې

په یوبل شعرکې دغه احساس ته داسې انعکاس ورکوي او وایي:

دپامیرهسکې شــوې راټیټې دجګړې لمن ته
ټیټې اوارې سانــدې بولي ځوریدلې خاورې
سوله دې نشته پــښه نیولې نه رادرومي په تا
ټپي ټپي ده په ځیــګرخوږې ښاغلې خاورې
وینې به نذرکړي ســــهارستا له پرونې ځنې
زربه دې ناوې کاندي سوله زما ښکلې خاورې

محمدصدیق پسرلی چې دغزل دبابا امیرحمزه شینواري نه وروسته زموږدوخت دغزل استا د بلل کیږي دمینې ، محبت اوخواخوږۍ دخپرولوله پاره خپل پیغام داسې وړاندې کوي:

خدایه ! زړه مې کړې دحسن دباغ زړی
چې هرځای یې ږدم اومینه ترې ټوکیږي
ربه روح مــې دښکلا د ډنډ پري کړې
چې دحــــسن په جلووکې دې پټیږي

ګل اغا احمدي وردګ دژوند ټولې ښیګنې اوبریاوې په سوله اوامن کې ګوري اوخپل دغه پیغام ته داسې انعکاس ورکوي:

که د تور وشپو تورتم په تښتېدو شي
بیا به بل شي سپین د سولې چراغونه
احمدي به ښه راغلاست وایي سهارته
جوړوي به داباد ژوند محفلونه

---

احمدي افغانان ټول دي ورته تږي
بیا د سولې د راتللو ارمانجن دي

---

موږ د وحشت لمبو یو سوي سولې!
ځکه ارمان دي د دیدار کوو ټول

---

ستا به هسې راتګ څه کړو چې له سولې نه خالي وې
وایه ولې مرور یې اې زموږه پسرلیه!

---

غیږه به ترې ګرځوم نیسم به یې دا ځلې
سوله مې پخپل کوراو دیارله مانه بیله ده

---

| | |
|---|---|
| که د جګړو بلاوي ماتې نه شوې | که موږ د سولې همبسترنه کړې بیا |
| که مود پوهې تمدن لارې ته | پخپلو متو برابر نه کړې بیا |
| که موخورو ورو وګړو ته بیا | دمینې مینې سپین ډګر نه کړې بیا |
| ستا غیرتي زامن به نه یو موږه | زما هیواده که مولمر نه کړې بیا |

میراجان خیا م هغه څوک تلپا تې ژوندي بولي چې د نورودخوښۍ اوسوکالۍ له پاره ځان وقف کړي اوخپله هره نیکمرغي اوخوښي دنوروپه نیکمرغۍ اوخوښۍ کې ګوري لکه چې وایي:

هغوی مرګ نه شي وژلی له اولسه چې قربان شي
که ژوندی وي په مړو شمیر دی څوک چې ځانله بس دځان شي
هغوی تل ترتله پایي چې قربان شي څوک له خلکو

هـــــغوی امرشي ابدشـــي چې په دغه لار روان شي
څوک چې وقف زندګي کـــــړي دخپل قام وطن له پاره
یــــــوبابا دترنګــــزوشي، جوړ له بل نه پاچاخان شي
زرچـــــــې ښه په اورستي شي اوبيا وخوري ګوزارونه
دمحبوبې په سروشونډو څوړند هله سور پيزوان شي
چــې مــودارنګې سالاروي چې مودارنګې بابا وي
له سيالی نــه دعالم به پاتې څنګ زموږ کاروان شي

جاول خان همدم هم دميراجان خيام په شان ورته نظرلري لکه چې وايي

چې دحسد اودکينو زړونه خالي وي
خوشالــي امـــن وامان او ورورولي وي
مونـــدی نه شي ارتقاء بې له زواله
چې يې کسب دروغ، دوکه اودرغلي وي
داوطـــن لرې اباد او زنده باد مې
معــــطره په ورمو دې د سپرلي وي
هرپښتون دې دپښتوکارونه وکړي
چــــې تل يـاد لکه خالد او ابدالي وي

عزت الله پيژاند کندهاری چې د سولې امن لږ څرک هم وګوري، نوپه جاموکې نه ځائيږي او بې دريغه يې له خولې څخه داسې غږ راپورته کيږي توپکه استابدمرغه خوله چې ترينه واوښتله

په دغه ښارکې شولې جوړې په سلګونومانۍ
که نورې هم دادباروتولمبې مړې کړې ربه!
سر به شي جوړې پاس دغرونوپه سرونومانۍ

شيرزمان طايزي چې پخوايې «غمجن» تخلص کاوه له انسانيت سره مينه .له سولې اوامن سره مينه اوپه مجموع کې له هرچاسره مينه په خپلوزياتو شعرونوکې ځلولې ا و ځای کړې ده . ځکه دی باورلري چې

نړۍ په مينه ودانه ده اومينه ده چې انسان دترقۍ اوپرمختګ لوړو پوړيو
ته رسوي چې دادی ده په يوځو شعرونوکې دهغه دزړه اواز ګورو
دهرچـا مينه ځايومه زه دزړه په خونه
دلته دمـــــينې يو تېردی چې منــې اوکنه
دکوراوکلي دوړولويو پيغوراوتورته
نيــولی دې غمجن تېردی چې منـــې اوکـنه

---

زه دې اورمه پندګره خوزما هم يوه واروه
يودمينې تکی زده کړه بيا به ستا ،زما جرګه شي

---

بـندګي دخـــدای خدمت دمخلوقاتو
بې خــلوصه په تسپو او زنار نه شي
خصــــمانه دزړه دبڼ په مينه کـيږي
دکيــــنې زړی به چيرې ګلزار نه شي
دانسان په فضيلـت کې څه شک نشته
خــوانسان چې له انسانه بيزار نه شي
خوی خصلت دبنــيادم درنه دا غواړي
څـوک خپه دې په کرداراوګفتارنه شي

---

چې دمينې بيماري ده که اثردی دپيريانو
نه داروباندې رغيږم نــــه په دم دملايانو
په دې خپلو ګـــــنهګاروناکردې دخپلوګورم
ګيلـه څه ښايې چې وکړم دبد زړوغليمانو
دپښتوتندې نيولی اباسين په غاړه پروت يم
داوبو ګـــودرنيولی ديزيد . شمرپوځيانو

چې ګمراه که منافق دی او که چورلټه کافردی
چې غندي څوک حق غوښتونکي په مجلس دشهیدانو

محمد زبیرشفیقي ترډیرانتظاروروسته بیا هم ناهیلی ښکاري اوفکرکوي چې په امن اوسوله کې زموږدخلکو نصیب نشته نو داسې وایي

ورته موتیرې کړلې ورځې دبهارپه تمه
خویوپربل پسې بې شمیره خزانونه راغلل
امن اوسولې ترینه ګډه وکړه بل لوري ته
جګړوته مخ شو د توپونو اوازونه راغلل

اروابناد عبدالروف بینوا خولا پخوا دسپراوتورې ماتولوته ملاتړلې وه او هڅه یې داوه چې له اوسپنې څخه یې یوم اولورجوړکړي ترڅو د تخریب پرځای عمراني چارې پرې ترسره کړي او په دې توګه درنګ اونژاد هرډول توپیرله منځه یوسي او دانسان په نامه دانسان جهان جوړکړي لکه چې وایي

ماتوم سپراوتوره ترې یوم او لورجوړوم
دجنګ له تورو تیږو دسولې کور جوړوم
توپیردرنګ اونژاد ، نه پیژنم ، نه منم
جهان کې یورنګ جهان دسپین اوتورجوړوم
د دښمنۍ اوکرکې وراسته تورونه شلوم
دمحبت له ذرو دسترګو تور جوړوم
چې سپیلنیو غوندې د باداری تخمونه
پکې لوګی لوګی شي هغه سور اور جوړوم
هغه طاقت له پاره چې دبل کور ورانوي
دخپل بقا په قوت دفنا سور جوړوم

کُرې دلـــمراوسپوږمۍ دلاس تناکوکې دي
ځمکه چې لاندې ترپښو ،نوی انځورجوړوم (۱)

عاصي اشنغری دسولې،امن ، مینې، وروږگلوۍ اوخواخوږۍ چیغه دپښتونخوا له خیبرڅخه پیل کول غواړي اوبیا یې ټولې نړۍ ته درسولوتکل لري لکه چې وايي:

ځئ چې ژوند له غاړه ورکړوغزل پرېږدو
ځئ چې شونډې،سترگې پرېږدو اوربل پرېږدو
ځئ چې واړه ساده مینه شو خلوص شو
ځئ چې خپلوکې دا جنگ او جدل پرېږدو
ځئ چې یوشوچې غم یو ښادي یوه کړو
ځئ چې پاڅو او خبر تپه تپه کړو
ځئ چې وشلوو تیارې د ظلمتونو
ځئ چې لاره دمنزل ځانته رڼه کړو
څو به موږه دیوبل په غوښو پایو
څو به موږه د غرض غرض قصه کړو
ترڅو موږه به یوبل په کانو ولو
ځئ چې مړو! ورووليې خپله خوږه کړو
ځئ چې غږ شو د خیبرد تاترې نه
ځي چې دا چیغه په ټول جهان خوره کړو (۲)

سلیم رازدانسانانوپه ځانگړې توگه افغانانودخوښۍ اوښیرازۍ له پاره دستر پروردگارپه حضور کې خپله دوعائیه داسې وړاندې کوي:

اې دښایست اورنگینوخالقه! دونو، بوټو د سپرلو خالقه!
څه ښیرازيّ خودې دلې راوله دخوشالو دِکې ولې راوله
پوټی خندا خوبي په خولې راوله لږدانسان په ژوند سپرلې راوله

۱- ژوند اوفن ، داجمل ختک راغونډ ونه ، ۱۸۲ مخ
۲- عاصي اشنغری، ژوند اوفن داجمل ختک راغونډونه.

چې څه تـازه دژوند ګلان شي ربـه !
جهان دمـــينې چې ودان شـــي ربه !
چې دا انسان خودې انسان شي ربه ! (۱)

منتظربيتهی له شمعې سره دزړه راز اونيازکوي،څکه شمع هم خپل چاپيريال ته رڼا ورکوي او تيارې له منځه وړي اوشاعرهم لکه دشمعې په څيرسوزي خو خپل چا پيريا ل روښانه کوي او تورتمونه له منځه وړي اوپه دې توګه منتظربيتهی دنورو انسانانودکورونو دروښانه کولوله پاره خوږمن انسانان داسې رابولي

ته هم دښـــــــــــــمنه دتياروېې دمحفل په خاطر
زه هم دنيـــــــــــــا نه تاريکي داستبداد ورکوم
دخدای مخلوق ته چې ځان خدای کړي بندګي ترې غواړي
داســـــــــې نمرود ،داسې فرعون ، داسې شداد ورکوم
ته هــــــــم هرکـــــــس ته دمحفل په يوه سترګه ګورې
زه هــــــــم انصاف ومساوات خوښوم بيداد ورکوم
ته هــــــم دا غواړې چې تياروکې سره څوک ونه خوري
زه هــــــــــم دامن طرفدار يمه فساد ورکوم
خـــــــــولنده داکه پـــام پرې وشي دواړه يويوسره
دواړه يـــــــــــو څـــــلنده سحروته په دو يو سره
وايـــــــم د چا تـــــــاريکه خونه دې رڼا وي خيردی
کـــــــــه څوانه ويـــنه لکه تيل مې ورته تل بليږي
زما دســـــــــــــونې برکـــــــــت دې درڼا اثردی
داچې مشـــــــــــال غوندې هرغړی دمحفل بليږي
په خپـــل مرام پســـــې خلـــک تل خپلې ځوانی لوګوي
خـــــــــودا زمـــا پـــــه کړو اور ولې په چا بل بليږي

---

(۱) سليم راز ، ژوند اوفن ، داجمل خټک راغونډونه، ۹۴ مخ

راځــــه لوظ وکړوچــــې به مــــوړله چاګیله نه کوو
ډیـــــــوې' که اورموخــــو په زړه اوپه ګوګل بلیږي
زمـــــــا اوســـــتا مــسایل یودي په یوشان به سوزو
دواړه تکـــــمیل پســــې دیوښکلي ارمان به سوزو [۱]

مختارمحمد مختار دسولې ، امن اوثبات په اړه خپل پیغام داسې وړاندې کوي:

ښه ښکلې فضا دوروروولۍ اواخوت غواړو سوله امنیت غواړو
موږ دافغانانو ترمنځ مینه، محبت غواړو سوله امنیت غواړو

دا اولس مختاره قیادت دهغه چا غواړي
هرچا چې دسولې او قرار لمنه ونیوه

دامن اودسولې بیرغ پورته کړه اوچت شه
دجنګ خبرې پریږده دجنجال خبرې پریږده

چې په ګرده اســــیاکې سکون راشي
دارنګ امن غواړم ګران افغانستان کې
لیرې نه ده چې دا وران وطن بیاجوړکړي
خوکــــه لږفکرپیداشي په افغان کې

تمــــایزدرنګ اوبوی په موږ حرام دی
یوګلـــشن تـه موبهار اوخزان یو دی
هزاره،تاجک،پښتون،اوزبک که نوریو
زموږغـم اوزموږ درد ته درمان یودی

[۱] - منتظربیټنی ، ژوند اوفن ، داجمل خټک راغونډونه ، ۱۴۹ مخ

هيـــځ غـــرض موسره نه شي بيلولی
دې وطــن دمسلمان کې افغان يو دی

---

چې زړه يې سوزي په انسان هغه انسان غواړمه
هرمســـلما ن درنه ريښتنی مسلمان غواړمه
نه غواړم دا چې اقتدارمې وي کرسي مې دې وي
په ګران هيواد کې درنه امن او امان غواړمه
لويه څـــــــښتنه د قدرت او دحکمت ما لکه!
ستا په جهان کې دخوښې ښکلی جهان غواړمه

رحيم دادهمزولی خپل ګران هيواد افغانستان دتاوتريخوالي او تشدد له امله له محشراو کربلا سره تشبه کوي اود روان ظلم او ناورين په وړاندې خپل غږ داسې پورته کوي

دلته محشـر دی، کربلا ده مينه څنګه وکړو
اشنا دســـرومال سودا ده مينه څنــګه وکړو
دګل ورين سهارپه تمه خونړي ماښــام کې
ګام په ګام ويردی اوژړا ده مينه څنګه وکړو
مينـــه دوينې په تول پلوري دپيسو ليوني
څـــــومره دظلم انتها ده مينه څنـــګه وکړو

اوبيا وايي:

توري تيارې دي د رڼا ارمـغان ليـــرې ښـــکاري
ګرد يې ړانده کړو .خودسولې کاروان ليرې ښکاري
تد بيـــر په کار دی چيرې نه جاله مو ډوبه نه شي
سيند توپاني دی بې وقوف جاله وان ليرې ښکاري

---

دسولـــې کورته به ورځو که په اغزوخيږو
خيردی منويې که داور په سرولمبوخيږو

منزل مولند دی که اوږدې لارې موووهلې
اوس به نــوولې سربېرې په پښتوخيږو [۱]

دپسرلې په راتګ سره چې بیاهم په هیوادکې دامن اوسولې څرک نه لیدل کیږي. نوفضل الرحمن رحماني توتاخیل په دغه شان حالت کې خپل تاثرات نه شي راقابو کولی اوداسې وايي:

هلته به شل پسرلي نورهم په ماتم تيرشي
دامن دغه پسرلی چې ترکابله رسي

خوځوان شاعراولیکوال نجیب الله عامربیا ددې مایوسۍ دله منځه وړلوله پاره خلکوته ډاډ ورکوي او دیوه داسې چاپیریال خوبونه ویني چې هلته سوله وي، امن وي اوثبات وي. دی وايي:

که یودامن پیغمـــــــبرپه دغه لاره راغی
داتور دیــوان به کډې ونغاړي محله ځنې
په دې پوه نه شــــومه چې کومې بلاوخوړلو
موږغټ دښمن وپورې ویستی له تونله ځنې
زړونه د واړومـــــــاپروبه ضرورتخنيږي
که ســندریزې نغمــې راشي له کا بله ځني

---

داتړیوال به یوځل بیا ګوته پــــه خوله شي راته
دتورې شپې نه پس روښانه سپین سحربه راشي
دنفرتونود بتــــــانـــــو کپری به پرې کړي
دمیــــــنې پیرتبر په لاس زوی د اذر به راشي
چې دجــــــهان نقشه کې نوم دکابل جان راولي
نجیــــب اله یوڅوک ربښتینی انځورګربه راشي

---

[۱] - رحیم داد همزولی، دتیاروزګیروي، دشایق ګرافیک کمپیوټري. مطبعه. جلال آباد. ۱۳۸۲ کال

پرښتوپرې مــــې رېدئ ارام وکړمه سترې یمه
دجنګ پرستــــود وطن یو سپیره مړی یمه
پـه هسک غرورمې دجابروختونووس نه رسي
پـه صف دتېــــولو لیونیو کې ځانګړی یمه
منم دخاورې پـه ســـــــینه مې غزونې کړي
زه ښــــکلاګانې زیږوم دمینې زړی یمه
پـه جلال کوټ اوپـه باګرام کـې هلې ځلې کوم
چې لراوبرپرې یوځـای کیږي هغه پړی یمه
هومالیدل دسپین قبا لاندې تک تورجسمونه
همـــــدوی منبرنه میکدې طرف ته وړی یمه

درمحمدافغانیاردیوقوم نیکمرغي اوسوکالي پـه یووالي اوپیوستون کې ګوري ځکه خونود وطن اوزموږدهیوادوالوپردښمنانوغږکوي چې ددغه قام له بیلولو اوپخپلوکې له یوبل جنګولو څخه لاس واخلي . دی وایي

دغه دیوبابا بـــــچوړي سره مه بیلوئ
دغه سکه وروڼه پخپلوکې نورمه جنګوئ
ستاسودالراو داربلونه زموږنه دي پکار
دغـــــه ناچله سکې نوره دلته مه چلوئ
وینې بهیږي دځــوانانوقتل عام جوړشوی
دا زهرجــــنې سلاګانې راته مه جوړوئ
دیوهیواد اولس مویودبل دښمن جوړکړی
دشهیـــدانو او غازیانو وینې مه خرڅوئ
دافغانیار دسترګو اوښکې نورې وچې شولې
نوریې له سترګونه دوینو اوښکې مه بهوئ

دپکتیا ولایت داریوب ځائیو دمنډهیردغره پـه لمنوکې پیداشوی اورالوی شوی ځوان شاعرنورالله غازي یار نه یوازې پخپل هیوادکې دتاوتریخوالي اوجنګ جګړومخالف دی بلکې دنړۍ پـه هر ګوټ اوهره

پېښه کې دظلم ، تجاوزاو انسان وژنې په وړاندې خپل نفرت اوکرکه څرګندوي چې دده دغه احساس دهغه په لاندې شعرکې ځان راښکاره کوي چې دعراق د پرګنو غمجن حالت پکې انځورشوی دی :

هلته عراق د فالوجه په ښارکې
تنکي تنکي او ګلالي ماشومان
دي مرګي حاله پراته
په ښکلي تن يې دي جامې دوينو
پريشانه موريې له مخونوڅخه
په مړو مړو اوښکو باندې وينه مينځي
هلته عراق د فالوجه په ښارکې
ناوې خپل خوږ خاوند په خوب کېويني
چې يې په بم کې وي بدن الوتی
دبدن غوښې يې خزان دوچو پاڼوپه څېر
په خړه ځمکه تکې سرې خورې ورې پرتې وي
ناوې ناڅاپه کيني سره پالنګ کې
په ښکلي مخ يې تورې تورې اوښکې لارې وکړي.
بيا په سلګوشي
له ديوال نه دخپل ګران جانان تصوير راواخلي
غيږکې يې ټينګ ونيسي
بيا يې په سروشونډو په مينه ښکل کړي
بيا لوی څښتن ته په سجده ولويږي
په تورو اوښکو لمدې سرې منګولې
پروردګارته په دوعا پورته کړي
خدايه ! زما جانان ته سور اور دګلابو ګلبڼ وګرځوې
خو!
دمغرورې امريکا

هغه دجنګ وزیر
راځي دفالوجه ښارته په ډېره خوښۍ
خپل زړورسپاهیان په غیږکې نیسي
او بیا ټول پوځ ته دکریسمس مبارکي ورکوي [۱]

داهم دځو نورو ځوانوشاعرانو دزړونو اوازونه دي چې دسولې ، امن اوخواخوږۍ په اړه وړاندې کیږي :

<u>محمد عزیز غروال :</u>

موږ پټې کړي نه دي سترګې دسپرلو په غیږکې
عادت مـوکړی دخـزان سرو سیلو په غیږکې
دنفاق تـــــــخم ټوکیدلی دی مغزوکې زموږ
شپې سبـا کیږي دنـفرت اوترېګنو په غیږکې
موږ دهــجران په اورکې داسې لوغړن ولاړیو
لکه دښکلي کابل جان خوب دګولو په غیږکې
زموږ سـپرلیو کې هم خیږې دباروتوبدبوی
ژوند موتیریږي دخزان ترخوشیبو په غیږکې

<u>حاجي سیف مومند :</u>

موږ پتنګان یو ډیــــوه وینوانګار هیڅ نه وینو
موږه دځـــان پــــه سوزولو کې ډار هیڅ نه وینو
خزان وهلیو ! ځـــئ چې ورشولړتپوس یې وکړو
ډیرې مودې وشـــوې دمینې بهار هیڅ نه وینو
زموږپه کلـــي شل کلنــې شپې وزرخواره دي
په دواړو سترګو یې ړانده کړو سهارهیڅ نه وینو

---

[۱] نورالله غازي یار ، په غمیوکې لمبې ، دخاخي بابا ادبي ټولنه. چاپ ددانش خپرندویه ټولنه. ۱۳۸۲هـ ش کال، ۴۲، ۴۷ مخونه

سپوږمــــۍ ښيګنه دې منــو خولږپلوپورته کړه
په تروږمــــــيو کې روان يوخو لار هيڅ نه وينو
پــــــه خـروارو ورته پرتـــــې دي دغمونوخټې
دخوشـــــــاليو په دې خټه کې وار هيڅ نه وينو
دحال په ژبه سمــندر دژوندون چيغې وهي
چې دموجونو قرارۍ کې قرار هيڅ نه وينو

غلام سرورسيار:

داځرنـــــــګه بهاردی بلبلان په چيغو ژاړي
انصــاف کډې بارکړي بوراګان په چيغوژاړي
غــمونه په لښکرشول دخلاصون لاره ده ورکه
دشمـــــعې ساه ختلې پتنګان په چيغو ژاړي
وطن زخمي زخـمي دی په هرخواکړي فريادونه
ملـهم پرې اثـــرنه کړي طبيبان په چيغو ژاړي
دمرګ قاصـــده ولې ستا په زړه کې رحم نشته
داکـــونډې ، بورې واړه يتيمان په چيغوژاړي
ســـياره! په دې لاره ته يوازې تنها نه يې
له زړونو وينې څاڅي زاهدان په چيغوژاړي

امان الله نصرت:

دلـــته په غرونو اورغونوپرهــــــرونه جوړدي
ســپرليه مه راځه دسرووپـــــنو ډنډونه جوړدي
دلته مـــــاتم دی دســــکروټو بارانونه کيږي
دبــــشريت پرخونه اوربـــــل دی ظلمونه کيږي
آه اوزګيروي دي قتل عام جــوړدی مرګونه کيږي
ځـــمکه په وينو لمبيدلې وحـــشتونه جوړ دي
ســپرليه مه راځه د سرووپـــنو ډنډونه جوړدي

دلـــــته په سروګلـــونوويني دبلبل پرتې دي
دمـــرګي خاورې په شـــملواوتوراوربل پرتې دي
دلـــته سينې غلبيل غلبيل په هردرشل پرتې دي
دلته وحشت دی بربـــريت دی قيامتونه جوړدي
ســـپرليه مه راځـــه د سروويـنو ډنډونه جوړدي
دلـــــته ګلــــونه په اورسوي بلبلان سوي دي
ګلشن ستي،مالـــيارستي دی بوراګان سوي دي
شنه چمنونه سره لمـــبه دي شنه توتيان سوي دي
په هـــرقدم کې کــــــربلا ده فريادونه جوړدي
ســـپرليه مه راځه دســـــرووينوډنډونه جوړدي
دتوپ اوټانـک شپيــلۍ غړبړې ترانې نشته دي
بلبل دګـــل په ډنـــډر ويرکوي نغمې نشته دي
دارغــــوان اودنـــــارنج دګل ميلې نشته دي
ويراوســـلګۍ دي هرمحفل کې ماتمونه جوړدي
سپـــــرليه مه راځه دسروويـنو ډنډونه جوړدي
په هندوکـــــش بلـــې لمبې دي سليمان سوځيږي
نـــــن له آمـــــونه ترخيبره ټول افغان سوځيږي
شپين غرپه وينوباندې سوردی نورستان سوځيږي
په اريـــــانا دســـــروليوانويرغلونه جوړ دي
سپـــــرليه مه راځـــــه دسرووينوډنډونه جوړدي
نواې سپــــرليه تا به څـــه کړوستا ښکلا به څه کړو
ستـــا رنګيني اوستــــا خوږه خوږه فضا به څه کړو
په موږه بلې سرې لمــــبې دي خوب خندا به څه کړو
زموږپه برخــــه توري شپې دي تورتمونه جوړدي
ســـپـــرليه مـــــه راځه دسرووينوډنډونه جوړدي

مورپه تش لاس، سره استعمارسره جنګونه کوو
دحق له پاره هرسنګرکې غورځنګونه کوو
دازادۍ په لارکې شپه ورځ جهادونه کوو
وړو زړو کړې قيام دی خوځښتونه جوړدي
سپرليه مه راځه دسرو وينوډنډونه جوړدي
مورسنګرونوکې جنګېږو ازادۍ له پاره
ديرغلګروسروپوځونو تباهۍ له پاره
دخپلې خاورې حريت اوخپلواکۍ له پاره
په دين غزا ده هرې خواته غورځنګونه جوړدي
سپرليه مه راځه دسرو وينو ډنډونه جوړدي
زمورپاڅون به پسرلی دخوږ ژوندون راولي
داسې سپرلی چې به ريښتنی سباوون راولي
هم به خوښي اونيمګرغي هم به بدلون راولي
دازادۍ سپرلی به راشي قيامتونه جوړدي
سپرليه مه راځه دسرو وينوډنډونه جوړدي
ځانګه به نن سباکې ګل شي سره بلابه نه وي
سپرلی به راشي بلواکي او واويلابه نه وي
زمورپه خونه کې به غم نه وي ژړا به نه وي
وينې بهيږي دسروو ينو سيلابونه جوړدي
سپرليه مه راځه دسرو وينوډنډونه جوړدي [1]

[1] - امان الله نصرت،سپرلی به راشي،وينه په قلم کې،شهرت ننګيال،دافغانستان دجهادي خپرنو مرکز، پيښور، ۱۳۶۸هـ ش کال، ۲۹۹، ۲۰۲ مخونه

سید محی الدین هاشمي:

داګـــــلونــه دباغ چا تالا والاکړل
بلبــلان اخته په شوراوغوغا چا کړل
پــــــه ژړا له دې ګلونو جلا چاکړل
کوم ظالم ورباندې راغی له کوم لور
چـــې یې وران کړدبیوزلې بلبل کور
ترپــــرونه خوداباغ تازه سمسور و
دبلــــــبلو بـوراګانو پکې شور و
نن یـــې وشـــړل له باغه داځه زور و
نن چـــې ګورم نه هغه بورا بلبل شته
نه په بڼ کې پخوانۍ ښکلا دګل شته
آه! ما ولـــیده سیلۍ له کوم خواراغله
دټـــــول باغ په ونوبوټوغوغا راغله
دبلـــــبلو بــــوراګانو ژړا راغله
مالــــــیدلې چې دا پاڼې رژیدلې
لـــــه سیلۍ سره په خپله مخه تللې
ما لـــیدل چـــې بلبلان په ژړا سرشول
مالــیدل چـــې له دې باغ څخه بهرشول
مالیدل چې کورېې پرېښود په سفرشول
پـــه ډېر زوریې کوچېدوته کړل مجبور
په زړګـــې کـــې رحـــم نه و د مغرور
په تــلوتـــلویــې خپلوځالوته کتل
لــــه ژړا نه یـــې پــــه ډک زړه داویل
اې ظـــالمه تـاته څـــه په لاس درتلل
چې زموږ دخواروځالې دې کړې ورانې
ترې په زوردې زمـوږ کډې کړی روانې

چې يې داخبرې وکــړې بيا روان شول
مسافرله خــپله کـوره په خپگان شول
دسمـــــسورباغ دليــدلوپه ارمان شول
خدايزده کومې خواته لاړل له خپل کور
بيـــــا به کلــه بيرته راشي په دې لور

هوکې!
بيا به راشي چې سپرلی شي په گلونو
بيا به راشي چې وخت تيرشي دبادونو
بيا به راشي چـې ځرک نه وي دغمونو
بيا به پيل په دې خپل کورکې خوږژوندون کړي
خاطـــــــــرې به ترخې هيرې د پرون کړي (۱)

وحيده اريبزی:
ځئ چـــې نــن پوره مو دژونــدون ټول ارمانونه کړو
يه جـــــانانه! راشه چې دادښتې سره گلونه کړو
ورک پکې ريــدي، غاټول، گـلاب به هم پيداشي بيا
تږې، جـــــــل وهلی دامـوسم که بهارونه کړو
جوړې به صـــــــحنې شــي، لراوبردپښتنې مينې
يوبـــــــــل ته نږدې کـه لرې لرې قدمونه کړو
ورکې بـــه شي خاورې داسپيــرې دوړې گردونه هم
جوړکـــــــه په وطن کې د بوډۍ دتـال رنگونه کړو
ورک، ويــــــــجاړ، تالا دپښتنـــووطن به وگټو
يوبـــــــل ته اوږده که دوروری دوا مړه لاسونه کړو
ځنگ به يې ځوک لوټ کړي دپښتو دمينې ناوې مو
موږکــــــه خپله مېنه کې شوگيرخوارې خوبونه کړو

---

۱- سيد محی الدين هاشمي،خزان،وينه په قلم کې،شهرت ننگيال،دافغانستان دجهادي څيړنو مرکز،پيښور،۱۳۲۸هـ ش کال، ۷۴۲، ۷۴۴ مخونه

نشــــــــته وحیدې په یو زړګــي کې وطنونه دوه
لا س راکړه جــــانانه چې پایمـــال دا سرحدونه کړو [۱]

ریحان الله رحیمي

زمونږ وطــــــن په کنډوالو شوبدل
ښایســـــته ګلــشن په هدیرو شوبدل
افــغان ته ځای دسکونت نشته دی
ابـاد وطـــــــن موپه میرو شو بدل
مـــــایې شمـلې وې دغیرت لیدلې
اوس یـــــې غرورپه ماتیدوشو بدل
هـــــکه شمـله د دراني ټیټه شوه
چـــې یـې تاریخ تش په ایروشو بدل
په چـــــاکې مینه، شفقت نه ګورم
محبـــــت هـم په دښمنو شو بد ل
چې یې خوښي اوخوشالي وه په کور
نن یې ژونــدون ټول په غموشوبدل
ریحان لګـــیا دی په ژړا او سلګو
چې دود دستور دننګیالو شوبدل [۲]

نواب خان درویش ځدران

یا خومازدیګرکې هغه خوند نشته
یا خــومــې نظـرکې هغه خوند نشته

---

[۱] ـ وحیده آریتزی، دهیلوغوټی، قصه خواني بازار، پېښور، د ۲۰۰۷ م کال جنوري، ۲۴ مخ

[۲] ـ ریحان الله رحیمي، اورونه پرهرونه، نظرآباد علمي اوفرهنګي ټولنه، جلال آباد، ۱۳۸۴ کال، ۸۰ مخ

يو خـل چې پـرې راغـى دنفاق بهير
اوس دنـنـګ خيبر کې هغه خوند نشته
لارې دمـــــنزل موخطا کړې دي
ســتړي يـو سفر کې هغه خوند نشته
رنګې دي ميـلې زمونږ په کلي کې
جــانـه! په اخـــتر کې هغه خوند نشته
ناوې دپښتو رانه سينګار غواړي
نن مـوپه هنر کې هغه خوند نشته

محمد غفور مهيدي:

راځئ چې سره کيــــنو دوروری خبرې وکړو
دسولې تيره کـــيږدو ددوستۍ خبرې وکړو
ددې ښـــکلي هيـــواد ابادول په ما اوتا دي
راځـــــه ددې وطـــــن د ابادۍ خبرې وکړو
دسولې کيـــسې نه شـي د باروتو په لوګي کې
دپلار نيـــکه پـــه دود به پـخوانۍ خبرې وکړو
په دود دپښـــتونوالي موچې روغه جوړه وشوه
بيا هلـــــه به جهان ته رښتيا نۍ خبرې وکړو
په سوله کې رضا دخدای، رسول اوخير زمونږ دی
ګـــــناه ده کـــه دجنګ او بربادۍ خبرې وکړو

او په پای کې به دليکوال يوه قطعه شعر ولولو:

راځئ چـــــې يوبل ته دمـــينې ډک لاسونه ورکړو
له محبت او مينې ډک يوبل ته زړونه ورکړو
چـــــې نړيوال راته حيرت ګوته په غاښ پاتې شي
دګران هـــيواد دابادۍ لار کې سرونه ورکړو
چـــــې د ارمان غوټۍ په دښت بيابان وغوړيږي
خزان وهـــــلو مـــاتو زړونو ته ګلونه ورکړو

چې بیا موڅوک د «زه» او «ته» په نوم ونه غولوي
نفاق کړو ختم دښمني ته ګوزارونه ورکړو
غروال به بیا په سپینه ږیره ځوان قوت ومومي
که چیرې زه او ته دښمن ته ځوابونه ورکړو

**ج : دپښتوپه کلاسیک نثرکې دسولې انعکاس :**

کله چې موږدپښتوپه کلاسیک نثرخبرې کوو،نو دلسمې اویوولسمې پیړۍ دنثرلیکنې هغه بیلګې مومخې ته راشي چې دپښتو د مسجع نثرد لیکنې ترڅنګ د روان نثرسبک هم را منځ ته شوی او دمسجعاتو ترڅنګ یې له سجعي قید څخه ازاد نثرونه هم لیکلي دي، د پښتو څیړنو او تحقیقاتو په جریان کې داخبره بیا بیا مخې ته راغلې ده چې پښتو نثرخوشال خان خټک بیرته په خپل اصلي مسیرکې اچولی اولکه دپښتو دشعر په شان یې پښتو نثرته هم رونق ورکړی دی، په دې اړه یوه څیړنه کې داسې راغلي دي : «پیرروښان د ۹۷۰هـ ق په شاوخواکې خپل خیرالبیان ولیکه، په دغه کتاب کې یې ټولې مسجعې او مصنوعي جملې اسعمال کړې او ترده وروسته بیا اخوند درویزه ننګرهاري اونورو لیکوالوهم ددوی پیروي کوله ....خوشال خان چې د ذوق خاوند یو افغان لیکوال و، دروښاني نثرلیکلوناوړه طریقه یې نه کړه غوره .....» [۱]

خوزموږ ترلاس لاندې موضوع دپښتو نثرڅرنګوالی نه بلکې په پښتو نثرکې د سولې او انساندوستۍ انعکاس دی اوغواړو د پښتو په کلاسیک نثرکې دا ځانته معلومه کړوچې ددې دورې نثرته سولې او انساندوستۍ په څومره پیمانه لارموندلې ده اودهغې زمانې پښتنو

---

[۱] - پوهاند عبدالحی حبیبي،دخوشال خان خټک دجهانداری نظریه ، ننګیالی پښتون، دسرمحقق محمداکبرمعتمد په زیار،پښتوټولنه، کابل،دولتي مطبعه، ۱۳۴۵هـ ش کال، ۳ مخ سرمحقق هیوادمل زلمی، دپښتو نثراته سوه کاله، ۱۳۷۵هـ ش ، ۱۹۹۲ع کال، ملت پرنټرز، لاهور، ۲۲۳ مخ

ليکوالو او نثر ليکونکو پخپلو فنپاروکې دغې انساني او اسلامي موضوع ته څومره ارزښت ورکړی دی.

خوشال خان خټک چې په پښتونظم اونثرکې سيال نه لري لکه څرنګه چې دده په نظم کې د سولې اوانساندوستۍ انعکاس له ورايه ځليږي دغه شان په نثرکې هم دغه انساني او اسلامي پيغام نه هيروي او دد ستارنامې په (۱۰۰) مخ کې داسې ليکي:

خُلق دې دهرچا سره ښه لري، که دښمن يې وي هم دې په ښه يادوي، ابومسلم مروزي دتورې بې همتا تيرشوی دی، مبارز،مدبر ترده دپاسه بل يوتيرشوی نه دی،بني عباس دده په سعې،په تردد ترخلافت ورسيدل،هرګزيې غليم په بد نه ياداوه، وې چې زه او دی خوسره په توره اخته يو په ژبه به څه سره اخته کيږو،تواضع يې هسې وه چې که کوړی مرضي ورسره راغی وربه پاڅيده ترغاړه به ووت، هرګزيې په مسخروهم څوک په بد نه يادول،که چابه ورته بدوې ده به ورته خندل،په مال په ځان يې صرفه نه وه،په داد دخلقت اودهمت په سبب بې زرو،بې خزانو خدای لښکروركړ،اول يې خراسان مسخرکړبيا يې عراق،بيا بغداد،هسې درجه مرتبه يې وګټله . يعقوب ليث درودګرو قزاقي اختيارکړه،عدل انصاف يې په لاس ونيوه،قافله به يې وهله نيمايي به يې بيا وخاوندانوته ورکړه،نيمايي به يې په يارانوقسمت کړه،ابومسلم مروزي پوښتنه يې وکړه، خلقت،تواضع هرچې دده خوی و هغه يې په لاس ونيوه، درودګرغريب هم دسلطنت چې ددې خصلت څښتن شو،خراسان ،عراق يې مسخرکړل،درې پښته يې بادشاهي وکړه، غرض چې ښهٔ خلقت پردي خپلوي، دښمن دوست کوي، بدخصلت خلقت خپل پردي کوي، دوست دښمن کوي،که په توره څوک ووهې پرهارپرې وکړې هغه به وهيرشي،خوچې دردیې ورک شو،روغ شو نوربس اما چې په ژبه دې څوک وراتېږ داپرهاردزړه دی، دزړه پرهارنه رغيږي،هميشه ياد وي.

اګرچې په مذاقوپه مسخروځوک په بد په سپکوالي يادشي هم نه وهيريږي، قباحت فساد ترې تولدکا. پاته لابل طور.يوه ملوک دبلخ دخپل امراسره په مجلس کې خمسوري کړه دهغه امرا د عورتې نوم يې يادکړ.هم يې په داباندې نزاع په زړه کې ورته پريوته، دده زوی يې په بدو ورته ولمساوه، کارترفساد ترخونريزی ورسيده، بويه چې خپله ژبه هروخت ساتلې وي، خندا، مسخره هرګزنه بويه چې اورپه مسخروهم لګيږي. (۱)
داهم دسترخوشال خټک د نثريوه بله نمونه چې پکې زړه سوی اوانساني مينه ځليږي:
کرم عطا سخاوت ته هم وايي اما اصل کرم هغه دی چې ګناوې دې يې وبخښي، کريم هغه دی چې داخوی پکې وي،حق تعالی داخوی لري نوم يې کريم دی. «لاتقنطوامن رحمه الله» ملوکان سايه د خدای دلطف دي، بويه چې داخوی په دوی کې ډيروي،چې عفوه کرم نه لري هغه دملوک شيم نه لري،عفوه کرم په دوه سببه دسړي دلاسه نه کيږي: يوپه طول امل چې ګنه ډيربه پايم چې ځوک مخالف دي واړه ورک کړم.بل ددنيا حرص پرې غالب وي، بل انانيت، دا درې واړه خصلتونه مذموم دي.هيځوک په دنيا تل نه وينه،که مال اوملک ددنيا واړه په حرص خپل کا په چا به هميش پاتې نه شي،نه به انانيت،خودپسندي ده لره سودوکا.فرعون،هامان څه شول؟ ملوک لره بايده دي چې دحقيقت سترګې رڼې کا،ځان،جهان وګوري،چې عالم دده محتاج شو په دادې شاکر اوسي. که دی يې دعالم محتاج کړی وی هاله به يې څه کړل،په داشکربويه چې دعفوې کرم کارله لاسه نه اچوي،چې لاس يې په غليم برشي هم داسوبه دده ډيره ده،نوردې عفوه کرم ورځنې دريغ نه لري چې ترعفوې نه بهترڅه نشته. لکه د عفوې لذت دی هسې د انتقام نه دی. سلطان سنجر ماضي په يوه بادشاه باندې غالب شو، ژوندی يې په جنګ کې په لاس کښيووت،هرچاګومان دا وکړوچې وبه يې وژني.سلطان

---

(۱) خوشال خان خټک، دستارنامه، پښتوټولنه. کابل، ۱۳۴۵ هش کال، ۱۰۰ مخ

دفتح مجلس وکړ،هغه غلیم یې هم په مجلس راوباله،طعام یې پرې وخوراوه،پس دطعام یې جواهر،خوانونه یې وغوښتل، دهغه دوړاندې یې کښیښوول،فی البد یهه هغه بادشاه دا دوه بیته ووې:

بگرفت مرا نکشت اندرصف کین

با آنکـــه بودم کشتنی از روی یقـــین

وانـــگه به طبق مید هدم درثمین

بـخشایش وبخششم چنین کرد ببـــین

رخصت یې کړ،هغه خپل مملکت چې دهغه ووهغه یې واړه ورکړهمراهانوورته ووې چې سلطان داڅه وکړل؟داهسې غلیم په ډیرمحنت په لاس کښیوتلی سلطان پریښ سلطان وې . په دا شکر مې وباخښه چې دی مې په لاس کښیووت. زه یې په لاس کښینوتم. بل چې کرم مې وعالم وته معلوم شي چې سنجرهسې عفوه کرم لري.[۱]

عبدالقادرخان خټک هم چې دخوشال دعلمي اوفرهنګي کورنۍ یو روڼ ستوری دی او لکه د خپل نومیالي اوتوریالي پلارخوشال خټک په شان دنثرلیکنې لارتعقیبوي او دخپل نثرپه ځینولیکنو کې انساندوستي اوخواخوږي هم له پامه نه غورځوي لکه په لاندې یوه کوچنۍ نثري ټوټه کې د هغه دنثردروانۍ اوخوږوالي ترڅنګ انساني مینه اوخواخوږي هم ځان ښکاره کوي:

« لږ خوره ډیرپخوه، دچامه خوره، په نورووخوره ، په هلکانورحمت کوه،دپیرانو حرمت کوه، دعالمانوعزت کوه، دفقیرانوخدمت کوه ، په هرکارکې په تله په ناست، په گفتار، په خوراک تقدیم د

[۱]-خوشال خان خټک، دستارنا مه . پښتوټولنه، کابل، ۱۳۴۵ هـ ش کال، ۱۰۲،۱۰۳ مخونه

مشرکړه،مشرورورلکه پلارګڼه. دپلاراشنایان لکه ترونه، دچا عیبونه مه شماره پرده پوش اوسه». [۱]

**د : سوله اوانساندوستي دپښتوپه معاصرنثرکې:**

لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه جنګ اوسوله،دښمني اودوستي،کرکه اوخواخوږي دانسانانو له ژوند سره موازي را روان هغه کړه وړه دي چې کله انسانان له آرام او ډاډمن ژوند نه بې برخې شوي اوکله هم بیا انسانانود آرام ساه ایستلې او د ډاډمن امنیت په رڼا کې یې دپرمختګ او ترقۍ پړاوونه وهلي دي.

نړۍ ته دحضرت آدم علیه السلام له راتګ سره خیراوشرراوټوکیدل،له یوې خوا دانسان حقوق ترپښو لاندې شول اوله بلې خوا دهغه دمقام د درناوي له پاره غږپورته شو. دحضرت آدم علیه السلام له وخته تراوسه پورې چې دنړۍ پرمخ ځومره مذهبونه راپیداشوي دي، په هغوټولو کې انساني حقوقو او ارزښتونوته زیات اهمیت ورکړل شوی دی اوکه چاله دغوحقوقوڅخه سرغړونه کړې ده، نوهغه یې غندلي اوپه ښه سترګه ورته نه دي کتل شوي.

داسلام مقدس دین خپلوپیروانوته په ځانګړې توګه اوټولوانسانانوته په عمومي توګه یوه داسې غوره لارپه نښه کړې ده چې دټول بشریت له پاره نیکمرغي اوخوشبختي پکې نغښتې ده،په دې اړه موږدحضرت محمد (ص) دهغې خطبې مثال ورکولای شوچې دخپل ژوند په وروستیوشیبوکې یې د حج په مراسمو کې اورولې او په هغې کې یې دا وفرمایل چې هیڅ عربي پرعجمي اوهیڅ تورپرسپین باندې فوقیت اوبرتري نه لري بلکې دفوقیت اوبرترۍ معیار،یوازې اویوازې تقوا ده او بس. دغه احساس اودغه عالي فکرادبیاتوته هم په پراخه پیمانه لاره موندلې اووخت په وخت

---

[۱] -سرمحقق زلمی،هیوادمل، دپښتونثراته سوه کاله،ملت پرینټرز،لاهور،۱۳۷۵هـ ش، ۱۹۹۶ع کل،۳۰۲،۳۰۳ مخونه

پکې ځان ښکاره کوي،په ځانګړې توګه په پښتوادب کې یې زیاتې بیلګې ترسترګوکیږي . پښتون لیکوال او شاعراسیرمنګل په دې اړه یولنډ،خوجامع نظروړاندې کوي او وایي :

« ادب دژوند عکاس دی آیا هغه نظم وي که نثر،دانساني حقوقو انځورګري پکې کیږي، خو څومره چې لیکونکی حساس وي دومره یې دغه موضوع په بشپړه توګه بیان کړې وي، ستر خوشال خان خټک او رحمان بابا چې په کوم شدت سره دغه مسئله په خپلو شعرونو کې بیان کړې ده هغې نه زموږدکلاسیک ادب دپختګی اندازه په ښه توګه لګي .»[۱]

دغه پورتنی احساس اولوړفکرزموږ دزماني دلیکوالوپه زیاتو نثرونواولیکنوکې لیدل کیږي چې دمثال په توګه د ارواښاد ګل پاچا الفت د « خدمتګار» په نامه یو ادبي نثر را اخلو،په دې ادبي لیکنه کې موږهغه احساس په ښه توګه پیداکولای شوچې له یوه اړانسان سره مرسته څه نتیجه لري اومرسته کوونکي ته څه وړ بریا ترلاسه کیږي . الفت صاحب وایي :

هلته یو ړوند بې لارې روان وهغه په سمه لار برابرکړمګر ړوند پوه نه شوچې زما رهبر څوک دی، یوبل په خواره خوب ویده و په خواکې یې یو منګري سر را اوچت کړهغه په بیره وواژه او ویده هماغسې ناخبره پاته شو . دشپې په مسجد کې ناروغه مسافرزګیروي کول هغه یې په خدمت کې شپه سبا کړه، مسا فرسباوون خواته مړشواوخپل زړه سواندی خدمتګارېې ونه پیژانده، هغه په لاره روان و .یوماشوم ته یې یوموټی میوه ورکړه، یوتږي ته یې په بیدیا کې اوبه ورکړې،له یوه وږي سره یې خپله ډوډۍ نیمه کړه مګریوه هم ونه پیژانده چې دی څوک دی، له دې لویې لارې نه هغه ډیراغزي اوکاڼي لرې کړل مګرڅوک چې سباته په دې لاره راځي دهغه له

---

[۱] - اسیرمنګل،پښتودري میاشتنی مجله،پښتواکیډیمي،پیښوریونیورسټی،۲۰۰۵م کال،اکتوبر ،نومبر، دسمبر ۱۲۰مخ

خدمت څخه نه خبریږي او هغه نه پیژني .په رښتیا چې موږ خپل خدمتګاران نه پیژنو او باداران ډیرښه پیژنو. [۱]

اروانښا د معتمد شینواری « ادب د سولې په خدمت کې » مهمې موضوع ته په پاملرنې سره دغه مهمه او ژوندئی موضوع په یوه ادبي لیکنه کې په هرارخیزه توګه څیړلې ده. اروانښاد معتمد شینواری دخپلې ادبي لیکنې په یوه برخه کې لیکي:

« هو: دادیب اولیکوال وظیفه داده چې خپله ټولنه لومړی مطالعه کړي اوبیا لکه څنګه چې ده هما غسې یې ترسیم کړي اوپه دې لاره کې له هیڅ کړاو نه ونه ویریږي ،کله چې یو لیکوال او ادیب غواړي خپله ټولنه ترسیم اومعرفي کړي،نوترټولو لومړی دې په ټولنه کې وګرځي، دټولنې ښه اوبد دې ځانته معلوم کړي، دټولنې دردونه او اړتیاوې دې حس کړي اوبیا دې قلم رااخلي او خپله ټولنه دې تصویرکاندي.

هو! یوطبیب اوډاکترهغه وخت ناروغ ته نسخه ورکوي چې دهغه رنځ تشخیص کړي اوچې په رنځ یې ونه پوهیږي نسخه نه ورکوي اوکه وریې کړي مریض ته کومه ګټه نه رسوي اونه به سمه نسخه وي.همدارنګه دیوه لیکوال لیکنه هغه وخت ګټوره وي چې دجامعې دتشخیص نه وروسته منځ ته راشي،که دټولنې اړتیاوې یوشی وي اولیکوال بل شی دټولنې داړتیاو په حیث معرفي کوي دالیکنه به څه ګټه ونه لري.

ادب اوس په ژوند ورګډ شوی دی اوله ژوندنه الهام اخلي، ادب اوس دادب له پاره معنی نه لري بلکې ادب اوس دژوند له پاره معنی لري. کوم اثرچې په هره اندازه له ژوند سره نږدې ربط لري په هماغه اندازه په ټولنه کې ښه منل کیږي. اوس ادب درومانتیزم نه ریالیزم ته ګام اخیستی دی او ریالستیکي تمایلات پکې موجود دي. دختیځ ادب عموماً او دپښتوادب خصوصاً په دې وروستیو وختونوکې ښه په زړه پورې تحول اوبدلون کړی

---

[۱] .استاد ګل پاچا الفت،غوره نثرونه،سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان، ۱۳۷۳.۱۹۹۴ کال. ۱۳مخ

دی اودنړیوالو توجه یې جلب کړې ده اوس په جهاني اوبین المللي سویه ادبي کنفرانسونه جوړیږي، په دغو کنفرانسونوکې دادب اوادیب په رول خبرې کیږي او ادب دملتونود نژدیوالي سترعامل معرفي کیږي، په دغوکنفرانسونوکې دا خبره بیا بیا شوې ده اوټولومنلې ده چې ختیځ ادب دسولې له پاره لوی خدمت کړی دی . (۱)

چاته چې دانسانانوټولنیزاوګډ ژوند ارزښت ولري، څوک چې دبشرد اوږده او سترې تاریخ د لاس ته راوړنوپه قیمت پوهیږي، پرکوموکسانوچې دانساني پراخې نړۍ د مادي او معنوي تمد ن شتمني ګرانه وي، څوک چې دزړه له کومې داغواړي چې دژوند په بشپړتیایې بهیرکې ددې اوږده پایښت امکانات اوبیلګې ووینې اوڅوک چې دبشردپایښت په دې اوږده جریان کې دیوې رښتینې نړۍ تحقق ته سترګې په لاره وي دغه ټول کسان له دې واقعیت څخه سترګې نه شي پټولای چې په نړۍ کې د انسانانو ترمنځ مناسبات له جنګ اوسولې سره موازي حرکت لري اودنړۍ پرمخ ټول اوسیدونکي انسانان دهمدغه دوو پدیدو له مخې پخپلوکې ټولنیزه راشه درشه تنظیموي او د خپلو خپلو ټولنو داړتیاو اوغوښتنوله مخې ورځنۍ چارې پرمخ بیایي .

کله کله داسې هم لیدل کیږي چې له تاوتریخوالي اوکشمکشونو نه په یوه ډکه ټولنه کې چې چارواکي او دعامووګړو زیات شمیریې پرته له جنګ اوجګړوڅخه په نورڅه نه پوهیږي، خو د قلم اوپوهې خاوندان په همدغه شان تنګوحالاتو اوشرایطوکې راولاړیږي او دجنګ پرخلاف خپل غږ پورته کوي .

دمثال په توګه په ۱۳۷۵ هـ ش کال څه وخت چې په افغانستان کې دپخواني شوروي اتحا د د سرولښکرواودهغوی دداخلي پلویانو دقوتونو اومجاهدینو ترمنځ دهیواد په ګوټ ګوټ کې خونړۍ جګړې رواني وې او

---

۱ - معتمد شینواری، کابل مجله ، اوومه ګڼه، پښتوټولنه، کابل، ۱۳۵۵ کال، ۵۴ مخ

دوطن کانې او بوټې د وطن دبچیانو په وینورنګ وو، په هیواد کې دننه او دوخت دواکمن رژیم تراثرلاندې سیمو آن دهیواد په پلازمینه کابل کې یوشمیرداسې لیکوالان او شاعران موجود ووچې ددغه ورانوونکې اوتباه کوونکې جنګ په خلاف یې خپل غږونه اوچت کړل اوپخپلو علمي استدلالونویې دا ثابته کړه چې جنګ او تا وتریخوالی د انسانانو له تبا هۍ ا و بربادۍ پرته بله بریا له ځانه سره نه لري.

کاندید اکاډمیسن نومیالی یوله هغو لیکوالانوڅخه دی چې په دې اړه یې خپل تحلیلي اوهراړخیز نظرداسې بیان کړی دی:

« د جهاني تاریخ پرله پورې پروسه د اجتماعي، اقتصادي انکشاف ترطبیعي حکم لاندې نن داسې مرحلې ته رسیدلې ده چې دولسونو، ملتونو، دولتونو اوهیوادونو دمرګ اوژوند سرنوشت یې یودبله سره تړلی دی، دحاضرتاریخ دغه عیني پدیده که دچا خو ښه وي اوکه دچا نه وي خوښه خو دخپل رشد په همدغه لاره کې هره شیبه په ډیره چټکۍ مختته روانه ده.

دې وضعې نوې شمیرنوې مسایل زیږولي دي چې په دې جمله کې دجنګ اوسولې مهمه مسئله په نوې کیفیت دټولوملي اوبین المللي تضادونو سرته راغلې ده، ددې مسئلې دغه نوی کیفیت چې ترډیره ځایه په نړۍ کې د جنګي وسایلو له پرله پسې کمي ا وکیفي رشد سره اړه لري، په غوڅه توګه یې دا ایجاب کړې ده چې دحل له پاره یې دیوه بکراوریالیستي سیاست په رڼا کې نوې لارې چارې ولټول شي. دهمدغه واقعیت د مسئولانه درک له مخې ګورباچف دنړۍ دزیا تیدونکې خطرپه وړاندې دسیاسي هماهنګۍ پرمبرم ضرورت باندې داسې تاکید کوي:

« کله چې موږ دجنګ اوسولې په باره کې غږیږو، نوباید داخبره په پام کې وساتوچې دنن ورځې دوسلوپه تیره بیا د ذروي وسلو نوعیت دهمدې مسایلوپه باب پخوانې تصورات بدل کړي دي. اوس بشریت دیوه داسې تکنالوجیکي انقلاب په درشل کې دی چې د نظامي تکنالوجۍ نوراو

نورانکشاف ورسره تړلي دي ... ذروي عصر ارومرو حکم کوي چې نوی سیاسي تفکرمنځ ته راشي .»

کاندید اکاډیمسن نومیالی وراندې لیکي : زموږ داوسني وخت په شرایطوکې دا خبره بیخي پای ته رسیدلې ده چې جنګ اوسوله یا محلي بڼه ولري او یا دچاپه ملي بولوکې ایسارشي، زموږ هغه پخوانی متل چې « دبل جنګ نیم اختردی » نور داستعمال مورد نه شي پیداکولای ځکه دنن ورځې په ګډو روابطوکې ملي اوبین المللي چارې داسې پرله اخښل شوي دي چې دخپل اوبل په حدودونه سره جلاکیږي که جنګ پرانفرادي حالت پاتې وای،نوموږبه دبشرله منځ څخه یوڅو لیوني جګړه ماران را ایستي وای اود جنګ په میدان کې به موسره ایله کړي وای،څوخپل ترمنځ زور سره وازمویي. موږبه دخیرپرغونډۍ ورته ناست وای او ددوی دجنګ په جریان کې به مو دځنګله د خاطراتو ننداره کولای، خوله بده مرغه اوس دجهان په سویه دجنګ نوعیت اجتماعي ګرځیدلی دی.ټولنې، دولتونه ، هیوادونه اوملتونه خوښ ناخوښ یودبل په پیوندکې دجنګ میدان ته راکشیږي او یو دبل سره وهل کیږي. په دې منځ کې ډیرشریف سوله غوښتونکي قوتونه هم تردې محکومیت لاندې راځي چې په جنګي ماشین کې کوفته شي، ځکه نوپه دې عصرکې که جنګ وهغه به دټولووي اوکه اختروهم هغه به دټولووي. داخبره موږته نجات نه شي راکولای چې پرما اړه نه لري. دسولې اوجنګ مسئله نن پرټولواړه لري، تاسوکه جنګ ته وځئ او که نه وځئ خوجنګ ارومرو ستاسو کورته ځان رارسوي. دتاریخ تجربې دا ژوندی واقعیت با ید هر څوک اوهرچیرې یوه کړی،هم له یاده ونه باسي چې « دجنګ خوږې خبرې ساعت یې تریخ دی» باید وویل شي چې مسایل نه دلوبوپه سطحه کې دي اونه دټوکو. ډیرغټ خطرانساني تمدن ته متوجه دی، هرڅوک هرچیرې دا مسئولیت لري چې دجنګ دمخنیوي په لاره کې دسولې ږغ پورته کړي، دنړی دسوله غوښتونکوخلکو دهلوځلونتیجه وه

چې دملګرو ملتونو موسسې ۱۹۸۲م کال دسولې دبین المللي کال په شعارباندې ونوماوه.[۱]

لکه څنګه چې په هیواد کې دننه دجګړې اوتاوتریخوالي په خلاف غږونه پورته کېدل اودسولې د ټینګښت له پاره د لیکوالو اوقلموالو له خوا هلې ځلې رواني وې دغه شان له هیواد څخه بهر دهجرت په خیمواود جهاد په سنګرونوکې هم زموږ لیکوالانو او دقلم خاوندانو ددغه ویرجن حالت زغم نه درلود اوپه یوه نه یو ډول یې دجنګ او تاوتریخوالي په وړاندې خپله کرکه څرګندوله.

شهید عزیزالرحمن الفت یوله هغولیکوالانوڅخه دی چې په هیواد کې دجنګ اوجګړو دزغم توان نه لري.د لوی اومهربان خدای ستردربارته پناه وړي اوله هغه سترپروردګار څخه ددې ناوړه او دردوونکي حالت دپای ته رسیدو غوښتنه کوي ، دی وایي:

## لویه خدایه!

دمادې اومعنی په دې مقابله اودحق اوبا طل په دې جګړه کې چې یوطرف یې ستا په خدایۍ او خپلې بندګۍ باندې اقرار او افتخاراوبل طرف یې انکارلري، یویې دعقیدې پربناء اوبل یې دټانک اوطیارې په اتکا جنګیږي،یویې بربریت، درندګي، وحشت، ظلم، تباهي اوخونریزي اوبل یې د حق ،عدالت، انسانیت، انساني کرامت او دبشري تمدن ساتنه، بقا اوطرفداري غواړي ته دمجاهد ، جهاد او دجهاد دقدسیت ساتونکی اومدد ګارشې اودغه جهاد تل په اسلامي مسیرکې روان ولرې او دا دنن ورځې دهریان، پروني چنګیزیان او د وړمې ورځې فرعونان،نمرودیان او قارونان چې هروخت په بیله بیله بڼه ، څیره ، قیافه اوجامه کې داسلام او مسلمانانو تباهۍ او مقابلې ته راوځي تباه او نابود کړې.

---

[۱] کاندید اکاډ میسن نومیالی.علم دسولې په خدمت کې.دعلوموا کاډمي ، داجتماعي علومو مرکز. ۱۳۶۵ کال. ۲۲ . ۲۳ مخونه .

اې حضرت محمد (ص) ته دعظيم خلق ورکوونکيه عظيمه قدرته!
داسلام اوکفرپه دې حساسه اوتاريخي مرحله کې چې داسلام دنامه لاندې هم داسلام دتخريب د پاره ډيردفريب دامونه اينبودل شوي دي اوکله کله اسلام نما قدرتونه هم سرې ته اسلامي معلومېږي اوپرې غولېږي ته دهرمجاهد، مبارزمهاجراو دافغانستان او اسلا مي جهان ټو لو مسلمانانوته خپل دعلم عيب له خزانې څخه هغه علم، پوهه، بصيرت او بينايي ورکړې چې صواب او خطا وپيژني او دمفسد،مشرک،ظالم، کافر،گمراه، منافق اوکاذب په لاس کې استعمال اوپه دام کې يې گرفتارنه شي.
اې په مياشو باندې دنمرود تباه کوونکيه عظيمه قدرته!
نورنو دخپل بې پايانه عظمت اود افغاني مهاجرد ډيرلويدلي اوغورځيدلي حيثيت په خاطردغه په دنياکې اواره اوبيچاره خلک چې دظلم، بدبختۍ اوپريشانۍ پرې نورڅه زورنه رسيږي،هرې خواته خپاره اوهرچاته يې د اميد لاسونه نيولي دي اما له هرې خوا نه په ډيراهانت سره دنااميدۍ په څپيړووهل کيږي ته بيرته راټول، يوځاى او پخپل وطن کې يې آزاد او خپلواک کړه.
اې په سره اورکې دخليل (ع) ساتونکيه خدايه!
دهغه يتيم ، يسير،بې کسه او بې وسه ماشوم دزگيرويو،ژړاو، فريادونو او واويلاو په خاطر چې خپلې موراوپلارپسې نارې وهي، په ډيروچيغو،ژړاو،نارو او فريادونو يې آواز ناست دى، شپه او ورځ د-رگاه په د رگاه او سرپه صحرا گرځي، اوښکې تويوي او آرام نه مومي ته يې فريا د واورې او آرام يې کړې.
اې دفرعون په کورکې دموسٰى (ع) لويوونکيه او ساتونکيه خدايه!
دهغه ډيرزهير،حقير،فقير، درمانده، ستومانه اوکړوپ شوي سپين ږيري بوډا په خاطرچې خپل لمسيان اوکړوسيان يې هم دخپلوبچيانواو ټولو نورو خپلوانوسره يوځاى ستا درضا له پاره قربان، حتٰى نسل يې هم پاتې نه شو

اوس دی پخپله لالهانده، مایوسه اوبې ستا له هیلې او اسرې نه حتی د ګرځیدلو توان هم نه لري او دمرګ په انتظار په سپیرو خاوروکې پروت دی، سلګۍ یې هم څوک نه اوري اودښخولویې هم څوک نشته ته دهغه آوازاوسلګۍ واورې اودهغه په خاطرپرتولو افغانانو ورحمیږې.

اې په توپاني جهان اوسمندرکې دنوح (ع) نګهبا نه ربه!

دهغوزرګونو معیوبو اوزخمي انسانانوپه خاطرچې لاسونه، پښې،سترګې اویا نوراندامونه یې ستا درضا له پاره له لاسه ورکړي دي اواوس دسروغوښو دټوټو په شان سوري سوري او زخمي زخمي دلته اوهلته پراته دي، نه ډوډۍ لري اونه یې خوړلی شي، نه دمرستې ورسره څوک شته او نه دروحي تسلۍ او دلدارۍ له پاره، له جهان نه مایوسه، له دنیا اوانسانانویې مرور او نا امیده دي،یوازې د کبریایي ذات بې پایانه ترحم اومهربانۍ ته منتظراوسترګې په لاره دي،ته یې مددګار شې او ددوی وطن آزاد کړې.

لویه خدایه!

دهغو زرګونوماشومانو ،میندو اوپلرونوپه خاطرچې په توره نیمه شپه کې د روسانودوحشیانه بمباریوپه اثردهشت زده، هیبت وهلي اوسراسیمه له خوبه پاځیدل چا دغرونولاره ونیوه اوچا د دښتو.څوک دافغانستان په دښتواوغرونوکې پاتې شول،څوک په لاروکې.ځینې نورهم پاکستان ته راورسیدل، اوس ښځه په میړه اومیړه په ښځه پسې اوزامن په دواړوپسې ګرځي اوناري وهي اما یودبل له ژوندانه اومرګ نه خبرنه دي، ته پخپل کامل قدرت دغسې په زرګونو متلاشي،دربه در، لالهانده، سرګردانه،ستړي، ستومانه اودرمانده فامیلونه چې په پښواوبدن کې یې د ډیرې لوږې او ستړیا په وجه دګرځیدلو توان اوحرکت نه دی پاتې بیرته یوځای او دیوه عادل اسلامي نظام تر سلطې لاندې پخپلو کورونو او وطن کې خوندي کړه.

اې عظیمه خدایه!

دهغې عفيفې، پاکې، باعصمتې او باحيا ميرمنې دحيا، عفت او عصمت دخوندي کولو اوساتلو په خاطرچې خپل ميړه، اولادونه، پلار،مور، خويندې، ورونه اونورخپلوان يې په بمباريوکې له لاسه ورکړل اوس دغه بې کسه اوبې وسه درمانده ميرمن ديوې مړۍ وچې ډوډۍ دپيدا کولو په خاطرمزدوري کوي، مګرهميش دناپاکو،پليتو،هوس بازو اوشهوت رانوسترګود مزاحمت اوويرې په خا طرخپل مخ کله يوې خوا ا وکله بلې خواته اړوي ځان اوخپله حيا په هغه شکيدلي اوسوري سوري پوړني کې پټوي چې دمخ پټولوځای پکې نه دی پاتې اوکله چې له دغه شان سترګوځخه په عذاب شي بيا نوله يوه کورنه بل اوله بل نه پسې بل ته لکه صحرايي کوترې غوندې الوزي او آواره ګرځي، آه باسي ، اوښکې تويوي او مرګ غواړي . مګرستا پاک ذات ددغسې ناپاکو خلکو دازمايښت له پاره په دغه شان مظلوموميرمنوباندې مرګ هم درولی وي، ته ددوی حيا اوعفت خوندي کړې او دناصرباغ دکمپ په کونډو او معيوبو خلکوورحميږې

لويه خدايه!

نورته دغه وطن ، دغه خلک اودغسې په زرګونو تنه مايوسه، بې کسه ، دردېدلي اونا اميده پاکې ميرمنې اوبوډاګان ، يتيم ماشومان، معيوبه زخميان او دغرواو دښتو آواره ګان دروسانو.له منګولو، داميرانوله ښکنځلو، ددوی د دروازوله ودريدلو، دروسي ايجنټانوله تسلطه اودګاونډيانوله هرراز توهين، تمسخر، سپکاوي او تحقيرولونه دتل له پاره داسې آزاد اوخلاص کړې چې ددوی دا آزادي بل قدرت ته ددوی دغلامۍ اوبندګۍ په قيمت تمامه نه شي او دشرق استعمارتکول دغربي استعمار دنفوذ له پاره بيا سوری پيدانه کړي.

پاکه خدايه!

روسانوووژلو،اسلام نمايانو وشکولو،ګاونډيانو ددې له پاره چې مخکې له مخکې نه يې روسانو ته خپله تابعداري ثابته کړي وي هميشه

تحقیراوتوهینولو، ځینوغربیانوپه دغه حالت کې چې موږ دخپل دین دحمایې له پاره جنګیدلو د ډیرلږکومک په خاطریې له خپل دین او اسلام نه اړولو. مشرانوځورولو اوپه مارکیټونوکې یې خرڅولو،نوای خالقه اول اوآخر زموږله پاره هرڅه ته وې اوته یې ،خوموږه ناشکره بندګان په دې راز نه پوهیدو .دادی اوس دې لوی درباراوبې پایانه رحم کرم اوعظمت ته پس له ډیرو ژړلو او فریادونوپه سروسترګو ودریدلو اولاسونه پورته کوواو وایوچې ای ربه ! دا دروس . هندو ،مسلم،عیسوي، خپل اوپردي دلاسه رټل شوي،شړل شوي،قتل شوي، زپل شوي،تالاشوي،توهین شوي، تحقیرشوي، زخمي شوي، ځوریدلي، دردیدلي. کړید لي، رنځید- لي،پخسید لي، شکیدلي او آواره بندګان خپل نورمه خواروه څکه چې په موږ خورانوباندې نوردخواری، هم څه زورنه رسیږي، اهانت، تحقیراوسپکاوي خپله ټوله وسه اوخواري راباندې کړې ده .(۱)

زموږقلموال اولیکوالان په پرله پسې اودومداره توګه دجګړواوتاوتریخوالي په وړاندې دریدلي اوخپل دغه مخالفت یې یا په نظم اویاپه نثرکې څرګند کړی دی.دظلم،ناروا اوبشري کرامت ته د سپکاوي پرخلاف یې کرکه اونفرت په ډاګه کړی اوپه خپلو لیکنوکې یې انعکاس ورکړی دی.

توریالی ځاځی چې ددغه شان حالاتودلیدلوزغم نه لري دهغه وخت یوه ربښتینې پیښه چې د۱۳۲۲هـ ش کال دمني په پیل کې دپروان ولایت دقره باغ په ولسوالۍ کې پیښه شوې وه دیوه لنډ داستان په بڼه لیکلې اوپه هغې کې یې د روسانودظلم اووحشت په وړاندې خپله کرکه او نفرت په ډیره اغیزمنه توګه بیان کړی دی. دغه لنډ داستان « ژوره څاه » نومیږي او دادی دهغه د ژور تأثر په توګه یې وړاندې کوو.

---

(۱) شهید عزیزالرحمن الفت،لویه خدایه،وینه په قلم کې ، دشهرت ننګیال اثر ، دافغانستان دجهادي څیړ نومرکز، پیښور ،۱۳۲۸هـ ش کال، دلیندۍ میاشت، ۴۹،۵۸ مخونه

لوړمازدیګرو،لمرخپلې طلایي اوزرینې وړانګې دشنو اوسمسورو باغونود ګڼووڼوله منځه او دلویوبرجوروکلاګانوله انګړونو څخه ورو ورو راټولولې دمازدیګر سیوروپه ډیره بیړه اوچټکۍ سره هڅه کوله چې دلمردزرینو پلوشو ځای ونیسي.

دقره باغ دګڼو باغونو دونوپه څانګوکې دالوتونکو ګڼه ګوڼه اوشورماشورهماغه شان موجودو، خوپه دې توپیرچې دهغودزړه وړونکو سازونوخوږې نغمې چې دسړي روح ته به يې طراوت او تازګي وربخښله، اوس دویراو ماتم هغوسوو ساندوته ورته وې چې دپرهارژلو زړونوپه وینوسره ټپونه چیړي او دردونه يې لا زیاتوي.

په همدې مازدیګر مرجانه ستړې ستومانه چې کرۍ ورځ يې په انګورچینۍ اودهغوپه راټولولو تیره کړې وه د خپلې لویې کلا دژورې ځاه په غاړه ودریده ترڅو دماښام له پاره خواړه تیارکړي، کله يې چې بوکې «سلواغې» ته لاس کړپه بدن کې يې یوه ژوره ستوماني احساس کړه اوله هغې ژورې ځاه څخه يې داوبو درایستلو توان په خپلوستړو متوکې ونه لید او ددردیدلې زړه له ژور تل څخه يې دیوې درنې اندیښنې څپه راپورته شوه اودهغې دستومانه بدن په پړسیدلو رګونويې داسې اغیزه وکړه چې ته به وایې ټول بدن يې داورپه سره سکروټه بدل شو، وجود يې میږې میږي شو او دزړه درزا يې څو برابره زیاته شوه. په زړه کې يې وګرځیده چې پلارته غږ وکړي ، خوبیرته پښیمانه شوه اوپوهیده چې پلاریې تر دې ډیرستومانه دی، دالس ورځې چې مرجانه ، دهغې موراوسپین ږیری پلاریې دغوربند له غرونوڅخه دانګورو دټولولوپه مقصد په قره باغ کې خپلې کلاته راغلي وو په پرله پسې توګه يې کارکړی و. دچاخبره چې دبدن شیمه يې ختمه شوې وه . هغه څوشیبې دځاه په غاړه کیناستله اود تیرو یا دونوپه ژوروخیالونوکې ډوبه شوه،هغې ته هغه وخت ورپه یاد شو چې د کلا همزولوجونوبه هرمازدیګردهمدغې ژورې ځاه په غاړه ددې دڅورولو په مقصد په ټوکوټوکود ځاه غاړې ته ورټیل وهله ، خوهغه به له دې ځاه څخه زیاته

ویریدله، مقاومت به یې کاوه اونږدې به نه ورتلله.هغې ته دخپل بختوراونیکمرغه ژوند خاطرې یوه په بله پسې ورپه زړه شوې اودخالي کلاپه غولي اوکونجونو یې یوځغلند نظر وکړ، هغه کلاچې ددوی دشپږویشت کسیزې کورنۍ له نارینه، ښځواوماشومانوڅخه به ډکه وه اودمازدیگر په مهال به یې یوزوږ خوت ا وس بې کسه شوې او دانزوا په بشپړه چوپتیا کې ډوبه وه. له خپل ځان اوکورنۍ یې په کلا زیات زړه وسوځید اوله یوه اوږ ده اسویلي سره یې له خولې وختل چې « خیردې وي دا کلا به بیا پرموږ ډ که شي » اوله دې سره جوخت یې دیوې ژوندۍ هیلې نرۍ موسکا په شونډو وغوړیده .هغه خوږې ورځې ورپه یاد شوې چې کلیوال اودپلار دوستان به یې دهغې دغوښتلوپه نیت په پرله پسې توگه راتلل، خوپلاربه یې ورته ویل چې « مرجانه لا وړه جلۍ ده، دهغې دواده له پاره لاډیروخت شته، بله داچې دازما یوازینۍ لورده له خپلې کلا څخه یې نه باسم »،

یوه ورځ چې دهغې دپلاریو ډیرنږدې دوست له فرزې څخه راغلی و ددې پلارته یې په ډوډۍ لاس ونیو او ورته ویې ویل چې : « داخبره هیڅ سر نه لري چې مرجانه زما زوی هادي جان ته رانه کړې» پلاریې له مجبوریته ځواب ورکړچې : « ساده کیږه مه ، ما به سل ځله مرجانه ستا زوی له پاره درکړې وه ،خوهغه مې وختي خپل وراره آدم خان ته په نامه کړې ده » .ددې خبرې په اوریدویې دکاکا لونړبیا وختي په مرجانې زیری کړی وچې «مرجانې ! ستا ارمان پوره شو او ته نوره زموږ دورور آدم خان په نامه یې »

ددې خبرې په اوریدوسره هغې ته ټوله شپه له خوشالۍ نه خوب نه و ورغلی له دې خاطرې سره سم دمرجانې دخیال نیلی په غوربند کې د جهاد سنگرونوته ولاړ.اوهلته یې دلوړو زیږوپرېښو ترشا په ترلومورچوکې خپل ورونه او دژوند یوازینی ملگری آدم خان هر یو بیل بیل ترنظرتیرکړل.خوپه دې لیدنه اوکتنه کې دهغې تیزاوځلند نظرتت ښکاریده ځکه چې د تیرې اوونۍ تودې جگړې او دروسانو بې رحمانه بمباریو چې د غوربند د

ولسوالۍ په جها دې مرکزونويې سرته رسولې وې د هغې په زړه کې بيل بيل شکونه پيداکړي وو اوله همدې کبله د هغې زړه غوټه و،خودخپلې موراوپلارپه مخکې به يې خپل پټ خپګان نه ښکاره کاوه اوداهرڅه به يې يوازې پخپله سته زغمل، نه پوهيده چې له آدم خان سره به ددې دمينې غوټۍ ګل شي اوکه دهيواد د ډيرو نوروميناوپه شان به د دوی مينه هم د سره خزان د بې رحمه سيلۍ په واسطه پاڼې پاڼې ورژيږي.

مرجانې پخپلوسترو اوستومانو متواو تنکيولاسونوپه ډيره سختۍ سره يوه دوه بوکې اوبه له څاه څخه راوايستې اومخکې له دې چې دخپل پخلنځي په لور روانه شي، څه يې په زړه کې ور وګرځيدل.لږڅه ټکنۍ شوه،بيرته راوګرځيده اويوځل بيا يې دژورې څاه دکتلوپه نيت خپل سرد څاه غاړې ته وروړاندې کړ،ګڼ اوتاند ويښتان يې پرمخ راخواره شول او دتورو ګوروڅڼوپه منځ کې يې سپينه ښه دژورې څاه دتل په رڼواوبوکې ځرګنده شوه،سره وبوږنيده اوپه چټکۍ سره په شا شوه،په داسې حال کې چې يوې پټې او دردوونکې ويرې يې په زړه کې ځای ونيوپه ګړنديو قدمونو دخپل پخلنځي کوټې ته ولاړه.

دمرجانې پلارداوداسه ترتازه کولو وروسته په بالاخانه کې دلمانځه په مصله کينا ست خپلې ګړۍ ته يې کتل. د لمانځه له پاره لا څه وخت پاتې و ځکه يې خپلې تسپې له جيبه راوويستلې او د خپل لوی خدای په ذکريې پيل وکړ. دقره باغ په کليوکې څوک نه ووپاتې ، پردغوکليواو باغونو يو غمجن سکوت مسلط شوی و،کله کله به يونيم سپين ږيری اويا کومه دپاخه عمرښځه دکومې کلا ترمخ ښکاره شوه چې هغوی هم دمرجانې دوی په شان دانګورچينۍ او راټولولو اوځای پرځای کولو په مقصد کلي ته راغلي وو.

دمازديګرلمرپه غرغړو وچې ناڅا په ددوی دکلا په چارچاپيره، سره روسي عسکرراتاوشول، په ډيره وحشيانه اوهيبتناکه توګه يې دروازه ور ودربوله،خو دروازه له ننه څخه خورا ټينګه شوې وه، له دروازې څخه پرته

کلاته دتنوتو بله هیڅ لاره نه وه،روسانو دشغالانوپه شان آوازونه پورته کول،خوڅوک یې په مفهوم نه پوهیدل، چې بله چاره یې پیدانه کړه نو دروازه یې په بم والوزوله،ځکه هغه دومره کلکه جوړه شوې وه چې هغوی یې د ما تو لو وس نه درلود.په څوشیبو کې کلا دروسانوپه سره ناتاربدله شوه،دلیوانوپه شان دمرجانې ترمورچا پیره شول او په لوړو داړونکو آوازونویې ترې پوښتنې کولې،خوهغه نه پوهیده چې څه وایي،یوازې په یو دوولفظونو وپوهیده چې ویل به یې « پول کجاست ؟ برای ما طلا لازم».

چابه دکلاشینکوف په کونداغ ووهله اوبل به بیا دټوپک شپیلۍ ورته سمه کړه،پخپلومنځوکې به یې کټ کټ وخندل،هغه خوارکۍ دخزان وهلې پاڼې په شان ټوله رپیدله.نه پوهیده چې له دغو وړیو لیوانوڅخه ځان څرنګه خلاص کړي،هوش اوفکریې ورڅخه الوتی و،ورڅخه خلاصیدلای هم نه شوه،په دې وخت کې یوه تن دټوپک شپیلۍ راسمه اوماشه یې کش کړه،له یوې ضربې سره هغه پرځمکه ولویده اوپه سرو وینوکې ډوبه شوه

دمرجانې پلارهم له ډیروهلوځلوڅخه وروسته بې هوشه پروت و،وینې پرې روانې وې،درنګ ساعت ته بالاخانه له وینوډنډ شوه،سروعسکرو دکلا ټولې کوټې ولټولې. بیا دکلانګرته راښکته شول،دکلانګړاوغولی یې هم وپلټلو.له دې وروسته دځاه غاړې ته ورغلل اودځاه په غاړه یې یوه جوړه ښکلې نارنجې څپلک ترسترګوشول،یوه تن یې نوروته ورغږکړ او بیا یې هغه څپلک را واخیستل، په روسي ژبه یې هغوی ته څه وویل، بیا ټولوپه ګډه وخندل، یوه سپاهي ځا ه ته سر ورښکاره کړ، بیرته راپه شا شو اودخپل پوځي جمپرله جیب څخه یې لاسي څراغ راویوست او ځاه ته یې ورړنا کړ. له دې سره سم یې ښکته ژورې ځاه ته دوه،درې ځلې ورنارې کړې،بیرته راستون شو اودخپلوپوځي بوټونو په ویستلو یې پیل وکړ.ده لا دبوټونو مزي نه وو خلاص کړي چې نورو پوځیانو په قهرجنه لهجه څه ورته وویل، دبوټونو مزي یې بیرته وتړل،راپورته شو او له نورو سپاهیانوسره

يوځاى دځاه له غارې څخه لږڅه هغې خواته ودريده اوبيا يې ځاه ته په پرله پسې توګه دوه لاسي بمونه ور غوزار کړل. له يوه هيبتنا ک آواز سره سم دژورې ځاه له تل څخه لمدې ختې اوشګې دمرجانې له غوښواو هډوکوسره يوځای راپورته شوې چې بيرته په ځاه کې ولويدې او څه يې دځاه په غاړه. له دې سره سم دلمرزرينو پلوشو خپلې خورې ورې وزرې دکلا له غولې راټولې کړې او ورو ورو دماښام تياره پرې خوره شوه. (۱)

حبيب الله رفيع له ټوپک څخه ځکه کرکه لري چې هغه دجنګ ځرى، دوحشت نښه، دانسان او انسانيت دښمن اود اورونو بلوونکی او دويرونو زيږوونکی بولي،خوهغه ټوپک چې د عدالت د تأمين ، دحق دغږ راپورته کوونکی او دسولې دټينګښت سبب ګرځي ، نوښاغلی رفيع هغه ستايي او دانسانيت د سرلوړی نښه يې بولي لکه چې وايي:

ټوپک دجنګ ځری دی. ټوپک دوحشت نخښه ده ، ټوپک دانسان اوانسانيت دښمن دی، ټوپک اورونه بلوي او ويرونه زيږوي.

زما له ټوپک څخه کرکه کيږي. زما دټوپک ماشې ته ګوته نه ورځي ، زه دټوپک له وارولوسره بلد نه يم اوزه دټوپک چلولوپه چل نه پوهيږم.

خوکله چې دوحشي دښمن ټوپک زموږ سينې ته سم شو ،کله چې دتجاوز دټوپک شپيلۍ زموږ لورته راواوښته. کله چې په ټوپک سمبالې وحشي لښکرې زموږ په ملک راخورې شوې. اوکله چې دکمونيزم بريڅو زموږ دخاورې آرام دټوپک په غږ مات کړ.

له دې سره زموږ دملت دغلاميدلو ويره راپيدا شوه. له دې سره زموږ ددين اووطن دلاسه تللو خطر رامنځ ته شو ، له دې سره د آزادو هيوادو له کتارنه زموږ دهيواد دوتلو ډار راولاړشو. اوله دې سره دافغان

(۱) - توريالی خاخی، ژوره ځاه ، وينه په قلم کې دافغانستان دجهادي ځيړنومرکزپيښور، ۱۳۶۸هـ ش کال. ۱۳۹، ۱۴۵ مخونه

اوافغانستان دهرځه مادي او معنوي شتمنیود له منځه تګ شرایط په مهیا کیدو شول.

دهیواد زړوره اوایمانداره مجاهده ! دوطن رښتینیه او صادقه زویه ! ددینا دبام ساتونکیه عقابه! همدا وخت و چې تاهم ټوپک ته لاس اوږدکړ.ستا دټوپک له غږ سره د حق غږ پورته شو ستا د ټوپک له ډزوسره دتړیوالوغوړونه خلاص شول،ستادټوپک له ګوزارسره دباطل غړي سست شول، ستا دټوپک له ټک سره دهیواد ټکونه اوبریدونه محفوظ شول،ستا دټوپک دماشې کشولو سره دسره ښکیلاک په رګونوکې وینه وچه شوه،ستا دټوپک په بریښنا سره د آزادۍ دلمرځلا غبرګه شوه اوستا دټوپک له ګولۍ سره دافغانستان خوږه ګوله بیاهم دښکیلاک له خولې نه ولویده.

نو:

سره له دې چې زه له ټوپک نه کرکه کوم !

اوسره له دې چې زه په دنیاکې دټوپک اوجنګ ورکیدل غواړم.

خو !

ستا په ټوپک ویاړم !

ستا په ټوپک نازکوم !

ستا ترټوپک ځاریږم !

او دزړه له اخلاصه وایم.

«ستا ترټوپک وګرځم ، اې نره مجاهده !»[۱]

الحاج مولوي قیام الدین کشاف له انسانانوڅخه دخوښیو اخیستلو اودهغوی دژوند دعادي بهیر ګډوډ وونکو اوعاملینوته په کرکه ګوري اوهغه حا لت دزغم وړنه بولي چې دځینو انسانانوله خوا نورو انسانانوته

---

[۱] حبیب الله رفیع، خو ستا تر ټوپک وګرځم، وینه په قلم کې، شهرت ننګیال، دافغانستان د جهادي څیړنومرکز، پیښور، ۱۳۶۸هـ ش کال، ۲۵۳، ۲۵۵ مخونه

متوجه کیږي. دهیواد دجنګ جګړوپه کلونوکې هغه ناوړه حالت چې په قصدي توګه زموږپرسوله دوستوخلکو تحمیل شوی په کلکه غندي اودهراختراوخوشالی په راتګ سره د هغه دغه دخواخوږی او انساني همدردی احساس د ده په لیکنو کې ځان ښکاره کوي. دقیام الدین کشاف دغه احساس دهغه په یوه هغه ادبي لیکنه کې ډیرښه انځورشوی دی چې اختر ته یې په خطاب کې لیکلې اوخپل جنګ ځپلی اولس یې دخوښی له دغه سترنعمت څخه محروم بللی دی، لکه چې لیکي:

اختره ته دخوښۍ زیری اودخندا موسم یې،ستاهرکلی اولمانځنه په خوشاله زړونو کیدای شي، خوله بده مرغه دلته دخوښی اوخندا ځای دغمونواو اندیښنو لوغړنو ګردونونیولی دی.

اختره : دلته مه راځه.هلته لاړشه چیرته چې ستا دراتګ له پاره نکریزې لمدې شوي دي او ښایسته جامې ګنډل شوي دي. دلته نکریزې نشته، دلته دافغان دینداروغیرتمنومیرمنومنګولې د خپلوننګیا لیو شهیدانوپه وینوسرې دي،دلته نوې جامې نشته،دلته په زرګونو ببرسري،سپیره مخي یتیمان دي، دهغوی ګریوانونه څیرې دي،پرمخونویې ترمې ترمې اوښکې را روانې دي،دوی به چاته او دوی ته به څوک ستا دراتګ مبارکي ووایي.

اختره ! هلته لاړشه چیرته چې خولې دخنداوړدي،دلته دکونډو ،یتیمانو، ملاماتو دردیدلیو پلرونو او بوروغمجنومیندوخولې د طاغوتي جبارانوپه بې رحمه سوک ماتې دي، دلته د مستضعفینو او مظلومانو ژړا سوران دی، دلته له هرکورڅخه دغم اوماتم تورلوګي پورته کیږي.

اختره ! د لته چاته راځې؟ د دې تاتوبي مسلما ن اوننګیالي بچوني څه دنورو ځمکو ته په هجرت مجبورشوي دي،هلته داوړي د سوځوونکي لمر تروړانګولاندې په میرواوډاګونوکې په ربړوونکي حالت کې وخت تیروي اوځیني دحق په سنګرونو کې دسره وحشي اوخونړي استعمارله طاغوتي سترقدرت سره په داسې شرایطوکې په جهاد بوخت دي چې شګې، پرخې

او اغزي یې توشکونه او کاڼي یې بالښتونه دي او دروسي ډول ډول بم غورځوونکو الوتکو، ټانکونو او توپونو بمونه اوګولۍ پرې وريږي. [۱]
جنګونه، کشمکش او تاوتريخوالی دانساني ټولنې توازن له منځه وړي او انسانان له يوه داسې ناورين سره مخامخ کوي چې بې شميره مصيبتونه او کړاوونه يې ژوند ته ګواښ پيښوي. زموږ په هيوادکې چې له کومې ورځې نه دجنګ اوجګړو دغې تورې بلاخپل سيوری غوړولی اوله خلکوڅخه يې سکون او آرام اخيستی دی، ډيرې داسې تراژيدي پيښې مخې ته راغلي دي چې په ليدلو او اوريدلوېې دانسان غونی زيږ اود زړه دردونه په څوښ راشي
امان الله نصرت چې دجګړو اوتاوتريخوالي سخت مخالف دی، زموږدجنګ ځپلي ملت دغه غمجن حا لت په يوه لنډه داستان کې څيړلی او ددې داستان په ليکلويې له جنګ اوجګړوسره خپل مخالفت په ډاګه کړی دی. امان الله نصرت ليکي:
دجدي سړه مياشت وه چې يخنې پکې وروستي حدته رسيدلې وه، دسړو سيمو کلي اوکورونه په سپينو واورو پټ ووچې بې اوره پکې ژوند تيرول ګران کارو، سپين غرچې دننګرهارپه جنوب لويديځ اړخ کې پروت دی واورو داسې سپين کړی ولکه چا چې ورته سپينې جامې آغوستې وي، د دې غره په يوه سمسور کلي باندې ددهري حکومت ځمکنۍ اوهوايي حمله جاري وه چې په سمه اودښتو باندې يې داور باران جوړکړی و، سره ورځ وه اوکمونستانودخپلو روسي بادارانو د تسکين په خاطرزموږ دولس وګړي داسې قتلول چې هغوی به يې له مرګ او ژوبلې څخه خوند اولذت اخيسته،هره خوا دسروويڼو ويالې بهيدلې او شهيدان قافلې قافلې دابدي ژوند په لورکوچيدل او د خدای د ديدارپه لور. روسي وحشي قواو داسې

---

[۱] - مولوي قيام الدين کشاف، ته د چا اختر يې ؟. وينه په قلم کې ،شهرت ننګيا ل. د افغانستان دجهادي څيړنومرکز ،پيښور، ۱۳۲۸هـ ش کال، ۵۹۰،۵۹۱مخونه

لوی قیامت جوړکړی وچې هرځای له کربلا څخه زیات په وینوباندې لمبیدلی واو له هرکورڅخه دماتم ویرونه او اوروته پورته کیدل. اکبربابا چې دژوند اتیا کاله عمریې شاته پرایښی وهم دانسان وژنې له دغه غوبل څخه بچ نه وپاتې شوی. د هغه دوه زلمي زامن روسانودخپل راتګ په لومړۍ مرحله کې نیولي او ژوندي یې په ځمکه ښخ کړي وو. دښځې یې هم زړه له ډیرې ویرې نه چاودلی و اودشهادت لوړه درجه یې په نصیب شوې وه. کله چې ګنشپ الوتکو داکبربابا پرکوردنیپالم سل منی بم راګوزار کړ. نو دوې پیغلې لوڼې یې هم دکوټې تربام لاندې شوې اوله خپل ژوند سره یې الوداع وکړه. د اکبربابا په کورکې فقط خپله اکبربابا. یوه درې کلنه لوراویوکوچنی زوی بچ پاتې شوي وو.خودراکټونوله پارچوا‌کبربابا هم بې برخې نه وپاتې شوی او یونیم زخم یې پرمخ معلومید وچې سپینې ږیرې یې له وینې څخه سور رنګ اخیستی و. لویه ورځ په لوړه او ویره کې تیره شوه.خوکله چې شپه شوه دآسمان مخ د جازونوله دوړو اوګردونوڅخه پاک شواولړه غوندې کراري شوه. نوبوډا اکبرپه مات زړه په کلي کې یوه خوا اوبله خوا وګرځید ترڅو دخپلو شهیدانودښخولوله پاره څوک مرستې ته را وبولي.خو هرڅومره چې ښکته، پورته وګرځید نویوه ژوندۍ پیشویې هم ونه لیده. ځکه نومجبورشوپخپله یې دخپل کورپه انګړکې په ډیرزیار یوه کنده وکیندله.خپله ښځه او دوې لوڼې یې پکې ترخاورو لاندې کړې.تردې وروسته اکبربابا خپل ماشوم زوی اوکوچنۍ لورپراوږو را واړول اوله خپل وطن څخه یې دهجرت نیت وکړ. توله شپه لکه د سرسام لیوني په شان روان و اوپه لوړه اویخنۍ کې یې مزل وکړ.ترڅوچې سبا کیدو.نو دسپین غره یوې لوړې برخې ته رسیدلي وو چې لږ څه د ځمکنۍ قوې له خطرڅخه بچ کیدای شول.

سپین غر. دواوروهغه غرچې اوړی اوژمی په سپینوواوروسپین وي دومره واوره پرڅان انبار کړې وه چې تګ پکې ګران و.خواکبربابا هیڅ چاره نه درلوده اومجبوروچې په دې واوروکې یې دخپل خلاصون له پاره لاره

لنډه کړې وای، نوځکه یې پرالله توکل کړی اودلارې په لنډولویې شروع کړې وه، هغه زیاته لاره په ډېرزحمت پرېښوده،خوچې لږنورهم پرمخ ولاړ،نودلارې درک ترینه ورک شو اوحیران ځای پرځای پاتې شوهغه ډېرستومانه شوی و اوماشومان هم له ډېرې یخنی اولوږې نه دځنکدن په حال کې وو،په مخکې لوی ګړنګ واقع و اواکبربابا ته مشکله وه چې زوی اولورېې یوځای له ګړنګ څخه تیرکړي وای،نوځکه خوېې وروسته ترلږسوچ څخه دا غوره کړه چې اول به یوماشوم تیرکړي بیا به بل ماشوم پسې راشي اوهغه به هم له ګړنګ څخه پورې باسي،نوهماغه وچې له یوه ګوټ څخه یې پر خپلوکمزوروولاسونویوه اندازه واوره لرې کړه، څادرېې خپورکړاوخپله لورېې پرې کینو له اکبربابا زوی پراوږو راواړاوه،په داسې حال کې چې یونیم زګیروی به یې کاوه له ګړنګ څخه دتیریدوپه منظور روان و،په دې وخت کې یې لورچیغې کړې چې باباجانه ! ما چاته پریږدې؟ قربان دې شم بابا ما هم بوځه... خدای ته وګوره مامه پریږده ....خواکبربابا چې ستونی یې له ډېرې ستومانۍ څخه وچ شوی وپه ریږدیدلې آواز ورته وویل چې بچیه مه ژاړه تا به ولې پریږدم، دا ورورچې دې له ګړنګ نه تیرکړم،نوبیا به تاپسې راشم او تابه هم له ځانه سره بوځم اکبربابا په ډېره سختۍ او خاړپوڅوماشوم زوی له هغه سخت ګړنګ څخه تیرکړاوهلته یې په یوه اوارځای کې دخپلې لونګۍ ( پګړۍ ) له پاسه په واوروکې کیناوه اوپه خپلې لورپسې را روان شو،کله چې بوډا اکبردخپلې لورځنګ ته ورسید، نو ویې لیده چې لورېې دخپل پلارپه لټون پسې په واوروکې خاپوړې کړي اوپه همدې کشکمش کې یې خپلې سترګې پټې کړي او دواوروسپین کفن یې له نازک بدن څخه داسې راتاوشوی ولکه مور چې خپل ماشوم په اورنې کې ترلی وي اکبربابا بې واره په ژړا شو،څوشیبې یې په زوره،زوره وژړل، خوبیا ژرغلی شواوښکې یې وچې کړې آسمان ته یې لاسونه پورته کړل او لوی څدای ته یې داسې زاری وکړې لویه خدایه ! داټول تا پیداکړي وو اوتا واخیستل، ته پخپلوبندګانو

ازماینښت کوي، خو پاکه ربه ! ما په دې امتحا ن کې کا میاب کړې او د زړه صبر راکړې . داپې وويل اوخپله مړه لوریې په شاکړه دزوی په لور روان شو ،هغه نورپخپل ژوند تنګ شوی و او د دومره بې شمیره غمونواو اندیښنو تحمل یې نه شوکولای.

کله چې اکبربابا دخپل زوی ځنګ ته ورسید ، نو ویې لیدل چې هغه هم دواوروپه غیږکې پروت دی اوخوله یې له سپینو واوروڅخه ډکه شوې وه،هغه هم خپلې سترګې دتل له پاره پټې کړې وې اوخپل روح یې دمرګ استازي ته سپارلی و. اکبربابا چې دغه دردناکه صحنه ولیده، نو وجودیې په ریږدیدوشو. په سپینو ویښتانویې رنې اوښکې لپې لپې لکه داباسین دڅپوپه شان را روانې شوې،هغه خپل مړزوی اومړه لور په غیږکې ټینګ ونیول.له خپل ځای څخه پورته شو او بې اختیاره یې ګامونه واخیستل، هغه لاڅوقدمه مخکې نه وتللی چې یوه کړیکه یې له خولې ووته اویو نا-څا په له هغه ګړنګ څخه ښکته راپریووت چې په لیدوبه یې دانسان سترګې توریدې.

اکبربابا له پریوتوسره سم په داسې حال کې چې خپله مړه لور اومړزوی یې له خپلې سینې سره ټینګ نیولې وو له ګړنګ څخه لاندې ولوید او په رغړیدو رغړیدوپه واوروکې له سترګو څخه غایب شو. (۱)

راځئ چې دغه شان یوه دردمنه پیښه چې دظلم،وحشت اوبربریت ښکاروند ویې کوي اود جنګونو اوشخړو ناوړه پایلې په ګوته کوي د ولي محمدولي په نثرکې وګوروچې یوه رښتیانۍ پیښه یې په یوه لنډ داستان کې انځورکړې ده :

توریالی ډیرخوشال و، هغه دپنځوکلونوترسخت زندان ګاللو وروسته خوشې کړل شو. دی یې له وطن سره دمینې په تورنیولی و،له ده څخه

---

۱ - امان الله نصر ت ، اکبربابا، وینه په قلم کې ، شهرت ننګیال ، دافغانستان د جهادي څیړنو مرکز، پېښور، ۱۳۶۸ هـ ش کال، ۲۹۲، ۲۹۲ مخونه

دآسمان رنګ او دورځې رڼا ورکه وه، دی اوس هغه پخوانی توریالی نه و، ستونزو اوخواریو یې بڼه داسې بدله کړې وه لکه مړی چې څوک له ګوره راوکاږي، ده له دې کبله خوشالي کوله چې کوراوکلی به وګوري. دده سترګوته به کله موراوکله پلاراوکله خویندې وروڼه ودریدل اوکله به یې دیوکلن زوی زرغون په اړه فکرکاوه، د کلي په لور رهي شو

هغه مزل په مزل کله چې کلي ته رانږدې شو،نوترسترګويې ناست ګڼ خلک بیرغونه په لاس ښکاره شول. ده ته دا ډیره ناشوده ښکاریده چې زموږدکلي خلک اوبیرغونه؟ کله چې ورنږدې شوهغه نا ست خلک نه ووبلکې هدیره وه چې پرهرقبریې بیرغ رپیدو. دی په دې سخت وارخطا شو چې په دې هدیره کې خو پنځه کاله د مخه یوازې لس د وولس قبرونه وو اوس ترد ووسوولا اوښتي دي.خدای دې خیر کړي

د کلي په لوریې ګامونه اوږ ده کړل چې له هد یرې څخه په یوه ګوښه کې پروت و. پخوابه په پسرلي کې د کلي ځوانانو اوکوچنیانولوبې کولې.غوغا به وه ، شور اوهئ هئ به و. اوس دانسانانو شورڅه کوې چې دمرغانو ږغ هم نه و. مازدیګربه دکلي په کورونوکې تبې باندې شوې اوله لیرې به یې دود اولوګی ښکاره کیدو.لیکن توریالی نه هغه دپخوا دپسرلي په څیردانسانانوشور اوري اونه لوګی ویني، دده زړه اودماغ ته فکرونواو اندیښنولارجوړه کړه،له ده سره رقم رقم وهمونه پیداکیدل. کله چې دکلي په منځ راګډ شو، نوهغه هم دهدیرې په څیرپټه خوله و.

نړیدلي دیوالونه. شاړې کوڅې اوبې خاونده کورونه په ګردونواو خوپونوداسې لړلي ووتابه ویل په سلګونو کلونه چا ګام نه دی پرې ایښی، په څینو ودانیو اوکوڅوکې هډونه خواره واره پراته وو.توریالی دومره وارخطاوچې دانسانانواو حیواناتو دهډوکو توپیریې نه شوکولای، نیغ د خپل کورپرلور ورغی، ددوی د کورپرغولي دلاندي مونې ( دلاندي دغوښوله پاره مخصوص جګ لرګی ) هم هغه شان ټینګ جګ ولاړو، خوسریې سوی و.

دی چې نړیدلې ودانۍ ته ورننوت دبیرته راوتلوپروخت یې د سپې غپا ترغوږشوه چې ورته ځیرشو له غوجلې څخه ددوی سپی راووت او دده په لورپه غپا را روان و، خوچې دی یې له نږدې وکوت،نویې په پښوکې ولوید.ورغړیدو اوترسترګویې اوښکې روانې شوې، ترتوریالي د مخه روان شواولکۍ یې ښوروله اودی ورپسې شو، سپی دمخه او دی ورپسې نیغ هدیرې ته راغی او په یوه څلور دیوالۍ ورننووت چې اته اونهه قبرونه پکې وو.

سپي قبرونه شنل شروع کړل اوترسترګویې اوښکې څڅیدلې او توریالي ته به یې کتل، توریالی سپی له دې کاره منع کړاوپوه شوچې پرکورېې خاورې اوښتې دي،بیرته دښارپرلور روان شو، سپی هم په ده پسې رهي شو،خوده څوځلې له ځانه وشاړه مګرهغه په ګرځولونه واړ،خوکله چې یې د ډېرې وارپرې وکړ،نوسپي وغپل اودخپل ځان په غوښوځیرلو یې پیل وکړ، دتوریالي زړه ورباندې وسوزید اوله ځانه سره یې رهې کړ،په لاره کې څوښایسته شیان پراته ووکله چې توریالي لاس وروړلو سپي وغپل اوپرې حمله یې کړه، دی له وامه پرشاشو اوسپی پرشیانو ومښت،هغه کوچني بمونه وو او وچاودل چې سپی یې ټوټې ټوټې کړاوتوریالی خدای بچ کړ.دده زړه د سپي په وژل کیدو اووفادارۍ تور دودشو،خوپه وس کې یې څه نه وو، نوورڅخه رهي شو. هله هله که ګوري یوشمیرکډوال اوښان په مخه ورغلل، ده دکاروان له مخکښ څخه پوښتنه وکړه چې داکلي ولې دغسې تورسوی دی،هغه یې د ورانیدو کیسه ورته وکړه،له توریالي سره دوه فکرونه پیداشول یوداچې بیرته هغه زندان ته ولاړشي ځکه چې هلته خوبې لا دکورکلي دلیدوهیله وه،اوس به په نړیدلي کوراوکلي کې دڅه شي هیله وکړي بل داچې له دې کډوالوسره ملګری شي ګوندې چې خدای څه کوي پردغه یې امین کړل اوله کاروان سره روان شو دوی چې لا یوڅه نه ووتللي دالوتکوغړمبهارجوړشو، ددوی په لور را والوتې، دمخه تردې چې دوی سره تیت او پرک شي بمباري یې پرې پیل کړه، دټول کاروان اوښان

اوانسانان يې ځای پرځای کړل. لمبې او دودونه پورته شول اوله لرې څخه لارويو ګومان کاوه چې د لته کورونه شته او لوګی ځنې پورته کيږي. دنړدې هديرومړوبه له دې کبله شکر کښلی وي چې قبرونه خويې پيداکړل. (۱)

زمونږدوخت يوتکړه ليکوال، شاعراوخيړونکی، څيړنمل سيدمحی الدين هاشمي چې دهيواد د ودانيو کنډوالې، ورانۍ اوتباهۍ ګوري ددې ټول لاملونه هغه تباه کوونکې او ورانوونکې جګړه بولي چې دځينوکورنيواو بهرنيو عواملوله امله زمونږسوله دوست خلک ورسره مخامخ شوي او داډمن ژوند يې په بې ثباتۍ او تاوتريخوالي بدل شوی دی څيړنمل سيد محی الدين هاشمي د « سوله اوامن » ترنامه لاندې يوه لنډه، خوږوره اوهراړخيزه ليکنه کړې ده چې له سولې اوامن سره د مينې د درلودلو ديوې بيلګې په توګه يې دلته را اخلو:

سوله يوه ډيره مقد سه،سپيڅلې اوښکلې کلمه ده ،مقدسه او سپيڅلې خوځکه ده چې په قرانکريم کې يې ستا ينه شوې اوهغه يې خير ( الصلح خير) بللې ده، اوښکلې ورته ځکه وايوچې دبشريت هستۍ ، پايښت او سوکالۍ په هغې پورې اړه لري.که دبشري نړۍ په هر څه کې سوله نه وي ، معلومه خبره ده چې هلته دجنګ جګړو برلاسی وي اوپه دې خوپوهيږوچې جګړه بشريت ته له تباهۍ ، ځورونې ، رنګونې اوله منځه وړلوپرته بل زيری نه لري، بې له دې چې انساني تمدن له خاورو سره خاورې اوانسانيت داورپه لمبو وسوځوي، په وينوکې يې ولمبوي اويايې دويراو ماتم پرتغرکينوي بل سوغات او لاس ته راوړنه، نه لري

کله چې دبشري تاريخ پاڼې را اړوو وينوهغوخلکوچې دسولې ، صفا او خپلمنځي اونوروسره د سوله ييزژوند لاره خپله کړې ده دترقۍ اوتمدن له کاروان سره مله اوډيرژر دسوکاله او مرفه ژوند خاوندان اوسترې

---

۱ - ولي محمدولي، بې کوره مسافر، وينه په قلم کې . دافغانستان دجهادي څيړنو مرکز، پيښور، ۱۳۲۸ هش کال . ۷۳۱، ۷۳۴ مخونه

نیکمرغی یې په برخه شوي دي، خوبرعکس چې په شخړواوجګړوکې پخپله کیوتلي اویا په یوه اوبله بڼه دنوروله خواجنګ ته اړایستل شوي دي نتیجه یې مرګ ژوبله ویجاړتیا او بربادي، فقراو بې وزلي اوډول ډول بدمرغی ګرځیدلي دي.

لرې نه ځودخپل هیواد مثال راوړوچې داخه دپاسه دوې لسیزې دجنګ د اورپه لمبوکې سوځي دلته ددې جګړې په مشروعیت اونا مشروعیت، عواملواو دلایلوڅه نه وایو، یوازې دسولې د نشتوالي او دجګړې د دوام له امله د رامنځ ته شوي زیان خبره کووچې څنګه موځوزره کلن تاریخ مدنیت، مادي اومعنوي شتمنی ددغې بهرنی اوکورنی جګړې داورپه لمبوکې وسوځیدلې او موږ یې په سلګونو کلونود ترقی اومد نیت له کاروانه په شا وغورځولواو دټولنیزژوند په بیلا بیلو برخوکې یې دومره زیان راورساوه چې جبیره یې ناشونې ښکاري.

نوویلای شوچې سوله دخیراوښګڼې نوم دی چې په مفهوم کې یې ټولې ښیګڼې نغښتي دي . سوله اوامن د ژوند نوم دی، د بسیا اوسوکاله ژوند چې هرډول ما دي اومعنوي نیکمرغی ورسره ملې دي، سوله دترقی ، آبادی او ښیرازی نوم دی چې بشري ټولنې ته د پرمختلنې او هوساینې ځواک او واک ورپه برخه کوي. (۱)

---

۱- د ځیرنمل سید محي الدین هاشمي له شخصي یا دښتونو څخه

# نتیــــجـه

په پښتوادبیاتوکې دهراړخیزې څېړنې په نتیجه کې یوڅېړونکی اومحقق ډېرداسې څه ترلاسه کولای شي چې دټولنیزژوند په هره برخه کې پرې خپله ادبي تنده ماته کړي،همدارنګه سوله،امن اوانساندوستي دانساني ژوندهغه سترضرورت دی چې پرته له دغوارزښتمنو مفاهیموېې دژوند بهیرپه سمه توګه پرمخ نه شي تللی همدا لامل دی چې انسان په خپل ژوندکې سولې اوامن ته تر بل هرڅه زیات ارزښت ورکوي.

په پښتو ادب کې دسولې اوانساندوستۍ انعکاس دپښتوادبیاتوپه بیلابیلو دوروکې هم په نظم او هم په نثراوهم په ولسي ادبیاتوکې څېړل شوی اودهرې دورې په ادبیاتوکې یې ځانګړې بیلګې او نمونې راغونډې شوي اوپه دې لیکنه کې ځای ورکړل شوی دی،ترڅو دپښتوادب څېړونکي په آسانۍ سره وکړای شي دپښتوادب په دې ځانګړې برخه کې دخپل ضرورت اوپام وړمواد ترلاسه کړي. موږسولې ته ضرورت لروځکه چې جنګ اوتاوتریخوالی دتباهۍ اوبربادۍ لامل دی،موږ مینه اودوستي غواړوځکه چې کرکه اودښمني انسانان له یوبل څخه لیرې کوي اودټولنیز ژوند اړیکې له منځه وړي اوموږ تفاهم اوخبروته اړیوځکه چې پرته له دې انسانان دیوبل اندیښنې او غوښتنې نه شي درک کولای.

موږپه دې لیکنه کې کوښښ کړی دی هغه څه خپلولوستونکوته وړاندې کړوچې پورتنیو ذکر شو یوغوښتنو ته مثبت او رغنده ځواب وویلای شي، ددې اثر په برابرولوکې کوښښ شوی دی چې دسولې اوامن او انساندوستۍ په اړه دافغاني ټولنې د سره ښکیلوخواو لیکنې او نظریې راواخلو. په دغولیکنواونظریوکې دهرلوري لیکوال اوشاعردسولې ، امن

اوانساندوستی پرلوړوارزښتونو لیکنې کړې او دهرلوري لیکوال اوشاعرجنګ اوتاوتریخوالی دتباهی اوبربادی لامل بللي دي.
ددې ارزیابی په نتیجه کې زموږ باورپه دې لاپخېږي چې جنګ اوجګړې زموږپرخلکواو هیوادوالوتحمیل شوي اوداسې ناوړه شرایط پرې راوستل شوي دي چې زموږخلکوکه غوښتل او که یې نه غوښتل له زغملوپرته یې بله لارنه درلوده.زموږپه لرغوني اوتاریخي هیوادکې دتاریخ په بیلا بیلو دوروکې ډیرځله زموږپرخلکوداسې شرایط تحمیل شوي دي چې دنه منلوپه صورت کې یې باید په وړاندې مقاومت وکړي اودوخت مسلط شرایط یا له منځه یوسي اویایې دله منځه وړلوله پاره لارې چارې ولټوي.په ځانګړې توګه زموږلیکوال اوشاعرتربل هرچا دمخه دغه ستر تاریخي رسالت ته مټې ورکړی اودسولې،امن ،مینې،محبت اوانساندوستی غږیې پورته کړی دی.
ربنتیاخبره داده چې پښتانه ذاتاً له جنګ اوتاوتریخوالي څخه کرکه اونفرت کوي ، دوی زیار باسي چې هم په خپلو منځونوکې اوهم له نوروسره په سوله اوتفاهم کې ژوند وکړي، پښتانه لکه څومره چې له ځان سره مینه لري په هما غه اندازه له نورو انسانانو سره هم مینه او خو اخوږي لري، پښتانه هیڅکله نه غواړي چې له لاس څخه یې چاته ضرر ورسیږي، په همدې ترتیب له نوروڅخه هم داتمه لري چې ددوی حقوق اوغوښتنې له پامه ونه غورځوي اوپښتانه په سیمه او نړۍ کې یوسوله دوست او امن غوښتونکی قوم دی، همدا سبب دی چې دتاریخ په اوږدوکې یې د جنګ اوتاوتریخوالي پرځای سوله او مینه غوره کړې ده.
ددې بحث نتیجه داشوه چې په پښتوادب کې لکه دنورواصنافوپه شان سولې ،امن اوانساندوستی هم په پراخه پیمانه ځای نیولی اودغه سترانساني پیغام یې دوخت د ضرورت له مخې خپلو خلکوته رسولی دی اوموږپه ډاډ سره داویلای شو چې پښتوادب له دې پلوه هم ډیرغني ادب دی، ښاغلي حبیب الله رفیع څه ښه ویلي دي:

نیت مـــې تول عمرې د پخې سولې و
بیا د شوخوسترګوپه جنګ واوښتم
زوړد پـرون درس مې ده ته هم ورکړ
نن چـــې زه په نوې فرنګ واوښتم
ما دبنګړوشرنګ غوښت خوپښتون تقدیر
ګوره چـې دتوروپه شرنګ واوښتم

همدغه عالي احساس بیا دکلاسیک ادب یوروښ ستوری کاظم خان شیدا خټک داسې انځوروي:

ځای دروغ دلیوني شه که هوښیاریې
صلح کل د ځان پیشه کړه که هوښیاریې

زه خپلې خبرې نورې نه اوږدوم بس همدومره وایم چې پښتانه او پښتانه شاعران او لیکوالان تربل هرڅه زیات له سولې او ورورګلوۍ سره مینه لري اونه غواړي چې یا پخپلوکې او یا له نورو سره په تاوتریخوالي کې ژوند وکړي.

(وَمِنَ اللهِ التَّوفِيقُ)

# پشنـــــها د

مورچې دخپلې افغاني ټولنې اجتماعي جوړښت اوستراتيژيک موقعيت ګورو ،نوهرومرو مو هغه تاريخي پيښې مخې ته درېږي چې زموږ دتاريخي هيواد دپنځه زره کلن تاريخ په بيلو بيلو دوروکې يوه په بله پسې تکرارشوي اوزموږ دهيواد سوله دوست خلک يې دتاوتريخوالي ښکار کړي دي، که څه هم زموږدلرغوني هيواد سوله دوستوخلکوزياراېستلی دی دهرتاوتريخوالي او تاړاک په وړاندې له صبراوزغم څخه کارواخلي اودخپل هيواد سوله اوثبات له ګواښ څخه وژغوري. خوچې دفاع ته اړکړای شوي دي ، بيانو د مجبوريت له مخې دجنګ اوجګړو ميدان ته راوتلي اوله تيري کوونکوسره يې ميړنۍ مقابله کړې ده.

له بده مرغه زموږسوله دوستوخلکوچې دتاريخ په هرپړاوکې دسولې اوثبات دټينګښت له پاره هلې ځلې کړي او دتاوتريخولي مخه يې نيولې ده خوهميشه وړاندې جګړې تحميل شوي او ديوه لنډ وخت له پاره دسولې اوامن له سترنعمت څخه بې برخې کړای شوي دي ، خوبيا هم زموږ خلکوددغه سترانساني ضرورت له په پام کې نيولوسره سولې ته مخه کړې اودجنګ جګړو پرځای يې سوله ييزژوند غوره بللی دی.

داچې زموږهيواد او زموږ سوله دوست خلک وخت په وخت دجنګ اوجګړوله ګواښ سره مخامخ کيږي، نو داټکی ډيرضروري بريښي پرهغولاروچاروفکروشي چې زموږخلکوته دجنګ اوجګړو له ګوزارونوڅخه نجات ورکوي ځکه خونودفکراو قلم خاوندانو او درسنيومسئولينو ته پيشنها د کوم چې:

دخپلوخيړنو،تخليق اوخپرنيزوپروګرامونوپه بهيرکې ترهرڅه زيات دسولې اوثبات ښيګنې بيان کړي اوخپل سوله دوست خلک دتاوتريخولي

اوجنګ جګړوله ناوړه عواقبوڅخه باخبروساتي، دا ځکه په کومه ټولنه کې چې سوله نه وي، امن نه وي اوثبات نه وي. نودهغې ټولنې وګړي نه شي کولای خپل عمراني اوعرفاني پروګرامونه په ښه توګه عملي اوپلي کړي، همدارنګه دیوه علمي اکاډیمیک مرکزپه توګه دافغانستان دعلوموااکاډمۍ محترم ریاست ته وړاندیزکوم چې داکاډ مۍ دانشمندانو او استادانوته دعلمي پروژو دسپارلوپه لړکې دغه حیاتي اړخ هم له پامه ونه غورځوي ترڅو په دې برخه کې زیاتې څیړنې وشي، زیات ګټور معلومات خپلوخلکوته وړاندې شي او د سولې اوثبات په ټولنیز ارزښت باندې ژورې اوهراړخیزې لیکنې وکړي.

زه باورلرم چې زموږسوله دوست خلک دزړه له کومې دا غواړي چې په وطن کې سوله وي، امن وي او ثبات وي ترڅودوی وکړای شي په ډاډه زړه خپلې ورځنۍ چارې سنبال او دترقۍ او پرمختګ په لور ګامونه واخلي.

( په مینه )

# اخځليکونه


۱. احمد . دخدايي خدمتګارتحريك ، لومړی ټوك ، دسرحدونو چارو وزارت ، کابل ، ۱۳۶۹ کال.
۲. آرينزی، وحيده . دهيلو غوټۍ، پيښور، ۲۰۰۷، ع کال ، جنوري.
۳. ارمغان خوشحال خان. دميا رسول رسا په سريزه، منظور عام پريس، پيښور.
۴. الفت ، شهيد عزيز الرحمان . لويه خدايه ! وينه په قلم کې . د افغانستان دجهادي خيرنومرکز پيښور ۱۳۶۸ هـ ش کال ، لينديٍ.
۵. اياز محمود. تناکې خيالونه . کويټه ، بلوچستان .
۷. بيټنی ، منتظر. ژوند او فن . داجمل خټك راغونډونه .
۸. پادري هيوز. کليد افغاني، داطلاعاتواوکلتور وزارت، کابل . ۱۳۵۶ هـ ش کال .
۹. پښتو لنډۍ، کابل چاپ .
۱۰. پښتني سندرې، لومړی برخه ، پښتو ټولنه ، کابل ۱۳۳۴ هـ ش کال .
۱۱. پښتني سندرې، لومړی برخه ، پښتو ټولنه .
۱۲. پوهنيار جلاالدين .کابل مجله ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۰ هـ ش کال، مرغومی.
۱۳. پيرمعظم شاه. تواريخ حافظ رحمت خاني، ديباچه دمحمد نواز طائر، پښتواکيډيمي ، پيښور.
۱۴. جهاني، عبدالباري ، ورکه مينه، شعري مجموعه.
۱۵. جيمز، ډارمستيټر. دپښتونخوا دشعرهاراو بهار. دحبيب الله رفيع په اهتمام، پښتو ټولنه، ۱۳۵۶هـ ش کال.

۱۶. حبیبي ، پوهاند عبدالحی. دخوشال خان خټك دجهانداری نظریه. ننګیالی پښتون ، دسرمحقق محمد اکبر معتمد په زیار. پښتو ټولنه. کابل ، ۱۳۴۵ هـ ش کال.
۱۷. حیدرخیل ،ساده ، دمحاذ جریده، دریم مخ ، ۱۷۷ ګڼه.
۱۸. خټك ، خوشال خان. دپښتونثراته سوه کاله ، سر څیړونکی زلمی هیوامل ، ۱۳۷۵ کال.
۱۹. خټك ، اجمل. ژوند او فن.
۲۰. خټك خوشال خان. دستارنامه ، پښتو ټولنه، کابل ، ۱۳۷۵ کال.
۲۱. ځاځی ، ظاهر زایر. دمحاذ جریده، ۱۸۴ ګڼه.
۲۲. خزان. دمحاذ جریده ، ۱۶۶ګڼه.
۲۳. ځاځی، توریا لی. ژوره ځاه، وینه په قلم کې، دافغانستان دجهادي څیړنو مرکز، پیښور، ۱۳۶۸ کال.
۲۴. دردمند. کابل مجله، پښتو ټولنه. ۱۳۵۲، ورغومی.
۲۵. دپښین دصاحبزاده ، حمیدالله اثر.
۲۶. دملي آرشیف قلمي نسخه.
۲۷. دسولې هڅه. دالمان دانکشافي خدمتونو دموسسې په مرسته، میاشتنی مجله، څلورم کال یوویشتمه ګڼه ۱۳۶۸ کال.
۲۸. رفیع، حبیب الله. خوستا ترتوپك وګرځم، وینه په قلم کې ، دافغانستان دجهادي څیړنو مرکز پیښور ۱۳۶۸ کال.
۲۹. رفیع ، حبیب الله. دخلکو سندرې ، کابل.
۳۰. راز، سلیم اشنغری. ژوند او فن ، اجمل خټك.
۳۱. رحیمي، ریحان الله. اورونه پرهرونه، نظرآباد علمي او فرهنګي ټولنه، جلال آباد ، ۱۳۸۴ کال.
۳۲. زما داروانښاد پلار دخولې روایت.
۳۳. خټك، اجمل ژوند او فن.

۳۴. سيد عبدالغفار، ديوه خاوند او دهغه دميرمنې داستان ، پښتنې سندرې،دويم ټوك.
۳۵. شفيق، شهيد محمد موسی. محاذ جريده، دريم مخ، ۱۷۳گڼه.
۳۶. شينواری، معتمد. کابل مجله ، اوومه گڼه، پښتو ټولنه، کابل ، ۱۳۵۵کال.
۳۷. شينواری، ډاکتر غلام جان جگړ. دماشوم ترانې، دانش کتابتون، پېښور، ۱۳۷۹ کال.
۳۸. شينواری، زړه سواند. دمحاذ جريده، ۱۶۳ گڼه.
۳۹. عاصي، اشنغری. ژوند او فن، اجمل خټك.
۴۰. عبدالغفار. زما ژوند او جدوجهد، کابل ، ۱۳۶۲ کال.
۴۱. غازي يار، نورالله . په غميو کې لمبې، دڅاځي بابا ادبي ټولنه.
۴۲. غروال، محمدعارف. ځرك ، داشعاروقلمي ټولگه.
۴۳. غروال، محمدعارف. غرنی سندرې، پښتو ټولنه، کابل ، ۱۳۶۰ کال.
۴۴. غروال، محمدعارف. کابل مجله، پښتو ټولنه، ۱۳۵۰کال، مرغومی.
۴۵. غلام شاه . دخاتم طايي داستان، پښتنې سندرې، دويم ټوك.
۴۶. ساقې، فضل رحيم . نيم جام ، شعري مجموعه.
۴۷. قصې او داستانونه. پښتنې سندرې، دويم ټوك .
۴۸. کاکړ، سيال . غاړې، کويټه.
۴۹. کاکړ، سيال . انگی، پښتو ادبي بورډ ، کويټه.
۵۰. کامه وال ، قاضي فضل غني. محاذ جريده، ۱۷۹گڼه.
۵۱. کانديد اکاډيمسن نوميالیء علم دسولې په خدمت کې، دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۵کال.
۵۲. کشاف، مولوي قيام الدين. وينه په قلم کې ، دافغانستان دجهادي خپرنو مرکز، ۱۳۶۸کال.
۵۳. گل مست ، قاضي عبدالسلام . دپښتو ادبي سوغات لومړی چاپ، پېښور، ۱۹۴۸ع کال.

۵۴ مروت، عبدالرحیم مجذوب دمروتو کسرونه، دیباچه دمیرشرف خان وزیر، پیښور
۵۵ منګل، اسیر پښتو دري میاشتنی مجله، پښتو اکیډیمي، پیښور، ۲۰۰۵ع کال
۵۶ منګل، علي محمد ادم خان او درخانی، دعلوموا کاډمي، کابل، ۱۳۷۲ کال
۵۷ مهجور، محمدآصف دمحاذ جریده، ۱۸۰ ګڼه
۵۸ معراج الدین حکیمي، محمد پرویز اومحمد انور(دښوونې او روزنې پروژه)، ۱۳۸۴ کال
۵۹ مومن، ناصر دمحاذ جریده، ۱۸۱ ګڼه
۶۰ مولوي احمد صاحب دتنګي ګنج پښتو، پیښور
۶۱ نصرت، امان الله سپرلی به راشي، وینه په قلم کې، دافغانستان دجهادي خپرنو مرکز، ۱۳۶۸ کال
۶۲ ولي، ولي محمد بې کوره مسافر، وینه په قلم کې، دافغانستان دجهادي خپرنو مرکز، ۱۳۶۸ کال
۶۳ ور دمحاذ جریده، ۱۵۶ ګڼه
۶۴ هاشمي، محی الدین شخصي یادښتونه
۶۵ هاشمي، سیدمحی الدین، وینه په قلم کې، دافغانستان دجهادي خپرنو مرکز، ۱۳۶۸ کال
۶۶ هیوادمل، زلمی، ولسې سندرې، دپښتون مجلې په حواله، کابل، ۱۳۶۶ کال
۶۷ هیوادمل، زلمی، بیدیاني ګلونه، دافغانستان دعلومو اکاډمي، پښتو ټولنه، ۱۳۶۲ کال
۶۸ هیوادمل، زلمی، دشخصي کتابتون قلمي نسخه
۶۹ هیوادمل خیړنپوه زلمی، دپښتوادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، پیښور
۷۰ هیوادمل، زلمی، دپښتو نثراته سوه کاله، لاهور، ۱۳۷۵ کال



## دلیکوال لنډه پېژندنه :

څېړنوال محمد عارف غروال په ۱۳۲۴هـ ش کال دلویې پکتیا دخوست د ځاځي میدان دولسوالۍ په یوه غریبه او دینداره کورنۍ کې زیږیدلی دی. خپلې لومړنۍ، منځنۍ او ثانوي زده کړې یې درحمان بابا په عالي لیسه کې سرته رسولې اوپه ۱۳۴۳ هـ ش کال دکابل پوهنتون دادبیاتو پوهنځي ته دکانکورترازمویني وروسته بریالی شو اوپه ۱۳۴۷ هـ ش کال د دلوې په ۲۷ نېټه یې ددغه پوهنځي له پښتوڅانګې څخه دفراغت سند ترلاسه کړ، لومړې وظیفه یې دښوونکي په توګه په پښتوټولنه کې پیل کړه او تریوه کال وروسته په ۱۳۴۹ هـ ش کال دپښتو ټولنې په مسلکي غړیتوب ومنل شو

د ۱۳۵۹ کال په دلو (سلواغه) کې له هیوادنه مهاجرشو، په هیواد کې دلنډ مهالي حکومت په جوړیدو سره یوویشت کاله وروسته خپل هیواد ته راستون شواویوځل بیا دافغانستان دعلوموپه اکاډمۍ کې دڅېړنمل په علمي رتبه ومنل شو، خوترلږې مودې وروسته دخوست ولایت دپوهني درئیس په توګه وټاکل شو اوتردرې نیم کاله وظیفې وروسته بیرته دعلومواکاډمۍ ته راستون شو چې اوس دعلومو داکاډمۍ مسلکي غړی دی

څېړنوال غروال لاندې آثارلیکلي دي

### دلیکوال چاپ شوي آثار

۱- درحمان بابا ددیوان انتقادي متن (ګډه پروژه)
۲- دبنګړو شرنګ (دمعاصرو شاعرانو دویناو غورچاڼ)
۳- پښتو انګریزي ورځنۍ خبرې (پښتوژباړه)
۴- تورزن تورن افغان (دیوه مجاهد قوماندان دژوند حالات)
۵- دخوست فتحه (تاریخي اثر)
۶- دبابړي ملاصاحب (تاریخي اثر)
۷- غازي ببرك خان ځدراڼ (تاریخي اثر)
۸- پښتو جهادي ادبیات (دمجاهدوشاعرانو دکلام نمونې اوتحلیل)
۹- او دا اثر (په پښتوادب کې دسولې انعکاس)
۱۰- ددولت لواڼي دیوان (ګډه پروژه)
۱۱- غزنۍ سندرې (علمي پروژه)
۱۲- دحبیب اله حبیب دیوان
۱۳- منظر مرګ (درې ژباړه)
۱۴- کورنی طبیب (پښتو ژباړه)
۱۵- راه عمل (درې ژباړه)
۱۶- دوینو فوارې (شعري ټولګه)
۱۷- یمونه او غمونه (شعري ټولګه)

### ناچاپ اثار

۱- څرك (داشعارومجموعه)
۲- غوټۍ نامه (داشعارومجموعه)
۳- په افغانستان کې دروسانو جنایات
۴- په هیواد کې دجهاد دپیل لومړني غورځنګونه
۵- په هیوادکې دروسانو پرخلاف ملي پاڅونونه
۶- لنډې ادبي کیسې